# تاریخ څه ته وايي؟

مؤلف

پروفیسر ای . اېچ . کار

مترجم

محمد حسن کاکړ ام فل لندن،

# فهرست


| عنوان | صفحه |
| --- | --- |
| نظر یك استاد | ۱ |
| دمؤلف پېژندګلوي | الف |
| سریزه | ج |
| مورخ او دهغه حقایق | ۱ |
| فرد او جامعه | ۳۳ |
| تاریخ، ساینس او اخلاق | ۶۵ |
| په تاریخ کې علت پېژندنه | ۱۰۷ |
| تاریخ د ترقي په حیث | ۱۳۵ |
| پراخېدونکي غاړې | ۱۶۷ |
| ښکارندوي | ۱۹۹ |
| اصطلاحات | ۲۰۷ |
| سمون | ۲۱۴ |

# تاریخ څه ته وایي؟

مؤلف

پروفیسر ای. اچ. کار

مترجم

محمد حسن کاکړ ام. فل لندن

کابل

۱۹۷۴

یادونه : دغه ترجمه دوږمی مجلې د ۱۳۴۷ کال
دڅلورو ګڼو په عوض چاپ شوه.
( اداره )

دپوهیالی محمد طاهر علمي د وږمی مجلي د مسئول مدیر
په اهتمام

## «نظر یك استاد درباره‌این اثر»

چندسال پیش درمحضر مرد دانشمندی بودم که برمن حق استادی و در علوم ادبی مقام شامخ انکار نشدنی داشت در آنجا صحبت از تاریخ تحصیل و تعلیم آن بمیان آمد. آنمرد بزرگ می گفت: تاریخ تحصیل نمیخواهد چون بخواهند درین رشته مطالعه‌ای بنمایند کافی است کتابهای محمدبن جریرطبری (وفات ۳۱۰ه)، تاریخ ابوالفضل بیهقی (وفات ۴۵۱)، زین الاخبار عبدالحی ضحاک گردیزی، راحة الصدور ابوبکر محمدراوندی، تجزیة الامصار وتزجیة الاعصار معروف به تاریخ وصاف شهاب الدین عبدالله شیرازی ملقب به وصاف الحضره (وفات ۶۹۸ه)، ومجمل التواریخ والقصص وامثال آنرا بخوانند ومطلبی را از آنها استخراج و بیان نمایند.

این بود نظر مرد دانشمندی راجع به تاریخ که چند سال قبل از ین محضر مغتنم علمی داشت. طرفداران این نظر هنوز هم در کشورما زیادند. عده‌ای از نویسندگان مخصوصاً آنهائیکه تابع مکاتب فکری قدیم، هستند عقیده دارند که با آموختن مقداری سواد و مطالعه کتب تاریخ از تألیفات قدما بزبانهای عربی یافارسی یا هردو می‌توان تاریخ رامطالعه ودرصورت داشتن ذوق سلیم حتی می‌توان آنرا تالیف کرد. باین ترتیب مأخذ غالب مادر تاریخ نویسی آثار کتبی و روش تحقیق ما (تابع ذوق سلیم که لابد شخصی است) نویسندگان بوده.

علت همه اینها حتماً بی توجهی، نداشتن معلومات کافی راجع به فلسفه تاریخ روش تحقیق و نگارش آن وعدم وجود مأخذ درین مباحث وموضوعات می باشد

راستی کتابها ئیکه درفلسفه‌تاریخ بحث درموضوع تاریخ و بروتی نگارش آن، نوشته‌شده بزبانهای افغانستان پښتو ودری بسیار کم بوده‌وحتی‌بزبانهای اروپائی هم ازشمار انگشتان تجاوز نه می کند .

وقتی شنیدم همکار ارجمند من کاکړ مشغول ترجمه کتاب تاریخ چیست؟ (ای، اچ، کار) است باوجراشتغال دراین امر تحسین گفتم . این کتاب را چند سال قبل درانگلستان بوسیله‌همین‌دوست‌عزیز که‌درآنوقت‌هامشغول تحصیل‌در پوهنتون لندن بود دیده وخوانده بودم .

کار در تاریخ معاصر نه‌تنها مورخی است برجسته‌و نامدار و دارای آثاری ارزنده چون انقلاب بولشویک‌درسه‌جلد (۱۹۱۷-۱۹۲۳)، دوران فترت ۱۹۲۳-۱۹۲۴ ،وسوسیالزم دریك كشور :۱۹۲۴ - ۱۹۲۶درسه جلد بلکه مردی صاحب نظر درفلسفه تاریخ وصاحب بصیرت خاص در تاریخ نویسی می‌باشد. کتاب حاضرمثال خوبی است برای اینکه اورا درشمار مردان بصیر - درتاریخ وتاریخ‌نویسی بیارد.

همچنانکه مولف فاضل این کتاب مردی‌است دارای احاطه کامل در تاریخ مترجم محترم آن جاغلی کاکړ که‌بحق اورا باید مورخ جوان گفت مردی است صاحب مطالعه وتجربه کافی درمطالعه‌تاریخ‌و تالیف آن ومخصوصاً تاریخ معاصر افغانستان .جاغلی کاکړ مطالب این‌کتاب‌را در مجالس‌بحث انگلستان شنیده ودرآنجا درموضوعات مختلف نظریات‌مولف بحث‌نموده‌است وبااین ترتیب شاید وارد ترین شخصی‌است درافغانستان به‌نظر مولف‌این کتاب ومطالب کتاب .

برای من میسر نیست راجع به‌انشای کاکړ درپښتو قضاوت کنم،ولی باآشنائی که‌به‌نوشته‌های اودرین زبان دارم می‌دانم ساده وروان می نویسد .این‌خصوصیت درین ترجمه او نیزموجود است، ترجمه کتاب کار بزبان دیگری (پښتو) کارآسانی نیست‌اما کاکړ ازعهده‌آن‌بخوبی درآمده‌است .

مطلب قابل‌توجه درترجمه کتاب تاریخ چیست؟ دقت ترجمه‌آن است . کاکړ

باآنکه سعی می کند مطالب را ساده بنویسد جداً متوجه است منظور مولف فوت نگردد. باین ترتیب کارخود را بیشتر قابل اعتماد ساخته است.

ازمزایای دیگر این ترجمه یادداشتهای مختصر امابسیار مفید مترجم است بربعضی ازاعلام ونکات غامض کتاب، که درپاورقی صفحات وبصورت (یکارندوی) درآخر کتاب آمده.

•

درپایان این تذکار مختصر باید بگوییم که شاغلی کاکر با ترجمه کتاب تاریخ چیست؟ کار بسیارمفید علمی را انجام داده است. امیدوارم کارایشان مقدمه ترجمه و احیاناً تالیفات دیگری درفلسفه تاریخ وتاریخ نویسی باشد، تابااین وسیله تاریخ درجامعه مابه معنای که امروز به آن میدهند مطالعه وتحقیق وتدریس شود، برای مترجم محترم توفیق بیشتری در کارهای علمی میخواهم.

میرحسین شاه
۲۸ سرطان ۴۹
پوهنځی ادبیات

# د مولف لنډه پېژندګلوي

اي. اچ. کار (۱) په ۱۸۹۲ کې زېږېدلی او په لندن کې یې د مرچنټ ټیلرز په ښوونځي (۲) او په کیمبرج کې یې د ترینتي په پوهنځي (۳) کې تحصیل کړی دی. په ۱۹۱۶ کې د بهرنیو چارو په وزارت کې شامل شو او وروسته له هغه چې په همغه وزارت پورې مربوط دنده او د بالندې پوښتنو وظیفې یې ترسره کړې په ۱۹۳۶ کې یې استعفی وکړه او د ویلز (٤) د پوهنتون په پوهنځي (٥) کې د بین المللي سیاست د ویلسن پروفیسر (٦) مقرر شو. له ۱۹٤۱ څخه تر ۱۹٤٦ پورې د دی تایمز (۷) د ورځپاڼې د مدیر مرستیال او له ۱۹۵۳ څخه تر ۱۹۹۹ پورې د بیلیول (۸) په پوهنځي (اکسفورډ) کې په سیاست کې ټیوټر (۹) او په ۱۹۵۵ کې د کیمبرج د ترینتي په پوهنځي کې فیلو (۱۰) مقرر شو. دده له خپرو شوو څخه یو هم دا دی: رومانتیکي جلا وطني (۱۱)

---

۱ـ Edward Hallet Carr

۲ـ Merchant Taylors' School

۳ـ Trinity College

٤ـ Wales

٥ـ University College

٦ـ Wilson Professor

۷ـ The Times

۸ـ Balliol

۹ـ Tutor هغه ښوونکی چې د پوهنتون د لومړۍ شهادتنامې د پاره زده کوونکو د تحصیل او هدایت کولو چارې ورته په غاړه وي (م)

۱۰ـ Fellow د انګلستان په ځینو پوهنتونونو کې د مدیره هیئت غړی (م)

۱۱ـ The Romantic Exiles

(۱۹۳۳)، شل کلن بحران ۱۹۳۹ ـ ۱۹۱۹ (۱۲) (۱۹۳۹)، دسولې شرایط (۱۳) (۱۹۴۲)، پهلویدیځې نړۍ باندې دشوروی اتحاد اغیزه (۱۴) (۱۹۴۶)، نوې جامعه (۱۵) (۱۹۵۱) او دشوروی روسیې دتاریخ په باب یو لړ کتابونه چې دغه لاندې بې تراوسه وتلې دي:

دبولشویك انقلاب (۱۶) ۱۹۲۳ ـ ۱۹۱۷ درې جلده (۵۳ـ۱۹۵۰)، وقفه ۱۹۲۴ ـ ۱۹۲۳ (۱۷)، (۱۹۵۴)، سوشلزم په یوه ملك کې ۱۹۲۴ـ ۱۹۲۶ (۱۸) درې جلده (۶۴ـ۱۹۵۸)، او دپلان شوی اقتصاد بنسټونه ۱۹۲۹ـ ۱۹۲۶ (۱۹) (۱۹۶۹)، وروستی کتاب ۹۰۰ مخه دی او دار. ډبلیو. ډی ویس (۲۰) په همکاری لیکل شوی دی.

---

۱۲- The Twenty Years Crisis, 1919-1939

۱۳- The Conditions of Peace

۱۴- The Soviet Impact on the Western World

۱۵- The New Society

۱۶- The Bolshevik Revolution

۱۷- The Interregnum

۱۸- Socialism in One Country

۱۹- Foundations of a Planned Economy

۲۰- R. W. Davies

# سریزه

هرڅوك لدې سره علاقمن دی چې دخپلې جامعې تماضي په باب پوه وی،مګر لږ کسان موندل شي چې دغه هیله یې ترسره شوی وی ، ځکه چې موږ ته مشکله ده چې خپله اوسنۍ جامعه و پېژنو ترڅو لا دېره سخته ده چې له پخوانۍ جامعې ته خبر اوسو،دهری جامعې ـ دماضي وی که داوس‌دسي پېژندنې دپاره دتحقیق دخاصو روشونو په بنا په پوره آزاده فضاکې زوراو پراله پسې مطالعات ضروری دی، دغسې مطالعات هله به نتیجه ور کولی شي چې پرڅوك دتوروشیاتو په جمله کښې ، دخپلې موضوع داساسي مسایلو په باب فلسفي نظرولري .

مګر دفلسفي نظریاتو دمعرفت اوحصول لومړنی شرط دادی چې ذهن دمختلفو نظریاتو دفهم دپاره خلاص پرېښودل شي ، پیشرفت او تکامل که په علمي یافلسفي ساحه کې وی هغه وخت به ممکن کیدلی شي چې دهمدغسي نظریاتو دظهور دپاره لاره هواره وی ، که داسي نه وی دژوند دپلو پیلوارخونو په باب به مختلفې فلسفې به منظم اومنسجم دول ظهورونه کړی او انسان به په ذهني لحاظ متحجر اوځای په ځای پاتې وی .

چیرته چې دنظریاتو دظهور دپاره کوښښ کیږی هلته نظراوعلم به په مخ ځي دتقیضو او مختلفو افکارو له تصادم څخه نوی څه راوځي اوورالدی تګ دوام کوي.

تاریخ څه ته وایی ؟ په واقع کې دهمدغسي حال نتیجه ده. په تیرو څلو پیښتو کالونو کې په اروپا کې صرفاً اوپه انګلستان کې مخصوصاً دتاریخ دماهیت او

فلسفي په باب تاوده بحثونه جاري دي او دغه کتاب دعملشي بحثونو په لړ کې پورروستي اثر دی. په دغه اثر کې د تاريخ په حقله هم د نورو پوهانو نظريات چاپ شوي او هم نور پرې اضافه شوي دي او په دغه ډول په دغې برخې کې پرمختګ شوی دی.

د دغه مطلب د ايضاح د پاره په لومړي ځېر او وروسته د ترقي د مفکورې په باب د پروفيسر کار د نظرياتو لنډيز وړاندې کړم: او په ضمن کې به يو څه پرې و ليکم.

پروفيسر کار د دغه اثر په څلورم فصل کې په تاريخ کې د چانس او جبر په باب د پروفيسر کارل پاپر او ايسايه برلين په ځينو نظرياتو انتقادونه کړي دي کوم چې وروستيو په خپل وار د افلاتون، هيګل، او مارکس نظريات کاواك او خالي ښوولي دي. د دغې موضوع په حقله دوه ټکي مهم ښکاره کيږي. لومړی دا چې اجتماعي واقعات ولې پېښيږي؟ په بل عبارت انسان په خپلو کړو کې څومره او څنګه آزادي لري؟ دا پوښتنه په واقع کې يوازې د تاريخ په فلسفي اړه نه لري بلکه د ټول انساني کردار سوال دی او د فلسفې مهمه موضوع تشکيلوي. پروفيسر کار يوازې تر هغه حده د معين توب يا د جبر په عقيده دی چې وايي « ... هر هغه څه چې پېښيږي علت يا علتونه لري او په بل ډول به پېښ شوي نه وای ترڅو چې په علت يا علتونو کې يو بل څه پېښ شوی نه وای .» لکه څنګه چې معلوميږي ده په څلورم فصل کې چې په تاريخ کې علت مېندل يې تومل دي د علت په مېندلو يې ډېره زوره اچولې ده. دا روش په تاريخ کې سري د پيچلو او مجرد و فلسفي مسئلو په لور بيايي او دا ويره شته چې تاريخي مطالعه بالاخره په فلسفي مطالعې واړوي که څه هم دی په خپله دغه ټکي ته پوره متوجه دی چې بحثونه مجرد فلسفي نه کړي او نظريات يوازې په تاريخي مشخصو قواعدو بنا وچيي، سره له دې هم دا به ښه وای چې ده د ښايجوار و تاثيراتو په باب هم په هغې اندازې ليکنه کړې وای. د اجتماعي پېښو تاثيرات د ټولو عملي او تطبيقي فايده لري او د نامعلومو پېښو په سخنيو کې تر څه حده يرك کېدلی شي.

مګر د پروفيسر کار په نظر د معين توب فلسفه قطعاً مېخانيکي نه ده چې هغه

قرار په انساني فرد دیوه کمال عنصر په حیث یوازې متابعت کوي . دی وایي چې د جامعې او فرد انکشاف او وده په مخ ځي او یو په بل تأثیر کوي . د دې ډول فکر په بنا د فرد په دینامزم او ابتکاري او اخلاقي ارادې معتقد دی او په دغه باب د ډار کس دغه نظریه تائیدوي چې وایي: «تاریخ هیڅ نه کوي هغه زیاته شتمني په تصرف کې نه لري . هیڅ جنګونه نه کوي . دغه انسان، حقیقي ژوندی انسان دی چې هرڅه کوي ، تملک کوي ، او جنګونه کوي . » خو دغه حقیقي ، ژوندی انسانان په خپله د جامعې زیږنده او په جامعې کې داخل دي . مجرد فرد نه دی چې د خپل ذات په حیث په له جامعې نه بهر په کوم مشکک ځای کې مقام لري او له هغه ځایه په جامعه او حوادث زیږوي ، او رهبري په یې کوي .

دوهم ټکی یوازې په تاریخ پورې اړه لري او هغه دا سوال دی چې مورخ له تاریخي پېښو نه څنګه خبریږو؟ څنګه چې د تاریخي حقایقو ټول او د هغو تعبیر کول موږ ته د ماضي طرح او د حرکت سمت را ښیي له دې امله ثبت کوونکی او مؤرخ د ماضي په معرفي کولو کې اساسي اهمیت لري . مګر پروفیسر کار د ماضي د فهم په برخه کې د معین ټوب د اصل په کلکه نظر قایم دی . دی وایي د پېښو کښوونکو ، لیکونکو او مؤرخانو د نسلونو تر منځ لاس د ماضي طرح نا کلې د ه یې له دې چې د هغه په باب څه وکړل شي . د دغه نیوکګار له حد نه زیات مطلوبیږي تو مره زیات چې د مؤرخ رول نفي کوي . په دې کې څه شک نه شته چې د ماضي په باب ټول تاریخي حقایق زموږ تر لاس ته راتللی نه شي او هغه څه چې هم لاس ته راتللی شي د خاص نظر په رڼا کې ثبت شوي دي یعني خنثی دي او عیني نه دي .

دغه بحث و دیت هر وخت په تاریخ کې لیده شي . خو د پوره ته سوال ځواب د دقیق پوهنتی په ځواب کې میندل کیدل شي چې په دغسې حال کې د مؤرخ وظیفه څه ده؟ مؤرخ د حقایقو د تعبیر او توجیهه نه علاوه یا تر هغه د مخه دغه وظیفه لري چې د تاریخ لیکني هعصیري مېتود په رڼا کې هغه سوږې د کې ګړي کومې چې د نیمګړو او مبحث و د و حقایقو له امله پیدا شوي دي او د غه کار د نورو اجتماعي علومو په مرسته وکړي .

په دغه حساب يو مؤرخ بايد :

۱ـ دتاريخ ليکنی يو منظم اودقيق روش اوميتود تعقيب کړی .

۲ـ دتاريخ دماهيت اوفلسفې په باب ديوه منسجم اومنطقي نظرخاوندوی .

۳ـ دنورو بشری اوحتی ترڅه حده د ساينسي علومو په باب لږ تر لږه عمومي معلومات ولري .

٤ـ ذهين او ابتکاری وی اود استناج پوره قدرت ولري . ډاکټرجی . ايتن لاحتی په دی فکر دی چی تخصصي مؤرخ پوازی هغه څوك کيدلی شی چی د لورو تهادتنامودپاره يی لومړی تحقيقي تيسونه اوورو سته تحقيقي اثارليکلي وی ، او ورسره جوخت په تدريس بوخت وی .

دانظر دهغه نظر په ضد دی چی وايی هرڅوك مورخ کيدلی شی فقط دومره چی دسليم عقل خاوندوی ، دشجره نامو او قبالو په ثبتولو اوضبطولو کی مهارت ولری ، دغوت نونونو په ټبوولوکی نبه وار دوی ، معلومات اوحقايق ښه تطار کړای شی ؛ بلکه دی چی دهغو ترمنځ منطقی ارتباط قايم کړی اوهغه دعصری علومو په رڼاکی تاويل اوتفسير کړی اونتيجه ترې وباسي . پروفيسر کارهم څه وخت چی وايی (... يوڅوك کولی شی دماضی دپيښو په باب ليکل اولوستل وکړی بی له دی چی وغواړی په دی پوه شی چه هغه څله واقع شوی) هم په همدغه ټکی اصرار کوي ، څوپروفيسر کار په دی ټينګ دی چی په دغسی حال کی دی بيادی دغه غلطی ونه کړی چی ګمان مورخ يا دتاريخ محصل وګڼی ځکه چی دده په عقيده دتاريخ مطالعه د علتونو مطالعه ده :

پروفيسر کار دترقی په عقيده ټينګ ولاړدی . دی د ځينو نورو متفکرينو په خلاف دتمدن اوجهان په باب دبدبيني ويره نه لري بلکه په فنايي او انساني چارو کی دعقل دپرله پسی اوپراختيدونکی رول په باب خوش بين دی او دنوروتوجه ورته جلبوي . دايو ستر او بی سابقی تحول دی چی د دوه سمتونو يعنی دعمق او افق په لور روان دی . دعمق په لوري دتحول مثال متفکران هيګل ، مارکس اوفرويد دی

چې هر یوه په‌تخیل او سره په انساني چارو کې دعقل برخه ډېره کړې ده . په نتیجه کې انسان اوس زیات باسي چې دلومړي ځل دپاره خپل کړه او جامعه دعقل په رڼا کې په آګاهانه ډول له سره تنظیم کړي .

افقي تحول دجهان دمخ او بڼې شکل دی، مطلب دشرق په لور دثقل د مرکز یا دتمدن انتقال دی. تمدن نور نو هغه ته‌دی‌چې مرکز به‌یې اروپا یا امریکا یا اتلانتیک او یا انګلیس - ویرنګي تړی وي بلکه نوی تمدن دې ته متمایل دی چې دشرق په محور وخرخیږي. دغه دبشر دیر اوګڼ ولسونه پراته‌دي چې دغربي تخنیک او ساینس په برکت د لومړي ځل دپاره په ډېره پراخه اندازه په تفکر او سوچ کولو پیل کوي، سیاسي شعور په کې پیدا اوقوي کیږي، په‌تاریخ کې‌تونجي او‌دخپل جهان مخ اړوي. دغه انتقال، مخصوصاً دغرب نسبي انحطاط دغرب پوشمیر مفکران بدبین کړی‌دی . نوی پیشګوبي کوي‌چې د تمدن کشتي د انحطاط په بې پایان بحر کې د دوبیدلو په حال کې ده، مګر پروفیسر کار دغه انتقال د تکامل په لور ترقي او پیشرفت ګڼي .

هیله کوم‌چې ددغه اثر په‌پښتو کولو سره تاریخي مسایل او نظریات دنورو مفهومونو په‌جمله کې طرح او‌تعمیم شي اود‌واقعه شي‌چې‌هغه یوازې په تتبع اود مشخصو اومستندو حقایقو په‌بنا په استقرایي ډول قایم کیدلی‌شي او‌لکه څنګه‌چې دلته رواج لري هغه د وچ تفکر او تخیل او یاقبلي تحکم‌محصول‌نه وي او که‌وي‌هغه په‌تاریخ پوري هڅه اړه نه لري .

دغه اثر لومړي په ۱۹٦۱ کې دکیمبرج دپوهنتون دپوهانو په وړاندې دجارج مکالي ترې ولیږ، د انګلستان دیو‌مشهور مورخ لیکچرونو په نامه اوروړل شوی او وروسته دکتاب په شکل راوتی دی . په ترجمې کې بښی ما کوښښ کړی دی چې مستقیم‌نقل‌قول هغسې‌اوفوټ نو نونه پوره و نیم یعنې‌دکتاب هر څه په پښتو واړوم، برسره پردې مې دلوستونکو په‌خاطر‌دځینو موضوعاتو او نومونو په باب مختصر معلومات اضافه‌کړل‌او‌د هغو په‌اخر کې‌می (م) دمترجم دمخلف په‌حیث په

قوس کې ورکړې شوې ده. په دې حساب ټولې هغه لاندنۍ لیکنې چې (م) یې په اخر کې نښه د مؤلف دي ، او نورې زما اضافات دي. .

له پوهنوال ډاکټر مجروح ، د ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځي رئیس او پوهاند میرحسین شاه مرستیال نه تشکر کوم چې د دغه کتاب د ترجمه کولو د پاره یې زما له خواهش سره موافقه وکړله او د پوهنځي له خوا یې د چاپولو ترتیب ونیوه. د پوهیالي محمدطاهر علمي د وږمې د مجلې مسئول مدیر او ښاغلي وزیر د مجلې مهتمم زحمتونه د پوره قدر وړ بولم چې د کتاب د تصحیح چاپولو په منظور یې ګاللي دي. کوروداني ورته وایم ، او نورو موفقیت یې غواړم.

محمد حسن ( کاکړ )

د ادبیاتو په پوهنځي کې د تاریخ استاد

ازاد بهاران ، نوي دهلي

د اپریل اوومه، ۱۹۷۰

یادونه : دا لیکنه مې په دهلي کې چېرته چې د یوه لنډ سفر د پاره تللې وم، کړې وه.

# مؤرخ اود هغه حقایق (۱)

تـاریخ څه ته وایي ؟ ددې دپاره چې څوك فكرونـه كـړي چې دا پوښتنه بې معنی یا سطحي ده د كیمبرج دمعاصر تاریخ له لومړي اودوهم چاپه څخه دك دوه فقرې نقلوم . په لومړني چاپ كې اكټن ۲ د خپل اثر په باب چې دهغه تألیف یې په غاړه اخیستی و، یوه لیكنه لري . ده داليكنه په هغه ریوټ كې وړ اندې كړله كومه چې یې د۱۸۹٦ په اكتوبر كې د كیمبرج دپوهنتون په مطبوعاتو كې داتحادیودوړاندې كړې وه . دی وایي :

ودا (تألیف) دلیتولو بیجوړي فرصت دی . په دغسې طریقه چې د زیات شمیر دپاره دیر ګټوردی ، دیوهې غنادې كومه چې نولسمه پیړۍ یې په میراث پریږدي ...... د كارپه معقول ویش سره به موږدا كار وكړای شواود هر یوه شخص دپاره به موږ وروستی سند او دبین المللي تحقیق دیرې پخې نتیجې كوږو ته راوړو.»

ونهايي تاريخ موږ په دغه نسل كې لرلی نه شو، خودمروجې اوعنعنې تاریخ دپاره كولی شو او هغه ټكي چې دلې شوې موږ په لاره كې له یوه څخه وبل ته

---

۱- Facts

۲- John D.Acton (۱۸۳٤-۱۹۰۲) انګلیس رومن كاتولیكي مورخ، په ۱۸۹۵ كې په كیمبرج كې پاچاهي پروفیسر (Regius professor) وټاكل شو . هغه ده د دوره په سرسته دكیمبرج د معاصر تاریخ دلومړي ټوك په لیكلو پیل وكړ .دده لیبرالي نظریات دبرتانیې دتاریخي مطالعاتو په انكشاف كې هم دده په معاصرو ژور تاثیرات كړي دي .(ژ)

رسیدلی یو په دې چې اوس ټول اطلاعات زموږ په احاطه کې دي او هره مسئله دحل ور ګرزېدلې ده. » ۳

تر دې پوره شپېته کاله وروسته « سرجارج کلارک » ۴ دکیمبرج د معاصر تاریخ په سریزې کې دا کتنې او دغه دعمکارانو په دغې نظریې چې یوه ورځ به دامکنه شي چې « نهایي تاریخ » ولیکل شي، دامې ولیکل :

« وروستی نسل مؤرخان دغسې انتظار ته هیڅ امید نه کوي . دوی هیله کوي چې ددوی اثر به یایباعوض شي . فکر کوي چې دماضي پوهه دیوه یا ډیرو دماغونو له لارې را انتقله شوې ده، او دغو دماغونو په هغې دعملیه» جاري کړې ده. نو نه شي کېدلی چې داپوهه دابتدایي او غیرشخصي ذراتو څخه جوړه وي چې هیڅ شی به تغیر ورته ورنه کړي ...... ښکاریږي چې اکتشاف او لوحول انجام نه لري او څېني بې صبره پوهان شکاکیت ته رجوع کوي یا لږتر لږه هغه نظر ته رجوع کوي چې ( وایي ) ځکه چې ټول تاریخي قضاوتونه داشخاصوا و دهغوی دنقاط نظر په باب دي، یو قضاوت هغو مره ښه دی، لکه هابل چې دی، او هیڅ «افاقي» تاریخي حقیقت وجود نه لري. » ۵

داچه دغه پند تان کوملیه یو بل په واضح ډول نقض کـوي ، د بحث د پـاره خلاصه موضوع ده . هیلـه کوم چې زه به په عصري معلوماتو یـه کافي انـدازه مجهز او سم چې ونښیم هرڅه څه چې د ۱۸۹۰ په لسو کالو نو کې لیکل شوي دي باید ارومرو نامعقول وي . خو زه لادومره په مخ تللی نه یم چې په دې نظر یې شم چې هرڅه څه چې د ۱۹۵۰ په لسو کالو نو کې کښل شوي دي ، ارومرو به مفهوم ولري . ممکن تاسو ته لادمخه دافکر پیدا شوی وي چې دغه تحقیق به د تاریخ له ماهیت څخه کوم ډیر پراخ میدان ته سر ووهي . دا کتنې او سرجارج کلارک ترمنځ

---

۳ . دکیمبرج معاصر تاریخ : منبع ، تالیف او تولید یې (۱۹۰۷) : مخونه ۱۰-۱۲ .

۴ . Sir George Clark

۵ . دکیمبرج نوی معاصر تاریخ ، ۱ (۱۹۵۷) ، مخونه XXIV- XXV .

تصادم دهغه تحول انعکاس دی کوم چې زموږ په مجموعی نظر کې د جامعې او دهغې د قشر په باب پیښ شوی دی په کومې کې چې دانواره نظریات قایم شوی دی. اکټن دویکتوریا ٦ د عصر له یوې مثبتې عقیدې، دپوره بینا او اعتماد په نفس نه غږېږی. سرجارج کلارك دمغلوب نسل دحیرانی او دوار خطا شکاکیت انعکاس کوی. څه وخت چې موږ زیار باسو چې ددغې پوښتنې دپاره چې «تاریخ څه ته وايي؟» ځواب ورکړو، زموږ ځواب په شعوری یاغیرشعوری ډول سره زموږ په عصر کې زموږ خپل دریځ منعکس کوی، او د هغې پراخې پوښتنې په باب زموږ د ځواب یوه برخه تشکیلوی چې موږ دهغې جامعې په باب چې ژوند په کې کوو، څه نظر لرو. زه له دې څخه څه ویره نه لرم چې که څه تغییر وشي زما دبحث موضوع په وړه ښکاره شي، خوله دې څخه ویرېږم چې ښایي زه مغرور ښکاره شم چې داسې ستره او پراخه پوښتنه مې میدان ته اچولې ده.

نونسمه پېړی دحقایقو یو دېر لوی عصر و. ښاغلی ګرېډ ګرنډ ٧ په «هارډ ټایمز» ٨ کې وویل چې «هغه څه چې زه یې غواړم حقایق دی . . . . . په ژوندانه کې یوازې حقایقو ته ضرورت دی.» د نونسمې پېړۍ مؤرخان په عمومي ډول له ده سره موافق وو. کوم وخت چې رانکې ٩ د ١٨٣٠ په لسو کالونو کې دتاریخ داخلاقي کولو په ضد درد او اعتراض په توګه وویل چې د مؤرخ وظیفه

---

٦- Victoria (١٨١٩-١٩٠١) دانګلستان ملکه.(م)

٧- Gradgriod

٨- Hard Times

٩- Leopold von Ranke(١٧٩٠-١٨٨٦) جرمنی مورخ. رانکې کې خپل ټول عمر تاریخی مطالعاتو ته وقف کړ. ټول اثاریې ٥٤ جلدونو ته رسیږي. دی دتاریخی شواهدو دمنابعو اصلی موسس دی. دلعمې پر تخنیك وچې په ټولې اروپا کې یې دتاریخ لیکلو پروسیجر قایم کړ. ده مشهوره ادعا داده چې مورخ مؤظف دی چې «وقایع لکه څنګه چې پیښې شوي» بیان کړی. په دې معتقد و چې باید مورخ یو موضوع منتخب کړی چې له دوسیو او نورو شواهدو سره پوره آزاد وي. په دې ډول ده دتاریخ لیکلو دپاره دیو نوی اقامت ادعا کوله. دی په برلین کې له ١٨٢٥ څخه تر ١٨٧٢ پورې دتاریخ پروفیسرو. (م)

داده چې « يوازې وښيي چې هغه حقيقتاً څنګه وه » ۱۰ دغې له چندان نومره زورې وجيزې حيرانوونکي موفقيت وموند. دجرمنی، انګليسی، او فرانسوی مؤرخانوتر يوتسلونويه دغوسحر لرونکو کلماتولکه د اوراد او دعاګانوپه و پلوسره دجنګ ميدان ته په خوازه اوارزمندۍ ووهلې، چې د تفکر له ستومانه کوونکي مصيبت څخه ځان وژغوري، لکه څنګه چې دپر ورد اودعا ويونکي همدغې ته غواړي. مثبتيونو ۱۱ يعنې کومو کسانوچې څوبنتل دتاريخ دباره د ساينس ادعاو کړي، دحقايقودلمانځلو اودوتاوی دپاره له خپل نفو ذڅخه کار واخيست. دوی به ويل، لومړی حقايق معلوم کړئ، بيا نې نتايج تري وباسئ. په برتانيې کې دتاريخ دغه نظردغه ملګت له تجربی مذهب سره کسوم چې له جان لاك ۱۲ څخه تر برتراندرسل ۱۳ پورې په برتانوی فلسفې کې يوسلط نظرو، پوره ارخ ولګاوه. د علم تجربی نظريه دفاعل ۱٤ او موضوع ۱٥ تر مينځ د کامل بيلتون فرضيه منی. حقايق دحسی انتباهاتو په څير، له بهر څخه په مشاهد تبکر کوی اودهغه له شعور څخه مستقل وی. دجذبولوعمليه غيرفعاله وی، داسې چې مشاهد هغه وخت چې مفروضات ۱٦ وموندی، ورومته په هغو عمليه جاری کوی. داکسفورد کوچنی قاموس چې ګټوره مګرد تجربې بنووتنې غرض لالك المسرد ی دحقيقت ۱۷ په تعريف کو لوکې د دوار و عمليو بيلتون په واضح ډول ښيی، اوليکی چې حقيقت هغه «تجربی مفروضه ده چې له نتا يجو څخه بيله وی.»

Wie es eigentlich gewesen. -۱۰

Positivists -۱۱

John Locke (۱۶۳۲-۱۷۰٤) انګليسی فيلسوف. (م).

Bertrand Russell (۱۸۷۲-۱۹۷۰) دانګلستان معاصر فيلسوف. (م)

Subject -۱٤

object -۱٥

data -۱٦

Fact -۱۷

حقایق د مؤرخ دپاره په سندونو، کتیبو، او نورو کې موجود دي، لکه څنګه چې ماهیان د ماهي نیوونکي په تبنګې کې موجودوي. مؤرخ هغه ټولوي، او په هره سلیقه اوذوق چې یې خوښه وي، هغې پې پخوي او دخوړلو دپاره یې تیاروي. دا کتن دیخلي ذوق ساده اوبې تکلفه و. نوبې غوښتل چې ماهي ساده وخوري. د کیمبرج معاصرتاریخ دلومړي چاپ لیکونکوته یې دلارښوونکي په لیک کې داشرط اعلام کړ «چې زمونږ واټرلو ۱۸ باید داسې وي، چې فرانسویان، انګلیسان، جرمنیان، اوهالېنډیان پوراز قانع کړي، چې هیڅوك دمؤلفانودلست له لېدلو نه غیر و نه شي وېلی چې داکسفوردد اسقف قلم چیرته کښېښود یا داچې فیربیرن ۱۹ یا ګاس کیت ۲۰، لیبرمان ۲۱، یا هریسن ۲۲ هغه راجګت کړ که نه. ۲۳ حتی سرجارج کلارك که څه هم چې داکتن د رویې منقد و، په تاریخ کې یې د «حقایقو ټینګ زړی» د «وشکوك تعبیرله چارپېرمغز» سره پرتله کړی دی. دی په دغې حکم کولو سره ممکن داله یاد دا ایستلې وي، چې د میوې مغز تر ټینګ زړي څخه ډېرخوندور وي. لومړی خپل حقایق سم کړه، بیادخان په خطرسره دشګو په جوړېدونکي تعبیر کې ځان ددننه کړه. دا و د تاریخ د تجربي اوسلیم عقل دمکتب نهایي عقل. داعقل موږ ته دهغه ستر لیبرال ژورنالست سي. پي. سکاټ ۲٤ په زړه پوري وینا په زړه کوي چې وایي «حقایق مقدس دي، اونظریه ازاده ده.»

---

۱۸- Waterloo دبلجیم تاریخي ځای چې د ۱۸۱۵ کال دجون په اتلسمه ناپلیون بوناپارټ شکست خوړلی و. (م)

۱۹- Fairbairn

۲۰- Gasquet

۲۱- Liebermann

۲۲- Harrison

۲۳- اکتن، دمعاصر تاریخ په باب لیکچرونه (۱۹۰٦) مخ ۳۱۸.

۲٤- C. P. Scott

خوچکاره ده چي دالیکنی اوس زموږ قناعت حاصلولی نه شي : زه به دماضي په باب زموږ د پوهي د ماهیت په حقله په فلسفي بحث لاس پوري نه کړم . دموجودو مقصدونو دپاره به دا فرض کړو چي داحقیقت چي قیصر ۲۵ د روبیکان ۲۶ له ویالي څخه تیرشو ، او دغه حقیقت چي دخونې په مینځ کي یو میز پروت دی ، دواړه یوشانته پرتله کېدونکي حقایق دي ، او دواړه حقایق زموږ په شعور کي په یوه ډول یاپه مشابه کیدونکي رقم سره ننوځي او دواړه حقایق دغه چادپاره چي څه پيژني یو از افاقي خصوصیت لري . خو حتی ددغه زړور او چندان نه منطقي او کید ونکي احتمال سره سره ، زموږ دلیل سمدلاسه له مشکل سره مخامخ کیږي . مشکل داد ی چي دماضي په باب ټول حقایق تاریخي حقایق نه دي ، یا : اچي یو مؤرخ یې هم نه ګڼي . نو هغه محک کوم دی چي دماضي په باب تاریخي حقایق له نورو حقایقو څخه بیلوی ؟

تاریخي حقیقت څه شی دی ؟ دایوه مهمه پوښتنه ده چي باید موږ ورته یو څه غور وکړو . د سلیم عقل د نظر په اساس ، ځیني باوري اساسي حقایق شته دي چي د ټولو مؤرخانو دپاره یو شان دي : او د تاریخ بنسټ جوړوي ؛ لکه داچي د هیسټنګز ۲۷ جګړه په ۱۰٦٦ کي شوې وه نه په ۱۰٦٥ یا ۱۰٦۷ کي ؛ او داچي داجګړه په هیسټنګز کي شوې وه نه په ایسټ بورن ۲۸ یا په براېټن ۲۹ کي . کله چي په دغسې ټکو بحث کیږي ، ما ته دهوس مین ۳۰ وینا را په زړه شي چي وایي :

۲۵- Gaius J. Caesar (۱۰۰-٤٤ ق.م.)
د روم جنرال ، سیاستمدار ، او لیکوال . (م)

۲٦- Rubicon

۲۷- Hastings ، دانګلستان په جنوب کي یو ښار دی . (م)

۲۸- East Bourne

۲۹- Brighton

۳۰- Alfred E. Housman (۱۸۵۹-۱۹۳٦) انګلیسی کلاسیکی عالم او شاعر . (م)

وصحیح والی یوه وظیفه ده «صفت نه دی.» ۳۱ د صحیح والی دپاره د مؤرخ وسایل داسې مثال لري لکه یو معمار چې په ودانۍ کې دیو موسمی لرګیو او د مناسب مخلوط کانکریټ په استعمال سره وسایل شي. دا دهغه د کار یو ضروري شرط دی. اساسي وظیفه یې نه ده. دهمدې موضوع ګانو په وجه ده چې یو مؤرخ ددې مستحق ګڼل کیږي چې په هغو چې دتاریخ د مرستیالو علومو په نامه یاد شوي دي لکه ارکیالوجي ۳۲، د کتیبو د لوستلو په علم ۳۳ سکوك پېژندنې ۳٤ نیټه لیکنې ۳۵ او نورو باندې اعتماد وکړي. له مؤرخ څخه دا نه غوښتل کیږي، چې دې پخپله داسې خاص فنون او مهارتونه زده کړي چې په هغو سره یو متخصص کولی شي دیوه لوتې کوډي یا مرمر اصل او عصر معلوم کړي او یا کومه مجهوله کتیبه ولولي، او یا دیوې نیټې دتا کلو دپاره نجومي حسابونه وکړي. دغه تش په نامه اساسي حقایق چې دټولو مؤرخانو دپاره یو شان حیثیت لري، په مشترك ډول دیره مؤرخ داومو موادو په نوع پورې اړه لري، نه د اچه هغه پخپله تاریخ دی. دوهمه کته داده چې هغه ضرورت چې دغه اساسي حقایق قایم او مستقر کړل شي په خپله دحقایقو په کیفیت څه اړه نه لري؛ بلکه هغه دیوه مؤرخ په رومبني ۳٦ فیصلې منکې وي. دسي. پي. سکاټ له متل سره سره، تن ورځ هر جورنلسټ په دې پوهیږي چې دمناسبو حقایقو انتخاب او ترتیب په ذهن باندې داثر اچولو یوه دیره مؤثره طریقه ده. حقایق پخپله غږیږي. خو دا حکم سم نه دی. حقایق هغه وخت غږیږي، چې مؤرخ پرې غاړې کړي. دا فیصله دمؤرخ

۳۱- M. Manilii Astronomicon: Liber Primus (دوهم چاپ، ۱۹۳۷، مخ ۸۷.)

۳۲- Archaeology

۳۳- Epigraphy

۳٤- Numismatics

۳۵- Chronology

۳٦- a priori

په لاس ده چې کوم حقایقو ته په کوم ترتیب او کومو قرینو کې د غږیدلو وار ورکوي. زما په خیال دا د پیرانډلو ۳۷ یو لوبغاړی و چې ویلې یې و حقیقت د یو جوال په شان ، په خپله دریدلی نه شي ، ترڅو یو شی په کې وانه چوي . څه یوازنی علت چې موږ یې له پوهیدلو سره علاقه لرو چې د هیسټنگز جګړه په ۱۰۶۶ کې شوي وه ، دا دی چې مؤرخ دغه پېښه د یوې سترې تاریخي پېښې په حیث ګڼي . دا مؤرخ دی چې د شخصي دلایلو له مخې یې فیصله کړې ده ، چې له هغې وړې ویالې رو بیکون څخه د قیصر تیریدل د تاریخ یو حقیقت دی ، په داسې حال چې په میلیونونو انسانان له دغې ویالې څخه تیر شوي دي ، او د هیچا پام یې ځانته نه دی ګرځولی . دا حقیقت چې نیم ساعت مخکې ستاسې د ودانۍ په پښو یا بایسکیل یا په موټر راتلل ، دا ماضي په باب هغومره یو حقیقت دی ، لکه څنګه چې قیصر له رو بیکان څخه تیر شوی دی . خو مؤرخان ممکن دغه حقیقت نه لیدلی و ګڼي . پروفیسر تالکوټ پارسنز ۳۸ یو وخت ویلي وو چې ساینس « حقیقت ته د ادراکي چېتونو یو انتخابي سیستم » ۳۹ دی . دا خبره ممکن تر دې ساده هم شوې وای . خو تاریخ د نورو څیزونو په جمله کې همدغه دی . مؤرخ لزوماً انتخابي دی : داعقیده چې د تاریخي حقایقو ترټولو مغز د مؤرخ له تعبیر څخه ازاد دی او اپالقي وجود لري ، یوه ستره غلطي ده ، مګر دا داسې غلطي ده چې ورکاوی یې ګران دی .

اوس به هغې عملیې ته له نژدې څخه وګورو چې په هغې سره د ماضي په باب یو محض حقیقت څنګه په تاریخي حقیقت اوړي . په ۱۸۵۰ کې په سټالي برج ویکس ۴۰ کې خلکو یو تند مزاج بایع په بوې ورې شخړې کې قصداً په مرګ ووهه . ایا دا د تاریخ یو حقیقت دی؟ تر یوه کال مخکې به ما په زغرده ویل چې «نه» ،

---

۳۷- L. Pirandello (۱۸۶۷-۱۹۳۶)، ایټالوی درامه لیکونکی او ناول لیکونکی.(م)

۳۸- Talcott Parsons

۳۹- پارسنز او ای.شلز (E. shils)، د عمل د عمومي تیئور په لور (دریم چاپ ۱۹۵۴) ، مخ ۱۶۷.

۴۰- Stalybridge Wakes

دا پېښه يوه کښتونکي کېښلې وه . ٤١ مګر دده له ليکنې څخه ډېر خلق خبر نه وو ، او ما کوم مؤرخ ليدلی نه دی چې دغه پېښه يې ذکر کړې او منلې وي . پر کال د مخه دغه پېښه ډاکټر کټسن کلارک ٤٢ په اکسفورډ کې د ځېل د فورډ په ليکچرونو کې ياده کړه . ٤٣ دا يې اوس په تاريخي حقيقت واړوی ؟ ګمان کوم چې تراوسه لا نه . زما په فکر چې دغه پېښه اوس د تاريخي حقايقو په انتخابي کلب کې د غړيتوب په غرض وړاندې شوې ده . يوه تائيد کوونکي او نګرانانو ته انتظار لري . دغه حقيقت ممکن ، په څو کالونو کې ، د انګلستان د نوښتمې پېړۍ په باب په کتابونو او مقالو کې لومړی په قوت نوټونو ، او وروسته په متن کې وليدل شي . يا دا چې هيڅوک به ورته پام ونه کړي ، او په دې ډول به د غير تاريخي حقايقو په سمندر کې ورک شي ، له کوم څخه چې ډاکټر کلارک کوښښ کړی دی ، چې خلاص يې کړي . کوم شی به فيصله وکړي ، چې دغه يا هغه حال به په دغه حقيقت راشي ؟ زما په فکر دا به په دې اړه ولري ، چې نور مؤرخان به هغه تيس يا تعبير کوم چې ډاکټر کټسن کلارک د دغې پېښې په طرفدارۍ ذکر کړی دی مهم وګڼي ، يا نه . د دغې پېښې موقف به د تاريخي حقيقت په حيث د تعبير په مسئلې باندې وڅرخيږي . د تعبير دغه عنصر په هر تاريخي حقيقت کې داخليږي .

اجازه به وی ، چې يوه شخصي خاطره ياده کړم ؟ څو کاله پخوا ، څه وخت چې ما په دغه پوهنتون (کيمبرج) کې د لرغوني تاريخ تحصيل کاوه ، يو خاص مضمون مې په نامه د يونان د پارس په جنګونو کې ، لوست . پنځلس يا شل کتابونه مې په الماری کې راغونډ کړي وو ، او دا مې منلې وه ، چې ټول حقايق په دغو کتابونو کې موجود دي ، کوم چې زما په مضمون پورې اړه لري . راځئ چې دا وګڼو ، او دا تقريباً صحيح هم وه - چې دغو کتابونو په دغه باب ټول

٤١- لارډ جارج سنګر (Lord G. Sangar) او ياګاله تنداره جوړونکی (لومړی چاپ ... ١٩٢٦) مخونه ١٨٨-١٨٩ .

٤٢- Dr. Kilson Clark

٤٣- ډاکټر کټسن کلارک د ويکټوريايي انګلستان جوړول (١٩٦٢)

حقایق لرل ، کوم چې هغه وخت معلوم وو، او یا معلوم کېدلی شول . دامې گرد سره فکر ته نه لوېدله ، چې پوښتنه وکړم ، چې دغه حقایق په کوم تصادف او عملیې سره چې دحقایقو انتخاب کړی ، له هغو ډېرو حقایقو څخه چې یو وخت به چا ته معلوم وو ، راژوندي پاتې شوي دي : او تاریخي حقایق گرزېدلي دي . گمان کوم چې تن ورځ هم دپخوانیو اومنځنیو پېریو د تاریخ پر سحر دادی : چې موږ داسې تېرباسي چې موږ گواکې ټول حقایق په لاس کې لرو . د ماضي په باب دتاریخي حقایقو ، او نورو حقایقو متنازع فیه فرق ورك شوی دی ، په دې چې معلوم حقایق ټول تاریخي حقایق دي ، بري ۴۳ چې ددوارو عصرونو په باب تحقیق کړی دی، لیکي ودپخواني اومنځنی تاریخ اسناد ډېرې سوري لري . » ۴۴ تاریخ یو داسې مترما شین بلل شوی دی چې د یرې برخې یې ورکې دي . خولوی مشکل په سوروکې نه دی . دیونان دپنځمې پېری ق . م . تصویر اساساً په دې ناقص نه دی چې دیرې برخې یې په تصادفي دول ورکې شوې دي . نیمگړتیا په دې کې ده چې تصویر په زیاته اندازه دائن دېیاردیوې دیرې وړې دلې له خوا کښل شوی دی . موږ په دې ډېر ښه پوهېږو چې دهغه وخت یونان داتن دیوه مدني فرد په نظر څنگه ښکاره کېده خو په دې په ډېر مشکل پوهېږو چې د سپارتا ۴۵ یاد کورنت ، ۴۶ یا د تب ۴۷ دفرد په نظر څنگه معلومېده ، دفارس فرد ، غلام یاداتن غیر مدني فرد خولا په ځای پرېږده . زموږ تصویر زموږ دپاره پخوا له پخوا غوره شوی ، او تیا کل شوی دی ، نه دومره په اتفاقي دول : بلکه دهغو خلقو له خوا چه په شعوري یا غیرشعوري دول په یوه خاص فکر وو ، او په داسې حقايقو پسې سوچ کاوه چې ددوی په نظر دساتلو وړ وو . کله چې زه دمنځنیو پېریو په باب په

Bury -۴۳

J. B. Bury -۴۴ دقرون لیکې (۱۹۳۰) مخ ۴۲ .

Sparta -۴۵

Corinth -۴۶

Theb -۴۷

کوم معاصر تاریخ کې داسې یو څه لولم چې وایي دهغو وختو نو خلق له مذهب سره ډیر علاقمن وو، نوماته دا پوښتنه په زړه شي چې څه موږ ته دا معلومات له کومه کړل، او هغه درست دي که نه. هغه څه چه موږ ته بې دمنځنیو پیړیو په باب دحقایقو په څیر پېژنو، موږ ته تږدې ټول دیښو کښوونکو ۴۸ نسلونو له خوا غوره شوي دي اودوی دفن او کسب په لحاظ په عمل او نظر کې مذهبي کسان وو. دوی هغه څه وکښل، او هغه څه ورته مهم بریښېدل چې په مذهب پورې یې اړه درلوده. دوی نور څه هیڅ ضبط نه کړل. د روسیې دګروندګر هغه تصویر چې دی د زړه له کومې مذهبي دی، د۱۹۱۷ انقلاب درې ورې کړ. داچه دمنځنیو پیړیو دانسان تصویر د زړه له کومې مذهبي دی؛ ممکن درست وي؛ یادرست نه وي؛ مګر نه ماتېدونکی دی، په دې چې دده په باب ټول حقایق دهغو خلقو له خوا ټاکل شوي او غوره شوي دي چې په همدې عقیدې وو، او غوښتل یې چې نورهم پرې معتقد کړي، هغه نور ډېر حقایق چې ښایي دهغو په رڼا کې د دغه نظر عکس ثابت شوی وای ټول له لاسه وتلي دي. دمؤرخانو، کاتبانو، او پېښو کېښوونکو د ورکو شویو نسلونو مړو لاسو نو موږ ته دماضي طرح او ترتیب یې له دې چې موږ په دغه باب څه کولی وشو، ټاکلی دی. پروفیسر بره کلف ۴۹ چې پخپله دمنځنیو پیړیو متخصص دی، لیکي: «که یې څېړ شو، هغه تاریخ چې موږ یې لولو، که څه هم چې په حقایقو مستند دی، حقیقتي نه دی، بلکه دمنل شویو قضاوتونو یو لړ دی.» ۵۰

خو راځو چې دمعاصر مؤرخ بل، مګر په مساوي ډول، مهم مشکل ته مخ وګرځوو. دپخوانیو یا منځنیو پیړیو مؤرخ به دېیلو لو له هغې پراخې عملي څخه ممنون وي، چې په هغې سره یې ده ته د تاریخي حقایقو زیات شمیر مرتب حقایق ور په لاس کړي دي. لکه چې لیټن سټراچي ۵۱ ویلي دي: «تاپوهېږی

۴۸- Chroniclers

۴۹- G. Barraclough

۵۰- جي. بره‌کلف، تاریخ په اوړېدونکي جهان کې (۱۹۵۵)، مخ ۱۴.

۵۱- Lytton Strachey

دمؤرخ لومړنۍ شرط دی ، څه ناپوهي چې ساده کول کوي ، واضح کول کوي ، غوره کول کوي ، اوحذف کول کوي .[۵۲] څه وخت چې زه دیته متمایل شم ، لکه چې کله کله کیږم ، چې دخپلو همکارانو په نهایي استعداد باندې رخه وکړم کوم چې دېخوانیو اومنځنیو پېړیو په تاریخ لیکلو بوخت دي ، په دغه فکر سره ارام شم چې دوی څکه لیاقت لري ، چې زیاتره یې په خپلې موضوع کې ناپوه دي . معاصر مؤرخ له دغې طبیعي ناپوهي څخه محروم دی . دی باید دغې ناپوهي په ځان کې تزریق کړي . څومره چې دی خپل وخت ته را نږدې کیږي ، دی باید دغه کار زیات وکړي . دی به دوه ارخیزه وظیفه په مخ کې لري . باید یو څو لږ مهم حقایق وسپړي ، او په تاریخي حقایقو یې واړوي ، او ډیر غیر مهم حقایق د غیر تاریخي حقایقو په نامه رد کړي . خو دا د نولسمې پېړۍ د بدعت معکوس شکل دی چې وایي تاریخ د زیاتو شمیرو دافاقي اوتنه رد کیدونکو حقایقو له تدوین او تألیف څخه عبارت دی . هر هغه څوک چې دغې بدعت ته تسلیم کیږي ، یا باید تاریخ د یوه بد مسلک په حیث له سره پریږدي ، یا د پوستې ټیکټونو اولواو یاد عتیقه پیژندنې کسب ته ملا وتړي ، او یا دا را لمجانین ته منتهي شي . په ساو تیرو کالونو کې ، دغې بدعت په معاصر مؤرخ د پیروانو ونکي اثرونه کړي دي ، او په جرمني ، لویې بریتانیې ، او امریکې کې یې داسې تاریخونه تولید کړي دي ، چې بس یوازې یې وچ حقایق لرلي دي ، او یا یې د کید ونکو شاګردو مؤرخانو اختصاصي مونوګرافونه ثبت کړي دي چې داسې مؤرخان چې دلږ ولږ و په باب ډیر ډیر پوهیږي ، او د حقایقو په سمندر کې یې له کومې نښې نښانې څخه ډوب شوي دي . زما په فکر چې دهمدغه بدعت رواج و ، له دلیرالیې یا کاتولیکي وفادارۍ یو ګډول شوی تضاد چې اکتن یې د یوه مؤرخ په حیث زړه تنګی کړ . ده په یوې زوښنی مقالې کې دخپل ښوونکي دالنجر [۵۳] په باب وېلي و :

۵۲ـ لیټن ستراچي ، وکټورین نامتو ته مقدمه .
۵۳ـ Dollinger جرمنی مورخ . (۱۷۹۹-۱۸۹۰) (م)

وده نه غوښتل چې په ناقصو موادو سره لیکل وکړی ، او موادده په فکر تل ناقص وو. « ٭ اکثر دله په یقین سره په ځان پورې قبلی حکم کاوه - یعني د مؤرخ په دغه عجیب خاصیت چه توریه یې په دغه پوهتون کې د (معاصر تاریخ د څانګې د پوه ونیلی یاچایی پروفیسر) ګڼی ، خودی پخپله هیڅ تاریخ نه لیکی . اکثر د کیمبرج د معاصر تاریخ د لومړی ټوک په سریزه کې چې دده له مړینې څخه وروسته د پرزو چاپ شو ، ټوله شناخته ولیکله او دا هغه وخت و چې ده په دې افسوس وکړ چې قوی تقاضاګانې مؤرخ داسې « ر تنی چې له ادیب څخه یې د دایرة المعارف په مؤلف بدل کړی . » ٭٭ غلطی په دې عقیده کې وه چې د مسلمو او ثابتو حقایقو دله ستړی کېدو نکی او بې انجامه تو او لو کار د تاریخ اساس ګڼل شوی و ، یعني هغه عقیده چې وایي حقایق پخپله ګړیږی ، او ځان بیی او موږ له حد څخه زیات حقایق لرلی نه شو. په هغه وخت کې دا دومره مسلم ګڼل شوی و چې یوازې یو څو مؤرخانو د الارمه بلله - څېنې یې او س هم غیر لازمی بولی- چې له ځان څخه وپوښتی چې « تاریخ څه ته وایی ؟ » .

دلو نسمی پېړی د حقایقو درناوی داسنادو په لمانځلو سره روا وګڼل شو ، او تکمیل شول : اسناد د حقایقو په عبادت ځی کې د تړون بخدان ٭٭ وګڼل شول ، محترم مؤرخ دغه په مقابل کې د احترام سر ټیټ کړ ، او دغو په باب یې په ډېر احترام او خوف سره وېل شروع کړل . دا عقیده عمومی شوه چې که ته یې په اسنادو کې ومومې : نو همدغسې به وی. خو که موږ ته څیر شو دغه اسناد - فرمانونه تړونونه ، د کرام طومارونه ، حکومتی ځهرونې ، رسمی لیکونه ، شخصی لیکنې او لیکونه - موږ ته څه شی رسی؟ هیڅ سند تر دې نه چې د دغه په باب یې مؤلف څه فکر کړی دی ، موږ ته زیات نور څه نه وی لی نه شی : یعني ګوم هغه څه چې

٭ د کیمبرج معاصر تاریخ ، ۱ (۱۹۰۲) ، مخ ۴ .

٭٭ The Ark of Covenant دیهودانو په تاریخ کې هغه لرګین صندوق چې وقانونه جدولونه پکې ساتل شوی و . (م)

ده په فکر پیښ شوی دی، او کوم څه چې ده فکر کړی دی چې باید پیښ شي، او یا به پیښ شي، یا ممکن یوازې دا چې نورو خلقو په دې سوچ وهلی چې ده څه فکر کړی دی او یا حتی یوازې دا چې ده په خپله فکر کړی دی، چې ده سوچ وهلی دی. دا یو هم هیڅ مفهوم نه لري مګر تر هغو چې مؤرخ په هغو عملیه جاري کړې نه وي، او لوړ او بربنډ کړې یې نه وي. حقایق که په اسنادو کې موندل شوي وي، یا نه وي موندل شوي، پخوا له دې چې مؤرخ ترې استفاده وکولی شي، باید د هغه له خوا تر عملیې لاندې ونیول شي. هغه استفاده چې دی یې له هغو څخه کولی شي، زما په فکر چې د عملیې عملیه کول دي.

زه یې په خپله وینا په یوه مثال سره شرح کړم. دا مې مثال چې داسې پېښه شوې چې زه پرې ښه پوهېږم. کله چې په ۱۹۲۹ کې ګوستاو شترزېمان ۵۶ د وایمار دجمهوریت د بهرنیو چارو وزیر مړ شو، له ده څخه په ډېر شو بکسونو کې د رسمي، نیمه رسمي او خصوصي اوراق پاتې شول چې هغه ټول د ده د شپږ کلنې دورې وزارت ته مربوط وو. ملګری او خپلوان یې په دې فکر شول چې دده یو ستر شخصیت په خاطر باید یو منار ودرول شي. دده یاور وفادار منشي برنهارد ۵۷ دې کار ته ملا وتړله او په درېو کالونو کې یې درې غټ کتابونه چې هر یو یې ۶۰۰ مخه وو، راوایستل او دده له هغو ډېر شو بکسونو څخه انتخابي اسناد په نامه د (Stresemann Vermachtnis) چاپ شول. په عادي حال کې دا اسناد ممکن په کومې الماری، یا تاخچې کې پټ او د تل دپاره ورک شوي وای، یا ممکن په سلو کالونو کې کوم محقق پرې پیښ شوی وای، او د برنهارد له متن سره یې د هغو په پرتله کولو پیل کړی وای. خو هغه څه چې پیښ شول، تر دغو احتمالاتو ډېر برجسته وو. په ۱۹٤۵ کې اسناد د برتانیې او امریکې حکومتونو ته په لاس ورغلل. دوی د ټولو

۵۶ـ Gustav Stresemann (۱۸۷۸-۱۹۲۹) جرمني سیاستمدار او ملي لبرالانو د ګوند مشر، او د وایمار دجمهوریت د خارجه چارو وزیر (م)

۵۷ـ Bernhard

سندونو عکسونه واخیستل او د یو هاتو د اسنادو د پاره یې په لندن کې د عامه سند دفتر ۵۸ او واشنګټن کې یې په ملي ارشیفونو ۵۹ کې کېښودل. اوس نو که مو لږ پوره حوصله او کنجکاوي ولرو، دغه کشف کولی شو چې برنهارد څه وکړل. هغه څه چې ده وکړل، نه غیرمعمولي، او نه لرزوونکي وو. څه وخت چې شترزیمان مړ شو، داسې برېښېده چې د ده د لوېدیځ سیاست په یو لړ موفقیتونو ښکلې شوی دی: لوکارنو ۶۰، د ملتونو په لیګ ۶۱ کې د جرمني شمول د داوز ۶۲ او ینګ ۶۳ پلانونه، د امریکې پورونه، د راین له سیمې څخه د متحدینو د لښکرو ایستل، د اشترزیمان د خارجي سیاست مهم او د جایزې وړ برخه معلومېده. غیرطبیعي نه ده چې دا ټول د برنهارد د سندونو په انتخاب کې غوره ښکاره شي، او ډېره توجه ورته وشي. له بلې خوا د شترزیمان ختیځ سیاست، له شوروي اتحاد سره د هغه اړیکې، داسې برېښېدلې چې په خاص ډول کومې نتیجې ته نه وي رسېدلي. د هغه کړو په باب، هغه نور ډېر سندونه چې یوازې جزیي نتایج یې ورکړي وو، او په زړه پورې نه وو، او د شترزیمان نوم او شهرت یې نه اضافه کاوه، انتخاب نه شول. مګر شترزیمان، په واقع کې، له شوروي اتحاد

۵۸- Public Record Office

۵۹- The National Archives

۶۰- Lucarno مراد د لوکارنو تړونونه دي، چې په ۱۹۲۵ کې شوي دي. ددغو تړونونو له مخې تکلې دغه موافقت دی چې د فرانسې، جرمني، بلجیم - جرمني سرحدونه تضمینوي او د راین سیمه غیر نظامي اعلانوي. (م)

۶۱- The League of Nations

۶۲- Dawes Plan . دا پلان په ۱۹۲۴ کې د یوې کمېټې له خوا چې مشري یې امریکایي Charles G. Dawes وه طرح شو، ددغه پلان له مخې د جرمني د جنګ تاوان ورکولو اندازه وټاکله شوله او جرمني ته د بهرنیو پورونو ورکول ومنل شول. (م)

۶۳- Young Plan. ددغه پلان په اساس چې په (۱۹۲۹) کې طرح شو د جرمني له خوا د جنګ تاوان ورکولو اندازه [illegible] جرمني ته [illegible] شوله. تاوان باید په ۵۸$\frac{1}{2}$ کالو کې اداشوی وای. مګر کله چې هټلر په واک راغی، د دغه له تادیې څخه یې غاړه وغړوله. (م)

سندونو عکسونه واخیستل او دپوهانو داستفادې دپاره یې په لندن کې د عامه سند دفتر ۵۸ او واشنګټن کې یې په ملي ارشیفونو ۵۹ کې کېښودل. اوس نو که مونږ یوڅه حوصله او کنجکاوي ولرو، دغه کشف کولی شو چې برنهارد څه وکړل. هغه څه چې ده وکړل، نه غیرمعمولي؛ او نه لړزوونکي وو. هغه وخت چې شترزیمان مړ شو، داسې بریښېده چې دده لوېدیځ سیاست په لومړیو موفقیتونو ښکلی شوی دی: لوکارنو ۶۰، ملتونو په لیګ ۶۱ کې د جرمني شمول، د داوز ۶۲ او ینګ ۶۳ پلانونه، د امریکې پورونه، د راین له سیمې څخه د متحدینو د لښکرو ایستل، دا د شترزیمان د خارجي سیاست مهم او د جایزې وړ بریو برخه معلومېده. غیرطبیعي نه ده چې دا ټول د برنهارد د سندونو په انتخاب کې غوره ښکاره شي، او ډېره توجه ورته وشي. له بلې خوا د شترزیمان ختیځ سیاست؛ له شوروي اتحاد سره د هغه اړیکې، داسې بریښېدلې چې په خاص ډول کومې نتیجې ته نه وي رسېدلې. ځکه د اګرو په باب، هغه لوړ دېر سندونه چه پیوازې جزیي نتایج یې ورکړي و، او په ډېره پورې نه وو، او د شترزیمان نوم او شهرت یې نه اضافه کاوه، انتخاب نه شول. مګر شترزیمان، په واقع کې، له شوروي اتحاد

۵۸– Public Record Office

۵۹– The National Archives

۶۰– Locarno مراد د لوکارنو تړونونه دي چې په ۱۹۲۵ کې شوي دي. دغو تړونونو لومړی ټکی هغه موافقت دی چې د فرانسې – جرمني؛ بلجیم – جرمني سرحدي لیکې تضمینوي، او د راین ایله سیمه نیږ تقاضې اعلاموي. (م)

۶۱– The League of Nations

۶۲– Dawes Plan. دا پلان په ۱۹۲۴ کې د یوې کمیټې له خوا چې مشري یې امریکایي Charles G. Dawes درلوده طرح شو، د دغه پلان له مخې د جرمني د جنګ د تاوان ورکړې اندازه ټاکل شوله او جرمني ته د بهرنیو پورونو ورکول منل شول. (م)

۶۳– Young Plan. د دغه پلان په اساس چې په (۱۹۲۹) کې طرح شو د جرمني له خوا د جنګ د تاوان ورکولو اندازه خلورمې برخې ته را ټیټه شوله. تاوان باید په $\frac{1}{2}$ ۵۸ کالو کې اداشوی وای، مګر کله چې هټلر په واک راغی، د دغه له تادیې څخه یې غاړه وغړوله. (م)

سره مناسباتو په باب د ډېره دوامداره، او له اندیښنې نه ډکه توجه وکړله. په خصوصي ډول، د غو مناسباتو د ده په خارجي سیاست کې د ډېر لوی رول لاره تقلرد یته چې په برتهارد دا انتخاباتو لوستونکي به یې قیاس کوي. سره له دې هم زما په فکر دبرنهارد کتابونه د ډېر وهغو چاپ شویو اسنادو په مجموعي باندې چرېې کوي کوم چې یو عادي مؤرخ پرې استناد کوي.

زما قصه لادلته نه خلاصیږي. دبرنهارد د غوره شویو سندونو له چاپ څخه ډېر زر وروسته، هټلر د واک څختن شو. دشترزیمان نوم په جرمني کې له یاده و وت او هغه کتابونه له دوران څخه و لوېدل. ډېري، بلشاید د هغو نسخو زیاتره برخې باید حساله شخه تللې وي. ان ورځ (Stresemann Vermachtnis) یو څه قدرنادر کتاب دی. خو په لوېدیځې ترې کې دشترزیمان نوم نه و تلی و. په ۱۹۳۵ کې یو انګلیس ناشر، دبرنهارد د کتاب یوه اختصار شوې ترجمه راوایستله. دا ترجمه په حقیقت کې دا انتخاب انتخاب و. ممکن دا اصل څرګ یعه یو خه یکې حذف شوې وي، متن ٦٤ له جرمني ژبې څخه خپل کار نه او په کفایت سره اجرا کړی و. دده په سریزه کې ورېل چې انګلیسي ترجمه لږ څه زیات شوې ده، خو یوازې د هغو برخو په حذف کولو سره چې ګمان کېده د ډېره کم د وامه او......... انګلیسي لوستونکو یا زده کوونکو ته د لږې علاقې موضوع ده.»٦٥ دا هم یا طبیعي ده. مګر نتیجه یې دا شوه چې دشترزیمان تخیع سیاست چې یې لا پخوا دبرنهارد په انتخاب کې لږ ذکر شوی و، لا هم په یوه ګوټ کې تخته شو، او له نظره ولوېد او شوروي اتحاد دښتن په کتابونو کې دشترزیمان لوېدیځ نه په متمایل ډول د دوی سیاست کې، فقط کله کله دیوه نامقبول مزاحم په څېر ښکاره کېږي. سره له دې هم دا درسته ده چې د یو څو متخصصانو نه غیر او ر نو د تولو لپاره دښتن کتابونه (دبرنهارد کتابونه نه)، او په خپله اسناد لاتر هغو کم. د لوېدیځې ترې په باب

---

٦٤- Sution.

٦٥- ګستاو شتر یزیمان: دده لیکونه، یادداښتونه، او اوراق (۱۹۳۵)، درېیم ټوک

فشترزیمان صحیح او ازشیلوی . که اسناد په ۱۹۴۵ کې دبساری په اثر له منځه تللی وای ، او دبرتهاردپاتې کتابونه ورك شوی وای ، دمتن دمتخباتو صحت او صلاحیت به هیڅکله مشکوك نه وای . د سند و نو د بر ې چاپ شو ې مجموعې ؛ چې دمؤرخانو په نزد داصلی نسخو په نسبت ناقصې دی ؛ تر دېنه زیات په کوم مصون اساس تکیه کولی نه شی .

خوزه غواړم چې داقصه یو کام بیاهم دمخه بوځم . راځئ چې ستن او برتهارد له یاده وباسو ، اوله دې څخه خوښ اوسو چې کولی شو دهغه چا اصلی اوراق وګو روچې ده دمعاصرې ارو پادتاریخ په ځینو پېښو کې ستره برخه اخستې ده . دا اوراق موتږته څه ښی ؟ دا اوراق دنوروخبرونو په جمله کې په برلین کې دشوروی اتحادله سفیر سره دشتر زیمان په سلګونو ؛ او له چې چې رین ٦٦ سره دیوڅومرکوتصوبراوثبت راښیې . دانیتونه یومشترك خاصیت لری . د وی په مرکو کې دشترزیمان برخه به غوره اوستره ښیې . دهغه دلایل منسجم اوقوی معرفی کوی ؛ په داسې حال کې چې دهغه دمقابل دلایل به دېروځایونوکې ګډوډ او غیرمقنع ښکاره کوی . دادتولودیپلوماتیکې مرکودیادداشتونو یو معلوم خصوصیت دی . سندونه دواقعاتو په باب موتږته پوره معلومات نه را کوی . دوی هغه څه وایی چې شترزیمان فکر کوی چې پېښ شوی دی ، یاهغه څه چې دی فکر کوی نورخلق پرې فکروکړی چې پېښ شوی دی ، یا ممکن داچې ده غوښتل چې په خپله فکر وکړی ؛ چې پېښ شو ی دی . دا په خپله شتر ز یما ن و ، نه برتهارداوستن چې دانتخاب عملیه یې غوره کړې وه . دمثال په تو ګه ، که موږ دمعلومو کو ټیز نه دچیچ چې رین په قلم لرلای ، لوموتږبه بیاهم له هغه څخه هغه څه زده کړی وای ، کوم چې ؛ چې چې رین فکر کاوه . هغه څه چې په واقع کې پېښ شوی دی ؛ هغه باید دمؤرخ په ذهن کې له سره تیارشی . په دې کې څه شك نشته چې حقایق اوسندونه دمؤرخ دپاره اساسی اهمیت لری . خو بت تر ې

Chicherin -٦٦

مه جوړوي ، اولمانځي يې مه . دوی په خپل ذات کې تاريخ نه جوړوي . دوی ددغې منزې کوونکې پوښتنې دپاره چې «تاريخ څه ته وايي ؟» تيار ځواب نه لري .

په دغه ځای کې غوارم په دې باب يو څو خبرې وکړم چې د نو نسمې پيړۍ مؤرخان څه له عموماً د تاريخ د فلسفې په حقله بېملاقې وو . د تاريخ د فلسفې اصطلاح ولتير ۶۷ ايښې ده . اوله هغه وروسته په بيلو بيلو مفهومونو استعمال شوې ده . خوزه به يې که چيرې ګرد سره استعمال کړم ، ددغې پوښتنې چې « تاريخ څه ته وايي ؟» د ځواب دپاره په کار کړم . نونسمه پيړۍ دلويديځې اروپا د روښنفکرانو دپاره ارامه دوره وه چې وېسا ، اوخوش بيني يې محصول و . حقايق په عمومي ډول قناعت بخښوونکي وو ، اوچا زړه نه کاوه چې دغو په باب ژ بېړو پوښتنو ځوابونه ووايي . رانکې کې دزړه له کومې معتقد وچې که لوی ځښتن دحقايقو غمه وخوړله ، د تاريخ د مفهوم غمه به يې هم خوړلې وي . برک خارډت ۶۸ دعصري شکاکيت په يو څه روحيې سره ووېل چې «موږ ددايمي عقل دمقصدونو دپاره پيدا شوي نه يو .» پروفيسر بټرفيلډ ۶۹ لا حتی په ۱۹۳۱ کې په ظاهري قناعت سره ښکاره کړله چې «مؤرخانو دخپزونو په ماهيت ، اوحتی ددوی دخپلې موضوع په ماهيت ډيرلږ سوچ وهلی دی .» ۷۰ خو په دغو ليکچرونو کې زما سلف ډاکتر اې . ايل . راوس ۷۱ ترنورو عادلانه مقصد سرونستن چرچيل ۷۲ د نړۍ ديحران نومي کتاب په باب چې د نړۍ دلومړۍ جګړې په حقله ده ، تاليف دی

۶۷- Francois M. A. Voltair (۱۶۹۴-۱۷۷۸) فرانسوی فيلسوف او ليکوال . (م)

۶۸- Burckhardt

۶۹- H. Butterfield

۷۰- ايچ . بټرفيلډ ، دويګانو دتاريخ تعبير (۱۹۳۱) ، مخ ۶۷ .

۷۱- A. L. Rowse

۷۲- Sir Winston Churchil (۱۸۷۴-۱۹۶۵) انګليسی سياستمدار او مولف . (م)

ولیکل چې دغه تألیف دشخصیت ، وضاحت ؛ او حیاتیت په لحاظ دتراتسکي ۷۳
دروسي انقلاب تاریخ له تألیف سره دغړې وهي ؛ مګرپه یوه لحاظ ترهغه
ضعیف دی اوهغه داچې دغه تألیف ودتاریخ په کومې فلسفې بنانه دی .، ۷۴
برتانوي مؤرخانوله دې څخه ډډه وکړه چې میدان ته کش کړل شي ، نه له دې
امله چې ددوی په عقیده تاریخ مفهوم نه لاره ، بلکه له دې
امله چې ددوی په فکر دتاریخ مفهوم بلااعتراض ، واضح ، اومشهوردو . دنولسمې پېړۍ
د تاریخ لیبرالي مفهوم دلیسه فرله اقتصادي دوکتورین سره ، چې هغه هم دنړۍ په باب
پرځان ویسا اوارام نظر محصول و ، نژدې ارتباط لاره . پرېږدئ چې هرڅوک
خپله وظیفه په مخ بوځي . دقدرت نه لیدونکي لاس به بیاعالمي انتظام په خپله وکړي .
د تاریخ حقایق په خپله دلوړو عېزو توپه لوړو لوړ حقیقت دظاهرآ بې انتها اوتیکي
ترقي یوه مظاهره وه . دا د معصومیت عصرو . مورخان به باغ عدن ته ؛ بې له دې
چې فلسفي جامه یې په تن وي ، اوبې له کومه شرمه څخه لوڅ اوبربنډ تلل
او د تاریخ د څښتن په حضور کې به ودرېدل . له هغه وروسته مو ګناه وکړله .
ولویدل . واووا یستل شو لو . هغه مورخان چې نن ورځ پلمه کوي چې
د تاریخ له فلسفې نه صرف نظر وکړي ، یوازې بیهوده زیارباسي چې دبربنډواولوڅو
دمیمې دغړیوپه حیث دخپل باغ په احاطه کې باغ عدن له سره جوړ کړي څونن
ورځ د تاریخ له هغې زیږې اودردوونکې پوښتنې څخه خلاصون ممکن نه دی .

په تیروپنځوسو کالونو کې د دغې پوښتنې په باب چې ، تاریخ څه ته وایي ؟ ،
جابسته ډیرې لیکنې شوې دي . په تاریخ کې دحقایقو داستقلال اولومړیتوب په مقابل
کې چیلنج لومړی د ۱۸۸۰ او ۱۸۹۰ په لسو کالونو کې له جرمنی څخه ورکړل
شو . جرمني هغه ملک دی چې د نولسمې پېړۍ دلیبرالیزم آرام عصربې ډېرناارام
کړی دی . هغوفیلسوفانوچې چیلنجونه ورکړل ، اوس یې یوازې لومونه پاتې دي .

۷۳- Leon Trotsky (۱۸۷۷-۱۹۳۹) روسي سیاسي مشر او مولف . (م)
۷۴- اې . ایل . راوس ، دیوه عصر پای (۱۹۴۷) ، صفحه ۲۸۲-۲۸۳ .

له هغو څخه دلتای ۷۵ لومړنی کس دی ؛ چې په ستري برتانیې کې اوس مشهور شوی دی. دلتای پېړی له اوښتلو نه دمخه، په دغه ملک کې شتمنی او ویاړ ته ور قوي وو چې د یدغت څښتنا نو ته چې دوی د حقایقو په لمانځلو انتقاد کاوه، چا هیڅ توجه نه کوله . خوشحال دلتای پېړی په سر کې ایتالیې ته لاړ او هلته کروسې ۷۶ د تاریخ د فلسفې په پېیلو پیل وکړ. دغه پیل په بنکاره ډول د جرمني د فیلسوفانو مدیون وو. د کروسې په عقیده ۷۷ ټول تاریخ « معاصر تاریخ » دی معنی یې دا چې تاریخ اساساً د اوس په ستر ګو او د اوسنیو مسایلو په رڼا کې د ماضي له اید لو څخه متشکل دی او د مورخ مهمه وظیفه دا نه ده چې ثبت وکړي، بلکه ارزیابي وکړي، ځکه که دی ارزیابي و نه کړي ، مونږ به څنګه پوه شو چې څه شیان د ثبتولو وړ دي . په ۱۹۱۰ کې کارل بیکر ۷۸ امریکایي مورخ، قصداً په پاروونکې ژبه داسې استدلال وکړ چې « د تاریخ حقایق تر هغو چې یې مورخ په خپله خلق نه کړي، د هغه د پاره هیڅ وجود نه لري » ۷۹ دغو چیلنجونو ته اول د چا پس لږ څه پام شو . یوازې له ۱۹۲۰ څخه وروسته وچې د کروسې نوم په فرانسې او جرمني کې بنایسته ښه خپور شو . دا شاید له دې امله نه و، چې کروسې تر خپلو جرمني اسلافو نه لیا ډیر دقیق مفکر، او یا دلیا ښه اسلوب څښتن و ، بلکه له دې امله و چې له لومړۍ جهاني جنګ له وروسته ، حقایقو نظر تر ۱۹۱٤ څخه ورمېی، له مونږ سره لږ څندل، او مونږ د هغې

---

۷۵- William Dilthey (۱۸۳۳-۱۹۱۱) . جرمنی فیلسوف .(م)

۷٦- B. Croce (۱۸٦٦-۱۹۵۲)، ایتالوی فیلسوف .(م)

۷۷- د دغې مشهورې شوې وجیزې قرینه دا ده ، د دغه عملي شرایط کوم چې د هغوی په اساس تاریخي قضاوت کیږي ، ټول تاریخونو ته « د معاصر تاریخ » خصوصیت ورکوي . ځکه چې دا دی چې که څه هم پېښه ډیر مره لیرې تېاله کې وقایع شمېرل کیږي ، د دې حکایت چې تاریخ په واقع کې اوسني احتیاجاتو راجع کیږي ، او دا چې حالات د هغه کوي ، چې د دغه وقایعو په نکې اهتزاز کوي . ( بي. کروچي ، تاریخ داز ادي د قصې په حیث ، انګریزي ترجمه ، ۱۹٤۱ ) ، مخ ۱۹ .

۷۸ Carl Becker ، ۷۹. د اتلانتیک ماهنامه، اکتوبر ۱۹۱۰ ، مخ ۵۲۸ .

یوی فلسفي تهلاره ومونده چي دحقايقوحيثيت يې كم كاوه . كروسي دا كسفورډ په فيلسوف اومورخ كالنګ‌ووډ ۸۰ زورااثر کړی و، وروستی يې په اوسنی پيړی کي هغه يوازنی مفکروچي دتاريخ دفلسفي دپاره يې جدی خدمت کړی دی. دی ژوندی پاتي نه شو چي خپلي مقالې، لکه څنګه چي يې پخپله طرح کړی وی، په منظم ډول ولیکی، مګر په همدغي موضوع باندی دده چاپي شوی اونه چاپي شوی مقالي دده له مړيني نه وروسته په يوه كتاب كي را ټولي شولي او په ۱۹٤٥ كي دتاريخ د نظر په نامه چاپ شولي.

دكالنګ‌ووډ نظريات په دغه ډول خلاصه کيدلی شي . د تاريخ فيلسوف نه ويخپله له ماضي سره ، اونه په هغه باب پخپله دمورخ له فکر سره سروکار لري، بلکه ( له دواړوځيزونوسره د دوی له متقابلو مناسباتوسره سروكارلري: (دا حکم دوتاريخ ،دکلمي دوه جاری معنی ګالي منعکسي کوي، هغه پلټنه چي مورخ يې کوي اود تيروشويوپيښويولړچه دی يې پلټنه کوی.) وماضي چي مورخ يې مطالعه کوی مړماضي نه دی، بلکه داسي يوماضي دی چي په يوه لحاظ تراوسه هم په اوسني زمانه کي ژوند کوی، خودماضي عمل مړدی، يعني مورخ ته کومه معنی نه لری، مګرترڅو چي دی هغه فکر درک کړی کوم چي دهغه شاته پروت دی . پهدی لحاظ دټول تاريخ د فکر تاريخ دی، اوتاريخ دمورخ په ذهن کي دهغه فکر بيازوندی کول دی دکوم تاريخ چي دی اولی، دمورخ په ذهن کي دماضي بياتشکيلول په تجربی شوا هدو اړه لري . خودا په خپل ذات کي کومه تجربی عمليه نه ده، اويوازی د حقايقو په لوستلوسره تشکيل کيدلی نه شي. برخلاف، دبياتشکيلو اوعمليه، دحقايقو په انتخاب اوتوجيه کي موثردی . په حقيقت کي، همدغه عمليه ده چي له هغوی څخه تاريخي حقايق جوړوی . پروفيسراوکشاټ ۸۱ ، چي پهدی باب له کالنګ‌ووډسره نژدی دی ، وايي چي دتاريخ دمورخ مهارت دی . له مورخ تهغيربی تورڅيځوک

(م) ۸۰- R. .G. Colling Wood. (۱۸۸۹-۱۹٤۲) انګليسی فيلسوف اومورخ
۸۱- M. Oakeshott

ونه جوړوي . د تاریخ لیکل د هغه د جوړولو یوازنۍ لاره ده.» ۸۲

دغه لیکوونکی منتقد، که څه هم د نظر یو مثل بې مجبې جدي احتیاطونه غواړي، په یو څو هیرو شویو حقیقتونو رڼا اچوي . لومړی دا چې د تاریخ حقایق موږ ته په شکله خالص نه راځي، په دې چې هغوی په خالص شکل نه وجود لري، او نه وجود لرلی شي .وی تل د ثبت کوونکي له لارې انعکاس کوي . له دې څخه دا ښکاري چې کله وخت چې موږ د تاریخ په کوم کار لاس پورې کوو موږ لومړنۍ اندیښنه باید د حقایقو په باب نه وي ، بلکه باید د هغه مورخ په باب وي، چې تاریخ یې لیکلی دی ، که اجازه وي زه به د هغه ستر مورخ ، جي . ایم. ټریویلین ۸۳ مثال راوړم، د چا په باب چې دغه لیکچرونه ورکول کیږي . ټریویلین : لکه څنګه چې پخپله اتوبیوګرافي کې لیکي ، په کور کې یو څه قدرته ویګ ۸۴ په فراواني کې روزل شوی وم»، ۸۵ او زما هیله داده چې دی به د غه عنوان رد نه کړي ، چې دی د انګلستان د ویګ د غښتلي دستر لبرالي مورخانو وروستنی مورخ دی، مګر کمکی مورخ بې نه دی. دا هیڅ بې مفهومه خبره نه ده چې دی خپل فامیلي نسب د ویګ د ستر مورخ جارج اوتو ټریویلین ۸۶ له لارې مکالي ۸۷ یعنې هغه چا ته رسوي ، چې د ویګ په مورخانو کې بې جوړی دی . د ټریویلین ډیر ښکلی او پوخ اثر- انګلستان د ملکې این په عصر کې- د هغه غې سابقې په رڼا کې لیکل شوی دی ، او لوستونکي ته به یې پوره معنی او اهمیت هغه څه واضح شي، چې کتاب یې یوازې د دغې سابقې په رڼا کې ولوستل شي . مؤلف یې ، په واقع کې، لوستونکي ته هیڅ پلمه نه پریږدي ، چې هغه غې ونه کړي . ځکه ، که تاسې د پولیسي داستانو له انتقاد او تخنیکونو څخه کار واخلئ، لومړی یې

۸۲- ایم .او که شات ،تجارب او د هغه طرزونه (۱۹۳۳) مخ ۹۹

۸۳- G. M. Trevelyan (۱۸۷۶-) انګلیس مورخ (م)

۸۴- Whig

۸۵- جي .ایم . ټریویلین ،داتوبیوګرافي (۱۹۴۹) ، مخ ۱۱

۸۶- George Otto Trevelyan (۱۸۳۸-۱۹۲۸) انګلیس سیاسي سوانح لیکوونکی، او مورخ (م)

۸۷- Macaulay (۱۸۰۰-۱۸۵۹) انګلیس مورخ ، سیاستمدار او شاعر .(م)

پاتې داولي: په دې صورت به په ورستيو څو سخونو کې پوه ډیره ښه خلاصه وموښې چې په دې وختو کې دوګ د تاریخ تعبیرنومیږي. تاسوته به دا څرګنده شي چې هغه څه چې نوری ویلین یې کوی ؛ هغه دوګ د عنعنې د اصل او انکشاف پلټل، او دهغه د موسس - دريم ويليم ۸۸ له مرينې څخه وروسته‌ددغې عنعنې ديڼې په‌نيه او محترم دول خوندې کول اوغزول دي. که څه هم شايد داد ملکې اين تسلطنت د پيښوپوازنې درک کيدونکې تعبيرنه وي، مګر دايو درست اودنوری ويلين په ګوتو پومشر تعبيردی. خو که تاسې غواړی دهغه د پوره ارزښت قدر وکړی: بايد په دې پوه شی چې دغه مورخ څه کوی. ځکه، لکه‌څنګه چې کالنګ وود وايي: که يو مورخ بايد هغه څه چې د دراميداشخاصو په ذهن کې تيرشوی دی، په فکر کې بيا راژوندی کړی، لوستونکی هم بايد په خپل‌وارهغه څه‌چې دمورخ په ذهن کې تيرشوی دی، بيرته را ژوندی کړی. لومړی تاسې مورخ مطالعه کړئ؛ بيا حقايق مطالعه کړئ. دادومره دبرپيچلی کارنه‌دی. داهغه‌څه دی چې لادمخه‌ديوه ذکي شاګرد له‌خوا اجرا شوی‌دی، هغه وخت‌چې ده تمسپارتنه شوی‌چې دهغه سترعالم د سان‌جوډجونز ۸۹ اثرولولې، دې دجونزملګروته ځی اوله هغو څخه پوښتنې چې جونز څنګه سړی و؛ او چې زميدار و، څنګه روش يې لاره. څه وخت چې تاسې دتاريخ کوم کتاب لولی، بايدتل پزهاری‌ته غوږ ونيسی. که مو کوم پزهاری ترغوږ نه‌شو، يا يه‌تاسې کاڼه ياست اويابه مومورخ دنه پاروونکی‌سړی‌په شان وی. حقايق په واقع کې دهغو ماهيو په څيرنه دی چې دماهی‌خرڅوونکې په تيڼګ کې پراته وی. حقايق دهغو ماهيو په څيردی، چې‌په يوه پراخ او کله کله په نه رسيدونکی سمندر کې لامبې؛ او هغه څه‌چې مورخ نه ترې په‌ګوتوورځی څه يې په‌تصادف، مګرزيات يې په‌دې اړه‌لری چې څې دسمندر کومه برخه دماهی نيولو دپاره ټاکی او د نيولو دپاره يې څنګه چڼګک او چال انتخابوی. دادواړه عوامل البته په دې اړه لری، چې‌دی غواړی څه رازماهی

۸۸- William III (۱۶۵۰-۱۷۰۲)

۸۹- Jones of St. Jude

رنيسي، په عمومي ډول له مورخ څخه چې څه قسم حقايق غواړي حاصلولی يې شي، تاريخ د تعبير مفهوم لري. په حقيقت کې که سر جارج کلارک په سر و هم ډېر زيږي، او زه مجبور شم چې ووايم تاريخ د وتعبير يو تينګک زړی دی چې شاوخوا يې کومې مغز و نو له څخوا احاطه شوی دی، د زماو ويناپه بې له کوم ترديد څخه يوه ارځيزه او غلطه ګوونګې ده، مګر ګمان کوم چې تر اصل حکم نه په د يره يوه ارځيزه نه وي.

دوهم ټکی تر نورو ډېر اشنا دی، داټکی د مورخ هغه ضرورت دی، چې دی يې د خلقو د ذهنونو او کړنو شاته فکر د ابتکاري معرفت په غرض لري. زه وايم د ابتکاري معرفت، نه د زړه سواندۍ، او دا د دې دپاره چې له وروستي څخه د موافقت مفهوم واله خيستل شي. هغه آثار چې په نولسمې پېړۍ کې د منځنيو پېړيو په باب ليکل شوي وو، ډېر ضعيف وو. علت يې دا و چې منځنيو پېړيو او هغې عقايد په کې دو مره رد شوي وو، چې د هغه عصر د خلقو د معرفت دپاره د ابتکاري پوهې دپاره ځای نه و پاتې. د ډېرشو کالو د جګړي په باب د بر کټ خارډټ تبصره را واخلئ، د يو ملت دپاره کاتوليکي دي که پروتستان، دا رسوا کوونکې ده چې خپل خير د ملت له تمايت څخه پورته وګڼي.[۱۰] د نولسمې پېړۍ لبرال مورخ ته دا ډېره ګرانه تمامېده له چې د هغو خلقو په ذهن کې ننوځي کوم چې د ډېرشو کالو په جګړه کې ېر غه اخيستې وه، ځکه چې دی په دې عقيده روزل شوی و چې د هيواد د دفاع دپاره وژل روا او دستاينې ور دی، مګر د مذهب دپاره وژل شرارت او سرزوري ده. دا مشکل مخصوصاً په هغې ساحې کې جلای دی، په کوم کې چې زه په کار لګيا يم. زياتره هغه څه چې په وروستيو کالو کې د شوروي اتحاد په حلقه په انګليسي ويونکو هيوادونو او معکوساً د انګليسي ويونکو هيوادو په حلقه په شوروي اتحاد کې ليکل شوي دي د هغه څخه نقص په اترباطل شوي دي او يوې خواهم حتی د ابتکاري فهم هغه ابتدايي درجه ته د وپه کار کړي چې معلومه کړي د مقابل په ذهن کې څه تېر شوي دي. نتيجه دا شوې چې د يوه وينا وي او کړنې د هغه بل ترو ينا و واو کړنو ډېرې شريرې ، بې مفهومه ، او له ريسانه

۱۰- جېمز ....رټ هارنت، د تاريخ او مورخانو په باب قضاوت (۱۹۰۹) مخ ۱۲۹.

دکې ښکاره شوې دی . دتاریخ لیکل ترهغوامکان نه لري ، چې ترڅومورخ د هغو خلقو دذهن سره چې دهغوپه باب لیکل کوي ، یو قسم تماس پیدانه کړي .

دریم تکی دادی چې موږ ماضي یوازې داوس په سترګو لیدلی ، اودهغه په باب خپل فهم ته پورې رسیدلی شو . مورخ دخپل عصر یو شخص دی ، اودبشري وجود شرایط ور پورې تړلی دی . این هغه جاري او مصطلح کلمات لکه دموکراسي، امپراتوري،جنګ، انقلاب چې دی یې استعمالوي،جاري اشارې اومفهوم ونه لري،او مورخ ترینه مجرد او ګوښه کیدلی نشي. پخوانیو مورخانو دپولیس۹۱ اوپلبز ۹۲ کلمات په اصل شکل لیکلي دي اودادې دپاره چې وښیي دوی په دغه تلک کې ګیرنه شي. خو داوش له دوی سره مرسته نه کوي . دوی هم په اوس کې ژوند کوي ، او د ناماتوسواوزروشویو کلماتوپه استعمال سره ځانونه داسې غولولی نشي چې ګواکې دوی په ماضي کې دي اودوی په هغه وخت دارغوني یونان اوروم چه مورخان شي کەدوی خپل لیکچرونه په توګا ۹۳ یا کلامیز ۹٤ کې ور کړي. هغه‌نومونه‌چې په‌هغو سره فرانسوي‌مورخانوپر لەپسې‌هغه‌پاریسیان بیانول‌چې‌هغوی‌دفرانسې په انقلاب کې مهم رول لوبولی دی les sans - culottes , le peuple,lacanaille , les bras - nus نول دهغه ګانودپاره چې دلوبوپه‌قاعدوپوهیږي ،دیوه سیاسي ارتباط،اودیوه خاص تغییر اعلامې دی. سره له‌دې‌هم‌مورخ‌مجبوردی‌چې انتخاب وکړي: دزیې استعمال یې‌له دې څخه منصرف کوي چې‌دې یې‌عارف اوسي. دایوازې دکلماتوموضوع هم نه‌ده . په سلوورو ستیو کالونو کې په اروپاکې د قوت اړولې شوی موازنې دلوی

---

۹۱- Polis ( ښار )

۹۲- Pleba (دیځکته طبقو افراد) (م)

۹۳- toga . په لرغوني روم کې اوږدی او خلاصې جامې لکه چپنې چې یوازې مدني افرادو به اغوستلې .(م)

۹٤- chlamys یوراز خلاص شالدر چپنې داوږدو په برخه کې به په شنوی ګرلا کیده او په لرغوني یونان کې مستعمله وه .(م)

فریدریک ۹۵ په حقله دبرتانوي مورخانو روش معکوس کړی دی ، چې په عیسوي کلیساګانو کې د کاتولیک او پروتستانت ترمنځ اړ ولې شوې موازنه دخوی روش د هغو اشخاصو لکه لویولا ۹۶ لوتر ۹۷ ، او کرومول ۹۸ په باب په اساسي ډول اړولی دی . دفرانسې د انقلاب په باب په وروستیو خلویښتو کالونو کې دفرانسوي مورخانو چه آثار وباندې یوه سرسري پوهه ښيي چې د۱۹۱۷ کال روسي انقلاب دوی څومره متاثر کړي دي . مورخ په ماضي پورې نه، بلکه په اوس پورې اړه لري ، پروفیسر ټریور روپر ۹۹ موږ ته وايي چې مورخ وباید له ماضي سره مینه ولري .۹ ۱۰۰ دا یو تیر ایستونکی دستور دی . له ماضي سره مینه لرل ، ممکن په اسانۍ سره د زړو اشخاصو او زړو جامعو دپاره دوطن لپاره خلو درومانتيزم یوه افاده وګرځي او دا داینده او اوس په باب دعقیدې د بایللو علامه ۱۰۱ ده . که زه کلیشه دکلیشې دپاره په کار کړم ، زه هغه نه یو لم چې هغه د وماضي له مره لاس څخه دخان دازادولو په غرض وی، د مورخ وظیفه داده چې نه له ماضي سره مینه ولري ، او نه له ماضي څخه ځان ازاد کړي ، بلکه دی باید ماضي دا وس دپیژندلو دپاره دیوې کلي په حیث وپیژني ، او حاکمیت پرې وکړي .

که څه هم داد هغو بصیر تونو یو څه وی چې زه یې د کالنګ وو ددتاریخ نظر یولم ، نو اوس ددې وخت را رسیدلی دی چې خطرات یې هم بیان کړم.

---

۹۵- Frederick the Great (۱۷۹۸-۱۸٤۰) د پروس پاچا (م)

۹٦- I. Loyola (۱٤۹۱-۱۵۵٦) د جیزویتانو Jesuits د ټولني موسس . (م)

۹۷- Martin Luther (۱٤۸۳-۱۵٤٦) د عیسوي ریفورمیشن مشر . (م)

۹۸- Oliver Cromwell (۱۵۹۹-۱٦۵۸) انګلیسي جنرال او سیاستمدار (م).

۹۹- Trever - Roper

۱۰۰- دمیجي ، برک غاروت په تالیف سوه تاریخ او مورخ تضادونه ، مقدمه (۱۹۵۹) مخ ۱۷ .

۱۰۱- دتاریخ په باب دلیبي نظر وسره پرتله کړی . « په تاریخي ثقافت کې ، د روح اشاله لفرابیرله اوړ ده قصه ګرځي . او د ماضي په خاطره کې تسلیت اخلي ، زاړه عصر ته تملق لیسي » (انه مویسم له ولیي افکار ، انګریزي ترجمه ، ۱۹۱۹ ، II ، مخونه ٦٥-٦٦) .

تاریخ په جوړولو کې، دمورخ په رول ډیره زوره اچول ، که دهغې منطقي نتیجې ته ورسیږو، دمورخ له ولکې څخه بهر ټول معیارونه له منځه ځي، او بیا په دي حساب تاریخ هغه څه کیږي چي مورخ یې جوړوي . داسې ښکاري چي کالنګ ووډ په واقع کې یو وخت په یوې ناچاپ شوې لیکنې کې چي د ده د کتاب د مدون له خوا اقتباس شوی دی، دغې نتیجې ته رسیدلی هم وي. سان اګوستاین۱۰۲ تاریخ ته دلومړي عیسوي په نظر وکتل. تیلي مونت ۱۰۳ داولسمې پیړۍ فرانسوي ، ګیبون ۱۰۴ داتلسمې پیړۍ دانګلیس، موم سن ۱۰۵ دنولسمې پیړۍ دجرمني په نظر ورته وکتل. په دې کې هیڅ ګټه نشته چي وپوښتل شي، کوم نظر سم نظر و. هر نظر دهغې دورې ښکاره چي اظهار یې کړی دی بواز نی ممکن نظر و. دابیلګه نه دی مګر یو کلي شکاکیت هغې شکاکیت لکه دفرود ۱۰۶ چه وایې تاریخ « دیوه » ماشوم دتوریو بکس دی چي په هغه سره موږ کولی شو دخپلې خوښې کلمه مرتبه کړو» ۱۰۷ کالنګ ووډ په خپل عکس العمل کې د « بیاني ـ او ـ سربیني تاریخ » په مقابل یعنې دهغه نظریه مقابل کي چه تاریخ یوازې دحقایقو تدوین او تالیف ګڼي ؛ په خپله هغه روش ته په خطرناک دول سره نژدې کیږي چي تاریخ د انسان د ذهن محصول ګڼي ، او بیرته هغې نتیجې ته رسیږي کوم چه د سرجارج کلارک له خوا په یوې فقرې کي ورته اشاره شوې ده اوما یې دمخه ذکر کړی دی داسې چي « افاقي » تاریخي حقیقت وجود نه لري . « دتاریخ دهغې نظریې په ځای چي وایي تاریخ هیڅ مفهوم نه لري ، دلته دلاینتاهي مفهومونو تیوري وړاندي شوې ده چي یو « یې هم تر بلې ترسمه نه ده ؛ او څندوار و نتیجه یوه کیږي. دوهم نظر « هم یقیناً » هغو سره « بې منطق او غیر قابل دفاع دی ، لکه لومړی نی چي دی. څنګه چي یو څړ دلیدله پېلو پېلو

۱۰۲- Saint Augustine (۳۵۴-۴۳۰) ، عیسوي اسقف . (م)

۱۰۳- Tillamont

۱۰۴- E. Gibbon (۱۷۳۷-۱۷۹۴) انګلیس مورخ . (م)

۱۰۵- Theodor Mommsen (۱۸۱۷-۱۹۰۳) ، جرمنی مورخ . (م)

۱۰۶- James A. Froude (۱۸۱۸-۱۸۹۴) انګلیس مورخ (م)

۱۰۷- اور. فرود : دلوړو موضوعاتو په باب لنډې مطالعې ۱، ۴ (۱۸۹۴) مخ ۲۱ .

ګوتې او څخه مختلف شکلونه غوره کوي ، ددې نتیجه دانه کیږي چې غریه اطاقي دول سره نه کوم شکل لري ، او یا یې شکلونه لا یتناهي دي . ددې نتیجه داهم نه کیږي چې څنګه چې دتاریخي حقایقو په ثبت کولو کې تعبیر مهم رول لوبوي ، او څنګه چې هیڅ موجود تعبیر کاملاً اطاقي نه دی ، یو تعبیر د هاپل قدرته به دی ، او دتاریخ حقایق اصلاً په اطاقي دول تعبیر کیدلی نه شي په تاریخ کې داطاقیت دموضوع په باب به زه وروسته یو څه ووایم .

دکالنګ ووډ په فرضیې کې تر څنګه لا هم یو بل خطر شته دی . که مورخ لزوماً یېچل دمطالعې عصر ته دخپل دوخت په سترګو ګوري ، او ده ماضي مسایل داینده مسایلو د پساره دکیلي په حیث مطالعه کړي ایا دی په دتاریخ دخاص عملي نظر په تلک کې ګیر نه شي ؟ او په دې فکر به نه شي چې دسم تعبیر محک داده ی چې څه له کوم موجود مقصد سره متوافق کړي ؟ ددغې فرضیې له مخې ، دتاریخ حقایق هیڅ شی نه دی ، او تعبیر هرڅه وی . تیجې لادمخه یو اصل ایښلی دی : ددیوې تنظر بې غلطې موږ ته د هغې په ضد د اعتراض معنی نه لري . . . . . خیره په دی کې ده چې هغه څوک مره ژوندۍ وانه دي . یوونکی ، ژوند ساتونکی ، انواع ـ پالونکی ، او ممکن انواع ـ خالقونکی وی » ۱۰۸ امریکایي براګمتستانو ۱۰۹ هم په دغو لارو یوون وکړ ، خو دوی ترهغو زره اوازو واضح او ډېر یو ه د کوم مقصد دپاره یو هه ده . دیو هې صحت او عبارت د مقصد په اعتبار یو دې ترلی دی . حتی په کوم ځای کې چې په دغې تیوري اعتراف شوی نه دی ، عمل داڅه بیني ورډ دی . ما دخپلو مطالعو په ساحه کې دمبالغې له دکو تعبیرونو له حده ډ یات مثالونه لیدلي دي . داسې مثالونه چې په تعل شوي حقایقو سواره دي ، او دده خطر وا قعیت پری اثرنه دی کړی . دحیرانۍ ځای نه دی چې ددوروی

۱۰۸ـ دنیک او ینشانه داوسری فصل .

۱۰۹ـ Pragmatism (دعمل اصالت) هغه اصل دی چې تاریخي حقایق د عملي نتایجو او درسونو په منظور تر بحث لاندې نیسي . براګمتستان (Pragmatists) یعنې دعمل داصل طرفداران . (م)

او هغه شوروي تاریخ لیکني ۱۱۰ دهغوي افراطي محصولاتو مطالعه کله کله دتوتسي پېري دخالص حقیقي تاریخ د غیرواقعي پناه ګاه د پاره میه ارتعاق خلق کړي .

تو مونږ دشلمې پېړۍ په مینځ کې دحقایقو په مقابل کې دمورخ دوجیبه څنګه تعریف کړو ؟ ګمان کوم چې ما په دې وروستیو کالونو کې کافي وخت تیر کړی دی ، چې مشلونه وپلټم ، او خپل تاریخي حکایت په موزونو مآخذ خودل شو پر «حقایقو» وجیم ، او په دې دول له دې تومت څخه خلاص شم چې ګواکې ما له حقایقو او مندونو سره په سطحي او سرسري ډول معامله کړې ده . دمورخ داوظیفه چې حقایقو ته احترام وکړي په دغې وجیبې سره نه ترسره کیږي چې باید دی ملتفت وي چې دده حقایق سم او درست وي ،

دی باید چه پلتنه وکړي تر څو ټول معلوم ، او د معلومېدلو ور حقایق دنه په تصویر کې راوړي ، کوم چې په یوه یا بل مفهوم سره دده تر مطالعې لاندې موضوع او مجوز تعبیر پورې ارتباط لري .

که دی په دې هڅه کې وي چې دو یکتوریا دعصر انګلیس پو اخلاقي ، او عقلي موجود وجیبې ، یا بد هغه پیښه چې په ستالي برج ویکس کې په ۱۸۵۰ کې شوې وه له یاده واه باسي . څو دا په خپل وار کې ددی معنی نه لري ، چې دی کولی شي له تعبیر او توجیه څخه چه د تاریخ دژوند وینه ده ، بالکل منصرف شي .

غیر وارد یعني غیر اکاډمیک دوستان یا د نورو اکاډمیکي د سهلینو دوستان کله کله ما پوښتي چه مورخ کله چې تاریخ لیکي خپل کار څنګه او په څه ډول کوي . داسې ښکاري چې د تاریخ لیکلو ډیره رواجي فرضیه دا وي چې مورخ خپل کار په دوو بېلو بېلو مرحلو یا دورو ونو ویشي . لومړی ، دی په یوې اوږدې ابتدایي دورې کې منابع لولي ، او دیاد داشت کتا پو نه په حقایقو ډکوي . وروسته بیا خپل منابع ایسته اچوي ، لیکني او یاد داشتونه اخلي ، او خپل کتاب له سره تر اخره لیکي . دا تصویر

Historiography. ۱۱۰ـ

زما په فکر غیر مقنع او غیر منطقي دی. زه پخپله هغه اجي یو څو ثقه منابع ولولم؛ په دې هکله کې شم چې بایله لیکل شروع کړم. شروع به ازو سره له اول نه نه وي خوله یوې ځای او یا له هر ځای نه به وي.

تو لوستل او لیکل دواړه په عین وخت کې پرمخ ځي. او چې زما لوستل مخ په وړاندې ځي، لیکنه مې یا کمېږي، یا اضافه کیږي، یا خپل شکل بدلوي، او یا باطله کیږي. لوستل په لیکلو سره هدایت کیږي، اداره کیږي، او نتیجه پیدا کوي؛ څومره چې زه ډېر لیکم، هغومره به دې ډېر پوهیږم چې څه شي په کار دي، او هغو څه چې پوهیږم په اهمیت او اعتبار یې ترې ښه پوهیږم.

ځینې مورخان ممکن دغه لومړنی لیکنه په خپل ذهن کې، بې د کاغذ، قلم، او ټایپ رایټر له استعمال څخه وکړي. لکه چې ځینې خلک په ذهن کې شطرنج کوي بې له دې چې تخته یا ګوټونو ته مراجعه وکړي. دا یو استعداد دی چې زه یې پرې کیږي، خوشالی وړ سره کولی نه شم. خو زه قانع یم چې د هر مورخ دپاره چې د دغه نامه لیاقت لري، دواړه عملیې چې اقتصاد پوهان یې «دخل» او «خرج» بولي، په عین وخت کې پرمخ ځي؛ او په واقع کې دواړه دیوې عملیې دوه برخې دي. که ته زیاروباسې چې هغه سره بېل کړې، یا یو تر بل د مخه وګڼې، له دغو دوو بدعتو څخه به تو یو کړی وي. یا به د بیاتي - او - سرېټس تاریخ ولیکې چې اهمیت او مفهوم به نه لري. یا به پروپاګند یا تاریخي داستان لیکې؛ او د ماضي حقایق به یوازې دغې دیاره په کار وې چې داسې لیکنه پرې وکړي، چې هغه به هیڅ تاریخ نه وي.

د تاریخ له حقایقو سره د مورخ د مناسباتو په باب زموږ د اکتنه موږ ظاهراً د سولا او کاروبدس (۱) ترمیځ د بحري خاس مفر له خطر ناک حال سره مخامخ کوي، یعنې

---

(۱) - Scylla، Charybdis. د مرمر په یونانیې اوډیسې کې د هغه تېز - بېړه خطرناک تیره او د یوې هم په ګرداب او حتم په ډب تېږ کې اوسی. څنګه چې ګرداب، او قله تېږه مسینا (messina) په تنګی کې مخامخ واقع دي، تېرېدونکې له یو کوړ له هغه خلیه تیرېږي، دبې له دې چې په یوه د بل ګیر یا ځي. سولا او کاروبدس په اوس وخت کې دوو خطرناکو، یا شیطان او ژور سیند ترمیځ به ځینې سره استعمالیږي. (م)

د مفهوم د رخطر ناکو تاریخي نظریو په لورموبیایي چې لومړی یې دحقایقو په افاقي تلویزون او په تعبیر باندې دحقیقت په غیر مقید اولیت قایل دی، او بل یې تاریخ دمورخ دذهن عندي محصول بولي ، داسې چې مورخ د تاریخ حقایق تثبیت کوي، او د تعبیر د عملي په وسیلې سره ، په هغو د اکمیت کوي . په بل عبارت د تاریخ دهغو نظریو په لورموبیایي چې د یوې د ثقل مرکز په ماضي ، او د هغې بلې په اوس کې دی : خو دا دواړه نظریې غیر منطقي او نصداقعه کیدونکي دي . خو زموږ حال ، ترهغه چې بکاري ، از خطر ناک دی . موږ به دحقیقت او تعبیر هسدغه دوه گون توب وروسته په نورو شکلو نو - خاص او عمومي ، عملي او نظري ، افاقي او عندي کې و نگورو .
د مورخ مشکل او حساس حال دانسان د ماهیت انعکاس دی . انسان نه په خپل محیط کې په توله معنی دخیل دی ، او نه په کلي دول دهغه د شرایطو تابع دی . له بلې خوا دی هیڅکله له خپل محیط څخه نه په کلي دول ازاد دی ، او نه یې بې شرطه او قیده بادار دی . له محیط سره دانسان مناسبت ، له موضوع سره د مورخ دمناسبت په شان دی . مورخ نه دخپلو حقایقو لاس په تام غلام ، او نه دهغو ظالم بادار دی . دمورخ او دهغه دحقایقو ترمینځ مناسبات په مساوات او روغې او مصالحت بنا دي . څنګه چې هر کار کوونکی مورخ پوهیږي چې که دی د لیکلو او سوچ وهلو په وخت کې دفکر دپاره توقف وکړي ، نو دی به حقیقت کې په دغې مداومې عملیې کې بوخت او دخیل دی چې حقایق دخپل تعبیر ، او خپل تعبیر دخپلو حقایقو په قالب کې اچوي . دا ممکنه نه ده چې یو دې په بل مقدم وګڼل شي .

مورخ دحقایقو له ، وقتي انتخاب او ددغه انتخاب په رڼا کې له یوه موقتي تعبیر څخه پیل کوي ؛ او دا کار په خپله ، او دنورو په وسیله او مرسته کوي . او څنګه چې دی کار کوي ، او په مخ ځي تعبیر او د حقایقو ترتیب او انتخاب دواړه یو پر از تعبیر کوي ، چې ممکن یو څه یې غیر شعوري وي ، او دا تعبیر دیوه یا بل په متقابل عمل سره کوي . دغه دوه اړخیزه عمل یا د ماضي او اوس ترمینځ دوه اړخیز توب را ولي ، څکه چې مورخ د اوس جز دی او حقایق په ماضي پورې اړه لري . مورخ او د تاریخ

حقایق دیوه بل د پاره ضروري دي . مورخ له خپلو حقایقو نه پرته بې ریښې او باطل دی او حقایق بې له مورخ نه مړه او بې مفهومه دي . نو د تاریخ څه ته وایي؟ د سوال په مقابل کې زما لومړی ځواب دا دی چې تاریخ د مورخ او د هغه د حقایقو ترمنځ د دوه اړخیزه تاثیریدو دوامداره عملیه ، او د اوس او ماضي ترمنځ پای نه تما میدونکې مکالمه ده .

# جامعه او فرد

دا پوښتنه چې جامعه اول مخکې ده که فرد، د چرګې او هګۍ د پوښتنې په شان ده. که تاسې دغې پوښتنې ته په منطقي یا تاریخي نظر وګورئ، تاسې نه شئ کولی چې دغې په باب یو قسم یا بل قسم محکم حکم وکړئ، بې له دې چې هغه حکم دغه په ضد او یا مساوي پیاوړه ارځیز حکم سره سم او صحیح نه شي. جامعه او فرد سره نه بېلېدونکي دي. یو د بل ته ضروري او مکمل دي، ضد و نه دي. د ډون ۱ په مشهورو کلماتو سره: «هیڅ انسان کاملاً په خپل ذات کې یو ټاپو نه دی. هر انسان د براعظم یوه ټوټه ده، د لویې وچې برخه ده»۲ دا د حقیقت یو مظهر دی. له بلې خوا د. جې. اس. مل۳ کلاسیکي فرد پرست وینا را واخلئ: «انسانان کله چې یو ځای کړل شي، په یوه بل قسم جوهر نه بدلېږي.»۴ البته نه. خو خطا په دې کې ده چې داسې ګڼله کېږي، چې ګواکې یو وخت موجود وو یا پخوا له دې چې یو ځای کړل شي، د یو راز جوهر یې لاره. هغه اچې مونږ زیږېدلو چاپېره نړۍ په مونږ عملیه جاري کړې او له محض بیالوجیکي واحدونو څخه مو په اجتماعي واحدونو اړولي. هر انسان په تاریخي او یا له تاریخ نه د مخه مرحله کې زېږېدلی دی او له خپلې ابتدايي مرحلې څخه د هغې جامعې له خوا یې شکل اختیار کړی دی.

---

۱- John Donne (۱۵۷۲-۱۶۳۱) انګلیس شاعر. (م)

۲- مظاهر شیرو مراقبو په باب فداکاري تالسیر ۱۷ .

۳- John Stuart mill (۱۷۷۳-۱۸۰۶) انګلیس فیلسوف او اقتصاد پوه (م)

۴- جي . اس . مل دمنطق سیستم ۶ ، ۷ ، ۱ ]

هغه ژبه په کومې چې دی ګرځېږي، فردي میراث نه دی، بلکه له هغې ډلې څخه چې دی په کې ژوند کوي، یو اجتماعي اکتساب دی.

ژبه او چاپېریال دواړه د هغه د سنجش او فکر په ټاکلو کې مرسته کوي. لومړني نظریات یې له نورو څخه اخیستل کېږي. لکه چې ډېر ښه ویل شوی دی، فرد په له جامعې نه غیر نه ژبه لري، نه فکر. د رابن سن کروسو ۵ د خیالي افسانې همیشګي سحر د هغه زیار له برکته دی چې یو فرد له جامعې نه مستقل په خیال کې تمثیل شوی دی. خو دا ژ یاد نه ترسره کېږي، رابن سن کوم مجرد فرد نه دی. دی د یارك د سیمې یو انګلیس دی، له ځانه سره خپل انجیل وړي، او خپل قبیلوي خدای لمانځي. افسانه ژر هغه ته د هغه تاریخه فرای ډې ۶ ور اعطا کوي، او په دې ډول د یوې نوې جامعې جوړېدل شروع کېږي. موضوع ته مربوطه بله افسانه د داستایوفسکي ۷ په (شیطان) نومي داستان کې د کېرولوف ۸ ده. دی د دې دپاره چې خپله پوره آزادي وښيي ځان وژني. انتحار هغه یوازنی پوره آزاد عمل دی، چې د یوه فرد دپاره میسر دی. هر بل عمل هرو مرو ل چې وي په جامعې کې د فرد غړیتوب ښکاره کوي ۹.

انسان پېژندونکي عموماً وايي چې ابتدائي انسان نظر مدني انسان ته لږ فردي دی او جامعې تر زیاتې اندازې د ده په شکل او صورت بیلې دي. په دغه حکم کې د حقیقت یو عنصر شته دی. بسیطې جامعې تر پیچلو جامعو زیاتې په یوه شکل وي؛ په دې مفهوم چې بسیطې جامعې نظر پیچلو او پرمختللو جامعو ته

---

۵- Robinson Crusoe

۶- Man Friday. فرای ډې اسلاً د یوې ژب اتوع نوم دی (م)

۷- Feodor F. Dostoyevsky (۱۸۲۱-۱۸۸۱) روسي ناول لیکونکی (م)

۸- Kirolov

۹- دورکهایم د انتحار په باب په خپلې مشهورې مقالې کې د (anomie) کلمه وضع کړې ده، مطلب یې د هغه حالت جوړول دي چې له خپلې جامعې څخه ګرځنه شوی، دا هغه حالت دی چې د جذباتي اختلال او د انتحار دپاره مساعد وي، خو دورکهایم داده وجود... چې انتحار په هیڅ وجه د جامعې له حالاتو څخه بېل او مستقل نه دی.

دفردي مهارتونو او مشغولیتونو دپاره لږ چانس او محل د تنوع ورکوي . په دغه مفهوم سره دافرادو دپاره زیاتیدونکي تشخص یا فردي کیدل د عصري پرمختللي جامعي یو ضروري محصول دی ، او له سره تر آخره بې په ټولو فعالیتونو کې جریان لري . خو دا به یوه جدي اشتباه وي چې که دفردي کیدلو د دغې عملیې او د جامعي دالتصاق او زیاتیدونکي قوت ترمینځ تضاد ومنل شي . د جامعي او فرد انکشاف لاس په لاس په مخ ځي ، او یو په بل اثر کوي .

په حقیقت کې ، زموږ تر په فکر ، پیچلي یا په مختللي جامعه هغه جامعه ده چې هلته په یوه بل باندې دافرادو تکیه او ارتباط په مختللي او پیچلي شکلونو نه غوړه کړې وي ، دا به خطرناک وي که وګڼل شي چې د عصري ملي جامعي قوت نظر ابتدایي قبیلوي جماعت ته کم دی چې دفردي ضد یو مسجیي او فکر تشکل او صورت ورکړي ، او د هغوی ترمینځ د مطابقت او هم شکل کیدلو یوه معینه درجه وټاکي . دبیالوجیکي اختلافاتو په اساس د ملي خصوصیت زړه مفکوره دیر تحفه تر دې له اعتبار نه لویدلې ده . خو د ملي خصوصیت له اختلاف نه چې دیوې جامعي د مختلفي ملي سابقې ، او معارف څخه پیدا کیږي ، انکار نه شي کیدلی .

هغه تیر ایستونکي واحد چې د « بشري طبیعت » په نامه یادشوی دی له یوه ملک نه و بل ملک ته ، او له یوې پیړۍ نه و بلې ته توپیر لري . او اوس مشکله ده چې دا فرق یوه تاریخي حادثه و ته ګڼل شي ( د کومه چې مسلطو اجتماعي شرایطو ، او عادتونو ته شکل ورټاکلی دی . د مثال په ډول دامریکاییانو ، روسانو ، او هندیانو ترمینځ هم دیر توپیرونه شته دي ، خو چې اختلافونه ، یا ممکن د هغو دیر مهم اختلافونه د افرادو ترمینځ د اجتماعي مناسباتو په مقابل کې د مختلفو سلوکونو شکل نیسي . په بل عبارت دغه اختلافونه د هغې طریقې په مقابل کې شکل نیسي ، د کومې په اساس چې باید جامعه جوړه شي ترڅو چې دامریکایي ، روسي ، او هندي جامعي ترمینځ دا اختلافاتو مطالعه دفردي روسانو ، امریکاییانو ، او هندیانو ترمینځ دا اختلافاتو د مطالعې دپاره یوه دیره ښه وسیله او طریقه وګرزي . د تمدن انسان هم د ابتدایي انسان په شان د جامعي له خوا

هغومره په مونږ پوری شکل وصورت غوره کوی ، لکه څومره چې جامعه دغه له خوا شکل وصورت غوره کوی ، ته نه شی کولی چې له چرګې نه نوری هګۍ ولرلی شې ، څومره چې ته چرګه بې له هګۍ نه لرلی نه شې .

لازمه نه ده چې په دغو جبرواکمنو حقیقتونو دومره بحث شوی وای. بحث ددې دپـاره اوږدشو چې دغه حقیقتونه دتاریخ په هغې استثنایي او فوق العاده دورې کې زموږ له سترګونه پټ شوی دی، له کومې څخه چې لویدیځه تری همدا اوس سر راپاسي. دفردیت دلمانځلو اپین ۱۰ دمعاصرو تاریخی افسانوخوراقوی افسانه ده، دبرکهارډت دغه آشنایان له مخې چې (په ایټالیې کې دمدنیت رنسانس) نومی کتاب کې یې ذکر کړی دی اودوهمه برخه یې دوفرد انکشاف، په نامه عنوان شوی ده، دفرد لمانځلو اپین له رنسانس سره شروع شوی دی یعنې هغه وخت چې انسان چې ترهغو پورې یې (دیوه نژاد، خلکو، ګوند، کورنی، او صنف دغړی په حیث آګاهي لرله) بالاخره دیوه روحی فرد خاوندشو ، او ځان یې همداغسې وپیژاند. وروسته دغه اپین دسرمایه دارۍ د اصل، او پروتستانتیت له ظهوراودصناعتی انقلاب له شروع، او دلیبرالی نظریاتو سره مربوط شو . دانسان اومدنی افرادو حقوق چې دفرانسې انقلاب اعلام کړل، دفرد حقوق وو. دفردی لمانځلو اصل دنولسمې پیړۍ دستری فلسفې یعنې دګټې د اصل ۱۱ بنسټ و.

د مورلې ۱۲ مقالې د(روغې په باب) چې دویکتوریادعصردلیبرالزم یومشخص سند دی ؛ دفردیت اصل ؛ او دګټې اصل یې د ؛ انسان دسعادت اورفاه مذهب ؛ وباله . ؛ کرجنته فردیت ؛ دبشری ترقی کلی لوی اصل و . ممکن دا به دیوې خاصې تاریخی دورې دایډیالوجی ۱۳ پوره سم او درست تحلیل وی. خو هغه څه چې زه یې غواړم

۱۰- The cult of individualism

۱۱- Utalitarianism

۱۲- John Morley (۱۸۳۸-۱۹۲۳) انګلیسی لیکوال او سیاسی (م)

۱۳- Ideology ، دانګارو او نظریاتو مجموعه او هیئت .(م)

واضح کړې دادی چې زیاتېدونکی فردی کېدل چې دمعاصرې نړۍ له ظهور سره ملګرې و، دمدنیت په دمختلفو یوه طبیعی عملیه وه. اجتماعی انقلاب نوې اجتماعی ډلې دقوت دګروتو ته هسکې کړلې . دغه انقلاب دتل په شان د افرادو په وسیله او دفردی انکشاف په لوړ دنوبو مواقعو په میندلو او تقدیمولو سره کار و کړ. او څنګه چې دسرمایه داری داصل په لومړنیو پړ و نو کې دتولید اوویش و احدو نه په زیاتې اندازې دواحدو افرادو په لاس کې وو، په اجتماعی نظام کې دنوی اجتماعی نظام ایدیالوجی په فردی ابتکار ډیره زوره واچوله . خو دا ټوله عملیه یوه اجتماعی عملیه وه چې په تاریخی انکشاف کې یې یوه خاصه مرحله جوړه کړه . دا مرحله دجامعې په مقابل کې دافرادو په قیام یا له اجتماعی قیدونو څخه دفرد په ازادی تعبیر کېدلی شي .

ډیر علامات شته چې حتی په لویدیځه نړۍ کې چې ددغه انکشاف او ایدیالوجی مرکز و، دتاریخ دغه مرحله پای ته رسېدلی ده . لازمه نه ده چې دلته په هغه څه چې دتودې په دمو کراسی یاده شوی ده ، ډیر ټینګار وکړم . داسې هم لازمه نه بولم چې په دې زیات بحث وکړم چې داقتصادی تولیداو تنظیم قریباً اجتماعی شکلونو دقویاً فردی شکلونو ځای په تدریجی ډول سره نیولی دی . هغه ایدیالوجی چې دنوې لوړ دی او مشری دوه دې زیږولې ده، تر اوسه هم په لویدیځې اروپا ، او انګریزی ویونکو هیوادونو کې پوه مسلط او غالب قوت دی . کله چې موږ دازادی او مساوات یادفردی ازادی او اجتماعی مساوات ترمنځ څرګندتیاوې په مجرد و اصطلاحاتو یادوو ، ممکن موږ داله یاده وباسو چې مجرد افکار په خپل منځ کې سره جنګ نه کوي . دا دمعدعنې فردونو، او جامعې ترمنځ جګړې نه دی ، بلکه دجامعې دافرادو او ډلو ترمنځ جګړې دی ، داسې چې هره ډله زیار باسي چه هغې اجتماعی سیاستونه په مخ بوځي چې په ګټه یې وی ، او هغې اجتماعی سیاستونه شنډ کړی چې په تاوان یې وی . دفردیت اصل په دغه مفهوم سره چې نور نوبو سترا اجتماعی نهضت نه بلکه دفرد او جامعې ترمنځ یو دروغی تضاد دی، نن ورځ د ذ یعلاقه ډلې شعار ګرزیدلی دی او دخپل متنازع فیه خصوصیت له امله دهغه څه د پوهېدلو دپاره چې په نړۍ کې واقع

کیږي، مانع شوی دی. زه د دغه انحراف په قید چې فرد یوه وسیله بولي، او جامعه یا دولت هدف ګڼي، د فرد له ماتخلو د اصل په ضد د ویلو هیڅ شی نه لرم. خو موتږ به دماضي یا د اوس په باب حقیقي پوهې ته ونه رسیږ و چې که د فرد په هغې مجرد مفهوم سره چې له جامعې نه بهر ګڼل کیږي، عمل و کړو.

دغه بحث لږ اوس ما د خپل ګریزتیکي ته راولي. د تاریخ د سلیم عقل نظر هغه برداشي څه ګڼي چې د افرادو په باب د افرادو له خوا لیکل شوی وي. په دې کې څه شک نشته چې دغه فکر د نولسمې پیړۍ لیبرالي مورخانو اخیستی او رواج کړی وو، او په اصل کې نا درست نه دی. هغه اوس له حده ډیر ساده شوی دی، او غیر مکفی شمېرل کیږي او بایې موږ هغه ته ننه ګیر شو. د مورخ پوهه د هغه خاص فردي ملکیت نه دی. بلکه د ډیرو نسلونو او ډیرو مختلفو ملکونو انسانانو د هغې په تولولو کې برخه لرلې ده. هغه انسانان چې مورخ د هغو کړنې مطالعه کوي، ګوښه شوی او مجرد افراد نه و و چې په خلا کې یې عمل کاوه. دوی د یوې تیرې جامعې په قرینې کې او د هغې په خوځښتونو سره عمل کاوه. ما په یوه پخوانۍ لیکچر کې تاریخ د یوې دوه اړخیزې عملیې په حیث او په اوس کې د مورخ، او په ماضي کې د ماضي د حقایقو ترمینځ یوه مکالمه یادې ده. اوس غواړم د معادلې په دواړو خواوو کې د فردي او اجتماعي عناصرو په نسبي وزن و ګرېږم. مورخان څومره شخصي افراد، او څومره د جامعې او عصر محصول دي؟ د شخصي افرادو په باب حقایق څومره تاریخي او څومره اجتماعي دي؟

مورخ یو فردي انسان دی. د نورو افرادو په حیث د ی هم یوه اجتماعي حادثه ده. هم د هغې جامعې چې د ی ورپورې اړه لري محصول دی، او هم د هغې شعوري او غیر شعوري ویاند او نطاق دی.

دی په همدغه حیث سره د تاریخ ماضي حقایقو ته ورالنې کیږي، او مطالعه کوي یې. کله کله موږ د تاریخ سیر ته یوه «خوځېدونکې اجتماع» وایو. دا استعاره لږ مو چه موزونه او په ځای دی، په دې شرط چې مورخ په دې فکر نه شي چې دی د ګړنګ په شېرله یوه ګوښې کمره څخه د منظرې ننداره کوي او یا د یوه

د یو مهم شخص په شان له لیري څخه سلام اخلي. دی داسې یو هم نه شي کیدلی. مورخ هم بس دیوه بل فرد په حیث د اجتماع په یوې برخې کې بوخت کړی، او چې اجتماع کېږه وړه دروي، کله چې خوا کېږه شي، کله کینې خوا ته، او کله کله لا په شا لویږي، د اجتماع د پیلو پیلو برخو تیېي، وقفو ته هم تل تغییر کوي. د غه حرکتونه ممکن دغسې مفهوم ولري چې مثلاً ووېل شي، ونژله خپلو غور ځیکونو څخه تېر ورځ متحیو پیر یو ته دیر تړلي یو، یادا چې د قیصر عصر مونږته د دانته ۱٤ تر عصره نږدې دی. څنګه چې اجتماع په مخ دروي او ورسره ورسره مورخ حرکت کوي، نوی دوژانو ته او دلید کنجونه پر له پسې را ښکاره کیږي، مورخ د تاریخ یو جز دی. د اجتماع هغه برخه چې دی په کې ځان مومي، د ماضي په باب د ده د بصیرت زاویه ټاکي.

دا ښکاره حقیقت د هغه عصر په باب هم پوره صدق کوي، چې مورخ یې مطالعه کوي، او د ده د خپل عصره څخه لیري دی. هغه وخت چې ما د لرغونې یونان تاریخ لوست په دغه مضمون کې کلاسیکي کتابونه د ګروت ۱۵ د (یونان تاریخ) او د مومزن ۱٦ د روم تاریخ وو. دا کتابونه ممکن تر اوسه هم د کلاسیکي اثارو حیثیت ولري. ګروت یو متنور انقلابي بانک لرونکی و، چې د ۱۸٤۰ په لسو کالو کې یې لیکنې وکړې. ده په خپلو اثارو کې د اتن د دموکراسي په مطلوب او ایډیالي تصویر کې چې ته چې پریکلس ۱۷ د بنتهام د مصلح ۱۸ په حیث ښکاره کېده او اتن په داسې وخت کې د امپراتوري خاوند شو، د برتانیې د مخ په ظهور، او په سیاسي لحاظ د مترقي متوسطې طبقې هیلې او اسرې ځایولې. دا به خیالي نه وي چې ووېل شي په اتن کې د غلامي

١٤- A. Dante (١٣٢١-١٢٦٥) ایټالوي شاعر. (م)
١٥- George Grote (١٨٧١-١٧٩٤) انګلیسي مورخ. (م)
١٦- Theodor Mommsen (١٩٠٣-١٨١٧) جرمني مورخ. (م)
١٧- Pericles (٤٩٥؟-٤٢٩ ق.م.) د اتن سیاستمدار. (م)
١٨- J. Bentham Benthamite Reformer (١٨٣٢-١٧٤٨) انګلیسي فیلسوف او حقوقپوه. د ده مشهور اصل د "ډیره ګټه د ډیرو لپاره" په نامه یاد دی او په لیاسي پیړۍ کې یې قوي انګلیسي درلود. (م)

د مسلې ته ذکر کول : د گروت د دلې ناکامي چې په کومې پښوډي چې دی شوې و او ويبې ته شو کښولې چې . دڅوی انګليسي فابريکو د کارګرو د دلې مسايل حل کړي .موم سن د يو جرمني ليبرال و چې د جرمني د ۹-۱۸۴۸ انقلاباتو ګډوډي، او ناکاميو سرګيچ کړي و . دده ليکنې د ۱۸۵۰ څخه د ۱۸۶۰ په لسو کالو نو کې يعنې په هغه وخت کې چې و شو لې چې دعملي سياست۱۹ مفهوم او نوم پکې ظاهر شوی و .موم سن ديوه قوي شخص دلټولو په فکر شو چې هغه وراني و بجاري سمې کړي کومې چې جرمنيانو ته دسياسي هيلو دنه ترسره کېداو له ناکامي څخه پيدا شوي وي . موږ په هغه د تاريخ په حقيقي ارزښت پوه نه شو ترڅو چې په دې پوه شوچې ديوه قوي شخص دپاره دده دقيصر تصوير کښل دده دغې هيلې محصول دی چې جرمني لـه تباهي څخه خلاص کړي . دهمدغه فکر په اساس وچې مقنن ـ سياس سيسرو ۲۰ چې دطوروينکس او جونيدونکي مسامحه کوونـکی ګڼل شوی دی ، په فرانکفورت کې دپالې کرشې ۲۱ له بحثونو څخه تيغ په وتلو کې بنودلې شوی دی . پـه واقع کې، زما په فکر به دا بې معنی ونه بريښي چې که څوک دا وايي دګروت ديونان تاريخ به س ورخ د ۱۸۴۰ نه تر ۱۸۵۰ پورې دانګليسي راديکالي فلسفي په باب هغو مره څه ښکاره کړي لکه چې د ق . م . پنځمې پېړۍ ديونان دهمو کراسي په باب به يې ووايي. داسې هم هر هغه څوک که غواړي په دې پوه شي چې ۱۸۴۸ کال په جرمني ليبرالانو څه وکړل دموم سن د روم تاريخ دی د درسي کتابونو په حيث استعمال کړي. دا کار به دستر و تاريخي اثار و په حيث د دغو کتابونو حيثيت کم نه کړي . زه دهغه معمول په باب چې برې ۲۲ په خپلو افتتاحي ليکچرونو کې رواج کړې دی، صبر او حوصله نه لرم چې

۱۹ـ Realpolitik عملي سياست ته راجع کېږي چې دهغه له مخې ديوه ملت مادي منافع او کاميابي په لوړو اخلاقي او معنوي ګټو باندې لومړيتوب ګڼل کېږي . (م)

۲۰ـ Marcus J. Cicero (۱۰۶-۴۳ ق . م) د روم بليغ ، سياسي او ليکوال .(م)

۲۱ـ Paulikirche د هغو مياشتو نه اشاره ده چې په ۱۸۴۸ کې د فرانکفورت ښار په دغه سالون کې مشتغينو طبقو له مشرانو او روشنفکرانو لخوا د جرمني د يو متحده کولو او مشروطه کولو دپاره وشوې، او ناکامې شوې.(م)

وايي چه موم سن ته لوی والی د هغه د روم تاريخ په وجه نه دی ؛ بلکه د هغه د تورو ليکنو او د روم د اساسي قانون د اثر په وجه دی. په دغه حکم سره تاريخ د تاليف او تدوين سطحې ته کوزول دی . ستر تاريخ هغه وخت ليکل کيږي چې د ماضي په باب د مورخ ديد او خيال د حاضرو مسئلو په بصيرت تو سره روښ شي . ډير کله حيراني په دې کې ښودله شوې ده چې موم سن ونه شو کولی خپل تاريخ د جمهوريت له رنګيدو نه اخوا بوځي . نه هم وخت لاره ، هم موقع ؛ او هم علم. خو کله چې موم سن خپل تاريخ ليکه په جرمني کې لا کوم قوي شخص هسک شوی نه و . کوم وخت چې يو قوي شخص د اختيار خاوند شو، هغه مسايل چې پيښ شوي وو ، لا حقيقي شوي نه وو . هيڅ څيز موم سن ونه شو تخمولی چې خپله مسئله بيرته د روم په صحنې کې طرح کړي ؛ او دا مپراتورۍ تاريخ نا ليکلی پاتې شو .

دا به مشکله نه وي چې د دغې حادثې مثالونه په عصري مورخانو کې وموندل شي ، په وروستي ليکچر کې مې د جي . ايم . ترويلين ، د انګلستان د ملکې اين په عصر کې د وګ ٢٢ د عنعنې د يادګار په حيث په کومې کې چې دی روزل شوی دی ولمانځه .

اوس به دغه ځای ته مهم او درانده اثر يو څه ووايم چې مؤلف يې زموږ د زياترو له خوا د برتانيې د ير ستر مورخ ګڼل کيږي کوم چې له لومړي جهاني جنګ نه وروسته د برتانيې په علمي ډګر کې راهسک شوی دی . سر لويس نامير ٢٣ يو ريښتنی محافظه کار و نه يو سوچه انګليس محافظه کار چې که چېرې وګرول شي په سلو کې پنځه او يا يې ليبرال وځي ، دی داسې محافظه کار و چې موږ په څه پانډې سلو کالو کې د برتانيې په مورخانو کې ليدلی نه دی . د برتانيې مورخ دپاره د تيرې پيړۍ د نيمايي او ١٩١٤ تر مينځ کالونو کې کله کله دا ممکنه ده چې د تاريخي تحول درک و کړي ؛ مګر د هغه

---

٢٢ــ **Whig** د انګلستان د هغه سياسي ګوند نوم دی چې (١٦٨٨) له انقلاب نه وروسته يې غوښتل د ارثي سلطنت اختيار د پارلمان او تورو لوړو طبقاتو تابع کړي. په نولسمې پيړۍ کې ويګان په ليبرالانو ياد شول او د هغوی ګوند مګر اوس د کارګرو د او محافظه کارو له ګوندونو وروسته دريم ګوند دی. (م)

٢٣ــ **Sir Louis Namier**

تحول دوکټ چې دبه والي دپاره و دد ۱۹۲۰ په ، وروسته لــو کالونو کې موتږ په یوې داسې دورې کې ننوتلو په کومې کې چې د اینده په باب تحول له و یرې سره ترلې و کیدای شوای چې دغه تحول دبدوالي په لـــور تعبیرشي.یعنې دمحافظه کارۍ دتفکر ددوربیاژوندۍ کیدل . دنامیرمحافظه کارۍ، داکټن لیبرالزم خوندې، قوت اوحمق دواړه له دې څخه واخیـــت چې ریښې بې داروپاپه سابقې کې وې. ۲٤ نامیر دفشر ۲۵ اوتاین بي ۲۶ په خلاف د تونسې پیرۍ په لیبرالزم کې ریښې نه لرلې او له هغه سره به یې دتعلق خیال نه ساته . وروسته له هغه چې په لومړي جهاني جنګث ، او ناکامې سولې کې د لیبرالزم مقلبي ښکاره شوله ، عکس العمل په دوو بیوجنـــکا ر ه کیدلې شو: سوشلزم یا محافظه کارۍ . نامیر دمحافظه کارمؤرخ په حیث راڅکـــځ شو. ده په دوو غوره شوي ساحو کې پخه مطالعه وکړله او دداوړو انتخاب مهم و . داتـــګلیس په تاریخ کې یې دوروستي پیرۍ ته رجوع وکړله په کومې کې چې حاکمه طبقې وکړای شوه په یوې منظمې اوعمدة" ساکنې او ولاړې جامعې کې دقوت اوموقف په عقلي لټون کې بوخته شي . یوچانامیرپه دې تومتی کړ چې دوح یې له تاریخ څخه بیــل کــړ ی د ی . ۲۷ ممکن دادومره چندان به افاده لـه و ی مګر دمقد مقصد چې غواړی په هغې کې بې ښکاره کړی ، واضح لیدل کیږی. ددریم جارج ۲۸ دجلوس په وخت کې سیاست لاهم دشد ت او تعصب او دترقي

---

۲٤- ممکن داتبصرې ورته لي دی چې دداو ، ښنګوتر ترجیح بواز تي برتانوی سحافظه کار لیکوال یعنې چانفل تسې .اس . ایلیت T. S. Eliot هم دغیر برتانیایی سابقې ریښې لرلې . له ۱۹۱٤ څخه وروسته په برتانیا کې داسې څوک نه وچې دلیبرالزم لـه عنعنې او نفوذ څخه پرار وکړی .

۲۵- Fisher انګلیسی مورخ (م)

۲۶- Arnold Toysnbee انګلیسی معاصر مورخ . (م)

۲۷- د ۱۹۵۳ دا ګست په اتمه د تایمز دورځپاڼې په ادبي ضمیمه کې یو مقاله په ستمارنامیره وایی «داوړین په تې تومتی شوی و ، چې له کاپانو څخه یې روح بیل کړی دی او سرلـــویی (نامیر) له یو تر زیات په قیرو مشهوروتر سره سیاسي تاریخ داوړین و .»

۲۸- George III (۱۷۳۸-۱۸۲۰) دانګلستان پاچا . (م)

په باب د کلکې عقیدې له شدت څخه مامون و، کوم چې د فرانسې له انقلاب سره په جهان باندې رامات شول او د لیبرالزم په کامیابۍ پیړۍ کې ننوتل. نه نظریات نه انقلاب، او نه لیبرالزم: نامیر د داسې عصر یو زیږده تصور بروایست چې له دغو خطراتو څخه لا مامون و، که څه هم دغه مصونیت ډیرو نه پاید.

د نامیر د دوهم انتخاب موضوع هم په همغې اندازې اهمیت لرله. نامیر له انګلیسي فرانسوي، او روسي سترو انقلاباتو څخه پښه واړوله، او په هغو یې کومه مهمه لیکنه ونه کړله. د اروپا د ۱۸۴۸ انقلاب موضوع یې غوره کړه، او د هغه یې ژوره مطالعه وکړله. دا هغه انقلاب و چې ناکام شو، د لیبرالزم د راهسکېدونکي امید د پاره په ټوله اروپا کې مانع شو. د مسلحو ټواکونو په مقابل کې یې د افکارو او د عسکرو په مقابل کې یې د دموکراتانو پوچوالی وښود. سیاست په جدي ساحې کې د نظر یو وسوخ پوچ او خطرناک وبلل شول. نامیر له هغه نه اخلاقي نتیجه واخیسته او د لاکامۍ توهین نه د لک توم یې بري کښېښود: (د روښنفکرانو انقلاب). زموږ نتیجه هم یوازې د استنتاج د پاره کومه موضوع نه ده، ځکه که څه هم، نامیر د تاریخ د فلسفې په باب کومه منظمه لیکنه کړې نه ده، په یوې مقالې کې چې یو څو کاله د مخه خپره شوه په دغه باب یې خپله نظریه په خپل معمولي وضاحت او قطعیت سره ښکاره کړې ده. دی وایي «تو څومره چې یو انسان د خپل ذهن ازاده لوبه په خپل سیاسي دوکتورین او جدم سره لږه محدوده کوي: د ده د تفکر د پاره به هغومره ښه وي.» او روسته دی هغه تومت یادوي چې وایي ده له تاریخ څخه ذهن بیل کړی دی، تومت نه رد وي، او لیکي:

«ولجینې سیاسي فیلسوفان له وسترې شوې ارامۍ، څخه او په اوس وخت کې په دغه ملک کې د عمومي سیاسیاتو په باب د مشاجرې له غیاب څخه ګټېله لري. په داسې حال کې چې پروګرامونه او هم فونه د ښوارو ګرندو توله خواهیر شوي دي د مشخصو مسایلو د پاره عملي فیصلې اتوالې کیږي. مګر ماته دغه روش د ملي پاخه توب یو د لیالو په درجه ښکاریږي، هیله کوم چې دغه روش به یې له دې چې

دسیاسي فلسفو په اثارو نارام شي ، ترزیاتې مودې دوام وکړي. ۲۹ زه نه غواړم اوس له دغه نظرسره په دعوه کولو پیل وکړم . داکار به په یوه وروستي لیکچر کې وکړم . اوس مې مقصد دادی چې دوه مهم حقیقتونه شرح کړم . لومړی داچې تاسې نه شئ کولی ترهغو دیوه مؤرخ په اثر یوه ښې اوبایې قدر وکړئ ترڅوپه هغه نظریاتنکي پوه نه شئ دکوم له مخې چې ده خپل اثر تعقیب کړی دی . دوهم هغه داچې خپله هغه نظریه اجتماعي اوتاریخي پس منظر کې ریښې غځولي دي. لکه څنګه چې مارکس ویلي و ، له یاده مه باسئ چې روزونکي باید په خپله وروزل شي . داو سني اصطلاح له مخې ، ددماغ وینځونکي دماغ په خپله وینځل شوی دی . مؤرخ مخکې له دې چې د تاریخ په لیکلو پیل وکړي ، د تاریخ محصول دی .

هغه مؤرخان چې مې اوس یادکړل لکه ګروټ ، موم سن ، تریې ویلین، او نامیرهریوه یوه واحد اجتماعي، سیاسي ، عصر کې لوی شوی دی . د دوی په لومړنیو او وروستیو اثارو کې، دجهان بیني کوم واضح اختلاف هیڅ نه لیدل کیږي . خوځینو نورومؤرخانو دچټک تحول په عصرونو کې ، په خپلو لیکنو کې نه یوازې یوه جامعه اویوا اجتماعي نظم ، بلکه د بیلو بیلو نظمونو یو لړ منعکس کړی دی . میانکې ۳۰ ، دجرمن سترمؤرخ په دغه لړ کې یو ډیر ښه مثال دی ، چې ماته معلوم دی ، ده ژوند او کارخوړه نه اوږده وه . په دغې دورې کې د ده د ملک په سرنوشت کې یولړ انقلابي اوله مصیبت نه ډک بدلونونه راغلل . په واقع کې موږ درې مختلف میانیکیان لرو. اوهریو یې دیوې بیلې دورې ویاند دی ، اوهریو یې دخپل ددریو بیلوستروآثارو په خوله ګړیږي .

د Weltburlgerthum and Nationalstaat میانکې چې په ۱۹۰۷ کې چاپ شوی دی

---

۲۹ - ایل دنامیر ، دشمیرونه او تیشونه (۱۹۰۰) ، مخونه ۷۱۸ ،

۳۰ - Meinecke

په یقیني ډول د بسمارک ۳۱ په رایخ ۳۲ کې د جرمني ملي ایډیالونو د تحقق په حال کې ګوري او له مازیني ۳۳ څخه راپه دې خوا د نولسمې پېړۍ د ډېرو مفکرینو په شان د ملت غوښتلو اصل ۳٤ د عالم غوښتلو د اصل ۳۵ له ډېر عالي شکل سره یو ګڼي. دا د بسمارک تر عصره پورې د ویلهلماین ۳۶ د دوام او تأثیر بې تناسبه محصول دی. د Die Idee der Staatsrason میاینکه چې په ۱۹۲۵ کې خپور شوی دی، د وایمار د جمهوریت په ویشل شوي، او سرګیچ دماغ ګرځېږي. په دغه اثر کې د سیاستونو جهان د وجود دلایل ۳۷ او اخلاقیاتو ترمنځ چې ورو وروستی له سیاستونو څخه بردی، مګر په نهایي تحلیل کې امشی کولی، د دولت په معصومیت او ژوند غالب شي، د نا فیصله شوې جګړې میدان دی. بالاخره د Die Entstehung Historismus میاینکه چې په ۱۹۳۶ کې خپور شوی دی، د خواښیني چه وهي، او د تاریخ څخه اصل ړ دوی چه وایي، هر هغه څه چې موجود دی، حق دی، او د تاریخي نسبیت او فوق ـ عقلي مطلق ترمنځ په نارامۍ سره کولېږي. دا اثر ده هغه وخت لیکلی و چې د نازي سیلاوډی له علمي عزتونو څخه محروم کړی و. په

---

۳۱- Otto E.L. Bismarck (۱۸۱۵-۱۸۹۸) جرمني سیاستمدار (م)

۳۲- Reich. په عمومي ډول د جرمني کانفدرالي یا امپراتورۍ ته رایخ ویل کېږي. د فرانسې د جمهوریت په شان، د جرمني رایخ هم یو سلسله لري. لومړی رایخ یا د روم مقدسه امپراتوري (۹۶۲-۱۸۰٦)، دوهم رایخ یا د بسمارک رایخ (۱۸۷۱-۱۹۱۸) او درېیم رایخ یا نازي رایخ (۱۹۳۳-۱۹٤۵). (م)

۳۳- G. Mazzini (۱۸۰۵-۱۸۷۲) د ایټالیا یو ملت غوښتونکی او جمهوریت غوښتونکی چې په ۱۸۳۱ کې یې د (ځوانې ایټالیا ټولنې) جوړه کړه. بیا یې د (ځوانې اروپا ټولنه) ، د او ایټالیا او د ایټالیا د اتحاد د بیارغونې لپاره جدي ابتکاري کارونه وکړل. (م)

۳٤- Nationalism

۳۵- Universalism

۳٦- Wilhelmine

۳۷- Raison d etat

اخر کې دهغه وخت چې ميانک د عصر په وروستيو کالو کې وليدل چې هيواد يې داسي نظامي ماتې ته تسليم کيږي؛ کوم چې د ۱۹۱۸ له ماتې څخه ډېر زيات کوونکې او ماتوونکې و. د ۱۹٤٦ Die Deutsche Katastrophe ته په خواشينې سره مراجعه کوي؛ او په دې معتقد کيږي چې تاريخ د سخت زړي، او وړاندې چانس په قبضه کې دی. ۳۸ دروحياتو عالم يا سوانح ليکونکي به دلته ديره فرد په حيث د ميانک له انکشاف سره علاقه ولري، خو څه چې مورخ علاقمند کوي، هغه طريقه ده چې په هغه کې ميانک د حاضر عصر دري يا ممکن څلور يا له پسې او واضحاً متضادې دورې په تاريخي ماضي کې منعکس کوي.

اوس به کور ته نږدې بوو تلې مثال را واخلو. د ۱۹۳۰ او ۱۹٤۰ په لسو يشت ماتوونکو کالو کې ، هغه وخت چې د ليبرال ګوند د يوه موثر قوت په حيث له سياسي ډګر څخه ايستل شوی وو، پروفيسر بټرفيلډ يو کتاب وليکه او نوم يې د (تاريخ ويګ تعبير) پرې کښيښود. کتاب ستر او مستحق موفقيت وګاټه او په خو ډيرو لحاظو نوی بوو تلې کتاب و په دې چې که څه هم په ۱۳۰ مخونو کې يې د ويګ توجيه وغندله له فاکس ۳۹ له غير چې هغه مورخ نه و، يو بل ويګ يې هم ياد نه کړ . داسې يې هم له اکټن نه په پرته يو چې هغه ويګ نه و دبل کوم مورخ نوم و اره خيست ، خو کوم ههغه چې دغه کتاب په تفصيل او دقت سره ونه لاره، هغه ورته په واضح تر او تر څو کلماتو کې بيور شوی وو. لوستونکې ته بله لاره هيڅ نه وه پاتې شوې: مګر دا چې ووايي د ويګ توجيه بده وه. دويګ په ضد يو تومت دا و چې هغه وداوس په ملاحظې، د ماضي مطالعه کوي. په دغې برخې کې پروفيسر بټرفيلډ رحم او قاطع و. وايي :

---

۳۸ ـ زه د ډاکټر ډبليو ستارک W. Starlc څخه اصلي تحليل څخه امتنان کوم چې ده د ميانک د انکشاف په باب کړی دی او هغه يې د هغه د Die Idee der Staadsrasom د انګريزي ترجمې په مقدمه کې چې په ۱۹۵۷ کې يې د ماکياولزم په عنوان خپور کړی دی ، ليکلې دی . ډاکټر ستارک شايد ميانک په دريمي دوره کې د ماورق حقلي عنصر مبالغه کوي .

۳۹ ـ Charles G. Fox (۱۷٤۹ ـ ۱۸۰٦) انګليس سياستمدار (م)

د ماضي مطالعه په داسې حال کې چې د جاجبره پوه سترګه په اوس کې وي ۹.
تاريخ کې د تېرو لو ګناهونو او مغلو سرچينه ده . . . . دا د هغه عزيز جوهر دی چې موږ
چې د « غير تاريخي » په نامه ياد وو . « ٤٠ » دولس کاله تېر شول . د بت ماتولو رواج
چې رواجه شو . د پروفيسر بټرفيلډ هيراد په داسې جنګ کې ونښت چې زياتره ويل
کېده د هغو قانوني ازاديو د دفاع دپاره وو ، کوم چې دوګړ له خمنې سره يې ارخ
لګاوه . جنګ د داسې چا په مشرتابه کېده چې هغه پرله پسې وماضي ته په « يو سترګه په
اوس باندې » التماس کاوه . پروفيسر بټرفيلډ په يوه واره کتاب کې - د انګليس او دهغه
تاريخ - په نامه چې په ١٩٤٤ کې خورشونه يوازې داسې فيصله وکړه چې د تاريخ وګړ
توجيه د « انګليس » توجيه وه ، بلکه وله تاريخ سره : « انګليس په اتحاد » په ډير
شوق سره وګړيد . داسې هم دی د « ماضي او اوس ترمنځ په اتحاد » وګړيد ٤١ .
د غو معکوسو جهان بينيو ته توجه ګرځول ، بوغير دوستانه انتقاد نه دی ، زما مطلب دا نه دی
چې لومړنی بټرفيلډ په ثانوي بټرفيلډ رد کړم ، او يا خمار بټرفيلډ له په حال بټرفيلډ سره
مخامخ کړم . زه په دې پوره پوه يم چې که څوک د زحمت وګالي ، او زما هغه ليکنې
مطالعه کړي ، کوم چې ماله جنګ نه د مخه ، د جنګ په دوران کې ، او له هغه وروسته
کړي دي ، ما به په اسانۍ سره قانع کړي چې په هغو کې داسې تناقضات او اختلافات
وموي کوم ته چې ما د نورو په ليکنو کې اشاره کړې ده . حقيقت دا دی چې زه يقين له کوم
چې په هغه مورخ رخه وکړم چې دی د دی ربښتيني ادعا کولی وشي چې ده به تيرو پنځو-
سو در دوو لکو کالونو کې ژوند کړی دی ، او په جهان بيني کې يې تغيير نه دی پيښ شوی .
زما مقصد بس دادی چې د بيم ديوه مورخ اثر د هغې جامعې څرګوره تر دی انعکاس کوي ،
په کومې کې چې دی ژوند کوي . يوازې وقايع پرله پسې په تغيير کې نه دي . پخپله مورخ

٤٠ - ايچ . بټرفيلډ ، د تاريخ ويګ تعبير (١٩٣١) په ٦٧ مخ کې يې موټلت ، د (تجربه شوي تنقل) پسـه (پوسالسي رقسي ... اشخاص) باندې اعتراف کړی .
٤١ - ايچ . بټرفيلډ ، انګليس او دهغه تاريخ (١٩٤٤) مخونه ٢ ، ٤ ، ٥ .

هم په تغییر کې دی ، څه وخت چې تاسو ته کوم تاریخي اثر په لاس درشي ، کافي نه ده چې دعنوان په مخ باندې یې یوازې د مؤلف نوم ولولئ . دچاپ او بیالیکلو نیټه یې هم وګورئ . ګله ګله دا حتی ډیر څه را ښیي . که د فیلسوف دا خبره صحیح وی چې موږ ته وایي موږ په یو سیند کې دوه ځلې ننوتلی نه شو ، دا هم ممکن په بعضې اندازې ، او دعین دلیل له مخې ، سمه وی چې یو مورخ دوه کتابونه لیکلی نه شي ،

او که موږ دیوې شیبې دپاره له یوه انفرادي مورخ څخه وځغلو ته چې په تاریخ کې پراخ تمایلات وپلټل کیږي ، مخ وا ړوو ، هغه حد او اندازه لا هم واضحه کیږي ، چې یو مورخ دخپلې جامعې محصول دی . په نولسمې پیړۍ کې برتانوي مورخانو یوازې په یوه استثنی سره دتاریخ سیر د ترقي داصل مظهر ګاڼه ، دوی دبعضې جامعې دا ایدیالوجي افاده کوله کومه چې د ترقي په حال کې وه . تاریخ دبرتانیایي مورخانو دپاره ترهغو مفهوم لاره ترڅو چې ددوی په لاره روان وو .

اوس چې تاریخ غلطه لاره نیولې ده ، دتاریخ په مفهوم عقیده لرل بدعت ګڼل شوی دی . له لومړنی جهاني جنګ نه وروسته تساین بې ناکام کوښښ وکړ چې دتاریخ مستقیم نظر په دوراني نظر سره عوض کړي ، کوم چې دبعضې جامعې مشخصه ایدیالوجي ده ، چې مخ په ځوړ وي . ۴۲ دتاین بي له ناکامۍ نه وروسته برتانوي مورخان په زیاته اندازه قانع وو ، چې لاسونه سره ور کړي ، او په ګډه اعلام کړي چې په تاریخ کې منظم ترتیب او طرح هیڅ نه شته ده . په دغه باب دفشر یوې مبتذلې تبصرې ۴۳ دومره عمومیت وموند لکه چې په تیرې پیړۍ کې درانکې وجیزې موندلې و . که څوک راته کړی چې دغه تحول دبرتانیا دتیرو دیرشو کالو مورخانو

۴۲- مارکوس اورلیوس ( Mascus Aurelius ) دروم دامپراتورۍ دانحطاط په وخت فیلسوف په دغه فکر سره ها فیننه ورکوله چې د ټول څیزونه ، چې څنګه اوس واقع کیږي ، په ماضي کې پیښې شوي دي او هم به په اینده کې پیښ شي . (ځانته ۹ ، ۱۶ ، مخ ۲۷) . څنګه چې ... واضحه ده ، تاین بي د دوراني حرکت نظر دشپنګلر ( O. Spangler ) (۱۸۸۰–۱۹۳۶ جرمني مورخ) له لویدیځ انحطاط څخه اخیستی دی .

۴۳- مقدمه (د دسمبر ۴، ۱۹۳۴) داروپا تاریخ ته .

محض پهشخصي تفکر سره د ترتیب او شپږ مطالعو په اثر په نصیب کړې دي ، زه به له دغه حقیقت سره مقابلې په فکر نه شم. خو زه به د غه شخصي تفکر ، او د ترتیب او شپږ مطالعات په اجتماعي حادثه او دغه اساسي تحول محصول او افاده وګڼم کوم چې له ۱۹۱٤ څخه راهیسې زموږ د جامعې په خصوصیت او جهان بیني کې پیښ شوی دی. د جامعې خصوصیت په باب نظر دیځې مخکې تاریخ تولید وي ؛ او بایې نشي کولی تولید کړي ، تر دې یې مهم مشر او بکار ندوی نشته دی. ګیل ٤٤ ، هالندې مورخ په خپل مهم مونو ګراف کې چې په انګریزي کې په (ناپلیون: طرفداري او ضد) ترجمه شوی دی ، ښیي چې د ناپلیون په باب د تونسي پیړۍ فرانسوي مورخانو پر له پسې قضاوتونه په واقع کې دغه متحول او متضادو ترتیبو او انعکاس وو کوم چې په هغې پیړۍ کې د فرانسې په سیاسي ژوند کې پیښ شوي و. د نورو انسانانو د افکارو په شان ، د مورخانو افکار هم د زمان او مکان په محیط سره شکل او صورت غوره کوي. اکټن چې د غه حقیقت یې پوره پیژندلی و ، په خپله په تاریخ کې له هغه څخه د پراز په لټون کې شو. دی لیکي :

«تاریخ باید نه یوازې موږ د نورو وخشونو له بې جهت تاثیر بلکه په خپله زموږ له بې جهت تاثیر او د محیط له ظلم او د هوا له هغه فشار څخه چې موږ یې تنفس کوو ، نجات ور کوونکی اوسي .» ٤٥ دا به د تاریخ د رول په باب مبالغه له حده ډیر خوش بیني بو نظر وبریښي . خو زه به دا عقیده په زغرده بکاره کړم چې هغه مورخ چې له خپل دریځ نه خورا ډیر اګاه وي ، هم به د ډیر قدرت و لري چې په هغه فوقیت پیدا کړي ، او هم به ډیر قدرت و لري چې د هغو اساسي اختلافاتو ماهیت په قدر پوه شي کوم چې د هغه د جامعې او جهان بیني او د نورو ملکو نو او عصر و نو تر مینځ وي . د دې په نظر و هغه مورخ ته لیا ډیر قدرت و لري چې په بکاره توګه اعتراض لري چې دی اجتماعي

---

٤٤- Pieter Geyl (١٨٨٧- ) هالېنډي مورخ . (م)

٤٥- اکټن ، د معاصر تاریخ په باب لیکچرونه (١٩٠٦) ، مخ ٣٢ .

حادثه نه ده ، بلکه فردي حادثه ده . ښکاري چې د انسان هغه استعداد چې له خپل اجتماعي او تاریخي موقف څخه اوړي ، په هغه حساسیت سره مشروط کېږي ، چې په هغه سره دی په هغه کې د خپل د شمول حد او اندازه پېژني . ما په خپل لومړي لیکچر کې ویلي وو : پخوا له دې چې تاریخ مطالعه کړئ ، مورخ یې مطالعه کړئ . اوس به اضافه کړم : پخوا له دې چې مورخ مطالعه کړئ ، د هغه اجتماعي او تاریخي محیط مطالعه کړئ . مورخ هم د یو فرد په حیث د تاریخ او جامعې محصول دی . د تاریخ محصل باید دا زده کړي چې مورخ په همدغې دوه اړخیزې رڼا کې وپېژني .

اوس به مورخ پرېږدو او زما د معادلې هغه بله خوا ـ د تاریخ حقایق ـ به همدغې مثلي په رڼا کې ارزښت لاندې ونیسو . د مورخ د پلټنې هدف د افرادو سلوک دی ، که د اجتماعي قوتونو عملیه ؟ دلته زه په تېر طرح شوي لارې درومم . څه وخت چې سر ایسایه برلین ۴۶ څو کاله وړمبې یوه ځلانده او مقبوله مقاله د تاریخي حتمیت په نامه خپره کړله ، ده هغه د ښاغلي تي. اس. ایلیټ له اثارو څخه په یوې وجیزې شروع کړله : « پراخ غیر شخصي قوتونه » . د مقالې اصلي موضوع ته به وروسته ورګرځم ، ده په دې مقالې کې په هغو خلکو ملنډې وهلې ، چا چې د تاریخ د قاطع عامل په حیث په « پراخو غیر شخصي قوتونو » ، نه په افرادو باندې ، عقیده اړله هغه چې زه یې د بدچلن پاچا د تاریخ تیوري ۴۷ وبولم ـ یعنې هغه نظر چې په تاریخ کې براز د افرادو خصوصیت او سلوک ته اهمیت لري ـ یره اوږده زېږه او شجره لري . دا هیله چې په تاریخ کې فردي نابغه د تخلیقي قوت په حیث مسلم اصل وګڼل شي د تاریخي شعور د لومړنیو مراحلو خصوصیت دی . پخوانیو یونانیانو به غوښتل چې د ماضي کارنامې د قهرمانانو په نامه ختمې کړي او قهرمانان د هغو کارنامو واجدان وبولي . دوی هیڅه لرله چې خپل حماسیات یوه شاعر ته چې هومر ۴۸ یې نوم و ، منسوب کړي ، خپل قوانین

۴۶- Sir Isaih Berlin

۴۷- The bad King John theorey of history

اوموسسات یوه شخص ته په نامه ولی کر گیوس ۴۹ بابل شخص ته په نامه صولون ۵۰ منسوب کړی . همدغه عین ډغه په رنسانس کې سروهي یعنی په هغه وخت کې چې پلوتارك ۵۱ په اخلاقی اصولو پابند سوانح لیکوالکی د پخوانیو علوموپه یا ژوندی کړاو کې د پخوانیو دوروله مورخانو څخه ډیر محبوب او منفذ شخصیت و . دانظر په دغه ملك ( انگلستان ) کې د چاجبره موتر لا ان د سوریه عبت کې زده کړی وه ، او تن ورغ په موتر په دغه حقیقت ممکن اعتراف و کړو چې دانظر دو رو ، او یادوړو مذوق دپاره دی . دا نظر په هغو خنو کې چې جامعه ډیره ساده وه ، او داسې ځکاریده چې عمومی چارې یوازې یو څو تو میالیوا جرا کولې ، ممکن سم او درست وی ، خو زموږ په عصر کې چې جامعه ډیره پیچلې او مغلقه ده ، دانظر هیڅ سر نه خوری او په نوښی پیړی کې دسوسیولوجی په نامه دیوه نوی علم ظهور دهمدغه پیچلتوب نتیجه وه . دانظر چې د تاریخ دسترو کسانو سوانح ده ، د او لسمې پیړی په شروع کې یوه مشهوره وجیزه وه . یوازی لس کاله د مخه یوه وتلی امریکائی مورخ خپل همکاران د ، وتاریخی لو بغارو په عمومی و ژلو ه سره نومتی کړل په دې چې دده په فکر دوی ژ داجتماعی او اقتصادی قوتونو ناڅکی ، گټهل شوی وو . ۵۲ ددغه نظر خاوندان تن ورغ د هغه په باب یو څه محبوب ځکاره کیږی خو ، وروسته له یو څه پلتنې په دغه باب ماد پیغلی و ج ورد ۵۳ دیوه کتاب په مقدمه کې یوه ډیره معاصره اعلی وبنا وموتدله هغه لیکی :

وماته دافرادو په حیث دانسانانو سلوك نظر د ډلواو طبقالو سلوك ته ډیر په زړه پورې ښی . تاریخ هم په همدغه تعصب او هم په بل سره لیکل کیدلی شی . دانه ډیر

۴۹- Lycurgus دسپارتا دنهمې پیړی ق.م . مقنن . ( م )
۵۰- Solon (۶۳۹-۵۵۹ ق.م.) دیونان عالم او مقنن ( م )
۵۱- Plutarch (۴۶-۱۲۰) یونانی سوانح لیکونکی او دافلاطون عالم . ( م )
۵۲- امریکایی تاریخی مجله ۱۷۱ ، ګڼه ۱ ، ( جنوری ۱۹۵۱ ) ، مخ ۲۲۰ .
۵۳- Wedg Wood .C.V.

او نه کم تېر ایستونکی دی . د څه کتاب ... یو کوښښ دی چې واقعه شي د څو کسانو څخه احساس وکړ او ولي یې په تېر تخمین سره مضي وکړه لکه څنګه چې يې وکړه . ۵۴

دا یې صریحه وینا ده . او څنګه چې پېغله وج وه یې ډېره محبوبه لیکواله ده ، یقین دی چې ډېر خلق مضي سوچ کوي ، لکه دا یې چې کوي . د مثال په توګه ، ډاکټر راوس وايي چې د ایلزابتي سیستم ځکه رنګ شو چې لومړی جیمز ۵۵ په څه نه پوهېده او د انګلستان د اولسې پېړۍ انقلاب د دوو لومړنیو سټوارت پاچایانو د حماقت له امله یوه تصادفي پېښه وه . ۵۶ حتی سر جیمز نیل ۵۷ چې تر ډاکټر راوس ډېر سخت ګیر او دقیق مورخ دی کله کله څه کوي چې نظر د یې چې شرح کړي د تیودور ۵۸ پاچاهي د کوم مقصد او اصل د پاره وه د ملکې ایلزابتې ستاینه ډېره کوي . سر ایسایا برلین ، په هغې مقالې کې چې ما همدا اوس ترې اقتباس وکړ په دې ډېر اندېښمن دی ، چې مورخان به چنګیز خان او هټلر د بدو کسانو په نامه ثبت نه کړي ۵۹ کله چې مولیر او سټیو ونتوته راګرځو ، د بدکنګې جان او نیکې ملکې بس نظر مخصوصاً رواج پیدا کوي . دا ډېره اسانه ده چې کمونزم د کارل مارکس د دماغ محصول وبلل شي ( زه دا ګل د یوه معاصر سهمدار له متحد المال مکتوب څخه

۵۴- سي . وي . وېج وود ، د پاچا سوله (۱۹۵۵) مخ ۱۷
۵۵- James I (۱۵۶۶-۱۶۲۵) د سکاټلینډ پاچا . (م)
۵۶- اې . اېل . راوس ، د ایلزابتي انګلستان (۱۹۵۰) صفحې ۲۶۱-۲۶۲ او ۳۸۲ . د دې په انصاف ووایو چې هغه اشاره وشي چې څلور کاله وروسته راوس په یوه دوهمې مقالې کې د تورو رسالګارو د ... مورخانو چې دا دغه فکر کوي چې بوربونانو (Bourbons) ونه شو کړای ورسته له ۱۸۷۰ څخه په فرانسه کې پاچاهي بیا تاسیس کړي ځکه چې هنري پنځم د ... له یوه ... سره ... علاقه لرله . (تایمز ادبي ضمیمه ... ۱۹۵۷/۱/۱۹) مخ ۲۷۸ شاید دا هغه شخصي تشریحات دي چې د انګلیس د تاریخ د پاره ساتلي دي .
۵۷- Sir James Neal
۵۸- Tudot
۵۹- اې . برلین ، تاریخي حتمیت (۱۹۵۴) مخ ۴۲ .

شکوم ) نظر دیته چې د هغه منبع او خصوصیت تحلیل شي : د بلشویک انقلاب د دوهم نیکولای ۶۰ حماقت یا د جرمني طلاته منسوب شي ، نظر دیته چې د هغه ژورې اجتماعي ریښې مطالعه شي ، او د دغه قرن د دواړو جهاني جنګونو د دوهم ویلهلم ۶۱ او هتلر د فردي خبث نتیجه وګڼله شي نظر دیته چې د بین المللي مناسباتو په سیستم کې د دې تګ د لو ژورې ریښې و پلټل شي .

د یخلي درج وونه وینا دوه فرضیې سره یوځای کوي . اومړۍ فرضیه دا ده چې د افرادو په حیث د انسانانو سلوک د دوی له هغه سلوک سره چې یې د ډلو او طبقاتو د غړیو په حیث کوي ، سره بېل دی ، او مورخ ته اجازه ده چې په خپلې خوښې سره یو غوره کړي ، او پرې بحث وکړي . دوهمه فرضیه دا ده چې د افرادو په حیث د انسانانو د سلوک مطالعه د دوی د اعمالو د شعوري محرکاتو له مطالعې څخه متشکله ده .

وروسته له هغه څه چې مې د ومبی ووېل ، لازمه نه بولم چې په لومړی فرضیې لوړ زیات و دې باسم . داسې نه ده چې د یوه فرد په حیث د انسان نظر ، نظر و هغه ته چې دی یې د یوې ډلې د یوه غړي په حیث لري ، لږ و ډېر تېرایستونکی دی . اصلاً د دواړو ترمنځ د توپیر پیدا کولو په اوږه څه تېرایستونکې ده . د تعریف له مخې فرد د یوې جامعې یا له یوې جامعې څخه زیات ـ د له وړته وایه شي : یا طبقه ، یا ملت ، یا قبیله ، یا نور څه ـ غړی دی . رومیني ژوند پوهان په دې قانع وو چې د مرغانو ، حیواناتو ، او د قفس د ماهیانو ، د چینجه یې کوټو ماهیانو ، او نمایشي حوض قوتو ، ماهیانو د انواعو تصنیف وکړي او په دې بې و نه ګرزي چې ژوندي موجودات د خپل محیط سره د ارتباط له مخې مطالعه کړي . اجتماعي علوم ممکن تر ورځ هم له خپلې ابتدایي مرحلې څخه پوره وتلي نه وي . ځینې کسان د روحیاتو او سوسیولوجي ترمنځ ـ لومړی د فرد د علم ؛ او دوهم د جامعې د علم په حیث ـ په فرق قایل دي . سایکالوجزم ۶۲ نوم په هغه نظر

۶۰- Nicholas II (۱۸۶۸-۱۹۱۸) د روسیې امپراطور دی . (م)

۶۱- Wilhelm II

۶۲- Psychologism

ایښودل شوی دی چې وايي ټول اجتماعي مسایل په پای کې د فردي انسان د سلوکو تحلیل ته تبدیل کیدونکي دي. خو د روحیاتو هغه عالمان چې و نه شي کړای د فرد اجتماعي محیط مطالعه کړي، چندان به ترقي و نه کړي ۶۳ د بیوګرافي او تاریخ ترمینځ فرق کول چې یو یې انسان د فرد او بل یې انسان د یوه کل د جزء په حیث مطالعه کوي، او د دې نظریې وړاندې کول چې وايي ښه بیوګرافي بد تاریخ جوړوي تېرایستونکي دي. اکټن یو وخت ویل:

«د تاریخ په باب هیڅ څیز د انسان نظر ته دومره ډېر مغلطي او بې انصافي نه پېښوي لکه چې هغه علاقه یې پېښوي، کومه چې د فردي خصوصیتونو له امله پیدا کیږي.» ۶۴ خو دغه تمیز هم غیرحقیقي دی. زه داهم نه غواړم چې د ویکتور یا د عصر د هغه متل و شاته پناه یوسم کوم چې جي. ایم. ینګ ۶۵ د خپل تالیف «د ویکتوریا د وخت انګلستان» د عنوان په مخ راوړی دی: «مستخدمان د خلقو په باب خبرې کوي او اشراف له څیزونو نه بحث کوي،» ۶۶ ځینې بیوګرافي ګاني له تاریخ سره جدي

---

۶۳ـ سره له دې هم د روحیاتو عصري پوهان په دغې اشتباه محکوم شوي دي: «د روحیاتو عالمانو دوی فرد په حیث د فرد د دننه په اجتماعي ژوندي سیستم کې د یو واحد په حیث تر مطالعې لاندې نه دی نیولی، بلکه دوی انسان د یو مشخص انسان په حیث تر مطالعې لاندې نیولی دی چې دی په هغه وخت کې د اجتماعي سیستم او د تشکیلاتو د پاره مخ په روانېدو روان و. په دې توګه، دوی هغه خاص مفهوم په کافي توګه په حساب کې نه دی نیولی دوی ته کوم کې چې دوی کې ګوري کافي معرفت وي». (تېروفیسر ټالکوټ پارسنز مقدمه د ماکس ویبر (max Weber) په «د اجتماعي او اقتصادي تشکیلاتو تیوری» ۱۹۴۷، مخ ۲۷) والسي هم و ګوري، د هغه تبصري په تړوند پاتې: مخ ۱۳۸.

۶۴ـ کوارټلي او خارجي مجله، جنوري ۱۸۶۳، مخ ۲۱۹

۶۵ـ G. M. young

۶۶ـ ډاکټر لوویه هر وخت مېشره په خپل اثر مخصوصاً د بې مطالعه کې وړاندې کړې ده. (دوهم فصل) او کوم عصري دول ته غواړي د چاد ټغر د استعداد تخمین وکړي نه تره ړیږه یل هیڅ ضرورت په دې دول کړلي ده چې دغه په صحبت کې د انشاصو په باب د هغه د کلیاتو تناسب مشاهده کړي. د افرادو په باب عوومره ساده حقایق په علم حقایق سره عوض شوي دي چې د انسانانو او څیزونو له منځه د وتجاریو هغه ایستل شوي او خلاصه شوي دي په دې ډول کله چې د اسره ډېر د انسانانو تخمین وکړ ناسي نه پوهو کښت کښانه د کوم چې هغوی به د انسانانو چارو ته د بیوګرافي له نظره د اوانو نه په نظر کې ونیسي.»

مرسته کوي. زما په خپله ساحه کې دایز کث دویچر ۶۷ دستالین او تراتسکي بیوګرافی ګانې بې وقلې مثالونه دي . نوري بیوګرافي ګانې د تاریخي ناولو لو په څیر ادبیاتو پورې تعلق لري . پروفیسر ټریورروپر ۶۸ لیکي : « دلیتن ستراچي ۶۹ په نزد تاریخي مسایل یوازې او تل د فردي سلوک او فردي غرابت مسایل وو . . . . دی هیڅ په دې پلټنې پسې نه شو چې د تاریخي مسایلو ، د علم سیاست او د جامعې مسایلو د پاره ځواب و وایي او یا یې حتی پوښتنه وکړي » ۷۰ هیڅوک مجبور نه دی چې تاریخ و لیکي . او یا یې د لولي ، او کیدای شي ، چې د ماضي په باب د ېر اعلی کتابونه و لیکل شي چې هغه دې تاریخ نه وي . خو زما په فکر مونږ د رواج له مخې د دې استحقاق لرو - لکه څنګه چه زه یې په دغو لیکچرونو کې پشنهاد کوم چې د « تاریخ » کلمه په جامعې کې دانسان د ماضي د پلټنې د عملې د پاره تخصیص کړو .

دوهم ټکی یعنې دا چې تاریخ له دې پلټنې سره سرو کار لري چې افراد دوولې « په خپل تخمین سره هغسې و کړه ، لکه څنګه چه یې وکړه » ، په اول سر کښې نهایت عجیب بریښي او زه ګمان کوم چې پیغله وج وود د نور و معقولو خلقو په شان ، هغه څه نه عملي کوي ، چه تبلیغ یې کوي . او که یې کوي نو هغه به حتماً کوم د ېر عجیب تاریخ لیکی . نن ورځ هر څوک په دې پوهیږي چې انسانان تل یا شاید حتی دعادت له مخې د هغو محرکاتو له مخې عمل نه کوي ، چې دوی په هغو پوره اګاه وي او یا دوی د بنه تیاروي چې په هغو اعتراف و کړي . په غیرشعوري ، یا پسه پټو محرکاتو ځان نه پوهول یقیناً داسې مثال لري چې یو څوک به په خپل کار پسې ځي او یوه سترګه به یې قصداً تړلې وي . خو د ځینو خلقو په فکر دا هغه څه دی چې باید

---

۶۷- Isace Deutcher ، پولنډی عالم او بیوګرافي لیکونکی . (م)

۶۸- Trevor - Roper

۶۹- Lytton Strachey (۱۸۸۰-۱۹۳۲) انګلیس مصنف او سوانح لیکونکی (م)

۷۰- ټریورروپر ، تاریخي مقالې ، (۱۹۵۷) مخ ۲۸۱

مورخان یې وکړي، دمطلب تکی دادی. ترڅوچې تاسې پدې قانع یې چې د کنګ‌ـ جان بدي دده په حرص ، حماقت ، یاجاه‌طلبي کې ده چې غوښتل یې د ظالم رول ولوبوي ، تاسې دفردی خاصیتونو په ژبه ګړیږئ ، چې دېرو کتونو دهلکانو په تاریخ کې د فهم وړدی . خو کله که موږه دغسې و یلو شروع وکړه چې کنګ جان د هغو شتمنو دمنافعو یو غیر شعوری آله و، کوم چې ددې مخالف وو چې فیوډالي باروناڼ۷۱ په واک شي ، تاسې به نه یوازې د کنګ جان د بدی یوه ډېره پیچلې او سفسطه یی نظریه وړاندې کړې وي ، بلکه تاسې به ظاهراً داسې نظریه هم وړاندې کړې وي ، چې تاریخي وقایع دافرادو په شعوري اعمالو سره نه ټاکل کیږي ، بلکه په هغو ستر و خارجي قوتونو سره ټاکل کیږي ، چې ددوی غیر شعوری اراده هم اداره کوي . واضحه ده چې دا نظریه درسته نه ده . ترڅه ځایه چې په ما اړه لري، زه نه په اسماني قدرت عقیده لرم نه په جهاني روح ، نه په معلوم تقدیر، او یا نه په هرو هغو مجرداتو چې کله کله داسې ګڼل کیږي چې هغوی دپېښو جریان اداره کوي ، او په دې باب زه دمارکس لاندنۍ تبصره بې له شرط او قیده تائیدوم :

«تاریخ هیڅ نه کوي ، هغه ډیره شتمنی هیڅ نه لري ،هیڅ جنګونه نه کوي. بلکه دا په خپله انسان،حقیقي ژوندی انسان دی چې هرڅه کوي ، تصرف کوي ،او جنګ کوي .»۷۲ زه په دغې مسئلې دوه تبصرې لرم. یوه یې هم د تاریخ په کوم مجرد نظریتا نه ده او دواړه خالصې په تجربي مشاهداتو بنادي . اومړی تبصره مې دا ده چې تاریخ تر ډیره حده د عددونو موضوع ده . کارلایل ۷۳ دغه اسفناکه وینا کړې وه چې «تاریخ دسترو کسانو بیوګرافي ده» . خو دده په ډېر ستر او فصیح تألیف کې له ده څخه واورئ :

---

۷۱- Feudal barons ، په برتانیا کې هغه ارثي اشراف چې دلارډانو په لقب مخاطب کیدل او لارډانو په مجلس کې یې دګرځېدو حق لاره .(م)

۷۲- مارکس ـ انګلز ، Gesamtausgabe ، I، iii مخ ۶۲۵ .

۷۳- Thomas Carlyle (۱۷۹۵-۱۸۸۱) سکاټلینډی مورخ او مقالې لیکونکی ..(م)

ویربند توب ، صالحه تعدی ، اوولږه په پنځو پښتو میلیو نو زړ ونو د زړه تصامیزی : دفرانسې په انقلاب کې لومړنی خو ځوونکی هم دغه و و ، نه ژ ځمی شوی غرورونه ، یاد فلسفي مدافعو وکیلانو، شتمنو دکانداراانو، اطرافي اشرافو تقیچي شوې فلسفې . د همدغو مثال به په همد غسې نو او انقلابیو نو ، او ټولو ملکو نو کې وي . ۷۴

یالکه څنګه چې لینن وایي: «سیاست هلته شروع کیږي : چیرته چې تو دې وي ، نه په هغه ځای کې چیرته چې په زرګونو وي: بلکه هلته چې په میلیو نو وي یعني هلته چې جدي سیاست شروع کیږي . » ۷۵ د کارلایل او لینن میلیو نو نه دافرادو میلیو نو نه وو . ددوی په باب هیڅ شی غیرشخصي نه و و . کله کله په دغې مسئلې بحث کول په دې تمام شي چې نه نوم توب له غیرشخصي توب سره ګډ شي . خلق له خلق توب او افراداه فردتوب څخه په دې بل څه نه کیږي ، چې حو لږ د دوی نومونه نه پیژنو . «پاغلي ایلیت «اړاخ غیرشخصي قوتونه» هغه افرادو چې کله ریندن ۷۶ چې ترهغه لیاز وو، او سپین وبونکی محافظه کار و . ورته « بیتومه کثیف خلق » ۷۷ وایي . دغه بې نومه میلیونونه هغه افرادي څوک چې لږ د ډیر په غیرشعوري دول او په ګډه سره اجتماعي قوت تشکیلوي . مؤرخ به په عادي حال کې دیته ارنه وي چې یو ځانګړي ناراض کلي، یا یو ځانګړي ناراض کروندګر په حساب کې و نیسي . خو په میلیو نو ناراض کروندګر، په زرګو لو کلیو کې داسي عامل کیږي چې هیڅ مؤرخ به تري سترګې پټې نه کړي . هغه دلایل چې حو لږ

۷۴- کارلایل ، دفرانسې دانقلاب تاریخ ، ۱۹۱۱ ، III، لومړی فصل .

۷۵- لینن ، منتخب آثار ، VII ، مخ ۲۹۵ .

۷۶- E. Clarendon (۱۶۰۹-۱۶۷۱) انګلیس مورخ . (م)

۷۷- کله ریندن ، دمعاصر دلسی ونه تریوه کتابګمې د کلیسا او دولت په مقابل کې د مشر انو او اشتباهاتو پیو لنډه سرېزه (۱۶۷۶) ، مخ ۳۲۰

له واده کولو څخه ویروي ، مؤرخ ته به ترهغو په زړه پوري نه وي، چې ترڅو هغه دلایل دحوانزدنسل په زرګونو نورافرادو ویروي ، اوخواده په عمومي میزان کې پوره لږوالی راولي . په دغه حال کې به دا پېښه په تاریخي لحاظ مهمه وي . داهم له ځایه چې دغه بې‌لطفه ویناموتږ‌اندیښمن کړي‌چې وایي‌نهضتونه‌داقلیتونوله‌خوا شروع کېږي . تول مؤثرنهضتونه یوڅومشران ، او کثیرپیروان لري . خو د دې معنی دانه ده چې کثرت دهغودبریالیتوب دپاره اساسي نه دی ، اعداد په تاریخ کې اهمیت لري .

زمادوهمه تبصره ترډېره بې‌ته هم حتی څه مشهوره ده. دتفکر د دیرومختلفو مکتبونولیکوالان په دې موافق دي چې دانساني افرادوداعمالونتیجې زیاتره هغه نه دې چې یې عمل کوونکي یا بل کوم فردپه ارزو کې وي ، اویایې په هغه نیت عمل کړی وي . یوعیسوي عقیده لري چې فردچې په شعوري ډول سره د خپلو مقاصد ودپاره عمل کوي ؛ په حقیقت کې دخدای‌دمقصد یوغیرشعوري نماینده دی. د ماندیوال ۷۸ «شخصي ګناهونه ، عمومي ګټې» دهمدغه کشف لومړنی اوعمداً په ظاهرکې مهملـه اوتنیقصه پربنوونکي افاده ده . د ادم سمت ۷۹ پټ لاس» او د هیګل ۸۰ د «عقل زرنګي» چې افراد هغه ته د عمل د پاره په لاره برابره وي سره له دې چې افرادیې په خپل فکرد‌خپلو‌شخصي مقاصد وداجرادپاره کار کوي دومره واضح دي ، چې اقتباس ته یې حاجت نه شته . مارکس د خپل ( د سیاسي اقتصاد انتقاد) نومي تأ لیف په سریزه کې لیکي : «انسانان دخپلوتولیدي وسایلو په اجتماعي تولید کې په معینواو ضروري مناسباتو کې سره داخلېږ ي ، چې د هغو ي

۷۸- Bernard Mandeville (۱۶۷۰-۱۷۳۳) هالیندی اسقف . (م)

۷۹- Adam Smith (۱۷۲۳-۱۷۹۰) سکاټلینډي سیاسي اقتصادپوه . (م)

۸۰- G. W. F. Hegel (۱۷۷۰-۱۸۳۱) جرمني فیلسوف . (م)

له ارادې څخه مستقل وي . « تولستوی ۸۱ په جنګ او سوله کې وايي « او د
جملې په سر کې د ادم سمت د فکر انعکاس کوي ؛ « انسان په شعوري ډول د ځان
لپاره ژوند کوي ، خو د بشريت د مهمو عالمي مقاصدو په حصول کې يو غير شعوري
آلت دی . » ۸۲ قصه چې لنډه کړو : که څه هم د مخه تر دې يې اوږده شوې وه
پروفيسر بټرفيلډ ته غوږ کېنږدئ : « د تاريخي پېښو په ماهيت کې داسې يو څه موجود
دی چې د تاريخ سير په داسې لاره کړ وي ، چې انسان يې بې هيڅ ارزونه وي
کړې . » ۸۳ له ۱۹۱٤ څخه را هيسې ، وروسته له سلو کالونو څخه چې وار په
محلي جنګونه پکې شوي وو ، موږ دوه لوی جهاني جنګونه وليدل . د دې حادثې
د قبول ور شرح په دا نه وي چې ويل شي چې نظر د نولسمې پېړۍ په دې وروستيو
پنځو ويشتو کالونو کې ، په دغه وخت کې ډېرو افرادو د جنګ مطالبه کوله او لږ ويې ـ وله
خوښوله . د دې قبول مشکل دی چې وويل شي چې کوم چا د ۱۹۳۰ څخه تر ۱۹٤۰
د لسو کالو تر دلوی کساد ارزولړله ، او يا يې اراده ورته کړې وه . خو سره له دې
هم د اکسادبې له کوم شک او ترديد څخه د افرادو اعمالو مينځ ته راوړ ، او هر يو په
شعوري ډول يېل هدف تعقيب کاوه . د فرد د نيت او د هغه د عمل
د نتايجو تر مينځ د توپير تشخيص هم تل بايد د اينده مورخ د پاره تال نه شي . لاج ۸٤
د ۱۹۱۷ په مارچ کې د وډرو ويلسن ۸۵ په باب وليکل : « نيت يې خالص دئ ، چې
جنګ ته لاړ شي ، خو زما په فکر چې واقعات يې (په هغه لور) بوتلی . » ۸٦

---

۸۱ـ Leo Tolstoy (۱۸۲۸-۱۹۱۰) روسی نامتو ليکوال . (م)
۸۲ـ تولستوی «جنګ او سوله» IX ، لومړی فصل .
۸۳ـ مايبج . بټر فيلډ «انګليس او د هغه تاريخ» (۱۹٤٤) ، مخ ۱۰۳
۸٤ـ Lodge
۸۵ـ Woodrow Wilson (۱۸۵٦-۱۹۲٤) د امريکې د متحده اياتونو
اته ويشتم جمهور رئيس. (م)
۸٦ـ هيس . وهلير . تورک ماتيه «زه مات ليګرام کې» اقتباس (نيويارک ، ۱۹۰۸) مخ ۱۸۰ .

دانظر د تېرولو شواهدو په خلاف دی چې وویل شي تاریخ به په دغو اساساتو ولیکل شي یعنې د «انساني ټیټو نود نثر بحثو په قرار و یا دغو محرکاتو د شرح په قرار چې په خپله ځا مېلان به یې ور کړی ، یا په دې سره چې ولې یې « په خپل تخمين سره عمل وکړ»، لکه څنګه چې یې « وکړ » .

د تاریخ حقایق، په واقع کې دافرادو په باب حقایق دي. خو دا حقایق دافرادو د هغو اعمالو په باب نه دي : چې په مجرد ډول سره اجرا شوي وي . داسې هم دا حقایق د هغو محرکاتو- حقیقي وي یا خیالي – په باب نه دي چې افراد خیال کوي، چې ګوا کې دوی دا عمل د هغوله مخې کړی دی . دا حقایق دافرادو د مناسباتو په باب دي ، چې دوی یې په جامعه کې یو تر بله سره لري، او هغه دا راز د هغو اجتماعي قوتونو په باب دي ، چې دافرادو له اعمالو څخه نتایج را و باسي کوم چې زیاتره یې له هغو نتایجو څخه مختلف ، او یا کله کله د هغو په ضد وي ، چې افرادو یې ورته نیت کړی وي.

د کالنګ وود د تاریخ د نظر چې ما په تېر لیکچر کې شرح کړ، یو « جدي غلطي » هغه فرضیه ده چې د هغه په اساس د عمل شاته فکر، چې باید مورخ یې په پلټلو موظف وي ، د فردي عامل فکر ګڼل شوی دی . هغه څه چې مورخ یې باید وپلټي، دا دي چې د عمل وشاته څه شی پروت دی. او د دې دپاره به ممکن د فردي او ځانګړی عمل کوونکي شعوري فکر ، یا محرک ، « کاملاً » نا مربوط وي .

ځایي دلته اوس په تاریخ کې د یاغي او د مخالف د رول په باب یو څه ووایم . د جامعې په مقابل کې د یاغي په حیث د یوه فرد عمومي تصویر کښل په واقع کې د فرد او جامعې تر منځ د یوه غلط ضدیت رواجول دي . داسې جامعه نه شته چې ګرد سره دې متجانسه وي . هره جامعه د اجتماعي نښتو یوه صحنه ده ، او هغه افراد چې د موجودې واکمنۍ په مقابل کې قیام کوي ، هغو مره د هغې جامعې محصولات

او انعکاسات دي، لکه څومره چې طرفداران يې دي . دوهم ريچرد ۸۷ او ستره کاترينه ۸۸ دخوارلسمې پيړۍ انګلستان او داتلسمې پيړۍ روسي دسترو اجتماعي قوتونو ممثلان وو . داسې هم واټ ټيلر ۸۹ او پوګاچيف ۹۰ چې دروسيې دنيمه غلامي دلوی قيام مشرو، دستر و اجتماعي قوتونو تمثيل کاوه . پاچايان او ياغيان يوشان دځينو عصراو هيواد دخاصو شرايطو محصول دي . د واټ ټيلر او پوګاچيف داسې معرفي کول ، چې دوی ګواکې دجامعې په مقابل کې ياغي افراد وو، له حده زياته يوه تېرايستونکې ساده کول دي . که دوی ټش همدا وای ، مورخ به ددوی نوم هيڅ نه وای اوريدلی . دوی په تاريخ کې خپل رول د خپلو کثيرو طرفدارانو مرهون ګڼي . دوی يا د اجتماعي حوادثو په حيث مهم دي يا هيڅ نه دي .
اوس به په لوړه سويه ، يو ولي باغي فرد پرست دمثال په توګه ونيسو . بوازې يو څو کسانو ترنيچې ۹۱ زيات دخپل عصراو هيواد په ضد په ډېر شدت او افراطي دول عکس العمل ښودلی دي . سره د دې هم نيچه داروپا يې او په خاص دول دجرمنې د جامعې مستقيم محصول دي . دا داسې حادثه ده چې نه په چين او نه په پيرو کې پېښه شوی وای . نيچې له مرګه يو نسل وروسته نه ـ دده په عصر کې ـ دا ښکاره شوه چې داروپا او په تېره بيا دجرمنې اجتماعي قوتونه چې دغه فرد يې افاده و ، څومره قوي وو ، او نيچه دآينده نسل دپاره ـ نه دخپل معاصر نسل دپاره ـ يو ډير مهم شخصيت وګرځيد.
په تاريخ کې دياغي رول دستر کس له رول سره يو څه ورته دی . په دغو وروستيو کالونو کې د تاريخ دستر ـ کس ـ تيوري ـ د نيکې پس ملکې د مکتب خاص

---

۸۷. Richard II (۱۳۶۷-۱۴۰۰) دانګلستان پاچا (م)

۸۸. Catherine the Great (۱۷۲۹-۱۷۹۶) د روسيې امپراطوره (م)

۸۹. Wat Taylor

۹۰. Pugachev

۹۱. F. W. Nietzsche (۱۸۴۴-۱۹۰۰) د جرمني فيلسوف . (م)

مثال ـ یو څه له رواجه لویدلې ده . یوازې کله کله خپل سر څرګوی . دعموموډ پاره دتاریخ ددرسی کتابونو دیوی سلسلې تالیف کړو تکی چې له دوهم جهانی جنګ نه وروسته شروع شوی دی ، له خپلو لیکوالو څخه وغوښتل «چې دسترکس دسوانح په لیکلو سره یوه مهمه تاریخی موضوع پرانیځی . » ښاغلی ای . جې . پی . تیلر۹۲ په خپلې یوې کرچنې مقالې کې موږ ته وویل چې «دمعاصرې اروپا تاریخ ددریو پهلوانانو په نامه لیکل کېدی شی: ناپلیون ، بسمارك ، او لینن .»۹۳ مګر ده په خپلو نوروجدی لیکنو کې دغسې بې سنجشه تبصره نه ده کړی . په تاریخ کې دسترکس رول څه دی ؟ ستر ـ کس یو فرد دی ، او څنګه چې دی یو ونلی فرد دی ، دی دیوې اجتماعی حادثې یوونلی اهمیت هم دی . ګیبون ویلی چې « دا یو واضح حقیقت دی چې عصرونه باید د فوق العاده افرادو دپاره مناسب وی ، او دا چې د کرومول « اورتز ۹٤ نبوغ به ممکن اوس په نامعلومې کې ورک او ختم شی .»۹۵ مارکس په خپل د « لوبي بونا پارت په اتلسم برومیر » نومی تالیف کې د هغه معکوسه حادثه تشخیص کړ له ؛ « په فرانسې کې طبقاتی جنګ داسې شرایط خلق کړل ، چې د هغو په اثر منځنی ( دمنځنی طبقې ) ناشوله شخص وکړای شوه دقهرمان په جامه کې دنازقدم ووهي . » که بسمارك په اتلسمې پیړی کې زیږېدلی وای ـ څه بې مفهومه تبصره ، ځکه چې دی به هغه وخت بسمارك نه وای ـ جرمنی به بې متحد کړی نه وای ، او هیڅ به سترشخص شوی نه وای . خوداهم لازمه نه ده چې دتولستوی په شان ـ یو څو ګټ دسترو کسانو اوزښت کم کړی ، اوهغوی « پیښوته دنوم ورکولونا یې » وګڼي . په دې کې څه

---

۹۲. A. J. P. Taylor معاصر انګلیسی مورخ (م)

۹۳. ای. جې . پی . تیلر ، له ناپلیون نه تر ستالین پورې (۱۹۵۰) مخ ۷٤ .

۹٤. Retz

۹۵. ګیبون ، د روم د امپراطورۍ انحطاط او سقوط ، فصل LXX

شک نه شته چې کله کله دستر فرد د لمانځلو روش ممکن ناوړه عواقب ولري . دنیچې مافوق انسان مردودا وبللو دی . ما نه غو ښتل چې ... وسرپاد ... وچي .. ته پام ... پا ... پر چې ... خورئ نه ولری مقصد داته دی چې دستر و کسانو ستر توب ووروښیم .داسي هم نه غوارم په دغه نظر کې شریک شم چې وایي دستر کسان تل بدکسان وي . دغه نظرچې هیله کوم له رواج نه یې وغورځوم دادی چې د انسان مقام له تاریخ نه بهر گنبي اوانسانان داسې وینی چې ګواکې دوی دخپل ستر توب په وجه په تاریخ باندې تحمیل کوي ، داسې لکه چې دغو طبوجیک له نامعلوم ځخه دمعجزې په دول وځي چې دتاریخ رښتینی پرله پسې توب ګډ و ډ کړي . ۹۶ حتی نن ورځ هم زه نبو هیژم چې که مونږ د هیګل دغه کلاسیکی وینا بهتره کولی وشو .

ود عصرستر کس هغه څوک دی چې په دې قادر وي دخپل عصر اراده په الفاظو کې افاده کړي ، خپل عصر ته ووایي چې دغه یې اراده ده او اجرایې کړي . هغه څه چې دی یې کوي : دده دعصر زړه او جوهر دی . دی خپل عصر واقعي کوي، ۹۷» داکتر لیویس ۹۸ هم ، کله چې وایې ستر لیکوالان ودغې انسانی اګاهی په وجه مهم دی ، چې دوی یې رواجوی ، »۹۹همدغسې یو څه په نظر کې لري . ستر کس تل یا دموجود وقو توتو نماینده وي ،او یا دهغو قوتونو نماینده وي چې د مسلط قوت په ضد دهغو له تشکیل کو لو سره مرسته کوي . خود تخلیق او ابتکار لوړه درجه ښایی هغو سترو کسانو لکه کرومول ،یالین ته تخصیص شي چې دوی دتو یو قوتونو له تشکیل سره مرسته و کړه ،اوهمد غو قوتونو دوی ستر توب ته ورسول ، نه هغو کسانو ته چې

۹۶. وی. جی. چایلد (V. G. Childe) ، تاریخ (۱۹۴۷) ، مخ ۴۳

۹۷. د حق فلسفه ، (انګریزی ترجمه ۱۹۴۲)، مخ ۲۹۵.

۹۸. Dr. F. R. Lewis

۹۹. اف. آر. لیویس، ستره ځنځه (۱۹۴۸) ، مخ ۲۰

لکه ناپلیون، یا بسمارک چې دموجود وقوتونو په شاسواره شول او ستر توب ته پری ورسیدل . نه بلکې موږ هغه سترکسان هیر کړو چې له خپل عصر څخه دیر دمخه وو اودوی سترتوب یوازی آینده نسلونو وپیژند . هغه څه چې ماته اساسی معلومیږی دادی چې موږ په سترکس کې د غښې یو داسی شخص وپیژنو چې هغه هم دتاریخی عملي محصول اونماینده وی ، اوهم داجتماعی قوتونو ممثل اوخالق وی ، کوم چې دنړی شکل اودانسانانو فکرته تغییرورکوی .

نو تاریخ دکلمې په دواړو مفهومونوسره یعنی هغه پلټنه چې دمورخ لخوا کیږی ، اودماضی هغه حقایق چې دی یې تحقیق کوی ـ یوه اجتماعی عملیه ده دامې عملیه چې په هغې کې افراددا جتماعی موجوداتو په حیث شامل دی ، دجامعې اوفرد ترمینځ خیالي ضدیت له هغو موانعو څخه غیر بل څه نه دی چې زموږ په لاره کې په دی غرض خلق شوی دی ، چې زموږ فکر ګډوډ کړی ، دمورخ او دهغه دحقایقو ترمینځ ددوه رخیزه عمل متقابله عملیه کومه چې ما دماضی او اوس ترمینځ مکالمه بللی ده دتنی اوپروتی جامعې ترمینځ مکالمه ده ، او دمجرد او ګوښه شویو افرادو ترمینځ مکالمه نه ده . تاریخ دبرکت خاردت په الفاظو سره ، دهغه څه ثبت دی چې یو عصر یې په بل عصر کې د ثبت کولو لایق موندلی و . ۱۰۰ ماضی یوازی د اوس په رڼا کې د فهم وړدی ، او موږ یوازی دماضی په رڼا کې په اوس پوره پوهیدلی شو . دا د تاریخ هغه دوه اړخیزه وظیفه ده چې انسان په دی قادر کوی چې ماضی و پیژنی ، او په اوسنی جامعې کې خپل قدرت دیر کړی .

---

۱۰۰ ـ جی ـ برکخارد ت، په تاریخ او مورخانو قضاوت (۱۹۵۹) مخ ۱۵۸ ،

# تاریخ ، ساینس او اخلاق

هغه وخت چې ځوانکی وم ، د ا ښې زده کړه چې د شکلو نو باوجود ، نهنګ ماهي نه دی! دي خبري په ما اثر هم وکړ . څو اوس مې د تصنیف د غې پوښتنې تر پخوا لږ خو ځوی او د ا خبره مې هم ښې جهت نه رپېږوي چې ما متیقن کوي چې تاریخ ساینس نه دی . د غه اصطلاحي سوال د انګریزي ژبې د غرابت په وجه پیدا شوی دی . په هرې بلې اروپایي ژبې کې د «ساینس» معادله کلمه بې له کوم تردید څخه تاریخ په غېږ کې نیسي. خو په انګریزي - ویونکې ترې کې د غه پوښتنه یوه اوږده سابقه لري، او هغه موضوعات چې له هغې نه پیدا کېږي، په تاریخ کې د میتود د مسایلو یوه مناسبه مقدمه تشکیلوي .

د اتلسمې پېړۍ په پای کې ، یعنې هغه وخت چې ساینس هم د جهان په باره کې د انسان د معرفت په باب ، او هم د هغه د طبیعي خواصو د معرفت په باب ، په ډېر موفقیت سره مرستې کړې وې ، د اسې پوښتنې شروع شولې ، چې ایا ساینس به د جامعې په باب هم د هغه پوهه زیاته کړي ، او که نه. د اجتماعي علومو مفهوم ، چې په هغو کې تاریخ هم شامل و ، د نولسمې پېړۍ په دوران کې ورو ورو انکشاف وکړ ، او هغه میتود چې په هغه سره ساینس د طبیعت نړۍ څېړله ، د بشري چارو د مطالعې د پاره هم په کار ولوید. د دغه عصر په لومړۍ برخې کې د نیوټن ۱ عنعنه مسلطه شوله. جامعه د طبیعت د نړۍ په څېر ، د یوه میکانزم په حیث وګڼله شوله . د هربرټ سپنسر ۲ د یوه اثر عنوان

۱ - Issac Newton (۱۶٤۲ - ۱۷۲۷) انګلیسی فیلسوف او ریاضي پوه (م)
۲ - Herbert Spencer (۱۸۲۰ - ۱۹۰۳) انګلیسی فیلسوف . (م)

داجتماعي سا کنو اجسامو بحث ۳ چې په ۱۸۵۱ کې خپور شو، ترا وسه هم یادیږي. برتراند رسل، چې په دغې عنعنې کې روزل شوی و، وروسته یې دغه عصروا یاد کړ، اوهیله یې وکړه چې یوه وخت به ودانسانی سلوک ریاضیات دومره دقیق (وي) لکه څومره چې دماشینو نوریاضیات دي ٤ وروسته یا داروین ۵ بل علمي انقلاب راوست، او اجتماعي پوهانو چې له بیا لوجی څخه تقلید کاوه، په داسې تفکر پیل وکړ، چې جامعه د یوه عضویت په حیث وګڼي. خود داروین انقلاب رښتینې اهمیت په دې کې دی چې داروین څه وخت چې دغه څه په تکمیل کولو پسې شو کوم چې (لایل) ٦ لا روميې په جیولوجی کې شروع کړی و، تاریخ یې په ساینس کې حساب کړ. ساینس نورنوله هغه څیز سره سروکار نه لاره چې ساکن او بې زمان ۷ و، بلکه د تحول او انکشاف له عملیې سره یې علاقه پیدا کړله. په ساینس کې تکامل، په تاریخ کې ترقي تائیده او تکمیله کړله. سره له دې هم داسې څه پیښ نه شول چې د تاریخي میتود استقرا یې نظریه کوم چې زه په لومړی لیکچر کې پرې وغږیدم، وا روی: یعنې داچې لومړی خپل حقایق را غونډ کړی، بیا یې توجه وکړئ. بې له څه ګرو بر نه داسې وګڼله شو له، چې دساینس میتود هم همدغه دی. داهغه نظرو، چې (بري) کله چې د ۱۹۰۳ کال په جنوری کې د خپل افتتاحي لیکچر په وروستي برخې کې تاریخ په حیث دیوه ساینس، نه لږ نه دیره تعریف

---

۳. Social Statics

٤. بې. رسل، له حافظې نه تشریحات (۱۹۵۸) مخ ۲۰

۵. Charles R. Darwin (۱۸۰۹ - ۱۸۸۲) انګلیسی طبیعي عالم. (م)

٦. Charles Lyell (۱۷۹۷ - ۱۸۷۵) انګلیسی جیالوجسټ یو. (م)

۷. این ترږي ترږي وختر یعنې ۱۸۷٤ کې، برادلي (Bradley) ساینس لــه تاریخ څخه داسې بیل کړي چې هغه (ساینس) له زمان نه د بالاتر او (لا زوال) نه بحث کوي. (اف. ایچ. برادلي، غونډ شوي مقالې، ۱۹۳۵، مخ ۳۶).

کړ، په نظر کې لاره. خو د (بری) له افتتاحي لیکچر نه وروسته پنځوسو کالونو کې د تاریخ د دغه نظر په ضد سخت عکس العمل وښودل شو. کالنګ وود، څه وخت چې د ۱۹۳۰ څخه تر ۱۹٤۰ پورې په لسو کالونو کې لیکنې کولې، په خاص ډول زیار کاږه چې د طبیعت دنړۍ چې د علمي پلټنې موضوع ده ، او د تاریخ دنړۍ ترمینځ پوره صریحه کرښه وکاږي . په دغه عصر کې د (بری) متوله ، پسوازي کله کله هغه هم د تمسخر په ډول راوړله کېدله . خو مؤرخان هغه وخت موفق نه شول دیته پام وکړي چې پخپله په ساینس کې ژور انقلاب راغلی دی ، او دغه انقلاب جیبې چې د (بری) نظر ترهغو چې موږ خیال کاوه ، که څه هم دغلط دلیل دپاره ، ډیر مسم و . هغه څه چې (لایل) دجیولوجی دپاره وکړل ، او (داروین) دبیولوجی دپاره هغه اوس داسترونومی یعنې دهغه ساینس دپاره وشول ، چې وایي کاینات هغسې چې اوس دي ، څنګه پیداشوي دي . اوسني فزیک پوهان ، موږ ته تل وایي چې هغه څه چې دوی یې پلټي ، حقایق نه دي، بلکه واقعات دي. ځاچې مؤرخ نظرنیږوسلو کالونو ته اوس ، دساینس په لړۍ کې ډیره آرامي او اشنایي حس کوي په دلایل لري .

راځئ چې لومړی دقوانینو په مفهوم یو نظر واچوو. په اتلسمې او نولسمې پېړۍ کې، پوهانو داسې ګڼله چې د طبیعت قوانین ـ د نیوټن د حرکت قوانین، دجاذبې قانون ، دبایل قانون (۸) ، دتکامل قانون او داسې نور ـ لټ شوي او په قطعي ډول تثبیت شوي دي ، او دیره ساینس پوه وظیفه داده چې داستقرایه عملیې سره له مشاهده شویو حقایقو څخه دغسې نور قوانین لټ او تثبیت کړي . د «قانون» کلمه له

۸ ـ Robert Boyle (۱٦۲۷ ـ ۱٦۹۱) برتانیایي طبیعي فیلسوف . هغه قانون چې د ده په نامه شهرت لري وايي چې په ثابت حرارت کې د هر ګاز د پوره ټاکلې اندازې حجم له هغه فشار سره معکوس نسبت لري چې په هغه وار دوی. (م)

گالیلیو(۹) او نیوټن ته موږ ته په داسې حال کې چې دافتخار لاره یې و ښاسې ده راغلي ده . دجامعي پوهانو، چې په شعوري یاغیرشعوري ډول سره هڅه کوله چې خپلو مطالعاتو ته هم ساینسي حیثیت ورکړي ، همدغې کلمات استعمال کړل ؛ او پخپله په دې متیقن شول چې دوی په همغې لارې روان دی . داسې ښکارئ چې سیاسي اقتصادپوهان په دغه ډګر کې دګرشم په قانون (۱۰) او دبازار په یابیدادم‌سمث په قوانینو سره تر نورو ومبی وی . ( برك ) ( ۱۱ ) د و تجارت قوانینو ته چې دطبیعت قوانین دی ، او په نتیجه کې اسماني قوانین دی، (۱۲) الناس و کسر . مالتوس (۱۳) دنفوسو قانون نوایست . لاسال (۱٤) داجوروسپنیز قانون وضع کړ.

---

۹. Galileo (۱٥٦٤ - ۱٦٤۲) ایټالیایی عالم . (م)

۱۰. Gresham's law . د دغه قانون واضع سرتامس ګرشم و . دی د پیسو کم ارزښته کې وله تحقیق ته دې نتیجې ته ورسیدی و چې وخراښې پیسې تل ښې پیسې له دوران نه کاږي ، دغه وخت چې کم ارزښته پیسې د اوصلي پیسې په دوران کې وي ، خلق هڅه کوي چې ښې پیسې ذخیره کړي او کم ارزښته پیسې په پور کې ادا کړي . په دې حساب د وخت په تیریدو سره ښه پیسې په تدریج له بازاره ورکې وي ، په دوران کې لویږي او د تجارتي سامانو ارزښت تاګي او ښه پیسې چې ډیری زیاتي د ښکلو روپي ، زرو ورو نه دوران څخه لویږي او د قیمتي پیسو په حیث د نورو کارو د پاره استعمالیږي . (م)

۱۱. Edmond Burke (۱۷۲۹ - ۱۷۹۷) انګلیسی سیاسی او لیکوال . (م)

۱۲. د ایډمونډبرك په اثارو کی ( ۱۸٤٦ ) ۷ ټوك ، ۲۷۰ مخ د قحطی په هکله افکار او تفصیلات ، (۱۹٥۷) . د برك استنتاج دا و چې دا د حکومت په حیث یا حتی دټولو د قدرت په حیث په واک کې نه ده چې غریبانو ته هغه ضروریات ورته برابر کړي ، کوم چې لوی خالق یې خوښ کړي چې له هغوی څخه یې ورسپموي .

۱۳. Thomas R. Malthus(۱۷٦٦ - ۱۸۳٤) . انګلیسی سیاسی اقتصاد پوه ، دنفوسو قانون د خوراکی موادو او نفوسو تر منځ داسې نسبت ثابتوي چې د ژوندانه تل په حسابي تصاعد ( ۱، ۲، ۳، ٤ ) او نفوس په هندسی تصاعد ( ۱، ۲، ٤، ۱٦ ) سره زیا تیږي او په دې ډول نفوس به له خوراکي موادو څخه تل ډیری کوي او زیاتی نفوس به په جنګ ، قحطی ، غریبی او نورو سره کمی کوي او که اجوره د معیشت له حده زیاتي وکړي ، نفوس به ډیرشي ، او اجوري به بیرته ټيټه و خوري . د دغه نظر له مخي ، به اجوري په زیاتي او ژدې موده کې فقط د ډیر ټکمعیشت سره برابر ته راولویږي . (م)

۱٤. F. Lassalle (۱۸۲٥ - ۱۸٦٤) جرمن سوشلست . (م)

مارکس په خپل تألیف، (پانگه) کې ښکاره چې مدعي وی چې دده د معاصري جامعې د حرکت اقتصادي قانونه برسیره کړي وي. بکل (١٥) د تمدن تاریخ په وروستیو کلماتو کې داسې عقیده ښکاره کړله چې دبشري واقعاتو په جریان کښې ویوه خلاانده پرنسیب نفوذ کړی چې عالمي او نه کږیدونکی نظم لري. د دا اصطلاح نن ورځ دومره زره معلومیږي ؛ لکه څومره چې فرضي ښکاري ، خو د لمړنيکي عالم او د جامعې عالم دواړو ته تقریباً یوشان زړه او له رواجه لوېدلې ښکاري . یو کال دمخه تر هغه چې (بری) خپل افتتاحي لیکچر اوراوه، دفرانسې یوه ریاضي پوه ، هنري پوان کره (١٦) یو وړوکی کتاب په نامه د (ساینس او فرضیه) خپور کړ . دغه تألیف په علمي تفکر کې انقلاب راوست . دپوان کره له وی تیس داوچې هغه عمومي قضیې (١٧) چې ساینس پوهانو ایښې دي ، او چیر ته چې هغه د زیږي د استعمال په باب یوازې تعریفات او یا پټ کنونشنونه او مقاولې نه دي، فرضیې دي ، او هغه په دې غرض طرح شوي دي چې تفکر لور هم پسې قطعي او متشکل کړي ، او بیخپله د تعدیل ، تحقیق ، او تردید تابع دي . دا ټول اوس لکه یو عادي څیز ګرځیدلي دي . دنیوټن لاپه چې «فرضیې تغیرته کوی » (١٨) نن ورځ تشه ښکاریږي . ساینس پوهان ، او په تیره بیا اجتماعي ساینس پوهان، که څه هم تراوسه د پخوانیو وختو په خاطر، دچاخبره ، له قوانینو ته خبرې کوي ، دوی په هغه مفهوم دهغو په وجود قایل نه دي ، لکه څنګه چې ساینس پوهان په اتلسمې او نولسمې پیړۍ کې پرې معتقد وو. اوس دا منل شوي ده چې ساینس پوهان کشفيات کوي او نوی معرفت حاصلوي ، خو دا کار د دقیقو او جامعو قوانینو په تأسیس سره نه کوي

---

١٥. Henry T. Buckle (١٨٢١ - ١٨٦٢) انګلیس مورخ . (م)

١٦. Heni Poincare (١٨٥٤ - ١٩١٢) (م)

١٧. Propositions

١٨. Hypotheses non Fingo.

بلکه دداسې فرضيو په ابتلوسره يې کوي ، چې هغه دنوي تحقيق د پاره لاره پرانيځي . دساينسي ميتودپه باب ، په يوه درسي معياري کتاب کې د وه امريکايي فيلسوفانو دساينسي ميتوده اساساً دايروي، بيان کړي دی .

«موږ تجربي موادوته متوسل کيږ وچې دپرتسيونو دپاره شواهد حاصل کړو تجربي مواد (حقايق) ګټل شوي دي ، او موږ تجربي موادد هغو پرنسيپو له مخې غوره کوو، تحليل کوو؛ او تعبير کوو . » (۱۹)

د «دايروي» په ځای شايد د «ددوه ارخيزه» کلمه غوره او بهتره وای ، ځکه چې نتيجه دانه کيږي ، چې هغه پخوانی ځای ته رجوع وشي ، بلکه د نويو کشفياتو دپاره دور اندې تګ وشي، او دادپرنسيپونو، او حقايقو، او د تيوري او عمل ترمينځ دمقابلې او دوه ارخيزې عمليې له لارې کيږي . تسول تفکرات د ځينو محکمينو فرضيو مثل لازمه کوي چې هغه په مشاهداتو بناوي ، او د غه مشاهدات ممکن کوي ، مګر کيدای شي چې دهمد غه تفکر په رڼا کې په هغه باانظر وشي ، دغه فرضيې ممکن په ځينو قربانيو کې ، او دځينو هدفونو دپاره سمې او داعتبار وړ وي او ممکن په نورو کې نه وي . په نورو حالاتو کې ازمونه تجربي ازمونه ده ، يعنې داچې هغه کولی شي د نويو بصيرتونو دپاره ور پرانيځي ، او زموږ په علم کې زياتي راولي او که نه . دروترفورد (۲۰) ميتودونه دهغه يوه وتلي همکار او شاګرد په دې تاره ونخوتو کې داسې شرح کړل . «ده سخته تلوسه لرله چې يوه شي چې دزوي پديدو څنګه عمل کاوه، په داسې مفهوم سره چې يو څوك غواړي په دې وغږيدلی شي چې په اشپزخانې کې څه کيږي . زه فکر نه کوم چې ده ديوې تشريح دميندلو دپاره له کلاسيکي طريقې څخه کار اخيست داسې چې ځينې اساسي قواعد د تيوري

۱۹- ايس. ار. کوهن او اي. ناجيل، منطق او علمي ميتودته مقدمه (۱۹۳٤) مخ ۵۹۶ .

۲۰- E. Rutherford (۱۸۷۱ - ۰۰۰) انګليسي فزيک پوه . (م)

له مخې تطبیق کړی ، تر هغو چې په دې پوه شي ، چې څه څیز پېښېږي ، دی قانع و . « (۲۱)

داوېنا دمؤرخ له حال سره په مساوي ډول سرخوري داسې مؤرخ چې داساسي قوانینو دمیندلو دپاره یې پلټنه پرې ایښې وي ، او په دې قانع وي : چې معلومه کړي ، څیزونه څنګه عمل کوي .

دهغوفرضیوحال ، کوم چې مؤرخ یې دپلټلو په عملیې کې استعمالوي ، دهغو فرضیو له حال سره چې سائنس پوه یې استعمالوي ، ډېر ورته معلومېږي . دپروتستانتزم (۲۲) اوسرمایه داری داصل دمناسبت ترمینځ دماکس وېبر (۲۳) هغه مشهورتشخیص دمثال په توګه په نظر کې ونیسئ . نن ورځ به هیڅوک دغه مناسبت ته قانون ونه وایي ، که څه هم په اولو وختو کې ، ممکن هغه غسې ګڼل شوی وای . په حقیقت کې ، دایوه فرضیه ده . خودغې فرضیې یې له شك اوتردید څخه دهغوڅېړنو په باب زموټرفهم څه پراخ کړی دی ، که څه هم چې د پلټلو په جریان کې چې هغې تحریك کړی دی ، په خپله تعدیل شوې ده . په همدغې جملې کې دمارکس بیوي وینانه نظرو کړئ : « لاسي ژرنده له فیودالي لارسره جامعه جوړوي ، بخاري ژرنده له صناعتي سرمایه دارسره جامعه جوړوي . » (۲٤)

دعصري اصطلاح له مخې ، دا کوم قانون نه دی ، که څه هم مارکس ممکن همدغسې ادعاورته کړې وای ، مګردایوه نتیجه تاکه فرضیه ده چې دنورې پلټنې اوتازه معرفت په لورلاره پرانیځي . دغسې فرضیې دتفکرحتمي الې ګڼلې کیږي . دعرمتې

---

۲۱. سر چارلز ایلس ، د ترلیقی نخبه کی (کیمبرج ، لیتن فرم ، ۱۹۲۰) ، مخ ۹۱

۲۲. Protestanism

۲۳. Max Weber

۲٤. مارکس - انګلز ، Gesamtausgabe ، ۱ ، ٦/ مخ ۱۹۹ .

دشلمې پېړۍ دلومړنیو کالونو مشهور اقتصادپوه، ورنر سومبارت (۲۵) په داسې یوه
ناارام احساس واعتراف وکړ، کوم چې ده ته هغه وخت پیداشوی ؤ، چې مارکسزم
بې پرې اېښی ؤ. ده ولیکل:

«هغه وخت چې موږ هغه ارام فارمولونه بایلو کوم چې تراوسه د موجودیت
په پېچلې توب کې زموږ لارښوونکي وو، موږ ترهغو چې یوه نوې لاره مومو، او یا
لامبو کول زده کوو، داسې حس کوو، چې ګواکې د حقایقو په بحر کې ډوبیږو.» ۲۶
په دوروتوسره د تاریخ د ویشلو مشاجره، له همدغې نوع څخه ده. په دوروتوسره
د تاریخ ویشل، کوم حقیقت نه دی، بلکه یوه ضروري فرضیه یا د فکر آله ده، او
ترهغو د اعتبار وړ وي، چې زړه تول کوي، او دخپل اعتبار دپاره په تعبیر اتکا کوي.
هغه مورخان، چې په دې خبرې سره وران دي، چې منځنۍ پېړۍ څه وخت شروع
کیږي، په حقیقت کې د ځینو پېښو په تعبیر ونو کې، سره مخالف دي. دا مسئله د حقیقت
کومه مسئله نه ده، خو له بلې خوا بې مفهومه هم نه ده. د تاریخ ویشل په جغرافیایي سیمو سره
هم په همغې اندازې حقیقت نه دی، بلکه یوه فرضیه ده. د اروپایي تاریخ اصطلاح،
ممکن په ځینو قرینو کې د اعتبار وړ او مفیده وي، په ځینو نورو کې، ممکن تېرایستونکی
او خطاوي. ډېر مورخان، روسیه د اروپا یوه برخه ګڼي؛ نور بیا په کلکه ردوي.
د مورخ تعصب د همغې فرضیې، له مخې معلوم کېدلی؛ او پرې قضاوت کېدلی شي، چې
دی یې غوره کوي، او تطبیق کوي. د اجتماعي مطالعاتو تصنیفونو په باب: زه دلته
یوه عمومي فترا او مرور انقلوم، ځکه چې دا د هغه ستر اجتماعي عالم قتواده چې
په خپله د یوه طبیعي ساینس پوه په حیث روزل شوی ؤ. جارج سورل، د هغه ترڅنګ
چې په علوینت کلنی کې، د جامعې په باب، په لیکلو پیل وکړ، د یوه انجنیر په

۲۵. Werner Sombart

۲۶. ورنر سومبارت، د سرمایه‌داري د اصل جوهر، (انګلیسي ترجمه، ۱۹۱۰) مخ ۳۵٤

بحیث کار کاوه. ده په دغه ضرورت ټینګار کاوه چې په یوه خاص موقعیت کې،خاص عناصر ګوښه کړي، که څه هم دا عمل له حده زیات،د ساده کولو خطر ولري. ده لیکي:

«یو څوك باید ځپلې لارې په حس کولو سره د مخه ولاړ شي، یو څوك باید احتمالی او نیمګړي فرضيې وازمويي، او په موقتی تخمینونو قانع اوسي داسې چې د متصاعد سمون دپاره ورته لار خلاصه پریږدی.» ۲۸ دغه فکر، د نوسمې پیړۍ له فکر سره هیرتونږدې لاره. په هغه وخت کې، ساینس پوهان، او مورخان لکه اکټن دغسې ورځې ته سترګې په لاره وو، چې د مشهود شویو حقایقو په تراولو سره، د علم یو جامع هیئت تأسیس کړی، داسې چې هغه به ټول جنجالی مسئلې یو وار د تل دپاره حل کړي، خو په دې وختو کې، ساینس پوهان او مورخان دواړه ترهغه ډېره معتدله هیله په خیال کې ساتي، او غواړي له یوې جزیي او ناقصې فرضيې څخه وپلی ته، په متصاعد ډول د مخه ولاړ شي او حقایق د هغو په تعبیر لو سره ګوښه کړي، هغه لارې او میتودونه چې دوی یې د دغې عمل دپاره غوره کوي، ما ته اساساً مختلف نه ښکاري. په لومړی لیکچر کې، ما د پروفیسر بیره کلف دا تبصره اقتباس کړې وه، چې تاریخ «صحیح حقیقتونه، بلکه د منل شویو قضاوتو نو یو لړ دی». کله چې ما دغه لیکچرونه برابرول، د دغه پوهنتون [کیمبرج] یوه فزیك پوه د بي. بي. سي. په یوې خپرونې کې د علمي حقیقت ۲۹ تعریف داسې وکړ، چې هغه یو بیان دی چې د متخصصانو له خوا د عموم په محضر کې منل شوی وی.» ۳۰ دا داوړه فارمولونه پوره قانع کوونکي نه دي، او زه به هغه وخت خپل دلایل راوړم، کوم وخت چې دا فاقیت په مسئله بحث کوم. خو مهمه دا ده چې ولیدل شي یوه مورخ او یوه فزیك پوه له یوه بل نه جلا عین مسئله تقریباً په عین کلماتو کې ترقاعلوی لاندې راوسته.

۲۸. جي. سورل، Materiaux d,une theorie du proletariat (۱۹۱۹) ، مخ ۷.

۲۹. Scientific truth

۳۰. ډاکټر جي. زیاد، د لسنر په مجله کې، اګست ۱۸، ۱۹۶۰.

سره لە دې هم مشابهتونه، او قیاسونه دبې احتیاطۍ دپاره ددام، او تللك په څیر وي؛ او زه غوارم په همدې دلایلو په ډېره درناوی سره چ و کړم، چې وایې که څه هم ریاضي او طبیعي ساینسونو، او یا دهمدغو کته ګوري ودنه دمختلفو ساینسونو ترمنځ اختلافات قوي دي، دهمدغو ساینسونو او تاریخ ترمنځ یو اساسي فرق کېنل کېدلی شي؛ او دا فرق ...ی تېرباسي چې که تاریخ یا همدا راز نور تش په نامه اجتماعي علوم — دساینس په نامه یادکړل شي. دغه اعتراضات چې څه یې تر نورو ډېر مقنع دي، په لنډ ډول دادي:

۱ـ تاریخ یوازې له خاص او بېځوړي، او ساینس له عمومي څخه بحث کوي.

۲ـ له تاریخ څخه درس نه، او عبرتونه نه اخیستل کېږي.

۳ـ تاریخ پېش ګوېي کولی نه شي.

٤ـ تاریخ لزوماً عندي وي، په دې چې انسان خپل ځان مشاهده کوي.

۵ـ تاریخ، دساینس په خلاف، ددین او اخلاق مسایل احتوا کوي. زه به زیار وکاږم، چې هراعتراض بېل بېل تر بحث لاندې ونیسم.

لومړی داچې ویل کېږي، تاریخ له بېځوړي او خاص، او ساینس له عمومي او عالي څخه بحث کوي. شاید دا نظر له ارسطو څخه شروع شوی وي. ارسطو په دې فکر و، چې شعریات تر تاریخ نه ډېر فلسفي، او ډېر جدي دي؛ په دې چې شعریات له عمومي حقیقت او تاریخ له خصوصي حقیقت څخه بحث کوي. ۳۱ دکالنګ وود په شمول، ډېر شمېر نور روستي لیکوالان، دساینس او تاریخ ترمنځ، په همدغه فرق قایل دي. بېکاري چې دا تمیز د یوې غلط فهمۍ په نسج کښې نغښتی وي، دهابز ۳۲ مهمه مقوله تر اوسه هم د اعتبار وړ ده؛ په نړۍ کې هیڅ څیز غیر له نومونو

۳۱ شعریات؛ نهم فصل.

۳۲، Thomas Hobbes (۱۵۸۸ ـ ۱۶۷۹) انګلیسي فیلسوف. (م)

څخه عالمي نه دي، په دې چې هغه څيزونه چې نومول شوي دي، هر يو يې انفرادي، او واحد دي. و ۳۳ دغه حکم يقيناً چې د طبيعي ساينسونو په باب سم دی. دوه جيولوجيکي تشکلات، له يوه نوع څخه دوه حيوانات، او دوه اتمونه له يوه بل سره هيڅ مطابقت نه کوي همداراز دوه تاريخي پېښې هم هيڅ سره يو نه وي. خو د تاريخي پېښو په بې جوړتوب باندې ټينګار کول هغسې فلج کوونکی تاثير لري، لکه هغه عادي او مبتذله وينا چې مور ۳٤ له اسقف بټلر ۳۵ څخه چې وروستي يې وخت د ژبپوهانو ډېر ته ايسېده: اخيستې وه: «هر څيز هغه څيز دی، کوم چې دی، او بل څيز نه دی.» په دې لاره روانيدل سړی د بودا د فلسفې نيروانا ۳٦ ته رسوي، چې هلته د هيڅ څيز په باب مهم او جدي شی، هيڅ نه شي ويل کېدلی.

د ژبې استعمال، مورخ د ساينس پوه په شان، کلياتو ته مجبور کوي. د پيلوپونيزي جنګ او دوهم جهاني جنګ سره بېل وو، او دواړه بې جوړي وو. خو مورخ دواړه د جنګ په کلمه يادوي، او يوازې فضل فروش به په دې اعتراض وکړي. هغه وخت چې ګيبون د اسلام ظهور، او د کانستانټين ۳۷ له خوا د عيسويت تاسيس د انقلابونو ۳۸ په نامه يادکړل، ده د دوه بې جوړو او خاصو پېښو په باب تعميم کاوه. اوسني مورخان هم کله چې له انګليسي، روسي، فرانسوي، او چيني انقلابونو څخه غږيږي، عين شی کوي. مورخ په حقيقت کې له بې جوړي سره سر و کار نه لري، بلکه له هغه عمومي او کلي سره علاقمن دی، چې په بې جوړي کې وي.

---

۳۳. ايرای تن، ۱۷ مخ.

۳٤. T. Moore (۱۷۷۹ - ۱۸۵۲) ايرلېنډی شاعر. (م)

۳۵. J Butler (۱۶۹۲ - ۱۷۵۲) انګليس ديني عالم. (م)

۳٦. Niravana په معنی د روح کې جذبېدل او فناکېدل. (م)

۳۷. Constantine (۲۷۲ - ۳۳۷) د روم امپراطور (م)

۳۸. د روم د امپراطورۍ انحطاط او سقوط، لومړی ټوک، مخ.

د ۱۹۲۰ څخه تر ۱۹۳۰ پورې په لسو کالونو کې د ۱۹۱٤ جنګ د علتونو په باب د مورخانو بحثونه عموماً د دغې فرضيې په اساس کېدل، چې جنګ د ډيپلوماتانو د بدې ادارې په وجه و، چې دوی به په پټه کار کاوه، او عامه ذهنيت نه شو کولی هغوی کنټرول کړي، او يا په سيمه ييزو واکمنو د نو پاتلي د نړۍ د اشغال وېش له امله و. د ۱۹۳۰ څخه تر ۱۹٤۰ پورې په لسو کالونو کې، دا بحثونه په دې فرضيې روان وو، چې د جنګ علت هغه رقابتونه وو، چې د امپرياليستي قوتونو ترمينځ موجود وو، او دا قوتونه د مخ په کمزورۍ سرمايه دارۍ تر فشار لاندې وو چې غوښتل يې نړۍ په خپلو مينځو کې سره ووېشي. دغو بحثونو د جنګ د علتونو او يا په هر حال، هغه ملي پېښې په حالاتو کې د جنګ په باب له کليې او تعميم سره سر و کار لاره. مورخ ته دا دياره چې خپل شواهد وازه وويني، پر له پسې کليه استعمالوي. که په دې باب چې ريچرډ[۳۹] په برج کې شهزادګان وو وژل، شواهد واضح نه وي، مورخ به له ځان نه وپوښتي، او دا پوښتنه ممکن له شعوري او يا غير شعوري وي، چې آيا دا د وخت دا امرانو عادت وو چې د تخت مهم رقيبان ورک کړي، او که څنګه. او د ده حکم به حقاً چې د هغې کليې تر اثر لاندې وي. د تاريخ لوستونکي او ليکونکي هم دايمي تعميم کوونکي دي، او د مورخ مشاهده به په نورو تاريخي قرينو پانڼې، له کوم سره چې دی آشنا دی، او يا ممکن دده تحضر وي، تطبيق کوي. څه وخت، چې زه د فرانسې انقلاب په نامه د کارلايل تاليف لولم دده تبصرې په دوار واز تعميموم، او په خپلې خاصې کې يې په روسي انقلاب کې تطبيق کوم. د ترور په متعلق يې دغه تبصره وا ورئ:

« په هغو ملکونو کې چې مساوي عدالت يې ليدلی وي، وحشتناک دی. نه دومره په هغو ملکونو کې غير طبيعي دی، چې يې هيڅ ليدلی نه وي. »

يا ترجمه ليا مهمه دا:

---

۳۹. Richard د انګلستان پاچا (م)

« د ناسنه ځای دی ، که څه هم دیر طبیعی دی . چې د دغه عصر تاریخ عموماً
د هیجان او عصبانیت په روحیه سره لیکلی شوی دی . مبالغه ، کرکه او پانګو لار اقره دی ،
او په عمومی دول ترګسی حد نه لری . » ۴۰

نا ده یو « بله تبصره ، مګر داخل په شپارسمې پیړی کې د عصری دولت دودی
په باب ، د برکهارت له خوا :

« هغه مره چې بی قدرت وروسته هسک شوی وی . هغو مره ژر په ځای سا کنې
پاتې کیدلی شی . لومړی په دی چې هغو چې دغه قدرت خلق کری وی ، له نورو
چټکیو سر کتو نو سره یې اموخت تیر لی وی . اوبله دا چې دوی په خپله بد عت
راوړونکی دی ، او غواړی هغه غسی پاتې شی ، نو هم په دی سبب چې هغه قوتونه چې
د دوی په واسطه یا هسک شوی دی ، او بار بیښل شوی دی ، یوازې به په زور و شدیدو
اصلو سره استخدام کړل شی . » ۴۱

دا بې مفهومه ده ، چې وویل شی تعمیم په تاریخ کې ناشادی . تاریخ په تعمیما تو
وده کوی . لکه چې ښاغلی ایلتن ۴۲ د کیمبرج معاصر تاریخ په یوه نوی جلد کې
لیکی : « هغه څه چې مورخ د تاریخی حقایقو له ټولوونکی نه بیلوی : هغه تعمیم دی . » (۴۳)
ښایې نه زیاته کړی وای ، چې همدغه څه طبیعی ساینس پوه ، د طبیعی انواعو
له ټولوونکی نه ، او یا د طبیعی حیواناتو له ساتونکی څخه هم بیلوی . خو داسی ونه
ګڼئ چې تعمیم ګوا کې ، موږ ته اجازه را کوی ، چې د تاریخ دباره داسی یوه
پراخه طرح جوړه کړو ، چې خاصی او بیجوری پیښې به له هغې سره ارومرو توافق
کوی . او څنګه چې مارکس یو له هغو کسانو څخه دی چې زیاتره د دغې طرح په

۴۰ . د فرانسی د انقلاب تاریخ ، I ، ۷ ، فصل ۹ ، III ، ۴ ، فصل I .

۴۱ . جی . بر کهارت : په تاریخ او مورخانو قضاوتونه ، (۱۹۵۹) ، مخ ۳۴ .

۴۲ . G. R. Elton معاصر انګلیس مورخ (م)

۴۳ . د کیمبرج معاصر تاریخ ، ii ، (۱۹۵۸) ، مخ ۲۰

جوړولو یا په هغې دعقیدې په اړلوسره تومنې شوې دی ، غواړم دلته دلوله په غرض دهغه دیوه لیک نه یوه فقره اقتباس کړم په کومې کې چې دی دا موضوع په خپل اصلي ځای کې ګوري .

« هغه پېښې چې په حیرتناک ډول سره ورته وی ، مګرپه یوه مختلف تاریخي محیط کې واقع کیږي ، کاملاً غیرمشابه نتایج راوړي . دهغو تکاملا تو ، تجزیه په بیلې بیلې مطالعې ، اوبیا دهغوپه پرتله کولوسره ، دا اسانه کیږي چې دهغې پدیدې د فهم کلي پیدا شي . خو داقطعاً امکان نه لري چې دغه فهم د ځینې مشکل کشاء تاریخي ـ فلسفي تیوري په تطبیق سره حاصل شي کومه چې دهغې ستره ښیګڼه داده چې له تاریخ څخه دپاندې مقام ولري . » ٤٤

تاریخ د بېجوړې ، اوعمومي ترمینځ له مناسباتوسره سروکار لري . تاسې د یوه مورخ په حیث ، خوسره چې داته شي کولی ، چې حقایق له تعبیرڅخه بیل کړی داسې هم دا نه شي کولی چې خاص او عمومي سره جلا کړی ؛ او یایوتربل دمخه وګڼی .

زما په فکر اوس ددې وخت راغلی دی ، چې د تاریخ او سوسیولوجی ترمینځ د مناسباتو په حقله یو څه ووایم . سوسیولوجی ، اوس په د وو مقابلو خطرو نو اخته ده ـ له حده زیات د نظري کیدلو خطر او له حده زیات د تجربي کیدلو خطر . لومړنی په عمومي ډول ، د جامعې په باب ، په مجردو او بې مفهومو تعمیماتو کې د ځان

٤٤. مارکس او انګلز ، اثار د (روسي چاپ ) ۷۸ ، مخ ۲۷۸ ، هغه لیک چې له هغه نه دا فقره نقل شوېده ، په ۱۸۷۷ کې په Otechestvennye Zapiski روسي مجلې کې راغلی ده ، داسې ښکاري چې پوپر لومړی « هغه وینا چې هغه د (هستوریسزم Historicism مرکزې غلطي ، بولي ، مارکس ته منسوبوي . دا هغه عقیده ده چې وایي تاریخي تمایلات ، یا هلا قوانین ، کشف شي چې پوهاوی له تاریخ سره د لاسه وراستل شي » ( د هستوریسزم غریبي ، ۱۹۵۷ ، مخ ۱۲۸ـ۱۲۹ )

نور کول خطر دی، رغومره چې تاریخ په عتبې (ث) سره غلط دی، هغومره جامعه په ضب (ج) سره غلطه ده. دا خطر هغو کسانو لا نژدې کړی دی چې غواړي سوسیولوجي ته دا وظیفه وسپاري چې له هغو خاصو او بېجوړو پېښو نه چې تاریخ ثبتې کړي دي د تعمیم خاصه وظیفه اجرا کړي. حتی داسې نظریه هم وړاندې شوې ده چې وايي سوسیولوجي له تاریخ څخه د «قوانینو» ۴۵ د لرلو په وجه بېل دی. هغه بل خطر، کارل منهایم ۴۶ ذکر کړی دی. ده دا خطر نژدې سل کاله پروېي ذکر کړی دی، او اوس هم تر زیاته حده تطبیق کېږي او هغه دا چې سوسیولوجي د اجتماعي پیاتوافق په بولو تخنیکي مسئلو ویشل شوې دی. ۴۷ سوسیولوجي له هغو تاریخي جامعو ته بحث کوي چې هره یوه یې بېجوړې ده او د خاصو تاریخي روميو پېښو او شرایطو له خوا جوړه شوې ده. خو که کوښښ وشي چې له تعمیم کولو او توجیه کولو نه ډډه وشي، او ځان یوازې د شمېرلو، او تحلیل کولو تش په نامه د تخنیکي مسئلو ته محدود کړل شي، انسان به یوازې د یوې دربدلې جامعې یو غیر شعوري مدافع ګرزېدلی وي. که داوې چې سوسیولوجي د مطالعې یو ګټور ډګر کېږي، باید د تاریخ په شان، د خاص او عمومي له متناسباتو سره سرو کار ولري. داسې هم حتمي ده چې فعال او وینا ښکاره شي یعنې د دربدلې جامعې ( ځکه چې داسې جامعه

۴۵. داسې ښکاري چې دا د پروفیسر پاپر نظریه، (غلاصه جلسه، دریم چاپ، ۱۹۵۷ ، ۲ ټوک مخ ۳۲۲) له په مخ خه دي د سوسیولوجي د قانون مثال راوړي: «د چېرته چې د فکر ازادي، او د افکارو د مبادلې ازادي، په حقوقي موسسو او هغو موسسو په موثره توګه تامین کېږي چې د مباحثې د خپرېدلو تضمین کوي، هلته به علمي ترقي وي.» د ایکسه په ۱۹۴۲ : یا ۱۹۴۲ کې شوې ده او ښکاره ده چې د لیکوال محرک یې هغه نظر وچې وايي غربي دموکراسي به د خپلو موسساتي ترتیباتو په برکت سره، علمي ترقي په سر کې واقع وي. دا نظر وروسته د هغو ترقیاتو په وجه چې په شوروي اتحاد کې واقع شوې دي، یا رد شوی یا ډېر مقید شوی دی. دا نظر حتی د اعتبار وړ تعمیم هم نه دی، د «قانون» خبره خو نه ده.

۴۶. Karl Mannheim

۴۷. ک. منهایم، ایډیالوجي او یوتوپیا، (انګلیسي ترجمه، ۱۹۳۶) مخ ۲۲۸.

هیڅ وجود نه لري) مطالعه نه وي، بلکه د اجتماعي تحول او انکشاف مطالعه وګڼو ځي. نور تو غواړم د ومره و وایم چې څومره چې تاریخ نور هم سوسیولوجي کیږي، او یا څومره چې سوسیولوجي نور هم تاریخي ګرځي، د دواړو دپاره به ښه ده. پریږدئ چې د دواړو تر مینځ د سرحلو ته د دوه اړخیز ترافیک دپاره خلاص او پراخ وي.

د تعمیم بله مسئله د زمانه بلې پوښتنې سره نژدې ارتباط لري. د تعمیم په باب ریښتینې ټکی دادی، چې مونږ په هغه سره زیار باسو له تاریخ څخه زده کول و کړو او له یوې لړ پېښو څخه احصل شوي درس او عبرت په یوه لړ نورو پېښو تطبیق کړو. هغه وخت چې مونږ تعمیم کوو، مونږ په شعوري یا غیر شعوري ډول سره زیار باسو چې همدغه عمل اجرا کړو. هغه کسان، چې تعمیم ردوي او په دې ټینګار کوي، چې تاریخ یوازې له خاص او بیجوړي څخه بحث کوي منطقاً هغه کسان دي، چې وایي، له تاریخ له هیڅ شی نه زده کیږي. خو دا چې وایي انسانان له تاریخ څخه هیڅ شی نه زده کوي؛ په ډیرو قابل مشاهده حقایقو سره نقض کیږي. بله هیڅ تجربه به تر دې دومره عمومي نه وي. په ۱۹۱۹ کې زه د پاریس د سولې په کنفرانس کې د برتانیا د هیئت د یوه کمکي غړي په حیث شامل وم. د هیئت هر غړي په دې عقیده وو، چې مونږ د ویانا له کانګرس نه چې سل کاله رومبی دارو پاو روستي د برسټر کانګرس و، یو څه زده کولی شو. یو کپتان وبسټر[48] نومي شخص، چې هغه وخت د وزارت مامور و؛ او اوس سرچارلز وبسټر او یو مشهور مورخ دی، په یوې مقالې کې مونږ ته د تاریخ درسونه وښودل، دوه یې لا تراوسه زما په یاد کې پاتې دي. یو یې دادی چې کله چې دارو پا نقشه بیا کښله کیږي؛ د حق ارادیت د اصل هیرول، خطرناک دی. بل یې دا و چې په باطله دانې کې د پټو سندونو

اجول خطرناك دى. لكه چې دعفو سحو يات به د كوم بل حيثيت پټ سرو يس حتماً په پيه واخلي. د تاريخ دغه د وسو نه، مو نږ ته لكه انجيل شو ل او زمو نږ په كرو بې سخت اثر در لود. د امثال تازه او جز ئي دى. خوشكله نه ده، چې په نسبتاً لېرى تاريخ كې د دلياليو ي تاريخ د دوسو نو تاثير و نيو دل شي. هر څو لكه په روم باندې د لرغونې يونان له تاثير نه خبرلرى. خو زه به د ې باور نه لرم، چې كه كوم مورخ زيار ايستلى وى، چې د دغو د رسو نو بې دقيق تحليل و كړى؛ كوم چې رومیانو د لرغونې يونان له تاريخ څخه زده كړى وى؛ بايه دې عقيده وى، چې دوى څه زده كړى دى. د دغو دوسو تو او عبر تو نو معاينه كول، مسكن ده نتايج و لرى، چې په لويديځى اروپا كې په اوو لسم، اتلسم، او نو لسمې پيړى كې د اره انجيل له تاريخ څخه اخيستل شوى دى. له دې نه په پرته په بل د ول د انګلستان د پوريتان انقلاب٭ پوره واضح نه شي، او د غو ره كسانو مفهوم د عصرى نيشلزم په ځلېدو كې يو مهم عامل دى. د لرغونې تربيې مهم، په نو لسمه پيړى كې، د ستري برتانيا په حاكمې طبقې د بسر واضح و. گروني، چې د كريې رومې شوى دى، اتن ته يې د نوى د مو كراسى ديوه مثال په حيث اشاره كړې وه. او زه هيله كوم چې د پراخو او مهمو عبر تو نو څېړې مطالعه و گورم، چې و خپې د روم د امپراتورى تاريخ، د برتانيايى امپراتورۍ جوړو و نكو ته د رسو نه جوړ دلي دى. زما په خاصې ساحې كې، د فرانسې د انقلاب د ۱۸٤۸ انقلابو نسو، او د ۱۸۷۱ د پاريس د كميون د رسو نسو د روسيې په انقلاب جوړو و نكو سخت اثر كړى وو، او حتى سرى و بلى شي، چې د دغو ذهنو نه يې اشغال كړى وو. خو زه به د غه قيد را ياد كړم چې د تاريخ د وه اړخيز خصوصيت تحميل

٭ د Puritan Revolution انګلستان د پروتستانانو د ګروه د غو فرد تهمت چې د دوى په فكر د كليسا د غه اصلاحات چې د ملكې اليزابتې تر نشر تا په لا نه شوى وو، تېر ګړى دى او ايله په ښكاره شخصى د سوم ګرد شره نه وي (م).

کړی دی . له تاریخ څخه درس او عبرت اخیستل هیڅکله ساده او بوار خیزه عمل نه دی. د ماضي په رڼا کې د حاضر په باب زده کړه کول، د دې معنی اري چې د حاضر په رڼا کې د ماضي په باب هم زده کړه کیږي. د تاریخ وظیفه داده چې د ماضي او حاضر په باب عمیق فهم د هغوی د یو تر بله مناسباتو له لارې توسعه او ډیر کړي .

زما دریم ټکی : په تاریخ کې : د پیشګویي رول دی . ویل کیږي چې له تاریخ نه ، هیڅ درس نه اخیستل کیږي په دې چې تاریخ ، د ساینس په خلاف ، د اینده په باب پیشګویي کولی نه شي . دا مسئله د غلط فهمي په نسج کې تغښتې ده ، لکه چې موږ ولیدل، ساینس پوهان، نور نو هغومره تلوسه نه لري، چې د طبیعت د قوانینو په باب وغږیږي ، لکه څومره چې د مخه پرې ګړېدل . د ساینسونو هغه تش د قامه قوانین چې زموږ عادي ژوند متأثر کوي ، په حقیقت کښې د تمایلاتو بیانونه دي - داسې بیانونه چې وایي که ټول شیان په مساوي حال ، یا لابراتواري شرایطو کې وي ، څه شیان به پېښ شي - دوی د دغې پیشګویي ادعا نه کوي ،چې په مشخصو او خاصو حالاتو کې ، به څه پېښ شي . د جاذبې قانون دا نه ثابتوي چې هغه خاصه مڼه به مځکې ته ولوېږي . یو څوک بې ممکن په هوا کې په توکري کې و نیسي ، د نور قانون چې وایي ورانګه په سمه لیکه حرکت کوي ، دا نه ثابتوي چې د نورو یوه خاصه ورانګه به کږه نه شي او یا کوم د خالت کوونکي عامل به یې تیته نه کړي . خو دا د دې معنی نه ورکوي ، چې دغه قوانین بې ارزښته دي ؛ او یا د پرنسیپ له مخې د اعتبار وړ نه دي. موږ ته ویل کیږي چې عصري فزیکي تیوري د پېښو له احتمالاتو څخه چې واقع کیږي ، بحث کوي. ساینس، نن ورځ ترپخوا له زیات هغه ته اړتیا لري چې هېر نه کړي چې استقرا د منطق له مخې یوازې احتمالاتو یا معقولې عقیدې ته منتهي کیږي ، او هڅه کوي چې خپل احکام یا د عمومي قاعدو یا لارښوونو په حیث وګڼي چې صحت یې یوازې په یوه خاص عمل کې ازمویل کېدلی شي . لکه څنګه چې

کانت۴۹ وایي «د ساینس (وظیفه) پیشګویي ، او د پیشګویي (وظیفه) عمل دی.»۵۰ په تاریخ کې د پیشګویي د مسئلې په باب کلي په دغه فرق کې ده چې د عمومي او خاص ، او د عالي او بېجوړي ترمنځ موجوده وي. لکه څنګه چې مو ولیدل ، مورخ مجبور دی چې تعمیم وکړي ، او د تعمیم په کولو سره ، د اینده عمل د پاره عمومي لارښوونې تهیه کړي ، ـ داسې لارښوونې ـ چې که څه هم خاصې پیشګوئي ګانې نه دي ـ هم سمې او هم ګټورې دي . خو دی نه شي کولی د خاصو پېښو پیشګویي وکړي ، په دې چې خاصه پېښه بېجوړې ده ، او د تصادف عنصر پکې دخالت کوي . دغه تمیز چې فیلسوف زوروي ، یوه عادي شخص ته پوره واضح دی . که په یوې ښوونځي کې دوه یا درې واړه شري ونیسي ، داسې د هغې نتیجې ته رسېږي ، چې دغه رنځ به خپور شي. دغه پیشګویي ، که بېله د دغه نامه یاده کړو ، له پخوانیو تجاربو څخه په تعمیم بنا ده ، او د عمل د پاره سم او ګټور لارښوونکی دی . خو داسې دغه خاصه پیشګویي کولی نه شي : چې (چارلز) یا (میري) به شري ونیسي. مورخ هم په همدغه ترتیب تمځه کې . خلق له مورخ څخه دا هیله نه کوي چې پیشګویي وکړي ، چې په بله میاشت به په رو ریتانیا۵۱ کې انقلاب وشي. هغه قسم استنتاج چې دوی به یې د کولو خیال ولري ، څه به یې د رو ریتانیا د واقعاتو په خاصې پوهې ، او څه به یې د تاریخ په مطالعې بنا وي ، او دا استنتاج دا دی چې په رو ریتانیا کې شرایط داسې دي ؛ چې ممکن په نږدې اینده کې هلته انقلاب را ولي ، په دې شرط چې که څوک یې شروع کړي ؛ او یا ممکن د حکومت له خوا یو څوک څه وکړي ؛ او د یېنیدلو مخه یې ونیسي ، دا استنتاج ممکن له تخمیناتو سره ملګری وي ، تخمینات به څه د نورو انقلابیونو

۴۹. A. Comte (۱۷۹۸ - ۱۸۵۷) فرانسوی فیلسوف (م)

۵۰. Course de philosophic positive ، ټوک ۱، مخ ۵۱، اصلي عبارت په فرانسوي ژبه داسې دی : (Science, d' ou prevoyance; Prevoyance, d' ou action).

۵۱. Ruritania . د یوه خیالي مملکت نوم (م)

په قیاس، او په هغې روښې بناوې چې دوه ګروه مختلفې دلې به یې د انقلاب په باب غوره کوي، دا پیشګویي، چې کمزوري په دغه نامه یې یاده کړو، یوازې د بېجوړو او خاصو پېښو د واقع کېدلو په صورت کې، چې د هغو پیشګویي کېدلی نه شي، تحقق موندلی شي. خو دا هغه معنی نه ورکوي، چې هغه نتایج، چې د آینده په باب له تاریخ څخه اخیستل کېږي، بې ارزښته دي؛ یا دا چې هغه مشروط اعتبار نه لري؛ کوم چې د عمل د پاره د یوه لارښوونکي په حیث، او په دې باب چې وقایع څنګه پېښیږي؛ رموز د معرفت د پاره د یوې کلي په حیث کار کوي. زه نه غواړم دا نظر وړاندې کړم چې د اجتماعي عالم، او یا مورخ نتایج په دقیق توب کې د فزیکي عالم له نتایجو سره د جوړه کېدلی شي، او یا دا چې د هغو له دقیق توب د اجتماعي علومو ډېر ته پاتې توب په وجه دي. انسان تر هر هغه څه نه چې موږ ته معلوم دي، د هر نظر له مخې زیات پېچلی طبیعي واحد دی. د هغه د کړنو او سلوک مطالعه ممکن په داسې مشکلو تو اړوي، چې په نوعیت کې له هغو څخه بېل دي، چې فزیکي ساینس پوه ورسره مخامخ کېږي. یوازې هغه څه چې غواړم تثبیت یې کړم، دا دي چې د دوی غایې او طریقې اساساً یو له بل سره ورته دي.

زما غلورم ټکی، چې غواړم د لته یې ذکر کړم، تر لوړ او ډېر مقنع بحث دی او د اجتماعي علومو، د تاریخ او په شمول او فزیکي علومو ترمینځ، د یا ؤن د کرښې کښل دی. دا هغه بحث دی، چې په اجتماعي علومو کې، فاعل او موضوع دواړه له یوې نوع څخه دي، او یو په بل باندې متقابل اثر او عمل کوي. انسانان په طبیعي واحدونو کې نه یوازې تر ټولو ډېر پېچلی او متحول متر نکی دي؛ بلکه دوی باید د نورو انسانانو له خوا څخه مطالعه شي؛ نه د اورو د انواعو د مستقلو مشاهد ینو له خوا. دلته انسان: د حیاتي ساینس پوه په خلاف، تو رتو په دې قانع نه دی چې یوازې خپل طبیعي جوړښت او عکس العملونه مطالعه کړي. سوسیولوجي پوه، اقتصاد پوه، او یا مورخ دې ته اړ دی،

چې د انساني کړو وړو په دغې شکلو نوکې تو ځې جبر ته چې د هغه اراده فعاله ده، او دا معلومه کړ ی چې انسانان چې دده د مطالعې موضوع ده، ولې ددغې عمل د کولو د پاره اراده کوي؛ لکه څنګه چې یې کوي. د مشاهد او هغه چا ترمینځ چې تر مشاهدې لاندې نیول کیږي، دغې پوښتیت تابیې کوي؛ چې یوازې تاریخ او اجتماعي علوموته خاص دی. د مورخ د نظر ټکی په قاطع ډول، په هرې هغې مشاهدې کې ننوځي کوم چې دی یې کوي. تاریخ تول، په نسبت سره کېبل کیږي، کارل منهایم وایي چې: «حتی هغه که ګوری ګانې، په کومو کې چې تجارب تول شوي؛ منظم شوي، او په یوه خاص صنف کې اچول شوي دي؛ د مشاهد د اجتماعي موقف په قرار تغییر کوي.»۵۲ خو دا یوازې سمه نه ده چې د اجتماعي ساینس پوه تعصب لزوماً د هغه په ټولو مشاهداتو کې دخالت کوي، دا هم سمه ده، چې د مشاهدې عملیه هغه څه چې تر مشاهدې لاندې نیول کیږي، متاثر او تعدیل کوي، او دا په دوو مخالفو طریقو سره واقع کیدای شي. هغه انسانان د کومو چې سلوکت تر مطالعې لاندې نیول کیږي، او پیشګویي یې په باب کیږي، ممکن پخوا تر پخوا، د هغو د عواقبو په پیشګویي سره خبر شي، چې د هغو په نسبه نه ایسي. تو دوی به په دې راضي شي، چې خپل عمل تعدیل کړي. په دې حال کې به، پیشګویي، که څه هم چې د تحلیل په سم اساس بناوی نتیجه ورنه کړي، یو دلیل، چې ولې په هغو خلقو کې چې تاریخي شعوریې قوي دی، تاریخ یوازې کله کله ځان تکرار کوي دا دی چې دوامي شخصیتونه په دوهم نمایش کې، د لومړی نمایش له نتیجې نه خبروي؛ او دا خبر تیا ددوی عمل متاثر کوي ۵۳.

---

۵۲. ک. منهایم، ایډیالوجي او یو ټوپیا (۱۹۳۶) ، مخ ۱۳۰

۵۳. دا بحث د مولف په تالیف «د بولشویک انقلاب ، ۱۹۱۷ - ۱۹۲۳» I (۱۹۵۰) ، مخ ۴۲ کې پسې اوږد شوی دی.

بولشویکان په دې پوه وو چې د فرانسې انقلاب په نا پلیون واوښت. دوی ویریدل، چې ممکن ددوی انقلاب هم په همدغسې یو کس ختم شي. تو دوی په تراتسکي بې اعتباره وو، په دې چې دی دغوی په منځ کې تر ټولو زیات یو ناپلیون ته ورته معلومیده. دوی په ستالین اعتبار و کړ، ځکه چې هغه تر ټولو لږ یو ناپلیون ته مشابه و. خو دغه عمل ممکن په معکوس سمت هم روان شي. اقتصاد پوه، د راتلونکي اقتصادي ښکاره انکشاف ۵۴ یا نا څاپه تنزل ۵۵ پیشگویي کوي، او دا پیشگویي د موجودو اقتصادي حالاتو په علمي تحلیل سره کوي. که دده صلاحیت ډیر او دلیل یې قوي وي، ممکن ددغې حادثې په پیشگویي سره ځلمت و کړي. د سیاست عالم، یعنې هغه څوک چې د تاریخي مشاهدو په قوت سره داعقیده پیاوړې کوي، چې د مطلقیت ۵۶ عمر لنډوي، ممکن د مطلق العنان په چپه ګیډلو کې کومک وکړي؛ هر څوک د انتخاباتي مبارزو په دوران کې د کاندیدانو په سلوک پوه وي. دوی د خپل دبري پیشگویي کوي، او په دې کې یې ارادي مقصد دا وي چې د پیشگویي احتمال لا هم پسې ډیر کړي. یو څوک په دې فکر کیږي، چې اقتصاد پوهان، سیاست پوهان، او مورخان، چې کله په پیشگویي پیل کوي، کله کله غیر شعوري هیله تحریک کوي، چې د پیشگویي تحقق چټک کړي. ددغو پیچلو ارتباطاتو په باب، هغه څه چې ممکن په مصون ډول وویل شي دا دی چې د مشاهداو هغه څه ترمینځ چې تر مشاهدې لاندې نیول کیږي، د اجتماعي عالم او دهغه د معروضاتو ۵۷ ترمینځ، او د مورخ او دهغه د حقایقو ترمینځ، متقابل عمل پر له پسې دی، او په مداوم ډول تغییر کوي، ښکاري چې دغه خصوصیت د تاریخ او اجتماعي

---

۵۴. Boom

۵۵. Slump

۵۶. Despotism

۵۷. data

علوموبوه بیلوونکې ثبه وی : بنایی دلته دغه یادونه وکړم چې په دغو ووستیو کالونوکې، دفزیک څینې پوهان دځینو علمي پرمختیاو په باب داسې غږېدلي دي، اوچې څکاري دوی دطبیعي کاېناتو، اودمورخ دجهان ترمنځ دلیازیات مشابهت نظرورانده کوی. لومړی داچې وبل کیږی ددوی نتایج دشك بانامعین توب ۵۸ په اصل کې نغښتی دي، په بل ایکچر کې به زه په تاریخ کې دتش په نامه جبرد ماهیت اوحدود په باب وغږیږم. خودا چې اياد معاصر فزیك نامعین توب دکاېناتو په ماهیت کې واقع دی، یاهغه تش زموږ دموجود ناقص علم یوه نښه ده (داټکی تراوسه هم تربحث لاندې دی) زه به په هغه کې د مهمومشا بهتولو اوقیاسونود کشفولوپه باب زموږ په قابلیت سره د تاریخي پیشګوبی ګاوو د کولو د پاره هسهغه شکونه ښکاره کړم لکه چې یوڅو کالـه روسی څینو احساساتي علاقمنو کوښښ کاوه چې په هغه کې داسې ثبوت ومومي چې ګوا کې په کاېناتو کې آزاده اراده عملیات کوی . بله داچې موږ ته وبل کیږی، چې په عصری فزیك کې دمکان فاصله اودوخت انقضادا سې پیمانې او اندازې دی چې دمشاهدو په حرکت کولو اړه لری. په عصری فزیك کې، ټولې پیمانې ذاتي تغییرونه منی اودا ممکنه نه ده چې دومشاهدو اوهغه څیزترمینځ، چې ترمشاهدې لاندې نیول کیږی، یوثابت مناسبت تاسیس کړل شی .مشاهد اوهغه څیز چې ترمشاهدې لاندې نیول کیږی ، دواړه ــیا فاعل او موضوع دواړه ــ دمشاهدې په آخری نتیجې کې داخلیږی. خو په داسې حال کې چې دا تشر یحات په دېر لږ تغییر سره دمورخ اوهغه دمشاهداتو د موضوع په باب تطبیق مومی؛ زه په دې قانع نه یم چې ددغومناسبتو نو جوهر په کوم واقعی مفهوم سره دهغومناسباتو له ماهیت سره دمقایسې وړدی : کوم چې دفزیك پوه اودهغه د کاېناتو په باب موجوددی که څه هم زه دېرنسیب له مخې ددې علاقمن یم چې هغه اختلافات کوم چې

د مورخ طریقه د ساینس پوه له طریقې نه بیلوي ، کم کرم نه دا چې زیات بې کرمه
دایه بې فایدې وي چې کوښښ وشي د دغه اختلافات د ناقصو مثالونو پر بنا بهتر توپیر استدلال ورته
وکړل شي .

خو زما په فکر : کله چې د امناسبه ده چې وویل شي چې د مطالعې په موضوع کې
د اجتماعي عالم یا مورخ مشغولیت د هغې یو عالم تر مشغولیت څخه توپیر لري ،
او هغه مسایل کوم چې د فاعل او د موضوع د مناسبت په واسطه پیدا کیږي ، تر هغو
په لا پېچلي دول پیچلي دي . دا تموضوع اخر نه دی . د علم په باب ، ارغوني نظریات
چې په اولسمې ، اتلسمې ، او نولسمې پېړۍ کې مروج وو ، ټول په دغه قیاس بنا وو ، چې
د معلوم کوونکي فاعل او معلومې شوې موضوع ترمینځ قوي دوه ګونتوب ۴۹ موجود دی .
سره له دې هم عملیه درک شوله ، هغه نمونه چې د فیلسوفانو له خوا طرح شوله دوبې
ښودله ، چې فاعل او موضوع ، انسان او بهرنۍ نړۍ ، سره ویشل شوي دي ، او بیل دي .
دا د ساینس د ظهور او انکشاف پوستر عصر و . د پیشقدم او جهان بیني علمي نظریات
تر ډیرې اندازې متاثره کړل . انسان د بهرنۍ نړۍ په ضد په ډیر شدت سره وجنګول شو ،
ده له دغې نړۍ سره داسې په کلکه پنجه ورکړله ، لکه څنګه چې بې له کوم نه رام
کېدونکي او قوي دښمن سره پنجه ورکړي وي ، نه رام کېدونکی په دې چې په هغه
پوهیدل مشکل و ، او قوي دښمن په دې چې په هغه تحکم سخت و . خو د عصري ساینس
په انکشاف سره د دغه جهان بینۍ هم په انقلابي دول سره تغیر ومونډ .

په اوس وخت کې یو ساینس پوه د طبیعت د قوتونو په باب ډیر لږ داسې فکر کوي ،
چې د هغو په ضد مبارزه وکړي ، بلکه دوی دا قوتونه داسې ګڼي چې ورسره
همکاري وکړي ، او د خپلو مقصدونو د پاره یې آماده کړي . د علم پخواني نظریات
نور نو له نوي علم او په تیره بیا د فزیک له علم سره سر نه خوري . نو د حیرانۍ ځای نه دی

Dichotomy -٤٩

چې فیلسوفانو پهتیرو پنځو سوکالونوکې پههغو انتقادونـه شروع کړيدي، اوددې
پېژندنې پسې هم شروع کړيدي،چې دعلم عملیه فاعل اوموضوع یوله بل نه بېشدېد
دول نهېلوی،بلـکه ددوی ترمنځ دمتقابل مناسبت اوبو په بل د اتـکا په یوخه حد
قایل دی .اودا داجتماعي علومو دپاره نهایت اهمیت لري . او س غواړم دا دلیل
وړاندې کړم چې اجتماعي علوم په کـلي دول سره دعلم لهعرېهنې تیوري سره چې
دفاعل اوموضوع ترمنځ په کلک بېلاون قایل دی، هیڅ سرنه خوري،ځکه دې چې په
اجتماعي علوموکې ههغه انسان هم دفاعل او هم دموضوع : هم دمحقق اوهم دهغه
څیز پهحیث چې ترتحقیق لاندې نیول کېږي،شامل دی .سوسیولوجي ، پهټول دخه
زیار سره چې دځان دپاره دنظریاتو یومنسجم هیئت تاسیس کړي، پهحقه سره یوه
خانـګه پرانیستې اودعلم سوسیولوجي یې تومل ده.خوداز یار تراوسه دېرخوړاتلی
تللی نهدی ،پهدغه غټ دلیل چې سوسیولوجي پهدې قناعت کړيدي چې دعلم دعمنی
نظریې دنفس دنه حرکت وکړي، کهفیلسوفان ،لومړی د عصري فزیکيساینس
ترتـاثیر لاندې ،او اوس دعصـري اجتمـاعي علـومو ترتـاثیر لانـدې ،
پهدې شروع کـوي چې لـه دغـه قـفس نـه و وځـي ، او ددعـلـمـي
عملیه دپاره یوه نوې عصرې طرح جوړه کړي ،نودا چې په یوه کمال شعور یا ندې
دمفروضاتو دالوډتوپ زاره بلیار دهغه ز ره طرح وځیې، دادا اجتماعي علوموا وپه تیره
بیا دتاریخ دپاره یودیر نیک فال دی . داتـکي بنایسته دا اهمیت ورد ی او زه به هغه
وخت بیا ورته وګرزم،چې غواړم پهتاریخ کې دافاقیت دمفهوم پهباب بحث وکړم.
په پای کې ، مګر نه په لږ اهمیت سره ،مجبوریم په هغه نظر بحث وکړم چې
وایي تاریخ ځکه چې دمذهب اواخلاق لهمسایلو سره ډیر تړ دې او تبا ط لري
پهخصوصي دول لهساینس اوحتی لهنوروا جتماعي علوموله بیلدی اوتوپیر ترېلري.
لهمذهب سره پهدتاریخ دمناسبت پهباب یوازې دومره وګویم، څومره چې لازمهده

خپل دریځ څرګند کړم . چغی منجم کیدل له دې سره موافق دی چې په کوم یو خدای عقیده ولري لهشي . داسي خدای چې کاینات یې خلق کړی او نظم یې ور کړی دی. خو دا په دغې یو خدای دعقیدی له لاولو سره موافق نه دی چې هغه په خپله اراده غواړي دیوه ستوري دحرکت لاره واړوي، یاخسوف تال کړي، یاد کایناتي لویې قاعدو ته تغییر ور کړی. په همدغه دول : کله کله داسي نظروړ اندې کیږي چې یو جدی مورخ ممکن په داسي خدای عقیده ولري چې هغه په عمومي دول دتاریخ سیر ته نظم اومفهوم ور کړی وي، که څه هم دی به دزاړه انجیل رقمي په خدای باندې عقیده کولی نهشي چې هغه به دامالیکانو ۶۰ په وژلو کې مداخله کوي یا به په خبره کې غولوله کوي، او غواړی دجوشوا ۶۱ دلښکرو په ګټه د ورځې ساعتونه اوږده کړي . داسي هم دی دخاصو تاریخي پېښو دتشریح په غرض له خدای څخه مرسته نه غواړی . روحاني پلار دی ؛ ارسي ۶۲ په یوه تازه کتاب کې زیار ایستلی چې دغه تمیز واضح کړي .

«دیوه محصل دپاره دا کافي نه ده چې په تاریخ
کې هري یوې پېښې ته داسي ځواب ورکړي چې دا
دخدای کار و . ترهغو چې موږ دومره ور اندې تللي
نه یو چې دنیا یې پېښې او بشري درامه مرتبه کړو،
نه چایې پراخې ملاحظې میدان ته کړو . » ۶۳

۶۰. Amalekites د سوریې د ملک غیر پخوانی چیاولګر کوچیاني قوم . (م)
۶۱. Joshua د موسی (ع) جانشین چې اسرائیلیانې کنعان ته معرفت کړل . (م)
۶۲. M. C. D. Arcy
۶۳. ایس. سی. ډي. ارسي ، د تاریخ مفهوم : دنیایي او مقدس (۱۹۵۹) ، مخ یوولس یوس (د یونان مورخ ) تر هغه پورې دا نظر پیکاره کړی و : قبیرته چې کیدی شي د پېښو علت معلوم کړل شي دنیایي یو غوبه خدایا نه پرېږده . م ) جمه وکړي » ( اقتباس دکسي . فان فرټز K. Von Fritz په ، یو لرغوني مهال کښې دمخلوط اساسي قانون نظر ، نیویارک ، ۱۹۵۴ ، مخ ۳۹۰)

ددغه نظر غرایت پدې کې دی چې معلومیږي مذهب دقطعیو دحیلو په حیث تحمل کیږي او هغه دحقیقتاً مفهوم چاو نو دپاره ساتل کیږي او دبلې طریقې دپاره نه را ایستل کیږي.
کارل بارت (٦٤) دلوتر دمذهب عالم تر هغه لا په کار وکړ چې داسماني او دنیایي تاریخ تر مینځ بې پوره بیلتون اعلام کړ، او دنیایي تاریخ یې دنیایي ځنګلو ته وسپاره. پروفیسر بټرفیلډ، چې کمزوری به خبر وو پوهیږم، هغه وخت چې د «تخنیکي» تاریخ په باب بحث کوي، هغه غنې بوخه په نظر کې لري. تخنیکي تاریخ هغه یو اځنی تاریخ دی، چې ممکن ناسې او موږ یې بې تل ولیکو، او یا دا چې ده یخپله یې تل لیکلی وي. خو ددغه عجیب عنوان په استعمال سره، دی دغه حق د ځان کوي، چې د خاصانو یا خدایي تاریخ باندې عقیده ولري، چې له هغه سره به یا تې مو ږ او ناسې سرو کار نه لرو. د بردیایف ٦٥، نیبور ٦٦ او ماری تین ٦٧ په شان لیکوالان تاریخ ته په یوه مستقل حال قایل دي، خو په دې ټینګ دي چې د تاریخ غایه یا انجام له تاریخ څخه بهر واقع دی. شخصاً زه نه شم کولی د تاریخ کلیت له کوم فوق تاریخي قوت سره یځلا وتیم په کوم چې د هغه اهمیت او مفهوم تړلی دی ـ فرق نه کوي چې دا قوت د غوره شوي یو خلقو خدای وي، عیسایي خدای وي، د کوم رب النوع پټ شوی لاس وي، یا د هیګل جهاني روح وي. د د غولیکچرونو د مقصد د پاره ( زه داسې فرض کوم چې مورخ باید دغه مسئله بې له دې چې د ماشین خدای ٦٨ ته رجوع وکړي، حل کړي، داسې چې تاریخ داسې یوه لوبه ده، چې د چا خبره، جیک نه لري.

Karl Barth .٦٤

Berdyaev .٦٥

A. R. Niebuhr .٦٦ (د عقیده او تاریخ د کتاب مولف) لیوارتکه ١٩٤٩.

Maritain .٦٧

٦٨. deus ex machina ، اشاره وهغه کلاسیکي حال ته ده چې په سټیج حسي تراژیدي کې به د مشکل د حل دپاره رب النوع له ماشین نه ایستل کیده. (م)

له اخلاق سره د تاریخ مناسبت ډیر پیچلی دی، او په دغه باب چې تراوسه څه بحث شوی دی، د څو مبهماتو په وجه ناقص دی. نن ورځ یوازې کله کله ضروري وي چې په دې بحث وشي چې له مورخ نه دا تقاضا نه کیږي چې د خپل داستان د شخصیتونو په شخصي ژوندانه اخلاقي قضاوتونه صادر کړي. د مورخ او دغه چا نظرونه، چې په اخلاقي اصولو ولاړ وي، «کاملاً» یو نه وي. اتم هنري، ممکن بد میړه او ښه پاچا تیر شوی وي. خو مورخ دده د لوی والي صفت په باب یوازې هغه وخت علاقه پکاره کوي چې تاریخي پیښې یې متاثره کړې وي. که د هغه اخلاقي عیبو او په عمومي پیښو دومره لږ اغیز ګډ اثر کړی وي، لکه چې د دوهم هنري عیبونو کړی دی مورخ ته نه ښايي د هغو په باب ځان سرګردان کړي. دا حکم د بدو او ښو صفتونو په باب یوشان صدق کوي. روایت دی چې پاستور ۶۹ او انشتاین ۷۰ دواړه په شخصي ژوندانه کې بېجوړې، او حتی لکه ولیان، ښځې وو. خو داسې وګڼو چې دوی بیوفامیړونه، یا ظالم پلرونه یا بې رحمه په اخلاقي ملګري وو، نو آیا د دوی د تاریخي کار نامو اهمیت به ترهغو لږ وي، کوم چې اوس دی؟ مورخ اساساً له دغسې کار نامو سره سروکار لري.

روایت دی چې ستالین په خپلې دوهمې مابنې ظلم او زیاتي کړی دی خو زه د شوروي پیښو د مورخ په حیث دا احساس دومره نه لرم چې هغه په نظر کې ونیسم. دا د دې معنی نه لري چې شخصي اخلاق اهمیت نه لري، بلکې دا چې د اخلاقیاتو تاریخ د تاریخ یوه روا برخه نه ګڼل کیږي. خو مورخ داسې ته کوي چې په یوې خواتا وشي او د هغو افرادو په شخصي ژوندانه اخلاقي قضاوتونه صادر کړي، چې دده د کتابونو په مخ ښکاره کیږي. دی نور څه وظایف په مخ کې لري.

ترهغه لیا جدي ابهام په عمومي اعمالو باندې د قضاوت په مسئلې پیدا کیږي. د مورخ

۶۹. L. Pasteur (۱۸۲۲–۱۸۹۵) فرانسي ساینس پوه. (م)

۷۰. A. Einstein (۱۸۷۹–) جرمني فزیک پوه. (م)

په دغې وظیفې عقیده چې په‌هغو افرادو چې د ده په دراما کې ظاهریږي ، اخلاقي قضاوتونه صادرشي ،یوه اوږده سابقه لري . خوداعقیده هیڅکله دومره قوي نه وه لکه څومره چې په نولسمې پیړۍ کې په‌برتانیې کې‌وه .داهغه وخت وچې‌دا عقیده هم‌دهغه عصر داخلاقي تمایلا تواوهم دفردیت دلمانځلو داصل له‌مخوا تقویه‌شوې وه ، روزبیری ۷۱ وپل چې هغه څه چې انګلستان هغه لري پرې پوه شي دادي چې ناپلیون په ریښتیا ، یو ښه‌شخص ، ۷۲ و که نه . اکتن له‌کرې ټمن ۷۳ سره په لیکوالو کې اعلام کړه چې داخلاقي اصولو ثبات ، د تاریخ د صلاحیت ، حیثیت ، اوانتفاعیت راز اوسر دی ، دی مدعي شوچې تاریخ ، د منازعاتو حکم ، د سیاح لارښوونکی ، اودهغه اخلاقي معیارحامي وګرزوي چې دمځکې او دمذهب قوتونه تل په دی هڅه کې دی ، چې هغه وزبیښي .، ۷٤ دانظریه داکتن په هغې تصوفي عقیدې بناده کومه چې ده دتاریخي حقایقو په افاقیت اوعلویت لرله . ددغې نظریې له‌مخې ،له‌یوه مورخ نه‌ظاهراً داتقاضا کیږي ،اوده ته‌دغه‌حق ور کول کیږي ، چې دتاریخ په نامه یعني په هغه نامه چې‌تاریخ ته‌یوراز فوق - تاریخي اختیار ور کول کیږي ،په هغوافرادو اخلاقي قضاوتونه صادر کړي ،چې په تاریخي پیښو کې‌ښکاره کیږي .اوس هم‌دانظر کله کله په‌غیرمتوقعه‌شکلونو کې سر هسکوي .پروفیسر ټاین بي ۷۵ په ۱۹۳۵ کې په حبشستان باندې دموسولیني حمله دیوې ، ارادي شخصي ګناه ، ۷۶

۷۱. Rosebery

۷۲. روز بیری ، ناپلیون: وروستی مرحله ، مخ ۳٦٤.

۷۳. Creighton

۷٤. ، بین‌المللی چارو سروې ، ۱۹۳۵ ، II - مخ ۳.

۷٤. اکتن ، تاریخي مقالی او مطالعات (۱۹۰۷) ، مخ ۵۰۵

۷۵. A. Toynbee انګلیسی معاصر مورخ . (م)

۷٦. ، بین‌المللی چارو سروې ، ۱۹۳۵ ، II ، مخ ۳

په حیث بیان کړله . سرایسایا برلین، په هغې مقالې کې چې پخوا یې ذکر وشو، په کلکه اصرار کوي چې دا د مورخ وظیفه ده چې و پېشارلمان، یا ناپلیون، یا چنګیز خان، یا هټلر، یا سټالین باندې د دوی د بې رحمانه قتلونو په باب قضاوتونه وکړي.» ۷۷

پروفیسر نوولز دا نظر په کافي اندازې تر تلي دی . ده په خپل افتتاحي لیکچر کې د موتلي ۷۸ د دوهم فلیپ تقبیح اقتباس کړې ده: «که چیرې هغه بدې ګانې وي ....له کوم څخه چې دی خلاص و، دا له دې امله ده چې انساني طبیعت ددې اجازه نه ورکوي، چې په بدۍ کې هم کمال ته رسیدلی وشي.» داسې هم ده د کنګ جان په باب د ستبز ۷۹ وینا را یاده کړې ده: «په هر هغه جرم سره کثیف شوی و، کوم چې یو انسان رسوا کولی شي.» . په افرادو باندې دا د اخلاقي قضاوتونو هغه مثالونه دي، چې مورخ یې د اعلامولو صلاحیت نه لري . «مورخ قاضي نه دی، په دار ځړوونکی قاضي خو بالکل نه دی.» ۸۰ خو کروسې هم په دغه باب یو څه فقره لري، چې غواړم دلته یې ذکر وکړم.

---

۷۷. آی. برلین، تاریخي حتمیت، صفحه ۷۶ - ۷۷. د سرایسایا برلین دا روش هغه نظر را یادوي چې د لرتسمې پیړۍ هغه سرسخت نماینده ګڼل کار حقوق پوه فټز جیمز سټیفن Fitzjames Stephen څرګند کړی و: «جزا قانون په دې ډول په دغه اصل ولاړ دی د زړوني جېو دایره اخلاقي لحاظ اسه ده چې له مجرمانو نه دې کرکه وشي ..... دا بالکل لازمه ده چې له مجرمانو نه دې کرکه وشي، د مجرمو سختې جزاګانې دې په دوی حواله شي چې هغه کرکې ته کې افاده شي او هغه دې تر هغو حق په جانب او روا وګڼل شي چې د عمومي د افادې کولو او تطبیق کولو سایل پوخیمې سالم احساس تشویق کولی، او روا ګڼل شي.» (د انګلستان جزایي قانون تاریخ، ۱۸۸۳؛ ۲ صفحه ۸۱-۸۲. دا فقره د ایل. ر. دزینوویچ، په سر جیمز فټز جیمز سټیفن شوي تالیف کې اقتباس شوې ده. ۱۹۵۷ مخ ۳۰) د جرم او جزا پوهانو ته دا نظر یه نور نو د اعتبار وړ نه ده. خو له دوی سره زما جنګ په دې کې دی چې هغه که اعتبار ولري یا و نه لري د تاریخ په حکمونو کې د تطبیق وړ نه دی.

۷۸. John L. Motley هالینډي مورخ (م)

۷۹. Milliam Stubbs (۱۸۲۵ - ۱۹۰۱) انګلیس اسقف او مورخ . (م)

۸۰. ډي. نوولز، مورخ او سنجیه (۱۹۵۵) د مخونه ٤ ، ٥ ، ١٢ ، ١٩ .

« تهمت هغه‌ستر اختلاف له‌یاده باسي چې زموږ محکمې (قضایي‌وي یا اخلاقي) دنن ورځې محکمې دي ، اوهغه دژوندیو ، فعالو ، اوخطرناکواشخاصو دپاره جوړې شوې دي په داسې حال کې چې نور اشخاص پخوا دځېلـو وختـونو په محکمو کې حاضرشوي دي ، اودوی دوه ځلې مقصر یا تبرئه کېدلی نه شي . دوی په هیڅ محکمې کې مسئول کېدلی نه شي ، په دې چې دوی دماضي اشخاص دي ، اودماضي په سولې پورې اړه لري ، اوپه دې ډول دوی پرازې دتاریخ تر قضاوت لاندې را نلای شي ، اوکوم بل قضاوت پرې کېدلی نه شي مګرهغه چې ددوی دکار په روح کې ننوځي اوپېژني یې . هغه کسان چې د تاریخ دشرح کولو په بهانه د قاضیانو په حیث ننداره جوړوي ، دئه محکوم اوله کوي ، اوهغه تبرئه کول کوي اودا په دې دلیل چې ددوی په فکر دا د تاریخ د قدر دی ..... دوی په عمومي اوکلي ډول له تاریخي مفهوم نه بې بهرې دي . » ۸۱

که غوکث : په دغه حکم انتقاد کوي چې دا زموږ کارنه دی چې په هټلر ، یااستالین ؛ اویاکه موخوښه وي په سناتورمکارتي باندې اخلاقي قضاوت صادر کړو ؛ پـه د غـه علت چې دوی زموږ دزیاتـرو معاصردي ، او په دغـه علت چې په سلګـونوزروهغه کسان چې په مستقیم یا غیرمستقیم ډول ددوی له اعمالوڅخه متضررشوي دي ، تراوسه ژوندي دي ؛ اوپه دغه علت چې دهمد غودلایلو له مخې مشکله ده چې موږ دمورخینو په حیث دوی ترمطالعې لاندې ونیسو اوله نوروهغو استعدا دونوڅخه ځانونه محروم کړو کوم چې هغه به ممکن موږ ته اجازه راکړي چې دهغوی په اعمالو باندې قضاوتونه صادر کړو ، دا د معاصرمورخ د مشکلونو یومشکل ؛ یاکه ووایم ډېرلوی مشکل دی . خونن ورځ څوک کولی شي دشارلمان یاناپلیون ، دګناهونو په تقبیح سره فایده وچه کړي ؟

نورا ځنځ چې دا نظر ردکړو چې مورخ په دارځوروونکي قاضي بولي ، اوترهغه

۸۱ ، بي . کروسي ، تاریخ د ازادۍ دداستان په حیث (انګلیسي ترجمه ۱۹۴۱) مخ ۴۷ .

مشکل ، بلکه مجبور بحث ته مخه و کړو یعنې هغه بحث ته چې اخلاقي قضاوتونه په افرادو نه صادر یږي، بلکه د ماضي په پیښو، موسسو، او سیاستو نو صادر یږي. دا د مورخ ډیر مهم قضاوتونه دي. هغه کسان چې د افرادو په اخلاقي محکومولو سخت ټینګار کوي، په حقیقت کې په غیر شعوري ډول سره د ټولو اوجوامعو د پاره دا دلیل پیدا کوي چې ګواکې دوی په جرم کې لاس نه لاره . فرانسې مورخ لیفی بور ۸۲ په دې لټه کې و چې د فرانسې انقلاب له بدبختیو او دناپلیوني جنګو نو لعنونو تو بو لو څخه تبرئه کړي ترېي هغه منسوب کړه و د یوه جنرال د کتاتوري ته .... چې د هغه مزاج . . . . ، په سولې او اعتدال کې ارام پاتې کیدلی نه شو. ۸۳ جرمنیان، نن و رځ د هتلر د فردي شرارت تقبیح ته څکه ښه وایي چې د مورخ اخلاقي قضاوت په هغې جامعې و نه شي کومې چې هتلر تولید کړی دی . روسان ، انګلیسان، امریکائیان په ستالین، نیوال چمبرلین، یا مکارتي باندې د شخصي حملو په کولو لاس سره یو کوي، چې په خپلو دله ییزو بدو کړو پرده وغوړوي . برسیره پر دې ، په افرادو باندې ستاینوونکي اخلاقي قضاوتونه هم هغومره تیراستونکي او مضر دي: څومره چې د افرادو اخلاقي تقبیح دي. دا معرفت چې ځینې غلام لرونکي افراد ظالم وو ، پر له پسې د یوې بهانې په حیث استعمالیږي ، چې غلامي د یوې غیر اخلاقي مؤسسې په حیث محکومه نه شي . ماکس و یبر دا ښې ښيي چې نن ورځ غلامی چې هلته سرمایه داری د کارګر یا پروړی لاس و ینې تړی، یادونه کوی، او په هغه سره دلیل وړاندې کوی، چې مورخ باید خپل قضاوتونه په هغې موسسې صادر کړي، چې هغې یې تلق کړی دی : نه په افرادو باندې. ۸۴ مورخ د دې د پاره د قضاوت په مسند نه کښیني چې په واحد شرقي مطلق العنان قضاوت صادر کړي، خو له دې څخه د اتفاق هم نه کیږي چې دی دې د مثال په ډول د شرقي مطلقیت او د پریکلیس د اتن د وختو موسسو تر منځ بې اعتنا

---

۸۲. Lefebvre

۸۳. Peuples et civilisations ، جلد ۱۹، ناپلیون، مخ ۵۸.

۸۴. دا فقره د ماکس ویبر ؛ مقالې په سر سیو لوجی کې ، څخه اقتباس شویده. (۱۹۱۷) مخ ۵۸.

بې‌طرف پاتې شي ـ دی به په افرادي غلام ساتونکو باندې قضاوت نه کوي، مګر دا رویه به یې له دې څخه منع کوي چې د غلامۍ جامعه محکومه نه کړي. لکه څنګه چې مو ولیدل: تاریخي حقایق د توجیه فرضیه، تر یوه حده پخوانۍ پېښې او تاریخي توجیهات تل اخلاقي قضاوتونه په ځېز کې نیسي. که دا حکم په بې‌طرفو الفاظو کې افاده کړو: ارزښتي قضاوتونه به یې د یو لو.

خو سره له دې هم دا یوازې زموږ د مشکلاتو شروع ده. تاریخ د مبارزې یوه عملیه ده. په دې عملیه کې نتایج ـ چې که موږ ورته ښه وو او یا بد ـ د ځینو د لوري خوا په مستقیم یا غیر مستقیم ـ زیاتره په مستقیم ډول ـ د نورو د لوري په زیان حاصلیږي. یا بل لوری تاوان ګالي. رنځ او عذاب په تاریخ کې یو عادي او مانوس څیز دی. د تاریخ هره ستره دوره هم تلفات او هم فتوحات لري. دا یوه ډېره پېچلې مسئله ده، په دې چې موږ داسې کوم معیار نه لرو چې په هغه سره وکولی شو د ځینو کسانو ډېره ګټه د نورو د قربانیو په مقابل کې اندازه کړو. سره له دې هم باید یو میزان وشي. دا یوازې د تاریخ مسئله نه ده. په عادي ژوندانه کې، موږ زیاتره له تاوان او لږه بدۍ مرجحه بولو، یا هغه شر یا عمل کوو چې فایده موږ ته یې په نظر کې نیولې وي. موږ دا ضرورت په خوله نه وایو، مګر عمل مو همداغسې وي. په تاریخ کې دا مسئله کله کله د «پرمختګ قیمت» یا د «انقلاب قیمت» تر عنوان لاندې تر بحث لاندې راځي. خو دا تېر ایستونکې ده. لکه څنګه چې بیکن په یوه مقاله کې: «د ابداعاتو په باب وایي: «ډېره سرسخت عادت ساتل هومره ګران کار دی، لکه ډېره ابداع». د محافظت قیمت په محروم خلکو هومره درونده لوېږي، لکه چې د ابداع قیمت په هغو درونده وي چې له امتیازاتو څخه محروم کیږي. دا نظر چې د ځینو ګټه د نورو عذاب روا کوي، په هر حکومت کې په ضمني ډول موجود دی، او هغومره د محافظه کارۍ نظر دی، څومره چې افراطي دی. ډاکټر جانسن له شرارت د موجودو بې عدالتیو د حفاظت د پاره روا وباله:

ولا اینه ده چې څښتن بدمرغه وی ، ترڅو چې هیڅوک نیکمرغه نه وی، چیرته چې دمساواتو په عمومي وضع کې به داخل وی . ۸۵

خوداقراطي تحول په مهالونو کې دا مسئله په دراماتیکي ډول سره ښکاره کیږي ؛ او په دغه وخت کې موږ ته ډیره اسانه وی، چې دهغو په مقابل کې دمورخ سلوک مطالعه کړو .

راځئ چې د ۱۷۸۰ او ۱۸۷۰ کالونو ترمنځ دلویې برتانیا دصناعتي کېدلو قصه را واخلو. هرمورخ به صناعتي انقلاب ممکن بې له کومې مباحثې، یوستر اومترقي کارنامه وګڼي . دی به داهم بیان کړي ؛ چې کروندګر څنګه له مځکونه وایستل شول ، کارګران څنګه په غیر صحي فابریکو او کوډاو کې تخته کـړل شول ؛ او کوچنیان څنګه استثمارشول . دوی ممکن ووایی چې دسیستم په کار کې، داوړې استفادې وشولې اوځینې استخدام کوونکي تر نورو ډیر بې رحم وو. دیممکن دبشر دخوښوونکي او زړه سواندي وجدان دتدریجي ودې په باب یوڅه غوږې اونرمې خبرې هم وکړي، اودا هغه وخت چې سیستم یوځل بیخ رنیوا ومستقرشو. خودی به ممکن یا بې له دې چې ووایې داسې وګڼي چې په اولومرحلو کې یوڅه جبر اواستثماردصناعتي کېدلو یوه حتمي برخه وه . ما تر اوسه داسې مورخ ایدلی نه دی ،چې ووایې وی چې د هغه غه قیمت په وجـه به داښه وای چې دپرمختګ مخه نیوله شوې وای، اوپه صناعتي کولولاس پورې شوی نه وای . که داسې کوم مورخ

۸۵ـ بوزول ( Boswell ) ، د داکتر جانسن ژوند (۱۷۷٦)، ( د ایوری مین چاپ ، ۲ ټوک ، ۲۰ مخ)

۸٦ـ دلسه د سین ویلیو جیګیبه شه اور ګنگاردت ( په مورخانو او تاریخ باندې قضاوت ، مخ ۸٤)

د ترقي د فرانسې په ... شوروزګیرومره چې دوی قاعدتاً Paranuerl له په پرتمنو ...

اوځکه ... ancient regime د فرانسې د ... په باب غلي دی، چې

قاعدتاً یې د ... عبرته اړول .

موجود هم وي بې له کومه شکه به د چسټرټن ۸۶ او بیلک ۸۷ په مکتب پوري اړه واري، او هیڅ جدي مورخ به په جدي سترګه ورته ونه ګوري. د مثال په ډول د زماد پاره په خاص ډول په زړه پوري دی، په دې چې زه هیله کوم زر به د شوروي روسیې په تاریخ کې د کروندګرو د راټولولو او د له پیژ کولو ۸۸ مسئله د صناعتي کولو د قیمت دیوې برخې په حیث تر بحث لاندې ونیسم. ۸۹ په دې به پوهیږم، چې که زه د برتانیا د صناعتي انقلاب د مورخانو د مثال په تعقیب، که څه هم د دې له پیژ کولو ناوړې خواوې او وحشتونه بد وګڼم خو په خپله عملیه د صناعتي کولو د سیاست دیوه ضروري، او مطلوب قیمت یوه برخه و ګڼم، زه به د شکاکیت په تور او تشریح او خېژو نو په اغماض تورنيږم. مورخان، د اروپایانو له خوا په نولسمې پیړۍ کې د آسیا او افریقا استعمار په دې دلیل تائیدلی ګڼي چې د دغه عمل نه یوازې د جهان په اقتصاد فوري تاثیرونه و کړل، بلکه په خپله د دغو ولسونو ورته پاتې ولسونو د پاره یې په زیانه موده کې نتایج او ګټې اړلې. ورته له توله خیرو، و یل کیږي، چې هندوستان د برتانیا د حاکمیت ماشوم دی. عصري چین د نولسمې پیړۍ د لویدیځ امپریالزم محصول دی، او د روسي انقلاب هم پرې اثر کړی دی. له بده مرغه د چین کارګرانو چې په ساحلي بندري اروپایي - خپتنو فابریکو کې، یا د جنوبي افریقا په کانو کې، او یا یې په لومړي جهاني جنګ کې، په لویدیځې جبهې کې زحمت ګاله، ژوندي پاتې نه شول چې د چین د انقلاب ګټه او ثمرو ووینې. څوک چې قیمت تادیه کوي، یوازې کله کله کولی شي، چې ګټه ترې وچه کړي. د انګلیز یوه مشهور فقره د لته یوڅه سرخوري.

۸۶- Chesterton

۸۷- Belloc

۸۸. Collectivisation

۸۹. دا مسئله لومړی پروفیسر کارد او آر. ډبلیو. ډي ویس (R. W. Davies) په مرسته په یوه لوی تالیف کې تر بحث لاندې نیولې ده. د تالیف نوم دی: د شوروي د شوروي اقتصاد اساسات ۱۹۲۶-۱۹۲۹.

«تاریخ ترتولو نوروالهو نه ډیره بې رحمه الهه ده . دا الهه خپل مظفرانه موټر د مړو اجسامو په څر یو تېروی ، او دا کار نه یوازې په جنګ کې کوي ، بلکه په «سوله ییز» اقتصادي انکشاف کې یې هم کوي . او موږ لا رینه او بنځې له بده مرغه دومره احمقان یو چې موږ د حقیقي ترقي دپاره هیڅ زړه نه کوو ، ترڅو چې دهغو عذابونو له خوا مجبور نه شو ، کوم چې له حساب نه وللي وي .»[90]

دایوان کارا مازوف[91] مخالفت مشهور حرکت دقهرمانۍ یوه اشتباه ده .
موږ په جامعې کې زیږېدلی یو ، موږ په تاریخ کې زیږېدلي یو . داسې یوه شېبه هیڅ نه شته چې موږ ته په جامعې کې دننوتلو تکټ په دغسې اختیار راکړه شي چې موږ یې یا ومنو او یا رد کړو . د عذاب او درد په باب ، مورخ دالهیاتو تر عالم نه زیات قاطع ځواب نه لري . دی هم د کم زیان او دېرې ګټې په تیس وده کوي .

توا یا دا حقیقت چې مورخ څنګه ، چې دساینس پېوه په خلاف د خپلو وادو دماهیت لـه امله ، داخلاقي قضاوت په دغسې مسایلو کې ښکېلي دي ، ددې معنی نه ور کوي چې تاریخ دارزښت کوم فوق ـ تاریخي معیار ته تسلیم کیږي؟ زما په فکر چې نه تسلیمیږي . راځئ چې داو ګڼو چې مجرد مفهومونه لکه «خیر» او «شر» او دهغوی پسې نور مفسطه یې انـکشاف ، دتاریخ له چوکاټ څخه بهر واقع دي . خو سره له دې هم دغه مجردات ، دتاریخي اخلاقیاتو په مطالعې کې هغسې رول لوبوي ، لکه چې د ریاضي او منطق فارمولونه یې دفزیک په ساینس کې لوبوي . دا دتفکر حتمي کټه ګوري ګاني دي . خو دوی تر هغو چې مشخص محتویات ورته ور نه کړه شي ، له مفهوم نه عاري دي ، او تطبیق یې ناشونکی . تاسې ممکن یو بل مستعار لوم غوره وګڼئ ، خو هغه اخلاقي مفهومونه چې

۹۰. فریډریک انګلز : لیکلونه ۱۸٤٦ - ۱۸۹۵ (۱۹۳٤) ، مخ ۵۵۰.
Ivan Karamazov .۹۱

زموږ يې به تاریخ با ورځني ژوندانه کې تطبیق کړو ، دهغو چکونو په څېر دي ، کوم چې په بانک باندې ور کول کېږي، داچکونه هم چاپه شوي او هم ليکلي شوي برخه لري . چاپه شوي برخه يې دازادي، مساوات، عدالت ، او دموکراسي په شان له مجردو الفاظو څخه جوړه ده . دا اساسي کته ګوري ګاڼې دي . خو چک تر هغو کوم ارزښت نه لري ، چې پرې ليکنه نه وي شوې . ځکه همدغه ليکنې معلوموي چې موږ څومره ازادي دچا دپاره غواړو . هغه طريقه چې په هغې سره موږ وخت په وخت خپل چک ډکوو، دتاريخ يوه مسئله ده . هغه عمليه چې په هغې سره مجردو اخلاقي مفهومونو ته، مشخص تاريخي محتويات ور کول کېږي، يوه تاريخي عمليه ګڼله کېږي . په حقيقت کې ، زموږ اخلاقي قضاوتونه په يوې مشکوره بيړۍ جوړکاټ کې دننه ، چې هغه په خپله د تاريخ تخليق دی، جوړيږي . داخلاقي مسايلو په باب دمعاصر بين المللي دعوا مشهور او مروج شکل هغه بحث دی چې دازادۍ او دموکراسي په باب يې رقيب او نقيض مذهبان په خپل مينځ کې سره لري . مفهومونه عالمي او مجرد دي . خو هغه محتويات چې په هغو کې ايښودل کېږي ، دتاريخ په جريان کې يې له يوه ځای نه بل ځای ته، او له يوه مهال نه و بل مهال ته تحول کړی دی. دهغوی دهرې عملي مسئلې تطبيق، يوازې دتاريخ په ژبه پوهيدل کېدلی : او پرې بحث کيدلی شي . او س به لنډه يو غيرمشهور مثال راواخلو. کوم چې شوی دی چې د اقتصادي علمي تنظيميت مفهوم، ديوه افاقي او غيرمتنازع فيه معيار په حيث، استعمال شي چې دهغه په وسيله د اقتصادي سياستونو مرغوبيت ترازموينې لاندې راتلی شي ، او قضاوت پرې ممکن کېدلی شي. خو دا کوښښ سمدلاسه نا کاميږي. هغه تيوري پوهان چې دلرغونې اقتصاد په قوانينو روزل شوي دي ، پلان جوړول د پرنسيب له مخې محکوموي او هغه په بيا تنظيمو شويو اقتصادي عمليو کې يو غيرعلمي او غيرعقلي مداخله شميري . دمثال په دول، پلان جوړونکي د نرخ د سياست په باب له دې څخه غاړه غړوي، چې دعرضې او تقاضا د قانون پيروي وکړي او نرخونه

په پلان جوړولو کې هیڅ عقلي او علمي اساس لرلی نه شي . بیې له شکه دا په عمومي ډول زیاتره په غیر عقلي او احمقانه ډول کار کوي . خو هغه محکمه چې په هغه سره په دوی قضاوت کیدلی شي ، دلرغونې اقتصاد هغه زوړ «اقتصادي بې علمي تنظیم» نه دی . زه په خپله له معکوس استدلال سره دیرزړه سواندی لرم او وایم چې داهغه نه کنترول شوی ، او نامنظم شوی اقتصادي لیسه فر۹۲ وچې اساساً غیرعلمي و . پلان جوړول هغه کوښښ دی ، چې په هغه سره په دغې عملیې کې «اقتصادي تنظیمیت» مروج کیدلی شي . خو هغه یوازنی تکی چې غواړم اوس یې وروایم دادی چې ممکنه نه ده چې یو مجرد او فوق ـ تاریخي معیار وضع شي او په هغه سره په تاریخي اعمالو قضاوت وشي . په دغې یوه معیار کې دواړه خواوی حتماً هغه مشخص محتویات موندلی شي کوم چې ددوی له تاریخي حالاتو او هیلو سره موزون وي .

دا نځوکسانو حقیقي حکم دی چې غواړي یو داسې فوق ـ تاریخي معیار ساز کړي چې د هغه په رڼا کې په تاریخي پیښو باندې قضاوت صادر کړل شي ـ فرق نه کوي چې دا معیار له اسماني قدرت څخه منبع اخلي ، کوم چې ددین عالمانو ابتلی دی ، یا له کوم سکون عقل یا طبیعت څخه منبع اخلي کوم چې د تنوراو نهضت ددورې فیلسوفانو وضع کړې وي . خبره په دې کې نه ده چې دهماغه معیار په تطبیق کې نیمګړتیاوې پیښیږي ، یا په خپله په معیار کې نواقص موجود دي ، خبره په دې کې ده چې د دغې یوه معیار د جوړولو په لور هڅه او کوښښ کول غیر تاریخي دی او د تاریخ اصلي جوهر نقض کوي . داسې معیار د هغو مسایلو دپاره چې یو مورخ د خپل تخصص په وجه مجبور دی د هغو په باب پر له پسې پوښتنې وکړي ، یو جذمي ځواب تهیه کوي . هغه مؤرخ چې د دغو پوښتنو په مقابل کې پخوا تر پخوا ځوابونه قبلوي ، داسې مثال لري

۹۲. laissez faire د افرادو په اعمالو مخصوصاً تجارتي اعمالو کې د حکومت مداخله کول . (م)

لکه چې مترګي پښې په کارشروع کوي : او له خپل تخصص څخه مترګې پټوي اوړدوي يې . تاریخ يو حرکت دی ، او حرکت پرته کول غواړي . همدغه علت دی ، چې مورخان څخه کوي ، چې خپل اخلاقي قضاوتونه په مقايسوي الفاظو کې افاده کړي لکه ، مترقي ، او ارتجاعي ، نه په مطلقو او غیرمصالحتي الفاظو کې لکه ، ښه ، او بد ، . داهغه کوښښونه دي : چې په هغوسره مختلفې جامعې ، يا تاریخي حوادث تعریف کیږي ، او داد کوم مطلق معیار په ږبه نه کیږي ، بلکه دیوه او بل په رابطې سره کیږي . برسیره پردي ، کله چې موږ دغه مفروض مطلق ، او اضافي تاریخي ارزښتونه تر کتنې لاندې نیسو ، دی نتیجې ته رسیږو ، چې دوی هم په واقع کې په تاریخ کې ریښې لري . دیوه خاص ارزښت یا مفهوم ظهور په یوه معین زمان او مکان کې د زمان او مکان په تاریخي شرایطو سره شرح کیږي . د فرضي مطلقو مفاهیمو لکه برابري ، ازادي ، عدالت ، او طبیعي قوانینو عملي محتویات له یوه عصر نه و بل عصر ته ، او له یوه براعظم نه و بل براعظم ته تحول کوي . هره ډله خپل خاص ارزښتونه لري ، چې ریښې يې په تاریخ کې پرتې دي . هره ډله د بېګانه او ناموزونو ارزښتونو له مداخلې نه ځان ساتي ، او هغه په زشتو نومونو یادوي ، لکه بورژوا ، سرمایه دار ، یا غیر دیموکراتیک او مطلق العنان ، یا ترهغو لا زیاتي زشت لکه غیر انګلیسي ، او غیر امریکایي . مطلق معیار یا ارزښت چې له جامعې او تاریخ نه مجرد او بېل اوسي ، همغومره وهم او غیر واقعیت دی ، څومره چې یو مجرد فرد دی . جدي مورخ هغه څوک دی چې د ټولو ارزښتونو تاریخي خصوصیت پېژني ، نه هغه مورخ چې د خپلو ارزښتونو دپاره له تاریخ نه بهر د کوم افاقیت ادعا کوي . هغه عقاید چې موږ یې پیروي کوو ، او د قضاوت هغه معیارونه چې موږ یې طرح کوو : د تاریخ یوه برخه ده ، او همغومره د تاریخي تحقیق تابع دي ، څومره چې د بشري سلوک هر اړخ د تحقیق تابع

دی. نن ورځ به یوازې یو څو ساینسونو ته، او تر ټولو ژر اجتماعي ساینسونو ته، د پوره آزادۍ ادعا وکړي. خو تاریخ له ځان څخه دیالتي په داسې کوم شي اساسي اتکا نه لري چې هغه به له کوم ساینس څخه بیل کړي.

اوس به ددغې ادعا په باب، چې تاریخ دې په ساینسونو کې حساب شي، د خپلو ویناوو لنډیز وړاندې کړم. د ساینس کلمه، لا پخوا تر دې د علم، بېلې بېلې څانګې په غېږ کې نیسي، او اوس مهال د ډیرو مختلفو طریقو او تخنیکونو نه کار اخلي، چې ښکاري بار د هغو کسانو پهلو وزوز بالوي، چې غواړي تاریخ له ساینس نه وباسي، له دغو کسانو په او ژر و چې غواړي تاریخ په کښې شامل کړي. مهمه دا ده چې ډیرو نښیرلو دلایلو په د ساینس پوهانو له خوا څخه نه وړاندې کېږي، چې مورخان له خپلې غوره دلې څخه بهر کړي، بلکه د مورخانو او فیلسوفانو له خوا وړاندې کېږي، چې هغه لري، تاریخ دا د یالوپوه څانګه ثابته کړي. د بشري علومو او ساینس ترمنځ دا مناقشه د هغه پخوالي ویش تعصب ښیي چې په هغو سره داسې فرض شوې وه چې بشري علوم د حاکمه طبقې پراخ ثقافت تشکیلوي او ساینس د تخنیك پوهانو مهارت اماده کوي. د «بشریات»، او «بشري»، الفاظ په خپله په همدغې قرینې کې د همدغه وخت د تعصب پښابادي. او دغه حقیقت چې د ساینس او تاریخ ترمنځ ضدیت له بېلې هرې ژبې ته غیر، یوازې په انګریزي کې مفهوم لري، چې چې دغه تعصب یوازې خاص خصوصیت لري. زما لوی اعتراض چې تاریخ په ساینس کې و نه شمېرل شي دادی چې دغه انکار د تش په نامه، «دوه ثقافتونو» ترمنځ درز حق په جانب ښیي، او دوامي کوي یې. دغه درز په خپله د همدغه زاړه تعصب محصول دی، چې د بریتانیایي جامعې په ساختمان، چې هغه په خپله په ماضي اړه لري بنا دی. . زه په خپله په دې قانع نه یم چې هغه درز چې مورخ له جیالوجي پوه نه بیلوي، له هغه درز څخه چې جیالوجي پوه له فزیك پوه څخه بیلوي، ډېر ژور او ډېر پېښېدلو دی. خو زما په فکر هغه طریقه چې په هغې سره درز ورك شي، دا نه ده

چې مورخانو ته دې ابتدائي ساينس وښودل شي، يا ساينس پوهانو ته ابتدائي تاريخ وښودل شي. دا يوه کږه لاره ده چې کاږه تفکر پرې روان کړي. يو ساينس پوهان په خپله دغسې سلوک نه کوي. ما هيڅ اوريدلي نه دي، چې انجنيرانو ته دې سپارښتنه شوې وي چې د نباتات پېژندنې په ابتدايي صنفو کې دې درس و وايي.

يو علاج چې زه يې غواړم پېشنهاد کړم دادی چې د خپل تاريخ معيار هسک کړو يا که زه لږ ه کولی وشم و وايم چې خپل تاريخ نور هم علمي کړو، او له هغو کسانو څخه چې تاريخ تعقيبوي، جدي غوښتنې وکړو. تاريخ په دغه پوهنتون [کيمبرج] کې د يوه اکاډيميك ډسپلين په حيث کله کله د هغو له خوا چې لرغوني علوم له حلقه ګران او ساينس ډېر جدي بولي، د يوه ډېر آسان مضمون په حيث ګڼل کېږي، يو تقلو چې غواړم په دغو ليکچرونو کې يې ښکاره کړم دادی چې تاريخ تر ټولو علومو ډېر مشکل او د هر ساينس په څېر يو جدي مضمون دی، خو دا علاج په خپله په مورخانو کې چې څه کوي، د يوې قوي عقيدې لرل لازمه کوي. سر چارلز سنو، په همدغې موضوع کې په يوه تازه ليکچر کې يو مطلب ښکاره کړ او دا هغه وخت چې د ده د ساينس پوه د عجولانه، خوش بيني له د غلي شوې اوازه او وضد اجتماعي احساس، سره مقايسه کړ او هغه يې د ادبي روښنفکرو د تو په ۹۳. ځينې مورخان، او زياتره هغه کسان چې د تاريخ په باب ليکنې کوي، بې له دې چې مورخان وي، د همدغو د ادبي روښنفکرانو په نوع پورې اړه لري. دوی په دې بوخت دي او وايي چې تاريخ ساينس نه دی، او په دغه تبليغ لګيا دي چې تاريخ هيڅ شی کولی نه شي، او دغه څه بايد هيڅ و نه کړي او دغسې بايد وي، او دوی د تاريخ د ستر و موفقيتونو د پاره وخت نه لري.

بله چاره چې هغه درز پرې بند شي دادی چې د ساينس پوه او مورخ د غايو د مطابقت او عينيت ترمنځ لا ژور فهم زيات شي او دا دغې وار په وار زياتېدونکې

۹۳ـ سي. پي. سنو، دوه ثقافتونه او علمي انقلاب (۱۹۵۹)، مخونه ۸-۱

علاقې دعوی ارزښت تمثیل کوي چې د ساینس د فلسفې او د تاریخ په باب پیدا کیږي . ساینس پوهان ، اجتماعي ساینس پوهان ، او مورخان ټول د علمي پوهې مطالعې په مختلفو اړخونو بوخت دي . او هغه داچې د هغه د محیط په باب دانسان فهم ، او حاکمیت زیات کړي . د فزیک پوه ، جیولوجي پوه ، او حیات پوه ، او مورخ ټول په هغې فرضیې او طریقې په تفصیل کې سره برابر نه یو لري ، او زه نه غواړم ګمان هغې فرضیې ته منسوب و بولم چې مورخ د دي دپاره چې نور هم علمي شي ، باید د فزیک پوه طریقې ګام په ګام او ډیرې نږدې تعقیب کړي . مګر مورخ او فزیک پوه د تشریح لټولو په اساسي مقصد او د سوال او ځواب په اساسي طرز عمل کې سره متحد او یو دي . د بل هر ساینس پوه په څیر ، مورخ هم داسې یو حیوان دی چې پرله پسې پوښتنې اولي ؟ » . په بل لیکچر کې به هغه طریقې وڅیړم په کومو سره چې دی د ولې سوال طرح کوي ، او بیا زیار باسي چې ځواب ورته ووایي .

-۴-

# په تاریخ کې علت مېندنه

که څېړنې په بهیر کې وزو جوړولې شي، سر کوي، زه نه پوهېږم او هیڅکله مې نه دي غوښتي چې پوه شم ولې دغسې کېږي. خو که مې څوک ټینګ کړي، نو ممکن دسر کولو حادثه ښیدو په خاصیت پورې تړلې وګڼم چې ممکن درسته به وي خو هیڅ څیز نه شرح کوي، خو بیا زه کوم طبیعي ساینس پوه نه یم. په همدې توګه، یو څوک کولی شي د ماضي د پېښو په باب لیکنې او لوستنې وکړي، بې له دې چې وغواړي په دې پوه شي، هغه ولې پېښیږي، یا په دې قانع وي چې ووايي دوهم جهاني جنګ په دې پېښ شو چې هټلر جنګ غوښته. دا هم سمه ده، مګر هیڅ څیز نه شرح کوي. خو په دغه صورت کې دی بیا هم دا غلطي ونه کړي چې ځان مؤرخ یا د تاریخ محصل وګڼي. د تاریخ مطالعه د علتونو مطالعه ده. څنګه چې مې د روسي لیکچر په آخر کې وویل، مؤرخ پر له پسې پوښتنې چې «ولې؟» او تر هغو چې د ځواب په امید وي، آرام کولی نه شي. ستر مؤرخ - یا باید تر هغه په پراخه توګه ووایم - ستر مفکر، هغه څوک دی چې د نویو څیزونو یا نویو قرینو په باب د «ولې؟» پوښتنه کوي.

هیرودوتس، د تاریخ پلار، د خپل اثر په مقدمه کې خپل مقصد داسې بیان کړ چې هغه د یونانیانو او بربریانو د کړنو د خاطرو ساتل: «او په تېره بیا د هر بل څیز نه علاوه، د دوی د یو تر بله جنګ کولو علت ښودل دي.» ده په لرغوني یونان کې یوازې یو څو نوي شاګردان او طرفداران ومیندل حتی توسیدایډز(۱) په دې تومتي شوی دی

---

Thucydides .1

چې ده دعلت میند تې کوم واضح مفهوم نه لاره (۲) خو په اتلسمې پېړۍ کې څه وخت چې دعصري تاریخ لیکنې ناداو کښېښو دشو مونتسکیو (۳) په خپل اثر «د روماییانو د ستر توب علتونه اود هغوی دظهور او انحطاط په باب تفکرات» کې دا اصل دی «ګرزوونکي تکې په حیث وجود چې «عمومي علتونه» اخلاقي یا فزیکي» موجود دي چې په هرې پاچاهۍ کې عمل کوي ، هسکوي یې - ساتي یې ، او رنګوي یې» او یا داچې «هرڅه چې پېښېږي دهمدغو علتونو تابع دي .» یو څو کاله وروسته ، ده په خپل بل تألیف ، روح القوانین کې همدغه مفکوره منکشف او تعمیم کړله . دا یې مفهومه ده چې فرض شي «تول هغه معلولونه کوم چې موږ یې په جهان کې وینو» د «ړانده قسمت خلق کړي دي.» انسانان «دخپلو تخیلاتو په وسیله یې بې جوړي دول اداره شوي نه دي» . ددوی سلوک ځینې قوانینو یا پرنسیپونو تعقیب کړل چې د «اشیاو له طبیعت» (٤) څخه پیدا شوي وو . له هغه له وروسته تقریباً په دوه سوو کالونو کې مؤرخان او دتاریخ فیلسوفان په دې بوخت وو چې دبشر ماضي تجارب منشکل کړي او دا کار دهغو تاریخي پېښو د علتونو او قوانینو په کشف کولو سره سرته ورسوي چې دغه پېښې اداره کوي . علتونه او قوانین کله میخانیکي و ګڼل شول ، کله بیولوجیکي . کله هم په متافزیکي نومونو یادشول ، کله په اقتصادي ، او کله په روحیاتي . خو دامنلې شوې نظریه وه چې تاریخ دماضي دپېښو دعلت اومعلول په یوه منظم لړ او تسلسل کې ترتیبول وو . ولتیر (٥) دائرة المعارف ته دتاریخ په باب په یوې مقالې کې ولیکل چې «که ته له دې نه په پرته چې دامو دریا او سر دریا په غاړو کې یو پر بر دبل بربر په ځای راتلي

---

۲. الف . ام . کرنفورد ، Thucydides Mythistoricus, Passim

۳. Montesquieu . فرانسوی حقوق پوه او فیلسوف (م)

٤. روح القوانین ، مقدمه او لومړی فصل .

٥. F. M. A. Voltair (۱۶۹٤ - ۱۷۷۸) فرانسوی فیلسوف او لیکوال . (م)

بل څه موږ ته ویلی نه شي «هغه مواز نه څه ګټه لري؟» په دغو ورو ستیو کالو او کې دغه شکل څه اوښتی دی. په دغو وختو کې «دغو دلیلو نو په اساس چې «په تیر لیکچر کې پرې وغږیدم نو د نوموړي له تاریخي «قوانینو» څخه نه غږیږو. حتی د «علت» کلیمه هم یو څه له فیشن څخه لویدلې ده. یو علت بې هغه فلسفي ابهامات دي، چې نه غواړم دلته یې وسپړم. بل علت یې له معینیت یا جبر سره دغه مفروض ارتباط دی؛ چې اوس به پرې بحث وکړم. نو ځینې خلق اوس په تاریخ کې له «علت» څخه خبرې نه کوي، بلکه له «تشریح» یا «تعبیر» یا «دموقعیت له منطق» یا «د پیښو داخلي منطق» (دا ددایسي «کلمات دي) څخه غږیږي او علتي میتود «ولې پیښه شوه؟» ردوي، او په ځای یې وظیفوي میتود «څنګه پیښه شوه؟» غوره کوي. که څه هم دا روش حتماً دا پوښتنه چې څنګه پیښه شوه، له ځانه سره لري او موږ بیرته د (ولې ؟) پوښتنې ته بیايي. نور کسان دعلت دمختلفو اقسامو تر منځ فرق کوي لکه تخنیکي، بیالوجیکي روحیاتي او نور - او تاریخي علت ځانله بیله نوع بولي، که څه هم دغه فرقونه تر یوې درجې داعتبار وړ دي، دا به دیره مفیده وي چې دموجود مقصد دپاره په هغه څه تینګار وشي کوم چې دعلت په ټولو انواعو کې مشترک وي، نه داچې یو تر بله یې سره بیل وي. زه پخپله به دې راضي یم چې د «علت» کلمه په عمومي مفهوم سره استعمال کړم او دغه نور خاص تعبیرونه هیر وګڼم.

اوس به په دې پوښتنې پیل وکړو چې یو مورخ هغه وخت چې مجبور شي واقعاتو ته علتونه منسوب کړي، په عمل کې څه کوي، دمورخ دمیتود لومړنی خصوصیت دا دی چې ممکن دی هغې یوې پیښې ته په مشترک ډول څو علتونه منسوب کړي. داقتصاد عالم «مارشال یو وخت لیکلي وچې «خلق باید په هرې ممکنې وسیلې سره دیوه علت له نظر لیولو نه خبردار کړل شي ... ... یې له دې چې نور علتونه په نظر کې ونیول شي کوم چې دهغوی تاثیرات پرې وارد شوي دي» (۶) دازمونې کاندید که ددغې پوښتنې په ځواب

---

۶. «الفریډ مارشال یادګارونه» ای. سي. پیګو چاپ (۱۹۲۵) مخ ۴۲۸

*: Dicey

کې چې ، په ۱۹۱۷ کې ولې په روسیه کې انقلاب پېښ شو؟ ، یوازې یو علت و وایه دی په
نېکمرغه وی که په اخری درجه هم کامیاب شی . مورخ د علتونو له کثرت څخه بحث
کوی، کله ده څخه و غوښتل شول چې د بولشویکی انقلاب علتونه بیان کړی ، ممکن دی
دغه علتونه وشمیری : د روسیې پرله پسې نظامی شکستونه ، د جنګ تر فشار لاندې
د روسیې د اقتصاد سقوط ، د بولشویکانو تاثیر ناک تبلیغ ، د زراعتی مسئلې په باب
د تزاری د حکومت ناکامی ، د پطرو ګراد په فابریکو کې د استثمار شویو او ځپل
شویو کارګرو تمرکز ، دغه حقیقت چې لینن پوهیده چې څه کوی ، او په مقابل خوا
کې بل هیڅوک نه پوهیده ، او لنډه دا چې د اقتصادی ، سیاسی ، مفکوروی او شخصی
علتونو د اتفاقی او بې ترتیبو علتونو مجموعه ، او د لنډې مودې او اوږدې مودې علتونه .

خو دا موږ سمدلاسه د مورخ د میتود دوهم خصوصیت ته نږدې کوی . هغه کاندید
چې زموږ د پوښتنې په ځواب کې په دې قانع او راضي او سی چې د روسیې د انقلاب
په باب یو درجن علتونه یو په بل پسې بیان کړی : او هم دغسې یې پرېږدی ، ممکن په
دوهمه درجه کامیاب شی ، او یوازې کله کله په لومړی درجه کامیاب شی ، د ممتحنینو
حکم ممکن دا وی ؛ «ښه خبر مګر غیر مبتکر» . حقیقی مورخ څه وخت چې د خپل تالیف
د علتونو له لست سره مخامخ شی ، د وظیفې په لحاظ به ممکن ځان مجبور وګڼی چې
په علتونو کې نظم پیدا کړی ، د علتونو سلسله مراتب تثبیت کړی ، او د یو او بل په نسبت
د هغوی مناسبت وټاکی : ممکن دا فیصله وکړی چې کوم علت یا د علتونو کومه نوع
باید « په وروستی مراجعه کې » یا « په نهایی تحلیل کې » (د مؤرخانو مطلوب
اصطلاحات) نهایی علت ، یا د علتونو علت وګڼل شی . د موضوع په باب دا د ده خپله
توجیه ده . مورخ په هغو علتونو نوم ګنی چې دی یې مومی . ګیبن د روم د امپراتوری
هسکیدل او ړنګیدل د بربریت او مذهب کامیابی ته منسوب وګڼل . د نولسمې پیړۍ
د انګلیسی وګ مورخانو د برتانیا قوت او شتمنی د سیاسی موسساتو انکشاف پورې
په کومو کې چې د اساسی ازادی پرنسیپونه مضمر وو ، منسوب کړل . نن ورځ ګیبن

او د نولسمې پېړۍ انګليسي مورخان له موده لويدلي ښکاري په دې چې دوی اقتصادي علتونه چې معاصر مورخان يې تر لوړو علتونو ترمخه بولي، هېر کړي دي. هر تاريخي بحث د علتونو د ړومېيتوب په مسئلې باندې څرخيږي.

هنري پوانين کره، په هغه اثر کې چې ما په لومړي ليکچر کې ترې اقتباس کړی و، ويلي چې ساينس په عين وخت کې «د تنوع او پېچلتوب» او د «اتحاد او ساده توب» په لور په مخ ځي او دغه دوه ګونه او په ظاهر کې متناقضه، عمليه* د علم يو ضروري شرط دی.(۷) د تاريخ په باب دغه حکم هم لږ صدق نه کوي. مورخ د څېړنې په پراخه کولو او ژور کولو سره پراخه پسې د «ولې؟» د پوښتنې دپاره ډېر ډېر ځوابونه تهيه کوي. په دغو تېرو کالونو کې، د اقتصادي، اجتماعي، ثقافتي، او حقوقي تاريخ، د سياسي تاريخ د پېچلتوب او تر وحيات او احصائيو د او يو تخنيکونو په باب ځولانوی بصيرتونه پرېږدي - زموږ د ځوابونو شمېر زيات او ميدان يې پراخ کړی دی. خو وخت چې برتراند رسل مشاهده کړله «په ساينس کې هر پرمختګ موږ له ساده متحدو شکلونو څخه چې لومړی د سابقي او نتيجي په زيات تفاوت کې مشاهده کيږي د سابقو وهغې دوام لرونکې پراخې دايرې ته بيايي چې د مرتبطو په حيث پيژندل کيږي» (۸) په تاريخ کې حالت په سمه توګه ځرګند کړی دی. خو مورخ هغې دپاره چې په ماضي پوه شي، په عين حال کې د ساينس پوه په شان، مجبور دی چې د ځوابونو زيات شمېر ساده کړي، يو ځواب د بل ځواب تابع وګرزوي، او د پېښو او مشخصو علتونو په ګډوډۍ کې نظم او اتحاد راولي. «يو خدای، يو قانون، يو عنصر» او يوه لېرې اسماني پيښه» ياد «کوم ستر تصميم دپاره چې د يوه شخص د روزل کېدلو د فرياد

۷) هنري پوانين کره، د ساينس او فرضيه (۱۹۰۲) مخونه ۲۰۲ – ۲۰۳

۸) بي. ر. برتراند رسل، تصوف او منطق (۱۹۱۸)، مخ ۱۸۸.

غه به يو ځل وخوري.(٩) دهنري ادمز له خاتول اوس دله موده لويدلو نو کوم پسي شا ښکاري. خو حقيقت داده چې مورخ بايد دعلتونو په ساده کولو ، او هم دعقوي په ډير کولو سره کار وکړي. تاريخ دساينس په څير، دهمدغې دوه ګوني ،او په ظاهر کې نقيضې، عمليې له لارې پرمخ دروسي.

دلته بايد زه زړه نازړه ددې دپاره په څو او ګرځم چې په دوو مزو لاکوم وانعو بحث وکړم کوم چې زموږ په لارې باندې ايښتل شوي دي- يو يې تو ميزي،په تاريخ کې معينيت، يا دهيګل شرارت. او بل يې تو ميزي ، په تاريخ کې تصادف ، يا دکليو پاترا پزه.

لومړى بايد په دې باب يو څه و وايم چې دوى څنګه دلته ځاى کړل شوي دي. پروفيسر کارل پاپر د ١٩٣٠ څخه تر ١٩٤٠ پورې په لسو کالونو کې په ويانا کې په ساينس کې دنوي نظر په باب يو درونه کتاب وليکه (په دغو وختو کې دغه کتاب په انګريزي کې دعلمي تحقيق منطق په نامه ترجمه شوى دى)، او د جنګ په دوران کې يې دوه نور کتابونه په انګريزي کې وليکل چې تر دغه ډير مشهور دي او دغه دادي: خلاص مجامع او د غليمان يې، او د هستوريسزم فقر. (١٠) دا کتابونه هم دهيګل په ضد دعکس العمل د نوي جذباتي نفوذ په وجه ليکل شوي، چې هيګل يې له افلاتون سره يو ځاى دنازيزم سلف بللول شوى دى، او هم دغه يو څه کاوا که مارکسزم په ضد کښل شوي دي چې د ١٩٣٠ څخه تر ١٩٤٠ پورې په لسو کالونو کې دبرتانيايي چپيانو عقلاني فضا وه. دوه عمده هدفونه يې دهيګل او مارکس دتاريخ دغه ادعا شوي جبري فلسفې دي

٩- د هنري ادمز روزنه (بوسټون، ١٩٢٨) مخ ٢٢٤.

١٠- د هستوريسزم فقر، لومړى په ١٩٥٧ کې د کتاب په شکل په ويانا کې خپور شو ، سکر دغه کتاب له هغو مقالو څخه جوړ دى چې لومړى په ١٩٤٤ او ١٩٤٥ کې خپرې شوې وې.

چې‌ده دوا ره د «هسټوريسزم»(۱۱) په کرښته نامه عنوان کړی دی. په ۱۹۵٤ کې سرايسايه برلين‌دتاريخي‌حتميت په نامه مقاله خپره کړله . ده داڧلاطون په ضدانتقاد له قلم څخه‌وغورځوه، اودغه مسکن‌دا کسفورډدموسسې دهغې پخوانۍ ستنې دپاره دبوخه پاتې‌شوی احترام له منځه وړ، ۱۲ مګردبحث په حکم کې يې علاوه کړله چې دمارکس اوهيګل‌دهسټوريسيزم » په ډې داعتراض ورد ی چې په علتي ميتود سره دانساني کړنوشرح کول دانسان‌دازادې ارادې دانکار مفهوم لري . اومورخان زړه ور کوی چې له خپلوفرضي‌وجايبوڅخه (چې مايه اخرنۍ لېکچر کې پرې بحث

۱۱. ما دهسټوريسزم ( historicism ) د لفظ له استعمال څخه‌ډډه کړې‌ده. پوپر ... په پوره يا اخره هايسو کښې راوړی دی، چې ... دقيق توب ضروري له و. ... داده چې ... پروفيسر پاپر ... چې ... لسوستوالګی ... يې ارزښي دی، دغه اصطلاح له دقيق او مشخص مفهوم څخه خالي کړې‌ده. د اصطلاح ساتنو د تعريف په باب ... تيښګار فصل قرو شي ده. ... په دي‌پسوره ... چې له ... بحث کوی او پروفيسرپاپر (هسټوريسزم) د ... لفظ په حيث د تاريخ په باب د ... نظر ... راوړی چې ... په دغه تعريف کې ... نظرونه هم شامل دي ، چې ... زما په فکر هم دی ، اوتورېې ... مورخانو ... چې دي (دهسټوريسزم فقر ، مخ ۳) اعتراف کوی چې دهسټوريست ( historicist ) ... دلايل اختراع کوی ... (هسټوريست) ... استعمال کړی. ... هسټوريسيزم ... نظريات ... کوی، چې‌هم تاريخ په ساينس کې ... او هم ... په واضح ... په ( ... ) کې ، هيګل چې له پيش ګويي ... ډډه کړې ده ، دهسټوريسزم ... د هسټوريسزم فقر په تاليف کې هسټوريسزم داسې تعريف شوی‌دی ... اجتماعي ساينس ... ميتود ... چې تاريخي پيش ګويي ... مقصد ګڼي ... ( هسټوريسزم ) په عمومي‌ډول په انګريزۍ‌کې د جرمنۍ د ( historismus ) په عوض استعمال شوی‌دی . اوس پروفيسر پاپر ( historicism ) له ( historism ) څخه بيلوي ، او ... په ... استعمال ... د ( historicism ) ... اصطلاح کې ... ايم سي ... دارسي ... ( historicism ) ګڼه د تاريخ له فلسفې سره ... د تاريخ مفهوم ... (۱۹۵۹) مخ ۱۱

۱۲. په افلاطون ... او ... د اکسفورډ د پوه شخصيت ... ارچ. کراسمن ... په ... ... کې ... کراسمن ... افلاطون ... (۱۹۳۷).

وکې) غاړه وغړوی او هغه داچې د تاریخ په شارلماناتو، ناپلیوناتو، او ستالیناتو باندې اخلاقي محکومیت صادر کړی . خو سرایسایه برلین په څه سره یو محبوب لیکوال دی ، او د هغه آثار ډیر لوستونکي لری . په تیرو پنځوپا شپږو کالونو کې په دغه ملک (برتانیا) او دامریکې په متحده ایالتونو کې تقریباً هرچاچې د تاریخ په باب کومه مقاله لیکلې ده ، او یا یې په کوم تاریخي اثرجدی نقد کړی دی ، په هیګل، مارکس، او معینیت یې دانتقاد سپک او بې پروا ځنګونه وار کړی دی ، او په تاریخ کې یې د تصادف د رول د تشریح په باب دنا کامی بې مفهومی ته اشاره کړې ده . دا په ممکن یې انصافي وی چې سرایسایه برلین دې دخپلو شاګردانو دپاره مسئول وګڼل شی . حتی کله چې دی نا مفهومات هم وایی ، په دغسې جذابه توګه یې افاده کوی : چې زموږ پام خانته کوی . شاګردان نا مفهومات تکرار کوی ، مګرنه شی کولی چې جذاب یې کړی . په هرحال په دغو ټولو کې څه نوی شی نه شته . چارلسز کنګزلی[۱۴] چې زموږ د معاصر تاریخ د سلطنتي پروفیسورانو د برو ټلي پروفیسرنه دی ، او په غالب ګمان چې د هیګل آثار یې هیڅ لوستلي نه وی ، او د مارکس څخه به یې لا او ریدلي هم نه وی ، په ۱۸۶۰ کې په خپل افتتاحیه لکچر کې د انسان د خپلې هستۍ د قوانینو د ماتولو له مرموز قوت، څخه خبرې وکړلې او دا یې د ثبوت په حیث مثال راوړ چې په تاریخ کې هیڅ وحتمی سلسله د وجود نه کیدلی نه شی . [۱۵] خو له ښه مرغه موږ چارلز کنګزلی هیر کړی دی ، او دا پروفیسر یا پر او سر ایسایه برلین دی چې دوا ړو په دغه ملک کې دغه مړاس د قمچینې په زور ډیم ژوندی کړی دی . نو اوس یو څه ضرور لازم دی چې دغه ګډوډی ایسته کړل شی .

تولوړی به په معینیت وګرځوم او هغه په هیله کوم چې په غیر متنازع فیه توګه

۱٥ : C. Kingsley (۱۸۱۹ - ۱۸۷۵) انګلیسی ناول لیکونکی او مورخ . (م)

۱۶ : چارلز کنګزلی ، د سائنس دقیق حدود چې په تاریخ تطبیق کیږی ، ( ۱۸۶۰ ) مخ ۲۲ .

تعریف کړم او دغې عقیده به یې وګڼم چې هرڅه چې واقع کیږي، علت یا علتونه لري او په بل دول به واقع شوي نه وای چې ترڅو یې په علت یا علتونو کې کوم شی مختلف شوی نه وای. ۱۵ معینیت یوازې د تاریخ نه ، بلکه د ټول انساني سلوک مسئله ده . هغه بشر چې کړنې بې علت نه لري ، او په دې ډول هغه تا کلی شوی نه دی ، دومره مجرد دی لکه څومره چې فرد له جامعې څخه بهر وي ، په کوم چې موږ په یوه زوړ مبنې لیچکو کې وغږېدو. د پروفیسور پاپر اعتراف چې « په انساني چارو کې هر څه کېدونکي وي ،»۱۶ یا بې معنی یا دروغ دی . په عادي ژوندانه کې هیڅوک په دغه اعتراف عقیده نه لري ، او یا پرې عقیده کولی نه شي . دا قاعده چې هر څیز یو علت لري، زموږ د استعداد هغه شرط دی چې په هغه سره په خپل شاوخوا یو هیڅ و چې زموږ شاوخوا واقع کیږي ۱۷ . د کفکا۱۸ د داستانونو خپه کی رقمه کیفیت په هغه حقیقت کې پروت دی ، چې وا یې هر څه چې واقع کیږي ، واضح علت، یا داسې کوم علت نه لري چې هغه دې د تاکلو وړ وي او دا د انساني شخصیت په هغې کامل تجزیې سره منجر کیږي ، کوم چې په دغې ګڼمي بنا دی ، چې وقایع علتونه لري، او د دغو علتونو کافي شمیر د معلومولو وړ دی چې د انسان په ذهن کې د ماضي او حاضر زماني یوه طرح جوړه کړي ، داسې چې هغه په کافي اندازه منسجمه وي ترڅو چې

۱۵ . معینیت......دا معنی لري ... چې د مفروضات چې ځنګه دي ، هغې وي ، هر هغه څه چې پیښیږي په تفصیل ډول پیښیږي او مختلف کیدلی نه شي . که په دې هغې نه شي چې کیدلی شي ، بواړي دا معنی لري چې که مفروضات مختلف وای. (اس. ډبلیو. الیګزانډر، ارنسټ کسایرر (Ernst cassirer) ته تقدیمي شوي مقالې ، ۱۹۳۶، مخ ۱۸ )

۱۶. کې . آر. پاپر ، خلاصه جامعه (دوهم چاپ، ۱۹۵۲) II ، مخ ۱۹۷ .

۱۷ . (د علیت قانون په موږ باندې د جهان له خوا تحمیل شوی نه دی ، بلکه ممکن زموږ د پاره هغه ډیره اسانه طریقه وي چې په هغې سره موږ له جهان سره ځانونه وفق ورکړو) (جې . رویف ، د فزیکي علم او اجتماعي سایسونو ترمنځ یا اپیوره ، ۱۹۲۹ ، مخ ۵۲ ) .

۱۸. Kafka

د ګروډپاره لاربیود وګرزي . ورځني عادي ژوند په ناممکن وي چې ترڅو یو څوك دغسې ونه ګڼي چې انساني سلوك او کردار په علتونو سره تاکــل کیږي ، او دغه علتونه په اصل کې د معلومېدلو وړ دي . یو وخت خلقو دا کفر ګاڼه چې د طبیعي حادثو په علتونو کې تحقیق وکړي ، او دغو اداره بې واضحاً د انساني ارادې په واك کې ګڼله . د دغې تشریح په مقابل کې د سرِ ابسایه برلین ، اعتراض چې انسانان ولې هغه اعمال کوي ، کوم چې کوي یې ، په دغه دلیل چې دغه اعمال دانسانانو د ارادې زیږنده دي ، د همهغو مفکرو په نظم پورې اړه لري ، او ممکن دا بیکاره کړي ، چې اجتماعي علوم نن ورځ دا نــکشاف په هغه پړوا کې دي ، کوم چې یو وخت طبیعي علوم وو یعني هغه وخت چې د غسې دلایل د هغو په ضد راوړل کېدل .

اوس به وګورو چې موږ په ورځني ژوندانــه کې دغه مسئله څنګه وینو . هغه وخت چې تاسې په خپلو ورځنیو چارو پسې ځئ ، تاسې د عادت له مخې له ( سمت ) سره مخامخ کیږئ . په روغ وبړ کې له هغه څخه د هوا ، یاد پوهنځي او یاد پوهتون د حال په باب صحیحې مګر بې مقصده پوښتنه کوئ . دی هم په مقابــل کې د هوا یا د نورو چــارو په باب صحیحې مګر بې مقصده ځواب وایي . خو داسې وګڼئ چې (سمت) کومه ورځ د دغسې عادي او صحیحې ځواب په ځای ستاسې د شخصي صورت یا اخلاقو په باب یوه ډېره تنده او ترخه خبره وکړله . ایا تاسې به خپلې اوږې وخوځوئ او هغه به د (سمت ) د ارادې د ازادۍ او یا د دغه حقیقت چې په انساني چارو کې هر څه کېدونکي دي ، یو قانع کوونکي اثبات وبولئ ؟ ګمان مې نه شي ، برخلاف ، تاسې ممکن دغسې یو څه ووایئ : « بېچاره ګړوتی سمت ! تاسې خبر یئ چې پلار یې په عقلي روغتون کې مړ شوی ، » « بېچاره سمت ! له ماینې سره یې بیا حال تریخ شوی وی ، » په بل عبارت ، تاسې به ز یاروباسئ چې صحت په ظاهر کې بې علته سلوك علت تشخیص کړئ او په دغې عقیده به ټینګ اوسئ چې د هغه سلوك ارومرو علت لري .

څوزه په دې ویره کې یم چې تاسې به په دغې وضع سره د سرایسایه برلین قهر وغضبه ځانته جلب کړی، ځکه چې دی ممکن سخته ګیله وکړی! چې تاسې د سمت د سلوك په باب د علت مبدا سره په کوښښ سره د مارکس او هیګل د معینیت فرضیه منلې ده؛ او له دغه مسئولیت څخه موضاره غوړولې ده چې په سمت دیوه اواره او بې ترتیبې حکم وکړئ. خو په عادي ژوندانه کې هیڅ څوك دغسې فکرنه کوی، او دا هم نه فرض کوی چې معینیت او یا اخلاقي مسئولیت په خطر کې دی. په حقیقي ژوندانه کې د ازادې ارادې او معینیت په باب منطقي معمی نه شته ده. داسې هم نه ده چې ځینې انساني اعمال ازاد او ځه بې تاکلي شوي دي. حقیقت دادی چې ټول انساني اعمال د هغه نظرله مخې چې تاسې ورته ګورئ، هم ازاد او هم تاکلي شوي دي. عملي مسئله بیاهم بله ده، د سمت عمل علت یا یو شمیر علتونه اری، خو تر هغه ځایه چې هغه د کوم خارجي اجبار معلول نه وو، بلکه د هغه د خپل شخصیت د اجبار زیږنده وو دی په اخلاقي لحاظ مسئول ګڼل کیږی، ځکه چې د اجتماعي ژوند شرط دادی چې طبیعي بالغ انسانان د خپل شخصیت اخلاقي مسئولان دي. داچې تاسې به سمت په دغې خاصې مسئلې کې مسئول وګڼئ، هغه ستاسې په عملي قضاوت اړه لری. خو که تاسې بې مسئول ګڼئ؛ معنی یې دا نه کیږی چې تاسې به د ده عمل بې علته ګڼئ: علت او اخلاقي مسئولیت مختلف انواع دي. په دغو ورځو کې په دغه پوهنتون [کیمبرج] کې د جرم پیژندنې یوه موسسه افتتاح شوې ده. زه باور لرم چې هر هغه چا ته به چې د جرم د علتونو په تحقیق بوخت دی، دا فکر رانه شي چې دوی متعهد شول چې دا به نو د مجرم د اخلاقي مسئولیت د انکار سبب شي.

اوس به یو مورخ په نظر کې ونیسو. دیوه عادي انسان په څیر دی په دغې عقیده دی چې انساني اعمال علتونه لری او هغه معلوم کیدلی شي. تاریخ به د ورځینۍ ژوندانه

په غیر ناممکن شي، چې که دغه پېښې فرضیه وتمثیل شي. دا د مورخ خاصه وظیفه ده چې دغه علتونه وسپړي او لوخ یې کړي. ممکن دغه پېښې فکر وشي چې دغه به دی دانساني سلوک په معین ځوی ارخ کې په خاص ډول علاقمن کړي، خو دی دازادۍ او ارادې رد نه کوي، مګر دغه هغه غیر منطقي اساس رد کوي چې وايي ازادا عمال علت نه لري. داسې هم د حتمیت مسئله دې نه رېږوي. مورخان د نورو خلقو غوندې، کله کله په ادبي ژبه افاده کوي او د «حتمي» کلمه استعمالوي، مګر مقصد یې تر بنه داوي چې د عواملو اتحاد يوه لوړ ته دیوه شخص توقع په شدت سره پیاوړې کوي. په دغه وخت کې ما خپل تاریخ د دغې د برووښکې کلمې دپاره ولټوه، او محاله درو غتیا پوره تصدیق ور کولی نه شم. په یوه فقره کې مې کښلي وه چې د ۱۹۱۷ له انقلاب څخه وروسته د بولشویکانو او ارتودکسي کلیسا ترمنځ نښته «حتمي» وه. بې له شکه معقوله به داوای چې دغه په ځای «بې نهایت محتمل» راغلی وای. خو ایا زه په حقیقت کې وایم که وایم دغه سمون ما ته یوڅه کتابي معلومیږي؟ مورخان په عمل کې داسې نه ګڼي چې وقایع ځکه پېښ اله دي چې پېښ شي، حتمي وي. دوی زیاتره په نورو لارو چارو بحث کوي، چې د داستان تمثیل کوونکو ته خلاصې وي. دوی دغه بحث د دغې فرضیې په اساس کوي چې اختیار او دانتخاب حق دوی ته خلاص وو، که څه هم مورخان په سمه لاره دومي چې دوی تشریح کوي چې په پای کې ولې د عمل دغه لاره غوره شوله، او مقابله غوره نه شوله. په تاریخ کې هیڅ شی حتمي نه دی، مګر په هغه صورت مفهوم سره چې دغه شی که په بل ډول پېښ شوی وای، بايد دغه رومبي علتونه مختلف وای. زه د یوه مورخ په حیث د یښه پوره اماده یم چې د «حتمي» «اجتناب ناپذیر»، «غیر قابل فرار»، او «د چاره نه لرونکي» له کلماتو نه غیر ځېل مطالب افاده کړم. ژوند به لا ډیر یکنواخت شي. خو راځئ چې هغه شاعرانو او د طبیعت له اغوا پوهانو ته وپریږدو.

د حیثیت دغه تور دومره ورځ اوږې مقصوده ښکاري ، او هم هغه قوي شلت چې په هغه سره دغه تورمت په دغو تړدی. کالزلوکې تعقیب شوی دی ، دومره ورځ ښکاره کیږي چې زما په فکر حتمي ده چې دمغوشانه دپټوسوابقواومحرکاتو دپاره لټون وکړو. زما په گمان چې د مغولوبه منبع هغه ده چې زه به یې دممکن‌سوای د فکري مکتب یا پلکه جلمی په نامه یادکرم. دایبرازي به معاصر تاریخ پوري اختصاص لري. ماتیر کال دلته په کیمبرج کې یو عنوان ولید چې دکومې تولني له خوا اعلان شوی وو: «ایادروسیې انقلاب حتمي و؟» زه باور لرم چې دا به یو جلدی بحث و. څو که تاسې ددغه عنوان اعلان ولولئ «ایادگلوتر جنگ حتمي و؟» تاسې به صدلاسه دکومې تولنې گمان پرې وکړئ. مورخ دنورمان دفتح ، او دامریکې دازادۍ دجنگ داسې ذکر کوي چې لکه دمغو وقوع حتمي وو، او دمورخ وظیفه اوس داده چې شرح کړي چې څه پېښ شول او ولې پېښ شول. هیڅ څوک به یې جبري ونه بولي او په دې به یې تورمتي نه کړي چې یې ولې ونه شو کولی هغه لاري چاري او امکانات ولټوي چې ممکن فاتح ویلیم ١٩ او یا دامریکې یاغیان مغلوب شوي وای. سره له دې هم څه وخت چې زه د روسي د انقلاب په باب صدلضي لیکنه کوم - یعني په هغې برازی مناسبې طریقې سره چې د مورخ دپاره خلاصه ده - منقدان به ما انتقادونه کوي. انتقادونه داده ی چې وایي زما له لیکنو څخه دا راوځي چې دواقعاتو شرح داسې شوی ده چې لکه دمغو وقوع حتمي وو، او په دې موفق شوی نه یم چې هغه نورخیزونه وڅیړم چې ممکن پېښ شوي وای. ویل کیږي چې فرض کړو ستالي پن ٢٠ کافي وخت لرلای چې دمخکو اصلاحات بې پوره کړي وای، یا روسیه په جنګ کې شامله شوي نه وای ، ممکن انقلاب

١٩. William the Conqueror (١٠٢٧ - ١٠٨٧) د انګلستان پاچا. (م)

٢٠. P. Stolypin (١٨٦٢ - ١٩١١) له (١٩٠٦) څخه تر ١٩١١ (پورې) د روسیې صدراعظم. (م)

به پېښ شوی نه وای . یا فرض کړی چې د کرنسکي ۲۱ حکومت دغه جبران کړی وای ، او د انقلاب مشري د منشویکانو یا اجتماعي انقلابیونو لاس ته ورغلې وای، او د بولشویکانو لاس ترې لنډ وای. په نظري لحاظ دغه فرضیې تصور کېدونکې دي. او یو څوک کولی شي د تاریخ د « ممکن - وای » له طرفدارانو سره دغه په یوه سالون کې تل لوبې وکړي . مګر دا فرضیې په معینیت پورې هیڅ اړه نه لري؛ ځکه چې جبري به یوازې دغه ځواب ووایي چې ددې دپاره چې دغه شیان پېښ شوی وای ، باید دعلتو نه هم مختلف شوی وای. داسې هم فرضیې په تاریخ پورې هیڅ اړه نه لري . مقصد دا دی چې نن ورځ هیڅ څوک په کلکه سره نه غواړي چې د نورمان د فتح یاد امریکې د ازادۍ نتایج معکوس کړي ، او یا ددغو پېښو په مقابل کې شدید اعتراضونه وکړي او هیڅ څوک په دې اعتراض نه کوي چې مورخ هغه تمام شوی فصل ګڼلی . خو داسې خلق ډېر دي چې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د بولشویکي انقلاب له نتایجو څخه زیانمن شوي دي؛ یا تراوسه هم دغو له لېرې نتایجو څخه وېره لري، او غواړي چې دغه په ضد اعتراضونه وکړي. او کله چې دوی یو تاریخ لولي ددوی اعتراض ددې سبب شي چې خپل تخیل د تېرو هغو موافقو خبرونو په باب چې ممکن پېښ شوي وای ، یاغي پرېږدي ، او هم ددې سبب شي چې ځان له مورخ نه مرور کړي یعنې له هغه چا سره چې په ارامۍ سره په خپل کار بوخت دی او غواړي ددې شرح وکړي چې دغه شیان ولې پېښ شول او هغه موافق خیالونه ولې ناتکمیل پاتې شول . د معاصر تاریخ مشکل دا دی چې خلق هغه وخت په یاد لري په کوم کې چې د عمل د ټولو انتخابونو دپاره ور خلاص وا و دا ورته مشکله وې چې د مورخ رویه یعنې د چا د پاره چې د دغوی اختیار دا جراشوی څیز ۲۲

۲۱. A. Kerensky (۱۸۸۱ - ) د بولشویکي انقلاب نه د مخه په ۱۹۱۷ کې د روسیې د موقتي حکومت صدر اعظم . (م)

۲۲. Fait- acompli

له مخې تر لې وي ، غوره کړي . دا يو صاف پاک جدلياتي او غير تاريخي عکس العمل دی . خو د وتاريخي حتميت، دفرضيې دو کتورين په ضد بې ددغې مبارزې دپاره دسرلي ديرمواد غونډ کړي دي . را ځئ چې له د غه بنديز نه ځان دتل د پاره ازاد کړو .

دا تضاد هغه پله منبع د کليوپاترا دپزې مشهوره سخته معمی ده . دا هغه تيوري ده چې وايي تاريخ په عمومي ډول دحادثاتو يو فصل ، يا دپېښو يو لړ دی : چې تصادفي پېښو تاکلي دي او يوازې ديرو تصادفي علتو نو ته منسوب کېدلی شي . داکتيوم ٢٣ دجنګ نتيجه دهغو علتو نو په وجه نه ده چې مورخان يې په مشترک ډول طرح کوي ، بلکه له کليو پاترا سره دانتوني د مين کېدلو په وجه ده . کله چې بجازت ٢٤ دنقرس درنځ دحملې له امله په منځنۍ ارو پا باندې له دانګلو څخه پاتې شو ، ګيبن دانظريه اظهار کړه چې ديوتند و تر يخ خوي چې د يوه شخص په يوه واحد نسج حواله شي ، ممکن دملتونو دبدبختۍ مانع شي ، يا يې تال کړي . ٢٥ کله چې په ١٩٢٠ کې د يونان الېکزاندر پاچا ديوې کوزتې شادۍ له چيچلو نه مړ شو ، دغې پېښې يو لړ حوادث مېنځ ته راوستل ، چې سرونستن چرچيل داسې تبصره پرې وکړه : د دغې شادۍ په چيچلو سره ديوه ميليون څلورمه برخه اشخاص مړه شول . ٢٦ او س بيا د تراټسکي هغه تبصره راواخلئ کومه چې ده دهغې تبې په باب کړې ده چې ده ته دا يلبو دښکار په وخت کې پېښه شوې وه او د ی يې له زينا ويف ٢٧ ، کامنيف ٢٨ او ستالين سره د ١٩٢٣ په مني کې د جګړې په يوه ډېر حساس

---

٢٣. The Battle of Actium

٢٤. Bajezet

٢٥. د روم د امپراطورۍ انحطاط او سقوط ، فصل LXIV

٢٦. ونستن چرچيل ، جهاني بحران ، تاليف پس ، (١٩٢٩) ، مخ ٣٥.

٢٧. G. Zinoviev (١٨٨٣-١٩٣٦) روسي بولشويکي مشر . [م]

٢٨. B. Kamenev (١٨٨٣-١٩٣٦) روسي بولشويکي مشر (م)

وخت کې له کارته وغورځوه : « یو څوك کولی شي د جنګ یا انقلاب پېښ بیني وکړي ، مګر دا ممکنه نه ده چې په مني کې دوحشي ایلیوه ښکار د سفر تاریخ پېښ بیني کړل شي . » ۲۹ لوموړی څیز چې باید واضح شي دا دی چې د دغه مسئله دمعینیت له مسئلې سره هیڅ اړه نه لري . له کلیو پاترا سره دانتوني مسحور کېدل یا د بیجازت د نقرس حمله یاد تراټسکي سره لړې، هغومره په علیتي ډول سره ټاکل شوي وو ، لکه څومره چې بوه بله پېښه کېږي . خو د کلیوپاترا د ښکلا بې لزومه سپکاوی دی چې ووېل شي دانتوني مسحور کېدل هیڅ علت نه لري . د ښځې ښکلا او د نارینه د مسحور کېدو ترمینځ ارتباط د علت او معلول له هغو ډېرو منظمو سلسلو څخه دی چې په ورځني ژوندانه کې د مشاهدې وړدی . دغه ټول په نامه تصادفات په تاریخ کې د علت او معلول یوه سلسله تمثیلوي ، داسې چې هغه هغه سلسله ویحاره کوي په کومې چې مورخ ترهرڅه زیاتې په تحقیق بوخت دی ، او یا ـ د چاچېره ـ ورسره تصادم کوي . (بري) بالکل په درسته سره د « دوو بېلو کړیو له تصادم » ۳۰ څخه ګرېزي . سرابېسایه برلین د خپلې مقالې ـ تاریخي حتمیت په سر کې کله چې د برنارډ برنسن ۳۱ د مقالې د تاریخ تصادفي نظریه ستاینه کوي یوله هغو کسانو څخه دی چې په دغه مفهوم سره تصادف د علتي تعیین له نشته والي سره یواو مخلوط ګڼي . خوله دغه مغشوشیت نه علاوه ، موږ بله حقیقي مسئله په مخ کې لرو . په تاریخ کې یو څوك څنګه د علت او معلول یو منسجم لړ کشف کولی شي ، موږ څنګه په تاریخ کې مفهوم میندلی شو ، په داسې حال کې چې هره شیبه ددې امکان شته چې زموږ لړ وشلېږي ، یا کوږ شي ، او دا کار دیوه بل ، او زموږ له نظره

---

۲۹. لیون تراټسکي ، زما ژوند (انګرېزي ترجمه ، ۱۹۳۰) مخ ۴۹۵ .

۳۰. په دغه باب د (بري) د استدلال د پاره [illegible] د ترقي فکر له (۱۹۲۰) مخونه ۳۰۳ ـ ۳۰۴ .

۳۱. Bernard Berenson

دیوه نا مربوط اړله خوا وکړل شي ؟

د له یه یوه شبه ممکن وکړ وچې په تاریخ کې دتصادف درول په دغه تازه پراخ تینګار غور وکړ . پولي بیوس شاید لومړنی مورخ وي چې په دغه باب یې خپل ذهن په منظم دول مشغول کړی وي ، اوګیبن دغه علت ژرلوڅ کړ . ده دغه نظریه وړاندې کړله چې « یونانیان وروسته له دې چې ملك یې په یوه ولایت بدل شو ، د روم فتوحات یې دجمهوریت بخت ته منسوب کړل ، نه دهغه ښیګڼې ته . » ۳۲ تاسیتوس ۳۳ چې هغه هم دخپل هیواد دانحطاط دوخت مورخ و ، یو بل لرغونی مورخ و چې دتصادف په باب یې دغسې پراخ تفکرات وکړل . د برتانیا نیایي لیکوال له خوا په تاریخ کې دتصادف داهمیت لوی تینګار له هغه وخت څخه شروع کېږي چې دوبرې او بې ثباتۍ حال په دوی راغلی دی اودغه حال دموجودې پېړۍ په شروع سره محسوس شوې ، او له ۱۹۱٤ څخه وروسته یې واضح اومشخص شوی دی . ښکاریږي چې (بری) لومړنی مورخ وي چې دغه حال ته یې له اوږ دې مودې وروسته پام کړی وي . ده په ۱۹۰۹ کې په یوې مقالې کې ( په تاریخ کې د داروینزم ) په باب د « چانس دوقوع عنصر » ته پام وګرځوه چې هغه په زیاته اندازه « په اجتماعي تکامل کې دواقعاتو له تعیین کولو سره کومك کوي » . په ۱۹۱٦ کې یې یوه بله مقاله - ( د کلیوپاترا پزه ) ۳٤ - همدغې موضوع ته وقف کړله .

۳۲. د روم دامپراطورۍ انحطاط او سقوط ، فصل ۳۸ ، دغه خبرې یا دونه د دې سره ده چې یونانیان ، وروسته له دې چې د رومیانو له خوا فتح شول ، د تاریخي (ستګن - رائی) یعنې مغلوبو شویو دمطلوب تسلیت په لټه کې شول . دوی غالبانو ته دا نه ویل چې که سکندر په ختیځ کې نه وای شوی ، هغه به غرب فتح کړی وای او روم به د هغوی تابع وای (کې . فان . فرتز ، په لرغونو زمانو کې دمخلوط اساسي قانون نظریه ، نیویارك ، ۱۹۵٤ ، مخ ۳۹۰ ) .

۳۳. P.C. Tacitus دیخوالي روم مورخ . (م)

۳٤. دواړه مقالې د (بري) په غوره مقالو کې چاپ شوي دي ( ۱۹۳۰ ) . دبري په نظریاتو

اچ . ای . فشر، په هغې فقرې کې چې د مخه مو ترې اقتباس شوی دی خپله سرگیچې له دوهم جنگ نه وروسته د لیبرالي خوبونو دناکامي په باب منعکس کوي او له خپلو لوستونکو څخه غوښتنه کوي، چې په تاریخ کې « د احتمال او نه لیدونکي لوبه »۳۵ وپېژني . په دغه ملک کې د تاریخ د تیورۍ دغه شهرت چې هغه د تصادفاتو یو فصل دی په فرانسې کې د فیلسوفانو دیوه مکتب له ظهور سره تصادف کوي . فیلسوفان یې داسې تبلیغ کوي او وژه ځانګړی ژان پل سارتر۳۶ مشهور L'Etre et le neant : اقتباس کوم - چې وجود نه علت ، نه دلیل ، او نه ضرورت ولري . په جرمني کې میانګی- هغه پوخ او مجرب مورخ چې موږ د مخه دهغه یادونه کړې ده - د ژوند دانه په وروستیو پړاوونو کې په تاریخ کې د تصادف په رول معتقد شو . داسې ګڼي چې یې په دې ملامت کړ چې ده ولې هغه ته کافي توجه نه ده کړې . ده له دوهم جنګ نه وروسته ملي مصیبتونه یوه تصادفاتو ته منسوب وګڼل : د قیصر تکبر، دوایمار د جمهوریت د رئیس په حیث د هندنبرګ انتخاب ، د هټلر زورورونکې سجیه او داسې نور . دا تور څه نه دي بس دیوه ستر مورخ د ذهن افلاس دی چې د خپل هېواد د بد بختیو تر فشار لاندې دغسې شوی دی . ۳۷ په یوې ډلې، یا یوه ملت کې چې د تاریخي پېښو په لحاظ مخ په مخورې وي ، او

---

باندې د کالنګ وو د تېصرو د پاره وګورئ : د تاریخ مفکوره ، مخونه ۱۱۸ - ۱۰۲ .

۳۵ . د هغې فقرې د پاره وګورئ مخ ۴۲ (پورته) . د تاین بي په تالیف ! (د تاریخ مطالعه) کې د (فشر) د تاملاتو اقتباس پوره ګلطفهمی څرګندوي . دی هغه د تصادف په مطلق قدرت باندې د معاصر غرب د عقیدې د محصول په حیث ګڼي چې لیسه فرېږي (توابه کړ) . ماسیه قرتیورې پوهانو په تصادف عقیده نه لرله ، بلکه دوی په هغه پټ شوي لاس عقیده لرله ، چې د انسا ناتو په منظم طلوکولو باندې یې په انتظامات تحمیل کړل او د هغو تېصره دلیسه قبر لیرالزم محصول نه و ، بلکه د ۱۹۲۰ او ۱۹۴۰ کالونو ترمنځ د هغه د دشیع محصول و .

۳۶ . J. P. Sartre د فرانسې معاصر فیلسوف او لیکوال (م) .

۳۷ . د مرسوط عبارت د پلېو ، متاره په هغې مقالې کې اقتباس کړی دی چې ده د اف . میانګی په ماکیاولیزم باندې لیکلې (۱۰ ) مخونه ۳۵ - ۳۶ .

د هغې په لوړ روان نه وي هغه تیوري ګڼلې چې په تاریخ کې د بې علته عمل او تصادف په لوړ ښکار کوي ـ غلبه پیدا کوي. دا نظریه چې د امتحان نتایج تول لا تري دي ، په هغو شاګردانو کې دېر رواج موندلی چې په اخري درجه کامیاب شوي دي.

خو د بوري عقیدې د منا بعو سرچپه د هغې ور ګول نه دي. او موږ لا هم باید دا کشفه کړو چې د کلیوپاترا پزه د تاریخ په مخونو کې څه کوي. دا سې ښکاري چې موږ تشکیو لو مړني شخص وي چې زیاربې ایښی دی چې د دغې مداخلې په ضد د تاریخ له قوانینو څخه دفاع وکړي. ده د روم یا تو د ستر توب او انحطاط په تالیف کې دا سې عقیده ښکاره کړله : « که دیوه جنګ د تصادفي نتیجې په څېر ، یو دولت ، یوه خاص علت تباه کړی وي ، هلته یو عمومي علت موجود وي چې د دې سبب شوی دی چې دغه دولت دې په یوې جګړې کې سقوط وکړي . » مارکسستان هم د دغې مسئلې په باب مشکل لري. مارکس یوازې یوه پلا په دغې لیکنه کړې او هغه هم په یوه لیک کې:

« جهاني تاریخ به ډېر تصوفي خصوصیت غوره کړی چې که هلته د تصادف د پاره ځای نه وي . دا طبیعي ده چې تصادف پخپله د انکشاف د عمومي میلان یوه برخه ګرځي او د تصادف په نورو اشکالو سره جبران کېږي . خو تسریع او تاخیر په دغې « بې علته اعمالو » پورې مربوط وي : چې هغه د افرادو چې دیوه جنبش په شروع کې په سر کې وي ، د « تصادفي » خصوصیت مشمول وي . » ۳۸

مارکس په دغه ډول سره په تاریخ کې د تصادف د پاره تو دریو عنوانو لاندې علروله تقدیم کړل . لومړی دا چې دا چندان مهمه نه ده : دا د تاریخ سیر « سریع کوي » یا یې « ځنډوي » ، مګر له هغه نه داسې استنباط کېږي چې په انقلابي ډول سره یې نه اړوي . دوهم دا چې یو تصادف په بل سره جبران کېږي ، تر څو چې په پای کې تصادف ځان له منځه وباسي . دریم دا چې تصادف مخصوصاً د افرادو په

۳۸. مارکس ـ انګلز ، منوره آثار ، (روسي چاپ) ، XXVI ، مخ ۱۰۸.

سحیه کې تبارز کوی. ۳۹ ترانسکی د بې علته اعمالو د جبران کولو، او د هغان د محو کولو تیوري په یوه ساده قیاس سره پیاوړې کړله.

«توله تاریخي عملیه د تصادف له لارې د تاریخي قانون انکسار دی. مونږ په دبیالوجۍ په ژبه وویل شو چې تاریخي قانون د تصادفاتو په طبیعي انتخاب سره تحقق مومي.» ۴۰

زه په دې اعتراف کوم چې دغه تیوري ماته قناعت بښونکې نه ښکاري. په تاریخ کې د تصادف رول په دغو ورځو کې دغو کسانو له خوا چې علاقمن دی اهمیت بې زیات کړی، په جدیت سره په مبالغه یې د رول باد پېژی خو تصادف وجود لري، او چې و ویل شي هغه یوازې تسریع کوي، یا ئې ځنډ کوي، اړول نه کوي، له الفاظو سره لوبې کول دي. دلسې هم زه کوم دلیل نه وینم چې متقاعد شم د کومې تصادفي پېښې مثلاً د غلوړو پنځوسو کالو نو په عمر د لینن پخوا تر وخته مړینه به له یوې بلې تصادفي پېښې سره په داسې دول جبران شي چې د تاریخي عملیې میزان به بیرته په ځای کړي، داهم په هغې اندازې سمه نظریه ده چې وویل شي په تاریخ کې تصادفي پېښه یوازې زموږ د ناپوهۍ اندازه ده یعنې یوازې د یوه داسې څیز نوم دی چې موږ پرې پوهیدلي نه شو. ۴۱

په دې کې څه شک نشته چې کله کله دغسې هم پېښیږي. سیارات د ګرځیدو نکو، په نامه یادشول او دا هغه وخت چې د اسې فرض شوې وه چې دوی په آسمان کې په نامنظم او اتفاقي دول حرکت کوي او د دوی حرکت لاهغه وخت معلوم شوی نه وو.

۳۹. د تولستوی په نظر «تصادف» له «شرع» سره ساوی دی او د هغو اوړه وانسان د ناتوانی هغه الفاوی دی چې نه ئې کولی په نهایی علتونو پوه شي» جنګ او سوله، اپیلوګ برخه.

۴۰. ترانسکی، زما ژوند، (۱۹۳۰) مخ ۴۲۲.

۴۱. تولستوی په دغه نظر، «موږ مجبور یو چې د خیر طبلي پیښو د تشریح په حیث سرتې په قسمت ولږیږو یعنې داچې هغه وقایع چې د هغو په علیت سرتې نه پوهیږو.» (جنګ او سوله، تصنیف کتاب، فصل ۱) ؟

یوشی په سوه تصادف سره شرح کول هغه اسانه طریقه ده چې په هغې سره یوشخص غواړی دهغه دعلت دلټولو له ستړي کیدو نکې وظیفې څخه ځان وژغوری. کله چې ماته یوڅوک ووایی چې تاریخ د اتفاقي او تصادفي کړنو یوفصل دی ، زه به هغه د عقلاني لیږي، یاد بلکه عقلاني حیاتیت گمان کوم . د جدی مورخانوپه نزد دا یو مشترک تمرین دی چې وایي هغه څه چې تراوسه پوري دیوه تصادف په حیث تمثیل کیده، اتفاقي یعني نه و، بلکه دهغه تشریح په عقلي دول بالکل کیدلی شي اوهغه د واقعاتو په پراخې طرح اوترتیب کې په مهم دول سره ځائیدلی شي . خو دا زموږ د پوښتنې پوره ځواب نه راکوی. اتفاقي حادثه یوازې دا سې یوشی نه دی ، چې موږ پری پوهیدلی نه شو. زه په دې عقیده یم چې په تاریخ کې باید د اتفاقي حادثې دمسئلې حل دمفکوروپه یوه کاملاً مختلف تظم کې ولټول شي .

په یوه رومبی پړا و کې مو ولیدل چې تاریخ دمورخ له خوا دحقایقو په غوره کولواوترتیبولوسره شروع کیږی چې ترڅو په تاریخي حقایقوبدل شي. تول حقایق تاریخي حقایق نه دی . خو دتاریخي اوغیرتاریخي حقایقو ترمینځ توپیردایمي اووچ کلک نه دی. دچاخبره، هرحقیقت ممکن دتاریخي حقیقت مقام ته ترفیع وکړی یوازې دومره چې دهغه مربوطیت او اهمیت وښودل شي. نو اوس و ینو چې دعلتونو دمیلدلو دپاره د مورخ په روش کې یو وازوروته عملیه کار کوی . وعلتونو ته د مورخ مناسبت هغه دوه گونډ او متقابل خصوصیت لری، کوم چې دمورخ مناسبت یې دهغه له حقایقو سره لری . علتونه دهغه دتاریخي عملیې توجیهه تاکي اودهغه توجیهه دهغه دعلتونو انتخاب او ترتیب معین کوی، دعلتونو سلسله مراتب ، دیوه یابل یا یوه درجن علتونو نسبي اهمیت دهغه دتوجیهه او تعبیرشیره اوجوهر تشکیلوی، او دا په تاریخ کې دتصادف دمسئلې دپاره یوه کلي برا یروی . دکلیوپاترا دپزې شکل، دبجازت دنقرس حمله ، دشادي چیچنه چې الگزاندر پاچایي مړ کړ، دلینن مړینه ـ هغه تصادفات وو چې د

تاریخ جریان‌یې واړاوه . په‌دې کې څه قاید نه شته چې هغه ایسته شوي وجوه ولري او باپه‌یوه بابل دول داسې بهانه وشي چې هغوتاثیرنه لاره ، له بلې خوا، ترهغه‌ځایه چې هغه تصادفي پېښې وي، دتاریخ په هیڅ عقلي توجیه‌او تعبیر او دمورخ دمهمو علتونو په سلسله مراتب کې نه‌ځای نه نیسي. پروفیسر پاپر، او پروفیسر برلین، زه دوی ددغه مکتب دڅېرو وتلیوه‌مثلینو په حیث یوځل بیا ذکر کوم - فرض کوی چې په تاریخي جریان کې دمورخ داهمیت مینه‌لوزیار، او له‌هغه څخه‌دنتایجو ایستنه‌دهغه زیار په څېر دی چې مقصدي دیوه متناسب قرینه‌لرونکي نظم‌ته‌د تجربې توله‌برخه ، تحویل کول دي، او په تاریخ کې دتصادف وجود دغې‌هرزیار لا کاموی خوهیڅ عاقل مورخ به‌دغسې یوه غټ خیالي او عجیب څیزته ملاونه تړي چې دتجربې‌توله برخه ، یکې شامله کړي . دی نه شي کولی‌چې حتی د خپل تاریخ دیوې انتخاب شوې برخې یا اړخ په‌باب دحقایقو له یوه واړه جزڅخه زیات احاطه کړي . دمورخ جهان، دساینس یوه د جهان په څیر د حقیقي جهان یوتصویري نقل نه دی ، بلکه هغه د کاردهغه موډل په‌شان دی چې دی به دې قادر کوي چې لږ و ډېر یې په موثر ډول سره وپېژني او داکمیت پرتېر کړي. مورخ دماضي له‌تجربې یادماضي دهغې اندازې له تجربې څخه چې ورته میسره ده هغه برخه تقطیر او جلا کړي چې دی یې درک کوي

* چې دعقلي تشریح او تعبیر تابع کېدلی شي : او له‌هغه څخه داسې نتایج وباسي چې دعمل دپاره‌لارښوونکي وګرزي. په دغو وختو کې یوعامه‌خوښوونکي لیکوال، څه وخت چې دساینس دکارنامو په باب غږېده، دانساني ذهن دکار په باب یې داسې تبصره وکړه چې ذهن څه وخت چې دومشاهده شویو حقایقوه په څېرن جوال کې لټول کوي، غوره کول کوي، توتې کول کوي ، او له مشاهده شویو مرتبطو حقایقو څخه یوځای یوه‌طرح جوړوي، نامربوطات رد کوي، ترڅو چې‌یې دعلم و یو منطقي او عقلي کوټې یوځای او بدلې وي . «۴۲» زه پخپله په عقیده سره د بې‌جهته عندیت د

۴۲. ال. پال، د انسان اسما (۱۹۴۴) ، صفحه ۱۲۷.

خطراتو په مقابل کې دا دهغه تصویر په څیر منم په کوم کې چې د مورخ ذهن کار کوي،

دا طرز عمل ممکن فیلسوفان او حتی ځینې مورخان حیران کړي او تکان ورته ور کړي. خو دعادي کسانو دپاره چې دژوندانه په عملي چارو بوختي دي دغه طرز عمل پوره اشنا دی. یو مثال به راوړم. جونز چې له کومې میلمستیا څخه چېرته چې یې له عادي اندازې څخه زیات الکول څښلي دي، په یوه ګړندۍ کې بېرته راځي. د ګړندۍ بر کونه یې ناقص دي، او په یوه ورانده ګوټ کې د راېن سن چې د سګرټو د پلور لوداره له سرک څخه تیریږي وهي، راېن سن مري. وروسته له دې چې تول حقایق راغونډ شوي دي، موږ مثلاً د محلي پولیس په مرکز کې غونډیږو چې د دغې پېښې د علتو په باب تحقیق وکړو. ایا دغه پېښه د موټروان د نیمه مخمور حالت له امله وه - چې په دغه حال کې به مسئله جنایي وګرځي؟ یا که دغه د ناقصو بر کونو په وجه وه چې په دغه حال کې به ګراج والا ته چې یوه هفته د مخه یې موټر معاینه کړی و، یو څه وویل شي؟ یا دغه ورانده ګوټ په وجه وه چې په دغه حال کې به د سرک ونو له واکمنو څخه وغوښتل شي چې موضوع ته پام وکړي؟ کله چې موږ په دغو عملي مسئلو بحث کوو دوه نوميالي مهذبه اشخاص - نو مونږ به یې نه اخلو - په خونې کې ننوځي او په ډېر فصاحت او ټینګار موږ ته وایي چې که چیرې په هغه ماښام د راېن سن سګرټ خلاص شوي نه وای، دی به له سرک څخه نه تیریده او مړ شوی به نه وای. نو د سګرټو د پاره د راېن سن میل؛ دده د مرګ علت شو او هر هغه تحقیق چې دغه علت هېروي، یوازې به دوخت ضیاع وي؛ او هر څه نتایج چې تري استنباط کیږي، بې مفهوم او بېهوده به وي. ښه؛ موږ څه کوو؟ هم دا چې موږ وکولی شو د هم دغه فصاحت سلاست مات کړو، د وارو میلمنو ته په نرمه؛ مګر په کلکه سره دوی ما لار ښیو، او دروازه وان ته وایو چې په هیڅ وجه یا د نوتلو اجازه ورنه کړي. او موږ خپل تحقیق ته دوام ورکړو. خو موږ د مدا خله کوونکو

د پاره څه څوا بونه لروا؟ په دې کې څه شک نه شته چې د راين سن مړ شو؛ ځکه چې ده سګرټ څښل . هرهغه څه چې په تاريخ کې د تصادف او احتمال طرفداران يې وايي پوره درست او پوره منطقي دي . دا هغه قسم سخت زړی منطق دی ، چې موږ يې په (الس په عجبستان کې * ) او ( دا ښيښه لاري ** ) موندو. مګر په داسې حال کې چې زه دا ګډوډه د پوهې د غوښتو مقاومت په څېر ښايي کې نه تسليم کېږم ، زه دا غوره ګڼم چې په يوه بيلې برخې کې د خپل منطق مختلف روښونه څرګند وساتم . د داج سن ۴۳ روش د تاريخ روښانه دی .

تو تاريخ د تاريخي اهميت په لحاظ د غوره کولو يوه عمليه ده، د ټالکاټ پارسن عبارات په دله پورغل بيا را نقل کړو : « تاريخ د واقعيت په لوري نه يوازې د درک کې بلکه د علتي جهتونو يو انتخابي سيستم دی » داسې چې مورخ د حقايقو له لاينحلې بحر څخه هغه حقايق غوره کوي ، کوم چې د هغه د مقصد د پاره اهميت لري ، داسې هم دی د علت او معلول له متعددو سلسلو څخه هغه او يوازې هغه سلسله را وباسي کومه چې په تاريخي لحاظ مهمه وي . د تاريخي اهميت معيار د ده هغه قابليت دی چې دی هغه د خپل عقلي تشريح او تعبير په چوکاټ کې د ننه متوافق کوي . د علت او معلول نورې سلسلې ، بايد د تصادفاتو په حيث مسترد ی کړل شي ، له دې نه د لحاظ چې د علت او معلول تر منځ مناسبت مختلف دی ، بلکه په دغه لحاظ چې پخپله سلسله نامربوطه وي . مورخ په هغه سره هيڅ څيز نه شي کولی . هغه نه د عقلي تعبير تابع دی : او نه د ماضي يا آينده د پاره کوم مفهوم لري . دا رښتيا ده چې د کليوپاترا پزې ، يا د بجازت تقرص ، يا دا ليکزاندر پاچا د شادی چيچنې ، يا د لينن مړينې ، يا د راين سن سګرټ څښلو نتايج لرل . خو د يوې عمومي قضيې په حيث ، دا بې مفهومه ده چې ووېل شي چې جنرالان ځکه جنګونه بايلي چې دوی په ښکلو مېنو کېږي ؛ يا جنګونه له دې امله واقع کېږي ،

۴۳ . C.L.Dodgson (۱۸۹۸-۱۸۳۲) انګلېسی ليکوال او رياضي پوه . لاندې دوه کتابونه چې د ده د
د پاره مشهور دوي کيسې او نکلونه لري ، او ادبي او رښتيني آثار دي ، د ده تاليفات دي . (م)

* Alice in Wonderland

** Through the Looking Glass

چې باچایان په کوږ کې شادي ګانې ساتي ، یا خلق په سر کونو کې لاندې کېږي ، او مري ، په دې چې دوی سګرټ څښي . که له بلې خوا تاسې یو عادي سړي ته وواياست چې د راېن سن په دې مړ شو چې ډېر به مخمور و ، یا له دې امله چې بر کونو کار و نه کړ ، یا له دې امله چې سړک پورې ونډ ګوټ لاره ، دا به هغه ته پوره مفهوم لرونکې ، او عقلي تعبير معلوم شي . که دې وغواړې بېله مشخص و عزيزي ، دې به لاحتی ووايي چې پراوزی همدغه او نه دراېن سن د سګرټ څښلو هغه د راېن سن د مړينې «حقيقي» علت و .
داسې هم که تاسې د تاريخ محصل ته ووایئ چې د ۱۹۲۰ په لسو کالونو کې په شوروي اتحاد کې د بازي د صناعتي کولو د اندازې ، يا د هغې نوي طريقې په باب وي چې کرونده ګر تشويق کړي چې د بيارونو د مرولو د پاره عقلي دلايل وکړي ، او يا په دغه باب وي چې مخالفو مشرانو شخصي ادعاګانې تعقيب کولې ، دی به داسې احساس وکړي چې دا تشريحات په عقلي او تاريخي لحاظ مهم دي ، په دې چې هغه به په نورو تاريخي حالاتو کې هم تطبيق ومومي ، او هغه د هغه څه چې واقع شول «حقيقي» علتونه دي . په دغه مفهوم چې د لېنن بېخوا له وخته تصادفي مړينه ، کوم علت کېدلی نه شي . که د همدغو څيزونو په باب ، دی سوچ وهلو ته مجبور شي ، دی به لا ممکن د هيګل دير اقتباس شوي ، مګر غلط تعبير شوی ، اصل چې د حق د فلسفي په «سريزه» کې يې ذکر کړی دی ، هم ور په زړه کړي ، او هغه داچې «هغه چې عقلي دي ، حقيقي دي ، او هغه چې حقيقي دي ، عقلي دي .»

اوس په دې وړي شيبې د بار «د بیا دراېن سن د مړينې علتونو» ته ور وګرځو مونږ ددې څه مشکل نه لاره چې ځينې علتونه يې عقلي او «حقيقي» وو ، او ځينې يې غير عقلي او تصادفي وو ، خو مونږ دغه تمیز په کوم معيار سره وکړ؟ د استدلال ملکه په طبيعي ډول ، د کوم مقصد په لور فعاليت کوي . روښنفکران کله کله ممکن د ساعت تيرې د پاره استدلال وکړي ، يا فکر وکړي چې استدلال کوي . خو په عمومي ډول

انسانان، یوه هدف د پاره استدلال کوي او کله چې موږ ځینې تشریحات عقلي وپېژندل، او نور مو عقلي و نه پېژندل، زما په فکر چې موږ د هغو تشریحاتو تر منځ چې د یوه هدف د پاره استخدام کېږي او د هغو تشریحاتو تر منځ چې د هغه هدف د پاره نه استخدام کېږي، په یو فرق قایل کېږو. د هغې مسئلې په باب، چې تر مباحثې لاندې ده، دا فرضیه مفهوم لرونکې ده، چې د دریورانو د الکولو د مصرف لږ کول، یا د ډېر کوتو په باب لا زیات کنترول ایښودل، یا په سړکونو کې سموړ راوستل، ممکن د ترافیکي پېښو شمیر لږ کړي، خو دا هیڅ مفهوم نه لري، چې فرض وشي چې ترافیکي پېښې به په دې لږې شي چې خلق له سګرټ څښلو څخه منع کړل شي. دا هغه معیار و چې په هغه سره موږ خپل فرق وکړ. دا په تاریخ کې د علتونو د پاره زموږ د روش په باب هم تطبیق مومي. دلته هم موږ د عقلي او تصادفي پېښو تر منځ، په فرق قایل کېږو. څنګه چې علتونه په نورو هیوادونو، نورو عصرونو، او نورو شرایطو کې هم په قوي ډول تطبیق مومي، هغه ومفیدو تعمیماتو ته منتهي کېږي، او عبرتونه او درسونه ترې زده کېدلی شي، د دوی زموږ د فهم د پراخه کولو او زموږ د کولو د هدف په لوري خدمت کوي ٤٤. له تصادفي پېښو څخه تعمیم جوړېدلی نه شي، او څنګه چې دوی د کلمې په ټوله معنی، بېجوړې او خاص دي، له هغوی څخه عبرتونه او درسونه نه اخیستل کېږي او نتایج هم ترې نه ایستل کېږي. خو دلته باید زه یو بل ټکی هم ذکر کړم. د یوه هدف په لوري، هغه خاص او مشخص نظر دی، چې په تاریخ کې د علیت د مطالعې

٤٤. پروفیسر پاپر، یوه شیبه په دغه ټکي باندې راولېږي چې نه شي، په داسې حال کې چې دغه ګټه ده چې د تعبیر د لږ کثرت چې په اساس لحاظ د ... او د دلالت (Suggestiveness) او اختیاریت (arbitrariness) په سر ... (هر څه چې د ... اصطلاحات ... په واقعي ډول بکاره کوي) . ... په یوه ... کې اضافه کوي چې ... بایې له نورو څخه د دوی د ... په وجه ... او د ... اهمیت ... (... ۶۱) . دا اهمیت یو ټکی نه دی، بلکه ډېر مهم ټکی ... چې ... (د اصطلاح په ... مرسته ... نه دي.

دپاره مو ترته کلی پهلاس ورکوی؛ او دغه لزوماً له ځانه سره د ارزښ قضاوتونه لری. لکه څنګه چې مو په تیرو لیکچرکې ولیدل، تعبیر په تاریخ کې تل د ارزښت له قضاوتونو سره تړلی دی؛ او علیت له تعبیر سره تړلی دی. د مینکي په الفاظو – ستر مینکي یاده ۱۹۲۰ دلسی کالونو مینکي، «په تاریخ کې د علتونو دپاره لټون ..... ممکن نه دی؛ مګر هغه وخت چې ارزښتونو ته مراجعه وشي. د علتونو دپاره د لټون وشانه په مستقیم یا غیرمستقیم ډول سره تل د ارزښتونو دپاره لټون واقع دی.»[۵۱] او دا هغه څه را یادوی کوم چې مار وميږ د تاریخ د دوه ګونی او متقابلې وظیفې په باب ویلی دی، او هغه دا چې داوس په رڼا کې د ماضي په باب او د ماضي په رڼا کې داوس په باب زمونږ فهم ډیر او پراخ کړي. هرهغه څه چې د کلیوپاترا له پزې سره دا تړوني د مسحور کیدلو په څیر ونه شي کړای له دغه دوه ګون مقصد سره مرسته وکړي؛ د مورخ له نظره مړاو بې حاصل دی.

اوس د دغه وخت را رسیدلی چې اقرار وکړم چې ما یو څه تری چال په تاسی وهلی دی. دغه احساس په تاسی نه مشکل نه وی، او څنګه چې زه په خوښۍ توکې د غه چال په دی قادر کړی یم چې خپلی خبری ساده او لنډې وکړم، تاسی ممکن په هغو سترګو پټی کړی وی؛ او هغه مو د اختصار په اسان جز ګڼلی وی. ترا وسه ماپر له پسې د ماضي او اوس اسانه افاده استعمال کړی ده څو، لکه چې تاسی ټول پوهیږی حاضره زمانه؛ د ماضي او آینده ترمینځ؛ د تصوري ویشونکي لیک په حیث؛ له پوره تصوري وجود څخه اضافه کوم شی نه دی. د اوسنی زمانی په یادولو سره، ما د وخت د یوه بل بعد په بحث کې، په مخفي ډول شامل کړی دی. زما په فکر دا به اسانه وی چې وښوول شی چې څنګه چې ماضي او حاضره زمانه د وخت

۵۱. Kausalitaten und Werte in der Geschichte (۱۹۲۸) ترجمه د اف. ستېرن، د تاریخ اقسام، کتې (۱۹۵۷) مخونه ۲۶۸، ۲۷۳.

د هغه يوه تاکلی طول يوه برخه تشکيلوي، دماضي او آينده په باب علاقه او تعلق ښودل يوله بل سره تړلي دي . دتاريخ نه پوهيږي، او تاريخي وختونو ترمينځ دويش په کولېنې هغه وخت پېښه اروله کيږي ، چې خلق نورتوپوا زي په حاضره کې ژوند کول ترک کوي ؛ او دخپلې ماضي او آينده په باب په شعوري دول يووازعلاقمن کيږي . تاريخ د عنعنې په نقل کولو سره شروع کيږي . او عنعنه لدماضي څخه و استقبال ته د عادتونو او درسونو د انتقال معنی لري . دماضي پېښې دآينده نسلونو دفايدې دپاره خوندي کيږي . هالندي مورخ هويزنګا۴۶ وايي چې «تاريخي تفکر همېش غايي۴۷ وي» . ۴۸ سر چارلز سنو په دغو وختو کې دواترفورد۴۹ په باب وويل چې «دانورو ساينس پوهانو په څير ...، دده تقريباً په له دې څخه چې د معنی په باب يې سوچ ووهي ، په خپلو هډوکو کې داستقبال فکر درلود .»۵۰ زه ګمان کوم چې ښه مورخان، چې که دغو په باب فکر وکړي، يا ونه کړي ، په خپلو هډوکو کې داستقبال فکر لري . د (ولې؟)له پوښتنې نه علاوه ، مورخ تل پوښتي «کوم پلو؟»

---

۴۶. J. Huizinga

۴۷. Teleological دو روحيو او غايي علتونو اصل او فلسفه (م)

۴۸. جي . هويزنګا، ترجمه پوه د تاريخ اقسام، کمي د اف . سترن چاپ (۱۹۵۶) مخ ۲۹۳.

۴۹. E. Rutherford برتانيايي فزيک پوه - (م).

۵۰. دپالغوزن عصر، دماديزي سوټفه چاپ (۱۹۶۰) مخ ۲۱۶.

# تاریخ د ترقي په حیث

غوارم خپله وینا دهغې فقرې په نقل کولو سره شروع کړم کومه چې پروفیسر پاویک۱ دیرش کاله روسته، په اکسفورډ کې دمعاصر تاریخ دسلطنتي پروفیسر په حیث، په افتتاحي لیکچر کې اظهار کړې وه:

« په تاریخ کې د تاویل کولو څخه دومره ژور یو ولی لری چې ترڅو دماغي په باب یو تعبیري نظر ونه لرو، مونږ یا تصوف۲ یا شکاکیت او بدبیني۳ ته کش کیږو... ۴ تصوف: زما په فکر هغه نظر ته وایه شي چې دتاریخ مفهوم له جامعې نه بهر — د الهیاتو یا داخرت په قلمرو کې — لټوي. دا د دغسې لیکوالو، لکه بردایف، نیبور، یا ټاین بي۵ نظر دی. دشکاکیت، فلسفه هغه نظر تمثیل کوي، کوم چې یې مثالونه ما خپله راوړي دي. ددغه نظر په قرار، تاریخ

---

۱. F. Powicke

۲. Mysticism

۳. Cynicism . اصلاً دکلبیونو فلسفې ته وایي، دا د لرغوني یونان له فلسفي مکتبونو څخه هغه مکتب دی چې موسس یې انتس تینس (Antisthenes) و، او په داسې اصل بنا و چې انسانونه باید، او د انسان طبیعت په ارتباط لري، دغه مکتب دانسان دطبیعت په نسبت په بدبیني او شکاکیت باندې قایل دي، او درویشانه ژوند غوره بولي. (م)

۴. اف. پاویک: معاصر مورخان او د تاریخ مطالعه (۱۹۵۵)، مخ ۱۷۴.

۵. لکه چې ټاین بي په پوره ډېرې سره اعتراف کړی: «تاریخ دالهیاتو په قلمرو کې ننوځي». (بطلیت ... په سال کې، ۱۹۵۵، مقدمه).

هیڅ مفهوم نه لري، یاسم او ناسم مفهوم نه په مساوي ډول لري ، یادغې مفهوم لري چې موږ یې په خپل واک او اختیار ور ته ټاکو . دا د تاریخ څخه نظر ونه دي : چې ټن ورځ ډیر عام دي . خو زه یې بې زړه نازړه په کلکه رد کوم . دا تر دیه موږ ته څه عجیبه، مګر دلالت کوونکې افاده را پریږدي : « د ماضي په باب یو تعبیري نظر ، څنګه چې زه داسې کومه وسیله نه لرم چې یوه شم چرو فیس یا یک ددغې افادي داستعمال په وخت کې ، څه شي په فکر کې لاره ، زه به ژبار و یاسم چې خپل تاویل په کې ولولم .

داسیا دپخوا نیو مدنیتو نو په څیر ، د روم او یونان مدلیت اساساً غیر تاریخي وو . لکه څنګه چې موږ ومبې ولیدل ، هیر و دوتس د تاریخ دپلار په حیث ، یو اړې یو څو پیروان لرل ، او د پخوا ني زماني لیکو الان ، په عمومي ډول ، د ماضي او استقبال دواړو په باب ، لږ علاقمن وو . توسید ایدز ، په دغې عقیده ی وا چې پخوا له هغو پیښو څخه چې ده بیان کړلې ، مهم شې هیڅ واقع شوی نه وو « او دد غه احتمال نه شته چې هیڅ مهمه پیښه دې وشي . لوکري شیس ٦، داستقبال په باب خپله بې اعتنایي ، له خپلې هغې بې اعتنا یي څخه و بنو دله چې ده دماضي په باب لرله :

« فکر وکړی : چې څنګه ، زموږ له پیدا کیدلو څخه رومبې ، دابدي وخت پخوا ني عصرونه ، زموږ له علاقې نه بهردي . دا هغه هینداره ده ، چې طبیعت یې موږ ته زموږ له مرینې نه وروسته دا ینده عصر دپاره نیسي . » ۷

شعري الهاماتو ، دلا څلاندو اینده په یاب ، دماضي وطلا یې عصر ته د رجوع شکل غوره کړ ـ دا هغه دوراني نظریه ده چې د طبیعت په عملیو کې یې ، د تاریخ عملیې جذبې کړلې . تاریخ هیڅ یلو ته نه خو ځید ، څکه چې په ماضي کې څه مفهوم له و ،

---

٦. Lucretius (۹٦ ـ ۵۵ ق م) ، رومی شاعر . (م)

۷. دا شیاو طبیعت ، III ، مخونه ۹۹۲ ـ ۹۹۵

رهاسې هم په مساوي ډول د په استقبال کې څه مفهوم نه و . ورژیل ۸ ، یعنې چا چې په خپل ځلور زم واره قطعه شعر کې وطلايي عصر ته د رجوع په غرض لرغوني بیه ورکړې ده ، یو ه شیبه په خپل کتاب اینایډ ۹ کې په دې تحریک شوی دی چې له دوراني مفهوم څخه بهر شي : « Imperium sine fine dedi » . خایوډیز لالرغوني فکر د چې د رسته بې ورجل ته د نیمه عیسوي پیغمبر حیثیت ورپه برخه کړ .

دا بیا یهودان او له هغوی ته وروسته عیسویان وو ، چې تاریخ ته یې یو بل ډول نوی عنصر ورپه برخه کړ . دوی د تاریخ د پاره هدف و ټاکی ، چې تاریخي عملیه د هغه په لورمخ په حرکت وه ، دا د تاریخ غایي نظر دی . تاریخ په دغه ډول ، مفهوم او مقصد وموند ، خو دنیا يې خصوصیت يې یا یلود . د تاریخ وهدف ته رسیدل ، په اتوماتیکي ډول د تاریخ د ختمید لو معنی پیدا کړه . تاریخ پخپله د بشر دو جود په مقابل کې د لوی ځښتن د فاع . او ګرځید . دغه د تاریخ هغه نظر و ، چې په منځنیو پیړیو کې عمومي رنسانس ۱۱ د عقل د لومړیتوب او د دغې جهان پخو اني نظر ژوندی کړ ، چې مرکزیې السان او خودایند ، په پایې د پخوانی ید بیني نظر په ځای د خوش بیني هغه نظر ځای کړ چې د پهو دی ـ تصوراتي له عتیق څخه را و تلی و ، وخت ، چې یو وخت وورانوونکی و ، اوس دوست او ودانوونکی شو . د هوراس ۱۲

«Damnosa quid non imminuit dies?»

۸. P. Virgil (۱۹ – ۷۰ م) رومي شاعر. (م)

۹. II Aeneid

۱۰. Theodicy په یل عبارت تیوډوسي ، د خدای په عدل عقیده اراد (م)

۱۱. Renaissance – په اروپا کې د منځنیو پیړیو او معاصر دورې تر منځ انتقالي

بهیر ، چې په هغه کې د پخوانۍ دورې پیرانه ژوندي کېدل. (م)

۱۲. Horace (۶۵ – ۸ ق م) لاتیني شاعر. (م)

د بیکن ۱۲ له « Veritas temporis filla » سره پرتله کړئ . د تورو دورې د عقل د اصل پیروانو ۱۴ ، یعني هغه کسان ، چې د عصري تاریخ لیکنې موسسان وو ، د یهودي ـ عیسوي غایي نظر ۱۵ وساته ، مګر غایه یې ورته دنیا یي کړله ، په دغه ډول ، دوی وکړای شوه چې پخپله د تاریخي عملیې عقلي خصوصیت بیرته ژوندی کړي . تاریخ ، د مځکې په سر د انسان د دارایي د مقصود و کمال په ترقي وګرځیده . ګیبن ، چې د تور د دورې تر ټولو ستر مورخ و ، د خپلې موضوع له ماهیت څخه ونه ویریده چې هغه څه ثبت کړي کوم چې یې نوملي و « هغه په زړه پورې نتیجه چې د جهان هر عصر د انساني نژاد حقیقي شتمنۍ ، سعادت ، علم او شاید نیکۍ ډیره کړې ، او لا یې ډیره کوي . ۱۶ » د ترقي د لمانځنې آیین ، هغه وخت خپل هسک ته ورسید څه وخت چې برتانیایي شتمنۍ ، قوت ، او په ځان اعتماد خپل هسک ته ورسید او برتانیا یي لیکوالان ، او برتانیایي مورخان د دغې لمانځنې او آیین تر ټولو ډیر جدي طرفداران شول . د غه حادثه دومره رواجانه ده چې د مثالو لو راوړلو ته یې اړه نه شته . یوازې ضرور ګڼم چې یوه یا دوه فقرې راوړم چې وښیم تر دغو نږدې وختو پورې په ترقي عقیده اړل زموږ د ټولو تفکراتو داصلي

---

۱۳. F. Bacon (۱۵۶۱ ـ ۱۶۲۶) انګلیسي فیلسوف ، سیاستمدار او مصنف . (م)

۱۴. Rationalists

۱۵. Teleological

۱۶. ګیبن ، د روم د امپراطورۍ انحطاط او سقوط ، فصل ۳۸ . د دغه انحراف موقع هغه بدیع د امپراطورۍ سقوط و . پر هغه د تایمز ادبي ضمیمه (د نومبر ۱۸ ـ ۱۹۶۰) کې په دغه حال کې چې دغه فقره را اخلي ، وایي چې تیر هیڅ کس په هغه اعتقاد لري که څه اړیکه چې هغه لاره ډیره لیکوال الظاهره ارزانت احتمال ، د هغه د عصر انعکاس کوي په کوم کې چې دی ژوند کوي ، نه د هغه شي چې دی د هغه په باب لیکنه کوي ، دا هغه حقیقت دی چې د دغه مقاله په لیکلو کې سره واضح دی ، په دې چې د ځیني د دغو ټکو پورې د منبع شکایت و هغه لیکوال ته راجع او انتقال کړي چې د انګلستان په اخر کې یې ژوند کاوه .

شرط او فرضيې ۱۷ په حيث پاتې وه . اکټن ، د کيمبرج د معاصر تاريخ د پروژې په باب د ۱۸۹۶ په رپوټ کې چې مابې په لومړني ليکچر کې ذکر کړي دی ، تاريخ د يو مترقي ساينس په ډول بللی دی. د تاريخ په لومړي جلد کې يې وليکل چې موږ مجبور يو د علمي فرضيې په حيث د کوم په اساس چې بايد تاريخ وليکل شي ، د انسان چارو کې ترقي فرض کړو . د وامپير چې د همدغه تاريخ په وروستي جلد کې ، چې په ۱۹۱۱ کې خپور شوی دی له کوم ځوره نا ارامه ترو به نه دا احساس وکړ چې راتلونکي عصرونه به د طبيعت د منابعو په باب د انسان د قوت د ودې او د همدغه د زياتو د هغو سايي د پاره له هغو څخه د هغه د معقول استعمال هيڅ حد و نه پېژني .۱۸ د نظر وهغه څخه چې اوس به يې ووايم د مناسبه بولم اعتراف وکړم چې دا هغه فضا وه په کومې کې چې زه په خپله تربيه شوم او زه يې له کوم قيد او شرط نه ډير تر اند رسل ، يعني د هغه چا په الفاظو کې چې نيم نسل له ما نه د مخه و ، شريک کېږم چې وايي : زه د وکتوريا يې خوش بيني په معراج کې لوی شوم او ...... د هيلې او امرې هغه څه له ماسره پاتې دي چې هغه وخت ډير اسان و . ۱۹

په ۱۹۲۰ کې ، هغه وخت چې (بري) خپل کتاب : د ترقي مفکوره وليکه ، يوه لياسره او تياره فضا له د مخه خوره شوې وه . د مسلط فېشن ته د اطاعت له مخې د دغې فضا ملامتي په وهغو نظري کسانو ، چې په روسيې کې يې د اوسني ترور رحکومت تاسيس کړی دی وواچوله ، که څه هم د لاتر اوسه ترقي د غربي مدنيت د ژوندي کوونکي او اداره کوونکي مفکوري ۲۰ په حيث پيالو له . له هغه وروسته د هغه تمه

Postulate .۱۷

۱۸. دکيمبرج معاصر تاريخ ، منبع ، موالفيت ، او ترليه يې [۱۹۰۷] مخ ۱۳ ، دکيمبرج معاصر تاريخ ، (۱۹۰۲) مخ ۴ ، ۱۲ (۱۹۱۰) مخ ۷۹۱ .

۱۹. بي رسل ، له حافظې له خاطرات (۱۹۵۶) مخ ۱۷ .

۲۰. جي . بي . بري ، د ترقي مفکوره (۱۹۲۰) مخونه ۷ - ۸ .

غلي شوله ، روايت دی چې تر وسيې لومړی نيکولای په يوه فرمان سره د «ترقي» دلفظ استعمال منع کړی و. په دغو وختو کې ، د لويديځې اروپا او حتی د متحده ايالتونو فيلسوفانو او مورخانو : له ډېرې مودې وروسته ، له هغه سره موافقه کړې ده . دترقي فرضيه باطله ګڼله شوې ده . دلويديځ د منځ په محوری توب افاده دومره اشنا شوې ده چې نورتو دقول نقلولو ته کوم احتياج پاتې نه دی . خو له چينو وهلو له برسيره : څه شی واقعاً پيښ شوی دی ؟ د ذهنيت دغه جاری څپه دچا له خوا تشکيله شوې ده ؟ هغه پلوورغ مې سخت تېکان وخوړ چې زما په فکر د برتراند رسل په يو الحيني تبصرې مخامخ شوم چې د طبقاتی پرشديد حس برسيره کوي «په کلي دول ، نوورغ په جهان کې ، د نظر مسلوړ وييو کالونو ته ، ډيره لږه ازادي موجوده ده . » ۲۱ : زه دا زاری د مېچولو دپاره کومه اندازه نه لرم ، او په دې نه پوهېږم چې د خو کسانو لږه ازادي ده پروکسانو له ډيرې ازادي سره څنګه موازنه کړم . خو د مبيچ په هر معيار چې وي د رسل وينا بېخي غير واقعي بولم د ای . جې . پی . تيلر ، هغه خوبوونکي خبری : چې دی بې اله کله : داکسه وړه په علمي ژوند کې کوی ، تر نورو ډيری په زړه پورې دی . دی وايي چې د مدنيت د منځ په محوري توب ټولی خبری دا معنی لری چې د پوهنتون پروفيسرانو به کورکې مزدوران لرل ، او اوس دوی په خپله مينځل کوی . » ۲۲ په دې کې شک نه شته چې د پروفيسرانو کالی مينځل به د پخوانيو څانګي مزدورانو دپاره به دترقي يوه علامه وی ، په افريقی کې ، د سپين پوستو دلوړتوب پايلل ، چې د امپراتوری وفاداران ۲۳ ، اروپايي نژاده جمهوريت غوښتونکی افريقاييان ۲۴ او د طلا او مسو په اسهاموکې د پانګې

---

۲۱ . بي . رسل ، له حافظې نه خاطرات (۱۹۵۶) مخ ۱۲۴ .

۲۲ . ابزور ، جون ۲۱ ، ۱۹۵۹ .

۲۳ . Empire Loyalists

۲۴ . Afrikaner Republicans

سهمداران زوروی، نورو ته ممکن ترقی وی . د ترقی د دغې مسئلې په باب زه هیڅ دلیل نه وینم چې بس د همدغه حقیقت په بنا ٢٥ د ١٩٥٠ دلسو کالو نو قضاوت د ١٨٩٠ دلسو کالو نو په قضاوت، غوره و گڼم، یا د انګلیسي ـ ویونکو قضاوت د اسیا، رومیې او افریقا په قضاوت مرجح و بولم ؛ او یا د منځنی روښنفکری طبقې قضاوت د سرکښ د سری په قضاوت ، چې د بناغلي میکمیلان ٢٦ په قول یې تر اوسه د ومره نه زوند نه و لرلی، ښه و بولم . راځی چې د یوې شیبې د پاره، دغه قضاوت وروسته و غورځوو چې مونږ د ترقی په عصر کې ژوند کوو یا د انحطاط او لږ څه په مجبر سره و گورو چې د ترقی په مفهوم کې څه شیان مضمردی ، څه فرضیې یې شاته واقع دی. او دغه فرضیې تر کومه حده غیرقابل دفاع گرزیدلی دی . ترهر څه و مبې غواړم، د ترقی او تکامل په حقله مغشوش کوونکی افکار لرې کړم . د تنورد دوری مفکرانو ظاهراً دوه نقیضې نظریې غوره کړی وی: دوی په دې لټه کې وو ، چې د طبیعت په جهان کې د انسان مقام تثبیت کړی ، او دفاع یې و کړی : د تاریخ قوانین ، د طبیعت له قوانینو سره برابرو گڼل شول. له بلې خوا ، دوی په ترقی معتقد وو. خو ددی د پاره چې طبیعت د مترقی په حیث وگڼل شو، داسې چې د یوه هدف پلو ر په مخ ته : څه دلیل موجود وو؟ هیګل دغه مشکل داسې رفع کړ چې تاریخ یې چې مترقی و ، له طبیعت څخه چې مترقی نه و ، پوره بیل کړ . دارویني انقلاب داسې وبریښید چې د تکامل او ترقی په برابر گڼلو سره یې ټول مغشوشات له مینځه یوړل . سره له ټولو خبرو، طبیعت د تاریخ په څیر مترقی وگڼل شو . خو دغه حال ، د یوې مهمې غلط فهمی د پاره لاره هواره کړله . او هغه دا چې بیا لوجیکی توارث چې د تکامل سرچینه وه ، له اجتماعی اکتساب سره چې هغه په تاریخ کې د ترقی منبع وه ، یو ه او مغشوشه وگڼله

٢٥. Ipso facto

٢٦. H. Mac Millan دبرتانیا د محافظه کار د گوند یو مشر او د څه وخت د پاره مشلك صدر اعظم. (ژ).

شوله، تو پیربکاره او اشنادی. یو اروپایي ماشوم به یوې چینایي کورنۍ کې واچوئ، ماشوم به په سپین پوټکي سره لوی شي، مګر په چینایي ژبه به ګړیږي. د انسان د بیولوژیکي توارث دی، او ژبه اجتماعي اکتساب دی چې د انسان د دماغ له لارې انتقال کوي. تکامل: باید په زرګونو او یا په میلیونو کالونو اندازه شي. له لیکلي شوي تاریخ نه را په دې خوا په انسان کې د اندازې وړ کوم بیالوجیکي تحول پېښ شوی نه دی. د اکتساب له لارې ترقي په نسلونو کې اندازه کېدلی شي. د عقلي موجود په حیث، د انسان جوهر دادی چې دی خپل قوي استعداد وته د پخوانیو نسلونو د تجاربو په غونډولو سره منکشف کوي. وېل کېږي چې معاصر انسان تر خپل ۵۰۰۰ کلني سلف څخه زیات مغز، او یاد تفکر د ذاتي استعداد ډېره برخه نه لري. مګر په خپلې زده کړې او تجاربو کې، د نیرو نسلونو د تجاربو په یو ځای کولو سره، د ده د تفکر تاثیر تر پخوانه په کراتو ډېر شوی دی. د اکتسابي خصوصیتونو انتقال، چې بیالوجي پوهان یې رد کوي، د اجتماعي ترقي اصل اساس تشکیل کېږي. تاریخ له یوه نسل نه وبل ته د اکتسابي مهارتونو په انتقال سره ترقي ده.

دوهم، داچې مونږ دېته اړنه یو، او باید هم ونه ګڼو چې ترقي تاکلی اغاز یا انجام لري. دغه عقیده چې نظر پنځوس کالونو نه اوس لږ رواج لري، چې مدنیت د نیل په دوره کې په ۴۰۰۰ ق. م. کې اختراع شوی دی، نظر هغه لپته لیک نه چې د جهان تخلیق په ۴۰۰۴ ق. م. کې ګڼي، نن ورځ لږ د اعتبار وړ ده. مدنیت چې مونږ د هغه شروع د خپلې ترقي د فرضیې د پاره د اغاز ټکی حسابوو، یقیناً کوم اختراع نه دی، بلکه د انکشاف یوه ورو لایتناهي تدریجي عملیه ده، چې ممکن یو وخت پل وخت به یې کې حیرانوونکي خېزونه او جهشونه شوي وي. مونږ ته نه ښایي په دې مسئلې ځان وربوو چې ترقي - یا مدنیت څه وخت شروع شوی دی. د ترقي د یوه تاکلي انجام فرضیې لیا ډېر مهم اشتباهات را پیدا کړي دي. هېګل په

حقه په دې محکوم شوی دی چې د ترقي انجام یې د پروس په پاچاهۍ کې مشاهده کړی دی . دا ظاهر آدده دا غراق آمیز تاویل نتیجه ده چې وایې پیشګویي بو لامکن امر دی . مګر د هیګل کوزوالی د دو کتوریاد عصر نامتو مورخ ، درګټ بې ار نولد ۲۷ وساته . ده د معاصر تاریخ د پاچا یې پروفیسر په حیث په ۱۸۴۱ کې په خپل افتتاحی لیکچر کې وویل چې معاصر تاریخ به د بشریه تاریخ کې وروستی پړاو وي ، ده وویل چې : وداسې ښکاري چې دا دوخت د پوره کېدلو علامه وي ، داسې چې له هغه وروسته به د ماضي تاریخ هیڅ نه وي . ۲۸ د مارکس د غه پیشګویي چې پرولتاریايي انقلاب به غیرطبقاتي جامعه مینځ ته راوړي په اخلاقي او منطقي لحاظ لږ تر اعتراض لاندې راځي ، خود تاریخ د انجام فرضیه د اخرت کړتی لري چې ویل یې د الهیا تو عالم ته ډېر مناسب دی ، نه یوه مورخ ته او دا هغې اشتباه ته منتهي کېږي چې هدف له تاریخ نه د باندې ګڼي . په دې کې هېڅ شک نه شته چې یو معین انجام د بشري ذهن د پاره انجذابات لري او د ازادۍ لورته د اکټن د تاریخ د مارش الهام د یو ې ته انجام کېدونکي ترقي په حیث د سور او مبهم ښکاري ، خو که څوک وغواړي چې د ترقي خپله فرضیه محفوظه وساتي ، زما په فکر دی باید د یې تیار وي چې هغه داسې عملیه وګڼي په کومې کې چې د پړاوله یې عصر و نو تقاضا ګانې او شرایط خپل ، شخص محتویات داخل کـړی ، او داد اکټن د هغه تیس معنی ده چې وایي تاریخ یوازې د ترقي ثبت نه بلکه یو مترقي ساینس ، دی ، او یا که موخوښه وي تاریخ د کلمې په دواړو مفهومونو سره ـ د پېښو د جریان په حیث او د هغه د خوپېښو د ثبت په حیث ـ مترقي دی ، راځي چې په تاریخ کې د اکټن د ازادۍ د مخ کې تګ افاده را په زړه کړو :

« داد ترفشار لاندې ضعیف د متحدو کوښښونو په اثر ده چې د زور او ظلم له یې بیداد لنې د سلطنت په مقابل کې مقاومت کېږي چې د خلورو سو کالو نو په چټک تحول

۲۷. The Arnold of Rugby

۲۸. ټي . ارنولډ ، د معاصر تاریخ مطالعې په باب افتتاحي لیکچر (۱۸۴۱) مخ ۳۸

مګر تدریجي ترقي کې ازادي خوندي شوې ، ساتل شوې ، او پراخه شوې او په پای کې پوهېدل شوې ده . » ۲۹

اکټن ، تاریخ داسې وګاڼه چې د ترقۍ په حیث د ازادۍ په لور د پېښو جریان وي؛ او د ازادۍ د پوهېدلو په لور د ترقۍ په حیث د معلومو پېژوئېت وي. د واره عملي اوږه په اوږه مخ ته دروي. ۳۰ فیلسوف (براډلې) په دغې عصر کې چې له تکامل نه د قیاسونو او شباهتونو ډېر رواج لاره ، وایي چې د مذهبي عقیدې د پاره د تکامل انجام ، په هغه قسم بدل شوی دی چې ... لا د مخه تکاره شوی دی. » ۳۱ د مورخ د پاره د ترقۍ انجام د مخه ظاهر شوی نه دی. دا هغه څه دي چې لا تر اوسه په لایتناهي ډول لیرې دي ؛ او یوازې هغه وخت چې موږ ور ته وړاندې درومو نښانې یې به نظر کې راځي . دا د هغه اهمیت نه کموي ، قطب ښوونکی یو قیمتي او په واقع کې یو حتمي لارښوونکی دی ، مګر د لارې نقشه نه ده . د تاریخ محتویات یوازې هغه وخت تحقق مومندلی شي چې موږ یې تجربه کړو.

زما درېیم ټکی دا دی چې هیڅ عاقل انسان په دغې ترقۍ معتقد کېدلی نه شي چې په یوه سم سیده کرښې په مخ ځي او په ځال مداومت کې کوږوالی ، او ماتوالی نه مني ، داسې چې حتی یو ترپرشدید بېرته تګ هم د دغه منګوری د پاره مهلک نه وي ، دا واضحه ده چې هم د بېرته تګ او هم د وړاندې تګ مصرونه شته دي . برسېره پر دې دا به سمه نه وي چې فرض شي چې ترقي به له یوه بیرته تګ نه وروسته له هغه ټکي او یا د هغې لیکې په اوږدو شروع شي . د هیګل یا د مارکس درې یا څلور مدنیتونه ، د ټاینبي یوویشت مدنیتونه ، د مدنیت د دوراتي - ژوندیوري

---

۲۹. اکټن ، د معاصر تاریخ په باب لیکچرونه (۱۹۰۶) ، مخ ۵۱.

۳۰. کې . منهایم د انسان اراده چې تاریخ ته شکل ورکوي ، د مخه له ابتداء سره جوړې پرې پوهېږي) مربوط ګڼي .

۳۱. اف . اېچ . براډلي ، اخلاقي مقالات (۱۸۷۶) ، مخ ۲۹۳ .

چي له ظهور، انحطاط، او سقوط څخه په تیریږي - دغه تقشي په خپل ذات کي بې مفهومه دي . خو دا دغه مشاهده شوي حقیقت علامې دي ؛ چي هغه کوښښونه چي د مدنیتونو دېر مخ بیولو دپاره ضروري دي، په یوه ځای کې محو کیږي، او په بل ځای کې وروسته له سره شروع کیږي : داسې چي هره هغه ترقي کومه چي مونږ یې تاریخ کې مشاهده کولی شو، یقیناً چي نه په مکان او نه په زمان کې دایمي وي . که ځه تاریخ په قوانینو اینسلو سره عادي او سم ؛ یو قانون به داوي چي یوه دله - هر هغه توم چي یوې ژدې، طبقه ورته وایي ؛ یا ملت ؛ یا او یا وچه یا مدنیت - هغه ستاسې خوبنه، کومه چي په یوه عصر کي د مدنیت په مخ بیولو کې ستر سهم لري ؛ گمان نه کیږي چي په بل عصر کې به مشابه سهم لرلی وشي . ددې یکاره علت دادی چي دغه دله په دیختراني عصر په عنعنو، گټو، ایدیالوجي گانو کې دومره غرقه وي چي ویه نه شي کولی د بل عصر له تقاضا گانو ؛ او شرایطو سره ځان متوافق کړي ۴۲ لو داسې به پیښه شي چي هغه څه چي دیوې دلې د پاره د انحطاط دوره وي ؛ د بلې دپاره به دیوه نوي په مخ تګگ ظهور وي . ترقي د ټولو دپاره د مساوي او همزماني ترقي معنی نه لري ؛ او نه د ځيني معنی ور کولی شي . دا مهمه ده چي د انحطاط هغو وروستیو رمحو تقریباً ټول پیغمبران ؛ زموږ شکاکان یعنی هغه څوک چي په تاریخ کې هیڅ مفهوم نه ویني ؛ او ترقي مره گڼي ؛ د جهان په هغې برخې او د جامعې په هغې طبقې اړه لري چي په خو نسلونو کې یې د مدنیت په مخ تګگ کې ستر او قوي رول په موفق ډول لوبولی دی . ددوي د پاره دا کومه داد ګیر نه ده چي ورته

۴۲. ددغې سال دیان دپاره وګوري د ار. اې. لینډ، علم د څه شي د پاره؟ (نیویارک، ۱۹۳۹) مخ ۸۸. «زموږ د ثقافت بډایان ډیر کله داسې په لوړ - یعنې د خپل د شدت او قوت موخت په لوړ ګوري ؛ او اینده خطا ګڼي او ورسره مقاومت کوي. احتمال شته چي د توته که لیږه او د ځینې قوت دپایللو په وراثتي تللي بر او ګڼي . ټول ثقافت ممکن دیوه پایللي طلایي عصر په لوړ مخ په شاو ګوري داسې سال کې چي ژوند په ستي او کمالي کې په حاضره کې تیریږي.»

وویل شي چې هغه رول کوم چې ددوی د لې په ماضي کې لوبولی دی ، او س به نوروته منتقل کړل شي . تاریخ چې واضحاً په دوی باندې یو ناوړه چال تللی دی، ددوی په نزد کومه مفهوم لرونکې او عقلي عملیه کېدلی نه شي ، ځکه موږ مجبور او سو چې د ترقي فرضیه وساتو زما په فکر باید دمانې لیکې حالات و منو.

په پای کې په دغې مسئلې بحث کوم چې وایي د ترقي اساسي محتوی د تاریخي عمل په ارتباط سره ، څه شی دی . هغه خلق چې مبارزه کوي : مثلاً غواړي نورو ته مدني حقوق ورپه برخه کړي ، یا د جزا تعاملات اصلاح کړي، یا د شتمنۍ یا نژاد غیر مساواتو نه له مینځه یوسي ، په شعوري ډول سره زیار باسي چې بس همدغه شیان وکړي ، دوی په شعوري ډول هڅه نه کوي چې «ترقي وکړي» ، کوم تاریخي « قانون » یا «فرضیې» یا ترقي ته تحقق ورکړي . دا مورخ دی چې دهغوی په اعمالو کې د ترقي خپله فرضیه تطبیق کوي ، او دهغوی اعمال د ترقي په حیث تفسیر کوي . خو دا د ترقي مفهوم له اعتباره څخه نه غورځوي . خوښ یم چې په دغه ټکي کې له ایسایه برلین سره ځان «موافق وینم چې وایي «ترقي او ارتجاع که څه هم دغه الفاظ شاید ډیر غلط استعمال شوي وي ، پوچ مفاهیم نه دي » ۳۳ دا د تاریخ یوه دومبنۍ فرضیه ده چې انسان د خپلو اسلافو له تجاربو سره د استفادې کولو قدرت لري ( داسې نه ده چې دی ار و مرو استفاده کوي ) او ترقي په تاریخ کې ؛ برخلاف د تکامل په طبیعت کې ، د اکتسابي شتمنیو په انتقال استناد لري . د اشتمنۍ هم مادي ملکیتونه په ځان کې شامل ګڼي ، او هم هغه استعدادونه په ځان کې شامل لري ، چې په هغو سره د یوه چاپېریال ارزوي ، تسرې ګټه اخلي ، او پرې حاکمیت کوي . دغه دواړه عوامل ، په حقیقت کې ، یو له بل سره نږدې ارتباط لري او په یوه بل باندې عمل او تاثیر کوي . مارکس انساني کار ته د ټولې ماڼۍ د اساس

۳۳ , فورن افیرز (مجله) ۲۸، ۱ ، اپریل ۱۷ (جون ۱۹۵۰) مخ ۳۸۲ .

په حیث قایل دی. دغه قاعده هغه وخت د منلو وړ ښکاره کیږي، چې که د کار و تنه په کافي اندازه پراخ مفهوم ور کړل شي. خو د منابعو تش څوندول په ګټور ډول بسنه نه شي، مګر په هغه وخت کې چې هغه له ځانه سره نه یوازې متکاثف تخنیکي او اجتماعي علم او تجربه ملګري ولري، بلکه په پراخ مفهوم سره د انسان په محیط باندې اضافه شوی حاکمیت هم ورسره مل وي. زما په فکر چې په حاضر وخت کې، نه یوازې یوڅو محدوده کسان د مادي منابعو او علمي پوهې او په تخنیکي مفهوم سره په محیط باندې د حاکمیت د ترقي د حقیقت په باب شك و کړي. مګر د دغه څه په باب، چې پوښتنې د والي دی، دا دی چې آیا په شلمې پیړۍ کې زموږ د جامعې په تنظیم کولو یا په اجتماعي محیط باندې د ملي وی که بین المللي، په حاکمیت کې کومه ترقي شوې ده، که نه، یا دا چې موږ په واضح ډول د ښا په لوړتللي نه یو؟ آیا د اجتماعي موجود په حیث، د انساني تکامل، د تکنالوجي له ترقي نه په خطرناك ډول پیرته پاتې شوی نه دی؟

هغه علامې چې د دغې پوښتنې سبب کیږي، واضحې دي. خو سره له دې هم، زه ګمان کوم چې پوښتنه په سمه توګه شوې نه ده. تاریخ ډیر ګرځونکی ټکي لرلي دي، چه په هغو کې مشرتا بدا و ابتکار له یوې ډلې، او د نړۍ له یوې برخې نه و بلې ته انتقال کړی دی. د عصري دولت د ظهور دوره، او له مدیترانې نه و غربي اروپا ته د قوت د مرکز انتقال، او د فرانسې انقلاب یې ښکاره عصري مثالونه دي. دا سې دورې تل د قوت ګټلو د پاره د مبارزو او شدیدو خیزونو وختونه وي. زړې واکمنۍ ضعیفې کیږي، زړې علامې ور کې کیږي، د جاه طلبیو او غوښتنو له ترخه تصادم نه نوی نظام راوځي. زما په فکر، موږ اوس له دغسې یوې دورې څخه تیریږو. مانه دغه تش غیر حقیقي ښکاري چې وویل شي د اجتماعي تشکیلاتو د مسا یلو په باب، زموږ فهم، یا د هغه د فهم په رڼا کې د جامعې په تشکیل کولو کې زموږ حسن نیت، منځ پسه

پر ته تللي دي. په واقع کې، زه باید په زړه ور توب سره ووایم چې هغه وېرشوي دي. داسې نه ده چې زموږ استعدادونه کم شوي، یا زموږ اخلاقي صفتونو انحطاط کړی دی. مګر د بر اعظمونو، ملتونو، او طبقاتو د قوت د انډول د انتقال له امله، د مبارزې او جهشونو دوره چې موږ ورته تېر شو، په دغو استعدادونو او خاصیتونو باندې فشار ور ډېر کړی او د مثبتو کارنامو د پاره یې د دغوی تاثیر محدود او عقیم کړی دی. په دغسې حال کې چې زه نه غواړم په لوید یقیني تري کې د ترقۍ د عقیدې په مقابل کې، د تېرو پنځوسو کالو د ډېپلنجونو قوت لږ وینم، زه لا تر اوسه په دې قائل نه یم چې په تاریخ کې ترقي اخر ته رسېدلې ده. خو که داسې د ترقۍ په محتوی باندې په ما تور هم فشار راوړي، ګمان کوم چې زه به دغسې یو څه ځواب ورېلی وشم. په تاریخ کې د ترقۍ ټاکلې او واضحاً تعریف کېدونکی هدف نظریه، چې زیاتره د نولسمې پېړۍ د مفکرانو له خوا وړاندې شوې ده، وچه او نه تطبیق کېدونکې ثابته شوې ده. په ترقۍ عقیده کول، په کومې یوې اوتوماتیکي حتمي عملیې د عقیدې کولو معنی نه لري، بلکه هغه د بشري استعدادونو په پرمختګ او انکشاف عقیده لرل دي. ترقي یو مجرد لفظ دی، او مشخص هدفونه، کوم چې بشریت وخت په وخت تعقیب کوي، د تاریخ له سیر څخه راپیدا کېږي، نه له هغه نه بهر له کومې منبع څخه. زه د انسان په کمال د ممکنېدو یا په آینده د جنت عقیده نه لرم. تر دغه حده له عالمانو او متصوفانو سره چې وايي کمال په تاریخ کې غیر قابل تحقیق دی، موافق یم مګر زه به د نا محدودې ترقۍ په امکان راضي اوسم، داسې ترقي چې تعیغ حدونو چې موږ ورته اړه ولرو، او یا یې لیدلی وشو، تابع به نه وي، او د دغه ترقۍ به د هغو هدفونو په لور وي، چې یوازې هغه وخت چې موږ ورته نژدې کېږو، تعریف کېدلی به شي، او د هغو صحت او اعتبار به هغو ته د رسېدو په عملیه کې ثابت او مشهود کېدلی شي. زه [illegible] پوهېږم چې

د ترقي د دغې مفهوم نه په پرته جامعه شنګ پاتې کیدلی شي. هره میډ به جامعه د تراوسه تاریخ بدل شو یو نسلونو په خاطر، له ژوندي نسل نه قرباني غواړي. دا ښه بهتر جهان په نامه سره، د دغو قربانیو رواشیرل، دعقوروا شمیر لو دنیایي مثني ده چې د کوم اسماني مقصد پاره به کیده. د (بري) په الفاظو سره د وا تلونکي نسل د پاره د وظیفې مسئولیت د ترقي د مفکورې مستقیمه نتیجه ده. ۳۴ ممکن دیته څه اړه نه وي چې د دغې وظیفې د حقانیت دلیل وړاندې شي. که ورته اړه وي، زه پلا ره نه وینم چې په حقه بې وښیم.

دامې نو اوس، په تاریخ کې د افاقیت مشهورې معضلې ته نژدې کوي. دغه کلمه په خپل ذات کې تیر ایستونکې او پوچه ده. غوښتونکې ده، ما د مخه په بوه لیکنه کې ویلي وه چې اجتماعي علوم: د تاریخ په شمول، کولی نه شي د علم له دغې نظر سره جوړه روغه وکړي، چې فاعل او موضوع یو له بل نه بیلوي، او د مشاهد او هغه شي ترمینځ چې تر مشاهدې لاندې نیول کیږي. په کلکه بیلتون قایل وي. مونږ د غې یوې نوې طرح ته اړ یو، چې د هغوی ترمینځ د متقابل نسبت او متقابل عمل د پیچلې عملیې په اهمیت او قدر رښه پوه شو. د تاریخ ټول حقایق افاقي کیدلی نه شي، په دې چې هغه یوازې د هغه اهمیت په وجه چې مورخ یې ورپه برخه کوي، تاریخي حقایق ګرزي. که موږ لا هم مروجې اصطلاح استعمال کړو، په تاریخ کې افاقیت د حقایقو کوم افاقیت نه شي کیدلی. بلکه یوازې د نسبت یعنې د حقیقت او تاویل ترمینځ او د ماضي، حاضره او استقبال ترمینځ د نسبت افاقیت کیدلی شي. لازمه نه بولم هغه دلایل بیا ذکر کړم چې ما هغه کونښ خیر تاریخ شوولی و، کوم چې د هغه په وسیله تاریخي واقعات او ارزښت د یوه مطلق معیار له مخې سنجول کیږي. دامې معیار چې هغه له تاریخ نه بهر او مستقل وي. مګر د دغه مطلق حقیقت ۳۴ مفهوم هم د تاریخ له جهان او یا زما په فکر، د ساینس له جهان سره موزون او مناسب نه دی. کیدلی شي چې یوازې

د تاریخي دنیا یو ډېر ساده قسم، مطلقاً درست او یا مطلقاً غلط، وبلل شي. کوم مورخ چې د خپل سلف حکم محکوم کړي، په طبیعي ډول یې د مطلق غلط په ډول نه محکوموي، بلکه څه یا خیر کافي: یا یو ارزښت، یا تېر ایستونکی بولي؛ او یا یې د دغې نظر محصول بولي چې د نویو شواهدو په اساس یې زوړ شوی او نامربوط ښیي. که وویل شي چې د روسیې انقلاب، په دې پېښ شو چې دوهم نیکولای احمق و، او لینن نابغه و. دا به یوه پوره تېر ایستونکې وینا وي. سره له دې هم مطلقاً غلط ورته ویلی نه شو. مورخ له دغې مطلقیاتو څخه هیڅ نه ګرېزي.

راځئ چې د وابن سن، د غمجنې مړینې پېښې ته بېرته بیا وګرځو. دغې پېښې په باب زموږ د تحقیق مقصد دا نه و، چې موږ خپل حقایق درست کړو. په حقایقو کې څه شک، او څېړه نه وه. څېړه په دې کې وه، چې د حقیقي یا مهمو حقایقو یعنې له هغو سره چې موږ علاقمن وو؛ او د تصادفي حقایقو تر منځ - یعنې کوم چې موږ کولی شوای، نالیدلي و ګڼو؛ توپیر وکړو. دغه توپیر کول موږ ته مشکل نه و؛ په دې چې زموږ معیار یا د اهمیت ازموینه: او زموږ د واقعیت بنیاد، ښکاره وو، او هغه دا وو چې باید له مقصد سره، کوم چې موږ په نظر کې لاره؛ ارتباط ولري، یعنې په سړکونو کې د تلفاتو شمېر لږ کړي. خو مورخ، په دې برخه کې تر تحقیق کوونکي نه لږ نېکمرغه دی، په دې چې د دوروستي ټاکلی او یوازنی هدف دا دی چې د ترافیکي پېښو د تلفاتو شمېر لږ کړي. مورخ هم د خپل تاویل په وظیفه کې، د دې دپاره چې د مهمو او تصادفي پېښو تر منځ توپیر وکړي، د اهمیت یوه معیار ته، چې هغه یې د واقعیت معیار هم دی، اړه لري. دی هم دغه معیار یوازې خپل هدف ته چې دی یې په نظر کې لري، د ارتباط په لړ کې سره مېندلی شي. مګر دغه لازمه مېنځ په تکامل هدف دی. ځکه چې د ماضي مېنځ په تکامل تاویل، د تاریخ یو ضروري وظیفه ده. هغه عنعني فرضیه، چې باید تحول تل د یوه ثابت او تحول نه منونکي شي په ارتباط سره شرح شي، د مورخ له

تجربې څخه مغایره ده. پروفیسر بټرفیلډ، ممکن دغه فکر له مخې چې غواړي په ضمني ډول: ځان دپاره دغسې یوه ساحه وټاکي چې نور مورخان یې پیروي کولو ته اړ نه وي، وایي: «یوازنی مطلق، تحول دی.»۳۵ په تاریخ کې مطلق په ماضي کې داسې کوم شی نه دی، چې موږ له هغه ځایه شروع کړو. داسې هم هغه په حاضر کې کوم شی نه دی، ځکه چې ټول حاضر تفکرات لزوماً نسبي دي. دا تر اوسه هم ناقص دی، او د کیدلو په جریان کې دی. داسې یو شی چې په ماضي کې موږ دغه په لور: خوځېږو چې هغه یوازې هغه وخت ځان ته یو شکل غوره کوي: د کوم په لور چې موږ خوځېږو، او هغه وخت چې خوځېږو، دغه په رڼا کې موږ، ورو ورو د ماضي په باب، خپل تاویل ته شکل ور کوو. دا دغې مذهبي افسانې وشانه، چې وایي د تاریخ مفهوم به د محشر په ورځ ښکاره شي، د نیایي حقیقت دی. زموږ معیار داسې کوم مطلق نه دی، چې هغه به د سکون په مفهوم سره، د پرون، نن او د نن دپاره یو راز وي. دغسې مطلق، د تاریخ له ماهیت سره ګرد سره متناقض دی. خو دا زموږ د ماضي د تعبیر په باب یو مطلق دی. دغه مطلق د نسبي نظریې رد کوي، چې وایي دغه تاویل د غه بل تاویل په څېر ښه دی، یا دا چې هر تاویل په خپل زمان او مکان کې ښه دی، او دغسې یو محک تهیه کوي چې یوه ورځ به د غه په واسطه د ماضي د تاویل په باب قضاوت وشي. په تاریخ کې د همدغه مسیر د احساس په وجه، چې موږ د ماضي پېښې په نظم کې راولو، او تعبیر یې کړو. دا د مورخ وظیفه ده. د سیاسي، اقتصاد پوه، او اجتماعي مصلح وظیفه یا داده چې د همدغه مسیر د احساس په وجه انساني انرجي په حاضره زمانه کې ازادې، او متشکلې کړي. خو عملیه، په خپل ذات کې، مترقي او دینامیکي

۳۵. اچ. بټرفیلډ، د ویګ د تاریخ تعبیر، (۱۹۳۱) مخ ۵۸، جاد ای. ڤان مارټن ( ماقبلا ـ سوسیولوجي « انګریزي ترجمه ۱۹۴۵ مخ ) له مفصلې وینا سره پرتله کړی: « رکود او حرکت سکون او دینامیک هغه کټه ګوري ګانې دي، چې په هغو سره د تاریخ د پاره نو سیوسیولوجیکې مفکوره شروع کیږي. »

باتې کېږي، او څنګه چې موږ په مخ درومو، زموږ د تاویل او د ماضي په باب زموږ د تاویل احساس پرله پسې تعدیل او تکامل مومي.

هیګل خپل مطلق د جهاني روح په جامه کې ونغښت، او دې ته ځای چې د تاریخ مسیر د آینده په لور یوه هدف ته طرح کړي؛ داسې اساسي غلطي یې وکړله؛ چې هغه یې په اوس کې ختمه کړي. ده په ماضي کې د پرله پسې تکامل عملیه وپېژندله؛ خو د هغه وجود ته په آینده کې قایل نه شو، او ترې منکر شو. هغو کسانو چې له هیګل نه وروسته د تاریخ د ماهیت په باب ژور فکرونه کړي دي، په هغو کې یې د ماضي او آینده یو ترکیب مشاهده کړی دی. تاکویل ٣٦، که څه هم چې ځان یې د خپل عصر له مذهبي روش څخه ګرڅسره آزاد کولی ونه شو، او خپل مطلق ته یې ډیر محدود محتوی قایل شو، سره له دې هم د موضوع په ماهیت بالدې پوه وو. وروسته له دې چې د عالي او دایمي حادثې په حیث؛ د مساوات له انکشاف څخه وغږېد، خپلو خبرو ته یې داسې دوام ورکړ:

«کله چې موږ د عصر اشخاص ترغیب کړل شي چې د مساوات تدریجي او مترقي انکشاف یو وار د خپل تاریخ د ماضي او آینده په باب وویني، د هغه یوازې کشف به د هغه انکشاف ته د دوی د رب او څښتن د ارادې سپیڅلې خصوصیت ورکړي.» ٣٧

کیدلی شي چې په دغې ناتمامې شوې موضوع باندې یو مهم فصل ولیکل شي، مارکس، چې د هیګل په څیر، د آینده د لیدلو په باب یو څه احتیاط کاوه؛ او یوازې له دې سره علاقمن و؛ چې د خپلو تعلیماتو ریښه د ماضي په تاریخ کې ټینګه کړي، د خپلې موضوع د ماهیت له امله، مجبور و چې د خپلې بې طبقاتي جامعې مطلق د آینده په لور طرح کړي. (بري) د ترقي مفکوره لږ څه بې لطفه بیان کړله، مګر مقصد

---

٣٦. A.C.H. Tocqueville (١٨٠٥ - ١٨٥٩) فرانسوي سیاسي او سیاسي لیکوال. (ژ)

٣٧. ای. تاکویل: په امریکا کې ډموکراسي ته مقدمه.

واضحاً معلوم دي. دده په فکر، د ترقي مفکوره يوه تيوري ده چي د ماضي د ترکيب او د آينده پيشگويي مشموله ده؛ «٣٨» نامبرده د غو عباراتو، چي په ارادي دول ظاهراً نقيض دي، او هغه په معمولي دول، په ډېرو واقعو مثالونو کي تمثيل کوي وايي چي مورخان د ماضي تصور کوي، او آينده په ياد لري. «٣٩» يوازي آينده، د ماضي د تاويل د پاره کلي برابرولي شي، او يوازې په همدغه مفهوم سره ده چي موږ په تاريخ کي له نهايي افاقيت څخه غږيدلي شو. دغه سمدلاسه، د تاريخ حقانيت او شرح ده چي ماضي په آينده، او آينده په ماضي باندي رڼا اچوي.

نو په دغه حال کي، کله چي موږ مورخ د افاقي کېدلو د پاره ستايو، او يا وايو چي يو مورخ نظر و بل ته ډېر افاقي دی؛ زموږ مطلب او منظور څه دی؟ واضحه ده چي دا يوازي په دې نه ده چي مورخ خپل حقايق درست او سم تهيه کوي، بلکه په دې ده چي دی سم او درستو حقايقو انتخاب کوي. کله چي موږ يوه مورخ ته افاقي وايو، زما په فکر موږ دوه شيز ونه کوو: اومړی دا چي موږ وايو چي دی دغسې استعداد لري چي په تاريخ او جامعي کي د خپل محدود د يد او نظر له موقف څخه هسک شي. دا هغسې استعداد دی، چي لکه څنګه چي ما په يوه ز وړمبي ليکچر کي پري نظر اظهار کړی و، څه بې د هغه په خپل استعداد اره لري، چي په هغه حال کي د خپل د شموليت حد و اندازه و پېژني، په بل عبارت د پوره افاقيت ناممکن توب و پېژني. دوهم دا چي موږ له هغه څخه د غسې مفهوم اخلو چي مورخ د غسې استعداد لري چي د اينده په باب خپل ديد او نظر په دغسې دول طرح کړي چي وده ته د ماضي په باب د ډېر دوام لرونکی او ژور نظر او بصيرت ورېښي، داسې چي دده دغه بصيرت د هغو مورخانو تر بصيرت نه ليا ډېر ژور او دوام دار وي، چي د هغوی نظر د دوی موجود موقف محدود کړی وي. نن ورځ به هيڅ مورخ دا کتين د هغه اعتماد انعکاس و نه کړي کوم چي

٣٨. جي. بي. بري: د ترقي مفکوره (١٩٢٠) ؛ مخ ٥.
٣٩. آلډ سې. نامبره: تناقضات (١٩٤٢) مخ ٢٠.

هغه د و نهایي تاریخ په اینده لاره . خو ځینې مورخان داسې تاریخ لیکي چې تر نور هم ډېر پاتېږي ، او هم دغه ډول افاقي او نهایي خصوصیت ډېره برخه لري . دوی هغه مورخان دي چې د ماضي او اینده په باب، د دغسې نظر خاوندان دي چې زه ورته داوږدې مودې نظر وایم . د ماضي مورخ د افاقیت په لوري یوازې هغه وخت تقرب کولی شي چې د آینده د تفا هم په لور تقرب کوي .

تر یوه دغه حساب کله چې ما په یوه پرومبي لیکچر کې تاریخ د اوس او ماضي تر منځ یوه مکالمه وګڼله ، ما باید هغه د ماضي د پېښو او په مترقي ډول د اینده هدفونو د ظهور تر منځ یوه مکالمه ګڼلې وای . د ماضي په باب د مورخ تاویل ، د هغه د مربوطو او مهمو حقایقو انتخاب ، د نویو هدفونو په مترقي ظهور سره تکامل کوي . یو ډېر ساده مثال به دلته راوړم . تر هغو چې داسې ښکاره کېده چې مهم هدف د اساسي ازادیو ، او سیاسي حقوقو تنظیمول و ، مورخ د سیاسي او اساسي قانون په چوکاټ کې د ننه د ماضي تاویل وکړ . کله چې اقتصادي او اجتماعي هدفونو د اساسي قانون او سیاسي هدفونو ځای ونیو ، مورخانو د ماضي اقتصادي او اجتماعي تاویل ته مخه وکړله . شکاک ممکن داسې ادعا وکړي چې دغه نوی تاویل تر پخواني نه ډېر سم نه دی ، او هر تاویل د خپل عصر د پاره سم دی . دی به د دغې ادعا سره ممکن حق په جانب وبریښي . سره له دې هم څرنګه چې په انساني انکشاف کې له اقتصادي او اجتماعي هدفونو سره اشتغال د اساسي قانون او سیاسي هدفونو تر اشتغال څخه ، د ډېرې پراخې او په مخ تللې مرحلې تمثیل کوي ، د تاریخ اقتصادي او اجتماعي تاویل له خاص سیاسي تاویل څخه په تاریخ کې یوه په مختللې مرحله ښیي . پخواني تاویل نه ردېږي ، بلکه هم په نوي کې شامل کېږي ، او هم عوض کېږي . تاریخ لیکنه یو مترقي ساینس دی ، په دغه مفهوم چې تاریخ لیکنه د پېښو په سیر کې ، چې هغه په خپله مترقي دی ، په پرله پسې ډول دایا پراخېدونکو او ژورېدونکو بصیرتونو

پلټنه کوي. کله چې وايم مونږ د ماضي په باب پوتصويري نظر ته اړه لرو، زما مفهوم باید تر یوه حده ښه وي. عصري تاریخ لیکنه د تېرو دوو پېړیو په دوران کې په ترقي باندې د همدغې دوه ګونې عقیدې په لړ لو سره وده کړې ده، او له هغې نه په پرته ژوندکولی نه شي، ځکه چې همدغه عقیده د اهمیت معیار او د حقیقي او تصادفي ترمنځ د هغه د توپیر کولو محک تهیه کوي. ګویته، د ژوند په وروستي پړاو کې د ګوردي غوټه ۴۰ یو ځه په تندۍ پرېکړه:

«هغه وخت چې عصرونه مخ په ځوړې وي، ټول تمایلات عندي وي: خو له بلې خوا هغه وخت چې دیوې نوې دورې دپاره ذیان پخېږي، ټول تمایلات آفاقي وي.» ۴۱

هیڅوک مجبور نه دی چې یا د تاریخ په آینده یا د جامعې په آینده عقیده ولري، ممکن زمونږ جامعه ورانه، او یا په تدریجي فساد سره تباه شي، او تاریخ ممکن د الهیاتو قلمرو کې ننوځي؛ یعنې د انساني کارنامو مطالعه نه، بلکه د آسماني مقصد مطالعه وګرځي، یا تاریخ د ادبیاتو قلمرو ته وروګرځي یعنې بې له کوم مقصد او معنې څخه کیسې او نکلونه نقل کړي. مګر دا به هغه تاریخ نه وي، کوم چې مونږ په تېرو دوه سوو کالونو کې پېژندلی دی.

سربېره په دې هم، زه باید په یوه مشهور او عمومي اعتراض بحث وکړم. اعتراض په هرې هغې تیوري باندې دی چې د تاریخي قضاوت نهایي محک په آینده کې مومي. ویل کېږي چې دغسې تیوري ضمنًا معنی داده چې موفقیت د قضاوت نهایي محک دی او که نه هر هغه څه چې دي، او هر هغه څه چې وي، سم دي. په تیرو دوه سوو کالونو کې زیاتره مورخانو له یواړې دیوه لوري او جهت فرضیه منلې وه،

۴۰. The Gordian Knot د ګوردي غوټه له ځانګه کیسه لري او دا په یوه ځانګړي ژوره ډول سره دیوې سختې مشکل حل کول ترې مراد دي. (م)

۴۱. اقتباس د ... عزیز نګاهي، ... افکار و کتب (۱۹۵۹) مخ ۵۵.

په کومې چې تاریخ حرکت کوي ، بلکه په شعوري یا غیرشعوري ډول سره په دغې عقیدې وو چې همدغه جهت سم جهت و ، او بشر پرې له بد څخه و ښه حال ته، او له ښه څخه و پورته حال ته انتقال کړی دی . مورخ نه یوازې دغه جهت پېژندلی دی، بلکه تائید کړی یې هم دی . داهمیت او معنی هغه ازموینه کومه چې ده د ماضي په باب تطبیق کړې ده ، نه یوازې دهغه مسیر په احساس سره و ، په کوم چې تاریخ حرکت کاوه ، بلکه په هغه مسیر کې دده داخلاقي اشتغال احساس هم و . د «دی» او «باید» او دحقیقت او ارزښت ترمینځ مفروض دوه ګوني تــوب حل شو . دادخوشبینۍ باوري نظر و ، چې په آینده باندې دقوي ویسا دعصر محصول و . ویګان ۴۲، اولیبرالان ۴۳ هیګلیان ۴۴ او مارکسستان ۴۵، الهیون ۴۶، او عقلیون ۴۷ په همدغه نظر ډېر ټینګ، او لږ و اضح و و . بې له کوم مبالغې نه ، دا د دوه سوو کالونو د پاره د دغې پوښتنې په مقابل کې چې « تاریخ څه ته وایی ؟» د یو منل شوي ، او بلا اعتراض ځواب په څېر ویل کېدلی شو . دغه په ضد عکس العمل د وېرې او بدبینۍ له حاضر حالت څخه راولاړ شوی ، چې ساحه یې یوازې الهیونو او شکاکانو ته پرې ایښې ده ، چې لومړني یې د تاریخ مفهوم له تاریخ نه بهر لټوي، او وروستي یې تاریخ ته په هیڅ مفهوم قایل نه دي . ټول په ګډه موږ ته دا ادعا کوي او په ډېر ټینګار سره یې راکوي چې د «دی» او «باید» ترمینځ دوه ګوني تــوب مطلق دی ، او حل کېږي نه او «ارزښتونه» له «حقایقو» څخه ایستل کېدلی نه شي .

---

۴۲: Whigs

۴۳: Liberals

۴۴: Hegelians

۴۵: Marxists

۴۶: Theologians

۴۷: Rationalists

زما په فکر دغه لار غلطه ده . راځي چي یو څو مورخان ، یا د تاریخ په باب لیکوالان وګورو، چي د دغې پوښتني په باب دوی څنګه احساس لرلی دی، دغه کسان ، مونږ ته د ډیر په اتفاق ډول ښودله کوو .

ګیبن ، په خپل داستان کي چي د اسلام د فتوحاتو د پاره کوم مساحه تخصیص کړي ده، په دغو دلایلو سره یې په ځای اوچته ډول ولي ده چي د محمد پیروان لا تر اوسه هم په ختیځی نړی کي مدني او مذهبي اقتدار په لاس لري. » خو په دغه برسیره وایي چي « عین هغه زحمت به یې له استحقاقه په هغو وحشي قلوبیرزو کړل شی چي داوي او د دولسمي پیړی ترمیخ د توران ۴۸ له دا ګروپونو نه راښکته شول ، » ځکه چي د « بیزانس د تخت عظمت د دغه بې نظمه حملي دفع کړلي ، او ځانونه یې وساته . » ۴۹ دا نامعقوله نه بریښي . تاریخ په عمومي ډول ، د هغو پیښو ثبت دی ، چي خلقو څه کارونه وکړل ، نه دا چي په کړلو یې ناکام شول . نو ځکه دغه حد ، حتمی ده چي تاریخ د موفقیت داستان دی . د پروفیسر ټاني ۵۰ په عقیده مورخ د حتمیت ظاهري بڼه « د هغه موجود نظام ته ورکوی چي یې « قوتونه کوم چي موفق شوی دی ، لوړوالي ته رسولی دی ، او هغه یې په شا وهلی دی، چي دوی هغه له منځه وړي دی. » ۵۱ خو ایا، په یو معقول مفهوم سره : همدغه د مورخ د وظیفي جوهر نه دی ؟ مورخ باید مخالف قوت لږ ونه بیني . دی باید موفقیت ، چي که له خطراتو سره مخامخ و ، اسان ونه بیني . کله کله داسي کیږی ، چي په نهایي نتیجي کي ، ناکامان او د کامیابانو په څیر دیر کومک کړی وی . دغه اصلونه هر مورخ ته اشنا دی . خو، په عمومي ډول : مورخ له هغو کسانو سره علاقمن دی ، چي

---

۴۸. Scythia د تورې بحیرې شمالي سیمې - (م).

۴۹. ګیبن ، د روم د امپراطوری انحطاط او سقوط ، فصل Lv .

۵۰. Prof. R.H. Tawney

۵۱. آر . ایچ . ټاني ، په شپاړسمي پیړۍ کي د مذهب مسئله (۱۹۱۲) مخ ۱۲۲ .

يو څه يې اجرا کړی وي، فرق نه کوي چې دوی غالب يا مغلوب شوي وي. زه د کرکټ په تاريخ کې تخصص نه لرم، مګر دغه پاڼې په قوي احتمال دهغو کسانو په نومونو سره ښکلې شوې دي، چې سل ګونه يې پوره کړي وي، نه دا چې سربېړ وهلي وي او له يوه ارزښته وتلي وي. دهيګل په دغې مشهورې وينا، چې په تاريخ کې يوازې هغه کسان زموږ نظر جلبوي چې دولت تشکيل کوي، «۵۲» په حقه اعتراض شوی دی چې، «دی دا اجتماعي تشکيل يوې بڼې ته په خاص ارزښت قايل کېږي او د کرکټنې دولت. - نما نځنې دپاره لاره هواره کوي. خو د پر نسيب له مخې هغه څه چې دی کوښښ کوي ورايې سم دي: او هې د تاريخ او ماقبل التاريخ ترمېنځ د توپير مشهور انعکاس کوي. يوازې هغه خلق چې دخپلې جامعې په تنظيم کولو سره موفق شوي دي، نور نودلو مرکيو وحشيانو په څېر نه دي، او په تاريخ کې داخلېږي. کارلايل، په خپل اثر (دفرانسې انقلاب) کې پنځلسم لويس «۵۳» د «جهان تجسم مجسم بې تمېزي» بولي. دغه عبارت ډېر خوښ وو، ځکه چې هغه يې په يوې ورو ستې اوږدې فقرې کې ښکلي کړی و.

«دا څه نوی عالي سرګېچوونکی نهضت دی: دموسساتو، اجتماعي تنظيماتو فردي دماغونو چې يو وخت به يې په ګډه کار و کړ، اوس په ګيچ تصادم کې سره ټکر خوري، او تو کړ تو کړ کېږي؟ حتی اوبالاخره، دا دجهاني بې تمېزي انحلال دی چې په پای کې زور شوی دی.» «۵۴»

محکث يو مځل بيا هم تاريخي دی. هغه څه چې په يوه عصر کې متوافق وو، په بل کې بې تمېزي شوه، او په همدغه دليل سره محکوم کېږي. دا چې ښکاري چې سرابي به يې لين، څه وخت چې د فلسفي مجرداتو له هسکو څخه راکوزېږي

۵۲. د تاريخ د فلسفې په باب لکچرونه (انګرېزي ترجمه ۱۸۸۴) مخ ۴۰.

۵۳. Louis XV (۱۷۱۰ – ۱۷۷۴) دفرانسې پاچا (م).

۵۴. - کارلايل، دفرانسې انقلاب: I ، ۱، فصل ۴ ، I, iii فصل ۷.

او په مشخصو تاریخي حالاتو موږ کوي ، دغه نظر ته نږدې کیږي . ده په هغې راډیویي وینا کې چې دخپلې مقالې « تاریخي حسبت » لمپاپولو ته وروسته وکړه بسمارک بې سره له اخلاقي نیمګړتیاوو دیوه « نابغه » په حیث وستایه او هغه بې په « تیرې پېړۍ کې، دسیاسي قضاوت دلوړو صلاحیتونو دسیاست چې دیوه ستر مثال په حیث» تعریف کړ ، او له دغې کسانو لکه داستر یاتوهم جوزف ۵۵، روبسپیر۵۶ لینن، او هټلر سره بې په مقابل کې ښه او غوره وګاڼه . ده په فکر ، وروستیو کسانو ونه شو کولی، خپلو مثبتو هدفونو ته تحقق ور کړي دغه حکم ، ما ته عجیب او غریب معلومیږي . خو هغه څه چې اوس مې علاقمن کوي د قضاوت معیار دی . سر ایسایا بېرلین وایي چې بسمارک په هغو مرادو ، په کومو کې چې ده کار کاوه، ښه پوهېده، او هغه او رهغو مجردو تیوریو سې بوږل ، کوم چې په عمل کې ناکام شول . ددې نتیجه داشي چې « ناکامي د هغه په مقابل کې چې ترټولو ښه کار کوي ...، له مقاومت څخه را پیدا کیږي ، ( او هغه ) د کوم نظم میتود ، یا پرنسیپ په ګټه چې دکلي او عالمي اعتبار ادعا کوي ، » ۵۷ . په بل عبارت ، په تاریخ کې دقضاوت محک هغه و پرنسیپ چې دعالمي اعتبار ادعا کوي « نه دی، بلکه « هغه دی چې ترټولو ښه کار کوي . »

دېته څه اړه نه شته چې وویل شي دا یوازې هغه وخت نه دی، چې څه وخت ماضي تحلیل کیږي ، موږ په دغه محک یعنې « هغه چې ترټولو ښه کار کوي » استناد کوو. که چا درته وویل چې ده په فکر په همدغه اوسني حال کې، په یوه ځانګړي دولت کې او دیوه ځانګړي واکمن ترادارې لاندې « د لوېې برتانیا او د امریکې

---

۵۵. Josephll

۵۶. Robespaire (۱۷۵۸ - ۱۷۹۴) فرانسوي انقلابي . (م.)

۵۷. په ۱۹۵۳ . م . کې د (سیاسي قضاوت) په باب تېروته ، دریم پروګرام ، جون ۱۹۵۷ .

د متحده ایالتونو اتحادیه مطلوب امر دی، تاسې به ورسره موافقه وکړی چې دا یوه ښه معقوله نظریه ده. که یې خپلو خبرو ته داسې دوام ورکړ، چې د حکومت دیوه شکل په حیث، مشروطه پاچاهي له جمهوري دموکراسۍ څخه غوره ده، ممکن تاسې بیاهم ورسره موافقه وکړی چې دا ښه معقوله ده. خو فرض کړئ چې ده درته وویل چې دی پیشنهاد کوي چې د غسې مبارزې د پاره وخت وقف کړي: چې د واړه مملکتونه دې د برتانیا له تاج لاندې یا یوه اتحادیه جوړه کړي، ممکن تاسې ور ته ځواب ورکړی چې دی خپل وخت خوشې عبث کوي. که مو کوښښ وکړ چې علت یې څرګند کړی، ممکن ورته ووایې چې دغه راز مسایل باید په دغسې دول ترېحث لاندې ونه نیول شي چې هغه د کوم پرنسیب د عمومي تطبیق په اساس وي، بلکه باید دغسې وي چې په تاکلو تاریخي شرایطو کې کوم څه موثر وي، او کار کوي. تاسې ممکن دغه اساسي ګناه هم وکړی او تاریخ په غتو توروياد کړی او ورته ووایې چې تاریخ ( په غټې تې سره ) ستاسې په خلاف دی. د سیاست چې کار دادی چې نه یوازې هغه څه کوم چې د اخلاق او د تیوري له مخې مطلوب وي، بلکه هغه قوتونه چې په جهان کې هم موجود دي، تر غور او کتنې لاندې ونیسي، داسې هم دا په نظر کې ونیسي چې دغه قوتونه به څنګه دغو هدفونو د یو څه برخې د تحقق د پاره کوم چې په نظر کې نیول شوي دي، په کار کړل شي. زمونږ هغه سیاسي فیصلې کومې چې زمونږ د تاریخ د تاویل په رڼا کې کیږي، په هم دغې روښې جوړې کې ریښې لري. هیڅ شیز دومره دیر غلط نه دی، لکه چې مونږ د مطلوب کوم مفروض مجرد معیار ساز کړو، او د هغه په رڼا کې په ماضي حکم وکړو. زاځئ چې د «موفقیت» د کلمې په عوض چې تبعیض رنګ لري، دغه بیطرفه افاده یعنې «هغه چې تر ټولو ډېره کار کوي» په ټوله معنې استعمال کړو. څنګه چې په دغو لیکچرونو کې څو ځایه ماله ایسایه برلین سره دعوی کړې ده، خوښ یم چې دغه ویناء په هر حال، له ده سره د «موافقت

تر یوه اندازې پورې پای ته رسوم .

مګر د هغه څه چې تر نن ورځې کار کوي ، د محک مثل د هغه تطبیق اسانه او بدیهي نه ګڼل کیږي . دا داسې یو محک نه دی چې هر څوک یې په اسانۍ تجربه کړي ، بیا هغه نظریه سره تیښتي چې سر هغه څه چې شته دي ، درست دي . په تاریخ کې بلا ربې ناکامي ګانې نامعلومې نه دي . تاریخ هغه څه چې زه یې د تال شوي کارنامې په نامه یادوم ، بیرته ، مسکن د تن ورځې ظاهري ناکامي ګانې د هیا کارنامو د پاره حیاتي مرسته کړې وه . پیغمبران چې له خپل عصر نه د مخه ظاهر شوي دي . په حقیقت کې د نظریه مفروض ثابت او کلي پرنسیبونه د دغه محک په وړ فایده داده چې د هغه په احتمالي تقاضاو نږ خپل قضاوت سیاسته تړل کړو او یاد هغو خیز ونو په ډیاکې چې لا تر اوسه واقع شوي نه دي ، د دغه محک تعدیل کړو . پرو دون ۵۸ چې د مجرد و اخلاقي پرنسیبونو په عبارت یې از ادو ولګر ید د دریم ناپلیون ۵۹ کود تا یې ور وسته له دې چې بریالی شو ، تالیدلی وشمیراه . مارکس چې د مجردو اخلاقي پرنسیبونو تردید کاوه ، پرودون یې په دغه تالیدلی توب بالذې محکوم کړ . مو نږ چې ور وسته له دېرو وختونو په هغه نظر اچوو ، په دې په موافقه وکړو ، چې پرودون غالباً غلط او مارکس په حقه و . د بسمارک کارنامه د تاریخي قضاوت د دغې مسئلې د از موینې د پاره د یره ښه مبداتهیه کوي . په دغې حال کې چې زه د سر اسیا په بر لین مطلق د هغه څه چې تر نن ورځې کار کوي منم ، ز ه لا تر اوسه په هغو تنګو او قصیر المدته حدودو نو تعجب کوم چې دی د هغه د ننه ظاهراً د هغه په تطبیق کولو قانع دی . آیا هغه څه چې بسمارک خلق کړل ، په ریښتیا سره کار یې وکړ ؟ ز ما په فکر چې هغه د لوی تباهۍ سبب شو . د دې معنی دا نه ده چې زه غوا ړم بسمارک

۵۸ـ P.J. Proudhon (۱۸۰۹ – ۱۸٦٥) فرانسوی سوسیالست او لیکوال (م)

۵۹ـ Napoleon III (۱۸۰۸ – ۱۸۷۳) د فرانسې امپراطور (۱۸۵۲ – ۱۸۷۰) . (م)

یعنې هغه چاچې دجرمن رایخ ٦٠ جوړ کړ، او یا دجرمن و لس یعنې چاچې ددغه رایخ غوښتنه کوله، او په جوړولو کې یې سهم لاره، محکوم کړم. خو دیو مورخ په حیث، زه تراوسه هم مجبور یم دیرې پوښتنې وکړم. آیا دغه بعدي تباهي، ددغه امله پیښه شوله چې درایخ په تشکیل کې څه نقص و؟ یا له دې امله پیښه شوله چې په داخلي شرایطو کې کوم چې درایخ دظهور سبب شو، کوم شي ددې سبب شو چې هغې متجاوز او خود خواه کړي؟ یا له دې امله، چې څه وخت چې رایخ جوړ کړل شو؛ اروپایي یا جهاني صحنه لاترهغه دمخه دومره دکه شوې وه، او دموجودو سترو قوتونو په منځ کې دپراخیدلو هڅې دومره قوي شوې وې، چې دیوه بل پراخید ونکي ستر قوت ظهور یې ددې کافي و و: چې دیو عمومي تصادم سبب شي، او ټول سیستم وران ویجاړ کړي؟ دا په غلطه وې چې دوروستي فرضیې په اساس، بسمارك یاد جرمن خلق ددغې تباهي مسئول، او یا کاملاً؟ یوازې مسئول وګڼل شي. ښایي واقعاً نه شي کولی وروستي وا به ګرم وبولې. مګر دبسمارك په کارنامو باندې، او داچې هغو څنګه کار وکړ اواقعي قضاوت دغو پوښتنو په مقابل کې دمورخ ځواب ته انتظار باسي او زه په دې باور نه لرم چې دی لاتراوسه په دغسې موقف کې وی چې هغوته په قطعي ډول ځواب ور کولی وشي. هغه څه چې زه غوارم و وایم داده چې د١٩٢٠ دلسیزکالو نومورخ نظر د١٨٨٠ دلسیزکالو نومورخ ته واقعي قضاوت ته دیرنژدې دی، او دنن ورځې مورخ نظر د١٩٢٠ لسیزکالو نومورخ ته دیرنژدې دی، او د٢٠٠٠ کال مورخ به ترهغه لاهم نژدې وی. او دا زما دغه نظر تمثیلوی چې اقاقیت په تاریخ کې دقضاوت په دغسې کوم ثابت او معین معیار استنا د نه کوی؛ او نه یې کولی شي، چې دلته دغه اوس موجود دی، مګر هغه په دغسې یوه معیار استناد کوي چې په آینده کې پروت دی، او دتاریخ دجریان له ورائدې تګ سره تکامل کوی. تاریخ یوازې هغه وخت اقاقیت

---

٦٠. German Reich دجرمني دوهمه امپراطوری (١٨٧١ـ١٩١٨) (م).

او مفهوم پیدا کولی شي چي د ماضي او آینده ترمینځ یو منسجم او منطقي ارتباط ټینګ کړي.

راځی چي د حقیقت او ارزښت تر مینځ په دغه مفروضه د وه ګو ناتوب یو بل نظر واچوو. ارزښتونه له حقایقو څخه ایستل کیدلی نه شي. دغه حکم نیمایي درست، مګر نیمایي غلط دی. تاسي باید پوازې د ارزښت هغه سیستمونه تر غور لاندي ونیسي چي په یوه عصر یا کوم هیواد کي مسلط وي. ترڅو ددغه درک وکړی چي څومره یې د محیط حقایقو جوړ کړی دی،

په یوه دمخني لېکچر کي ما د دغسي ارزښتي ـ کلما تو لکه آزادی، مساوات یا عدالت متحولو مطالبو ته توجه اړولې وه. عیسوی کلیسا د یوې موسسې په حیث را واخلئ چي په زیاته اندازه د اخلاقي ارزښتونو له خپرولو سره سرو کار لري. د لومړنی دورې د عیسویت ارزښتونه د منځنیو پیړیو د پاپ د قلمرو[61] له ارزښتونو سره پرتله کړی، یا د منځنیو پیړیو د پاپ د قلمرو ارزښتونه د نولسمې پیړۍ د پروتستانت د کلیساګانو له ارزښتونو سره مقایسه کړئ. یا هغه ارزښتونه کوم چي نن ورځ بې مثلاً عیسوی کلیسا په هسپانیې کي خپروي، له هغو ارزښتو نو سره مقایسه کړئ کوم چي د امریکې د متحده ایالتونو کلیساګانې یې تبلیغ کوي. د ارزښت دغه اختلافات، د تاریخي حقیقت له اختلافاتو څخه راولاړیږي. یا هغه تاریخي حقایق تر غور لاندي ونیسي کوم چي یونیم سل کاله و مخې د دې سبب شو چي غلامي یا نژادي غیر مساوات، او یا د ماشوماتو د کار استثمار منځ ته راوړي دغه ټول یو وخت په اخلاقي لحاظ بې طرف یا نیک مثل شوی وو؛ لو اوس په عمومي ډول غیر اخلاقي ګڼل شوی دی. دغه قضیه چي ارزښتونه له حقایقو څخه ایستل کیدلی نه شي، یو څه ارخیزه او تیر ایستو نکي ده. د الاحد اقل یو حکم دی. یا راځئ چي دغه حکم

سرچپه کړو. حقایق له ارزښتونو څخه ایستل کېدلی نه شي . ددغه حکم یوه برخه سمه ده، تېر ـ ایستونکې به هم وي، او په دغه لحاظ قید او شرط ته اړه لري . کله چې موږ په دغه لټه کې یوچې په حقایقو پوه شو، هغه پوښتنې چې موږيې کوو او هغه ځوابونه چې یې حاصلوو، زموږ د ارزښتونو په سیستم سره تحریک کېږي زموږ د محیط د حقایقو هغه تصویر چې موږیې جوړوو، زموږد ارزښتونو له خوا جوړېږي، مثلاً دهغو کته ګوريګانو له خوا چې په هغو سره موږ حقایقو ته نږدې کېږو. دغه تصویر دمهمو حقایقو له جملې څخه دی، چې بې موږ باید په نظر کې ولرو. ارزښتونه په حقایقو کې ننوځي، او دهغه یوه اساسي برخه وي . زموږ ارزښتونه د انسانانو په حیث زموږ د آلاتو یوه اساسي برخه ده . دا زموږ د ارزښتونو په وسیلې سره ده چې موږ دهغه استعداد خاوندکېږو وچه په هغه سره له خپل محیط سره توافق کوو، او په خپل محیط باندې دغې حاکمیت ګټو، چې تاریخ یې دترقي یوثبت ګرزولی دی. خو له محیط سره د انسان دمبارزې په برجسته بېودلو سره، داصالواوارزښتونو ترمنځ کاذب تضاد، یا کاذب انفکاك مه قایموی . ترقي په تاریخ کې دحقایقو او ارزښتونو دیو تربله تعامل او دیوبل د ارتباط له لارې حاصله کېدلی شي. افاقي مورخ هغه مورخ دی چې په هملتې دوه اړخیز ي عملی کې ښه دننه ورننوځي.

دوړ جتین توب «٦٢ د کلمې عادي استعمال دحقایقو او ارزښتونو دمسئلې دپاره یولاروښو داو کلی تهیه کوي. دغه کلمه دحقیقت ٦٣ جهان دارزښت له جهان څخه لیرې کوي، او ددواړو له عناصرو څخه جوړدی. داپوازې د انګلیسي دژبې خاصه الادونه ده. په لاتیني ژبو کې در جتین توب دپاره کلمات دجرمني ژبې Wahrheit

٦٢. Truth

٦٣. Fact

خو روسیي ژبې Pravda ټول دغه دوه ګړون خصوصیت لري. دا په حقیقت وي چې زه په تیره هفته کې لندن ته ولاړم، خو ته به په عادي ډول رښتین توب ورته ونه وایې، ځکه چې هغه ارزښتي محتویات نه لري. له بلې خوا، کله چې د متحده ایالاتو مؤسسو پلرونو د آزادۍ په اعلامیه کې هغه مسلم رښتین توب ته اشاره وکړله چې ټول انسانان مساوي خلق شوي دي، تاسې ممکن ددې احساس وکړئ، چې ددغه حکم ارزښتي محتویات په حقیقي محتویاتو ډیره چربې کوي، او ممکن په همدغه لحاظ تاسې د هغه د نه حق پالنې چې د ی د رښتین توب په حیث وګڼل شي، اعتراض وکړئ. کوم چې ته ددغو دوو قطبونو ترمینځ - د شمالي قطب له ارزښته خالي د حقایق او د جنوبي قطب ارزښتي قضاوتونه چې تراوسه هم مبارزه لري چې ځانونه په حقایقو تبدیل کړي - د تاریخي رښتین توب قلمرو واقع دی. لکه څنګه چې ما په لومړي لیکچر کې ووېل، مؤرخ د حقیقت او تاویل، د حقیقت او ارزښت ترمینځ، یو متوازن موقف لري. دی نه شي کولی هغه سره بیل کړي. په یوه ولاړ او ساکن جهان کې، ددې امکان شته چې تاسې دې د حقیقت او ارزښت ترمینځ بیلتون اعلام کړئ، مګر تاریخ په یوه ساکن جهان کې هیڅ مفهوم نه لري. تاریخ په خپل اصلي ماهیت کې: تحول او نهضت دی او که تاسې په دغې زړې کلمې انتقاد ونه لرئ نو تاریخ ترقي ده.

نو زه په پای کې، دا کتنې د ترقي وینا ته ګرځم، چې د ترقي، هغه علمي فرضیه ده چې د هغه په اساس باید تاریخ ولیکل شي، که تاسې وغواړئ کولی شئ چې

---

٩٤. د پراودا د ګلیسي حال، په خاص ډول په زړه پورې دی، په دې چې په روسي ژبې کې — د رښتین توب دپاره یوه کلمه یعنی Istina شته ده خو دغه تمیز ځانته نه دی چې د رښتین توب (په حیث د حقیقت) او رښتین توب (په حیث د ارزښت) ترمنځ وي. پراودا په دواړو غوړوکې بشپړ رښتین توب دی، او Istina په دواړو غوړوکې اساسي رښتین توب دی یعنی د خدای په باب رښتین توب، او هغه رښتین توب چې د خدای له خوا ښکاره شوی وي.

تاریخ په الهیاتو واړوی، په داسې دول چې د ماضي مفهوم، کوم اضافه تاریخي یا فوق عقلي قوت ته مربوط کړي. که وغواړې کولی شي، چې تاریخ په ادبیاتو بدل کړي، داسې چې هغه د ماضي په باب، د کیسو او افسانو یوه مجموعه وشمیری، بې له دې چې مفهوم او اهمیت ولري. په حقیقي مفهوم سره، تاریخ یوازې د هغو کسانو له خوا لیکل کېدلی شي، چې دوی په خپله په تاریخ کې د جهت احساس کوي، او مني یې. دغه عقیده چې موږ له کوم ځای څخه راغلي یو له هغې عقیدې سره، چې موږ چیرته روان یو، نږدې ارتباط لري. هغه جامعه، چې د ترقي په باب په خپل استعداد بې عقیدې شوي وي، په آینده کې به د هغې ترقي په باب زړه لا نه بایلي، چې یې په ماضي باندې لر له. لکه څنګه چې ما د لیکچرونو شروع کې وویل، د تاریخ په متعلق زموږ نظر د جامعې په باب زمونږ د نظر انعکاس دی، زه اوس د مرتبکي ته بیرته ګرځم او د جامعې په آینده او د تاریخ په آینده خپله عقیده اعلاموم.

## پراخیدونکې غاړې

بنکاری چې هغه مفکوره کومه چې ما په دغو لیکچرونو کې ځای کړې ده داسې چې تاریخ مې دیوې پراخه پېښې خوځېدونکې عملیې په حیث چې مؤرخ ورسره خوځېږي ، بنوولې ده ، په مالازمه توګه ما ته ګرځوي ، چې زموږ په عصر کښې د تاریخ او د مؤرخ د دریځ په باب ځینې وروستي سوچونه وړاندې کړم . موږ په داسې عصر کې ژوند کوو چې د نړۍ د تباهۍ پیشګوئي ګانې روانې دي ، او په موږ ټولو سختې تمامیږي . دغه پیشګوئي ګانې الیته څه نوې نه دي ، او ثابتې کېدلی او رد کېدلی هم نه شي . خو هغه تر دغې پیشګوئي نه لږې یقیني دي چې موږ ټول به مرو . څنګه چې د دروستې پیشګوئي یقیني توب موږ له دې څخه نه منع کوي ، چې د خپلې آینده په باب پلانونه جوړ کړو ؛ نو زه د خپلې جامعې او آینده په باب خپل بحث اوږدوم او د هغه بحث د دغې فرضیې په اساس کوم چې دغه هیواد [برتانیه] یا که دغه هیواد نه وي ، د جهان کوم بله برخه به له ځینو اتفاقاتو څخه مصئون نه پاتې شي ، چې موږ ترې ، او تاریخ به دوام کوي .

جهان د شلمې پیړۍ په نیمایي کې د تحول د عملیې په پنجه کې سخت ګیر دی ، دغه تحول ، په غالب ګمان ، تر هغه بل تحول ډېر ژور او پراخ دی کوم چې زموږ په جهان کې وروسته له هغې چې د منځنیو پیړیو جهان رنګ شو او په پنځلسمې او شپاړسمې پیړۍ کې د معاصر جهان تاداو کښېښودل شو ، پیښ شوی دی . په دې کې څه شک نه شته چې دغه تحول ، په نهایت کې ، د علمي کشفیاتو او اختراعاتو زېږنده

دی ؛ داسې چې دخپل تطبيق دګرلاهم پراخ دی ، او انکشافات په مستقيم يا غير مستقيم ډول ، له همغه ځايه پيداشوی دی . اجتماعي انقلاب ؛ ددغه تحول څو را څرګند اړخ دی . دغه انقلاب له هغه انقلاب سره دمقايسې وړ دی چې په پنځلسمې اوشپاړسمې پيړی کې پېښ شو، اوځينې نوی طبقه يې منځ ته راوسته چې لومړی په فاينانس اوسوداګری، اووروسته په صناعت بناوه . زموږ دصناعت نوی جوړښت ، اوزموږ دجامعې نوی جوړښت دځومره ډيرپراخ مسايل را دمخه کوی : چې زه نه غواړم دلته پرې بحث وکړم . څودغه تحول دوه اړخونه لری چې دواړه يې زماله موضوع سره ډيرنږدې ارتباط لري . يو به يې زه دژورتيا تحول اوبل دجغرافيايي پراختياتحول وبولم . دلته به په دغودواړوتحولاتو يوڅه رڼاواچوم .

تاريخ هغه وخت شروع کيږي چې څه وخت انسانان دزمانې دتيريدلو په باب دطبيعي عمليې يعنې دموسمونودتلو پر، يادبشردعمرداوږدوالي په اساس سوچ نه کوی ، بلکه ديولړ مشخصوپيښوپه اساس پرې فکر کوی چې انسانان په هغو کې په شعوری ډول داخل وی ، او پرې تأثير کولی شی . برکهاردت وايي چې تاريخ وله طبيعت سره مقاطعه (ده) چې علت يې دشعور و بيښيدنه . » (۱) تاريخ دانسان داوږدې مبارزې داستان دی . دغه داستان دده دعقل په تمرين سره حاصليږی اومنظوريې داوی چې انسان خپل چاپيريال وپيژنی ، او عمل پرې اجرا کړی . مګراوسنی عصر، دغه مبارزه په انقلابي ډول پراخه کړې ده . انسان اوس په دې لټه کې دی چې نه يوازې خپل چاپيريال ، بلکه خپل ځان هم وپيژنی او په هغه عمل اجرا کړی . دغه حقيقت ، دچاخبره ، عقل او تاريخ دواړو ته يو نوی بعد وراضافه کړی دی . اوسنی عصر، دتاريخي ذهنيت له مخې

۱. جې . برکهاردت، دتاريخ په باب تفکرات (۱۹۵۹) مخ ۳۱ .

ترهر بل عصرنه ډېر و پېښ او قوي دی . عصري انسان له ځان نه آگاه ، او په دغه ډول له تاریخ نه آگاه دی ؛ او دغه آگاهي بې پېچوري ده . دی په مينه او شوق هغه شفق ته بيرته نظر کوي ، له کوم ځخه چې دی راوتلی دی . هيله او اسره يې تر هغې ناوړې څرې رو انه کړي په کوم کې چې دی خو ځيږي . معکوساً ، دغې لارې په باب ، چې دده د ژوند په اوږدو کې ده دده هيلې او تشويشونه دده بصيرت په دې باره کې چې دده شا ته څه شی واقع دی ؛ چټک کوي . ماضي ، اوس ، او آينده ، ټول د تاريخ په بې انتها کړۍ کې سره تړلي دي .

دعصري جهان تحول چې د خپل ځان په باب د انسان د شعور له انکشاف څخه متشکل دی ، شايد له دکارت[2] څخه شروع شوی وي . ده دلومړی ځل دپاره د انسان مقام د يوه داسې موجود په حيث تثبيت کړ چې نه يوازې سوچ کولی شي ، بلکه د خپل سوچ په باب هم سوچ کولی شي . دی د مشاهدې د کولو په وخت کې ، خپل ځان هم مشاهده کولی شي . په دغه ډول ، انسان په عين وخت کې د تفکر او مشاهدې فاعل او موضوع هم کېدلی شي . خو دا تلسي پېړۍ تر نيمايي پورې دغه انکشاف پوره واضح نه شو ، يعنې ترهغه وخته پورې چې روسو[3] دانسان د ځان پېژندنې او د ځان داگاهي په باب د ژور تيا نوی تل پرانيست ، او دطبيعت دجهان ، او تنعنې مدنيت په باب يې ، انسان ته يوه نوی جهان بينې وړاندې کړه . د تاک ويل په فکر ، دفرانسې دانقلاب خوځوونکې هغه عقيده وه چې کوم څه چې غوښتل کېدل ، دا وو چې ساده ابتدايي قواعد چې دانسان دعقل له تمرين او طبيعي قانون څخه راوځي ، د هغو عنعنې عادتو تو مغلق ځای ونيسي کوم چې دوخت اجتماعي نظام اداره کوی ..»[4] اکټن « په

2. R. Desartes (۱۵۹۶–۱۶۵۰) فرانسی فيلسوف . (م)
3. J.J. Rousseau (۱۷۱۲–۱۷۷۸) فرانسی فيلسوف او مصنف . (م)
4. ای . ټاک ويل ، پخوانی رژيم ، III ، لومړی فصل . .

یوه غلطي یادداشت کړي ولیکل چې انسانان تر هغه وخته هېڅکله د حریت په لټه کې نه وو، مګر هغه وخت چې پوه شول چې دوی څه شی غوښتل. هغه داکتین او هیګل په فکر، حریت او عقل هېڅکله سره بېل نه وو. او د فرانسې له انقلاب سره د امریکې انقلاب نښتی و.

وځلور شلې او اوه کاله وړاندې، زموږ پلرونو په دغې ځمکې و چې کې یو ملت جوړ کړ، چې په حریت بناء او په دغه اصل ګروهېدلی و چې ټول انسانان برابر خلق شوي دي. (۱)

څنګه چې د لنکن له خبرو څخه څرګندېږي، دغه یوه بېجوړې پېښه وه چې په تاریخ کې هغه لومړنی موقع وه چې انسانان په شعوري او ارادي ډول سره په یوه ملت کې متشکل شول، او وروسته په ارادي او شعوري ډول په دې بریالي شول چې نور انسانان هم په همغه قالب کې ور داخل کړي. په اولسمې او اتلسمې پېړۍ کې، انسانان له خپل چاپېریال، او د هغه له قوانینو څخه پوره آګاه شوي وو. قوانین نور نو د یوه مرموز څښتن کوم مرموز فرامین نه وو، بلکه هغه دغسې قوانین وو چې انسان ورته تابع وو، او د دغه د خپل لاس جوړ کړي قوانین نه وو. په بل پړاو کې، انسان په خپل چاپېریال، او په خپل ځان باندې له خپل قوت څخه پوره آګاه شو. داسې هم دی په هغه حق پوره پوه شو چې دغسې قوانین وباسي چې د هغو د لاندې ژوند وکړي.

د اتلسمې پېړۍ څخه د معاصر جهان ته انتقال، اوږد او تدریجي و. هیګل او مارکس د هغه مثل فیلسوفان وو او دوه اړخیز شي په لوړ پړاو کښا په موقف نیولی دي. د هیګل موقف د اسماني قوانینو په عقیدې کې ولنی لري چې د عقل په قوانینو سره تبدیل شوي دي. د هیګل جهاني روح په کلکه سره په یوه لاس سره څښتن

(۱) ګېټسبرګ د یوه مشهورې کتابخانې: خطي نسخه: ۱۸۷۰ ـ

او په‌بل‌سره عقل نيسي .دی دادم سمت ۶انعکاس کوي : افراد دخپل منافع لټوي : خو په دغو لټولو سره يو نور څه اجرا کېږي چې د دوی په عمل کې مرکوز وي که څه هم ددوی په‌شعور کې موجودنه‌وي، د جهان دعقلي مقصد په‌باب . ددی ليکی چې انسانان داين د هغه د استدراک په عمل کې ، له هغه څخه دغسې يوه موقع جوړوي‌چې خپله هيله ترسره کړي. کومه چې دهغې معنی له مقصد څخه فرقلري، داصرف دمنافعوهم اهنگي ده چې د جرمني فلسفي په‌ژبه ازول شوې‌ده .۷دسمث ودپت لاس ، په‌مقابل کی دهيګل معادل دوعقل زيرکي، هغه مشهوره افاده ده چې انسانان دغه کارته بولي‌چې‌هغه مقاصد ترسره کړي له کوم نه‌چې دوی اګاه نه دي خو سره له دې هم، هيګل دفرانسې دانقلاب دوځتوفيلسوف و، يعني‌لومړنی فيلسوف چې په‌تاريخي تحول اوله‌خپل ځان‌نه‌دانسان دا ګاهي په انکشاف کې ، دواقعيت جوهراواصل‌درک کړي . په تاريخ کې‌انکشاف ، دازادي دمفکورې په‌لوردانکشاف معنی پيدا کړله. خوله ۱۸۱۵څخه وروسته دفرانسې‌دانقلاب الهام دبحراني رژيم دبيامستقر کيدلو۸ په‌جوړېدنا کې بې نتيجې شو.هيګل په سياسي لحاظ ډيرداړن و .داوند په وروستيو کالونو کې دخپل عصر په تاميس شوی نظام کې له حدنه زيات ونغښت اوو يې نه شو کولي په خپلو ميتا فزيکې قضيو کې مشخص مفهوم ځای کړي .هرزن ۹ دهيګل نظريات د «انقلاب الجبر» وبلل، اودغه افاده ډيره موزونه ده . هيګل دموسيقۍ پارچې اونوټونه تهيه کړل ،مګرعملي مفهوم يې ورته ورنه‌کړ ، دغه کار مارکس ته پاتې شوچې دهيګل دالجبري معادلاتو دپاره حساب وليکی .

---

۶. Adam Smith (۱۷۲۳ – ۱۷۹۰) سکاټلنډي سياسي اقتصادپوه .(ژ)

۷. دغه اقتباسات دهيګل دتاريخ فلسفې نه شوي دي.

۸. Restoration

۹. Herzen

مارکس دادې سمت او هیګل دپیروۍ په حیث، دجهان له ذهني مفهوم نه شروع وکړ له دې چې دطبیعت دعالي قوانینو تنظیم ور کړی دی. ده دهیګل په څېر، مګر دغه حل په عملي او مشخص شکل، د جهان وذهني مفهوم نه انتقال وکړ؛ چې په قوانینو سره تنظیم کېږي؛ او دغه قوانین دانسان دانقلابي ابتکار په مقابل کې په عقلي عملي سره پخېږي، او تکامل کوي. دمارکس په وروستي ترکیب ۱۰ کې تاریخ د درې شیانو مفهوم لري. دغه شیان یو له بل څخه نه بېلېدونکي دي، او ټول یو منطقي او منسجم کل جوړوي او هغه دا دي: دا فاني او بد وا اقتصادي قوانینو له مخې دحوادثو حرکت؛ په یوې ديالکتیکي عملي سره فکري متوافق انکشاف؛ او دطبقاتي مبارزې په شکل چې هغه دانقلاب او تیورۍ او عمل سره پخلا او یو کوي؛ یو متوافق عمل. هغه څه چې مارکس يې پیشنهاد کوي، په حقیقت کې ددغو څېزونو ترکیب دی: دافاني قوانینو؛ او شعوري عمل چې هغه په تمرین او عمل تبدیلوي؛ او هغه چې کله کله چې (که څه هم په غلطه سره) دمعینیت ۱۱ او اختیار ۱۲ په نامه یاد شوی دی. مارکس تل دهغو قوانینو په باب لیکلي کوي چې انسانان تراوسه دهغو تابع وو، خو په خپله تري نه اګاه نه وو. ده په کرات دیته د خلقو پام اړولی دی کوم چې ده دغلط شعور په نامه یاد کړی دی؛ او دغه شعوریې هغو خلقو ته منسوب کړی دی چې دسرمایه دارۍ په اقتصاد او دسرمایه دارۍ جامعې کې ګیر او نښتي دي: هغه مفهوم سره ته چې دتولید دقوانینو په باب دتولید او تلویر دنمایندګانو په ذهن کې تشکل کوي، له حقیقي قوانینو څخه په پراخه پیما له فرق لري. ۱۳ مګر دمارکس په لیکنو کې دشعوري انقلابي عمل داجرا دپاره واضح مثالونه ویر دي

---

۱۰. Synthesis په یوه کامل واحد کې د دوو ضدونو ترکیب. (ژ)

۱۱. Determinism

۱۲. Voluntarism

۱۳. سرمایه، (انګلیسي ترجمه، ۱۹۰۹) مخ ۳۶۹.

فوېرباخ ۱۴ په باب د ده مشهور تيس وايي چې « فيلسوفانو جهان يوازې په مختلف ډول تعبير کړی دی مګر مطلب دا دی چې تغير ورته ورکړل شي » کمونست مانيفستو ۱۵ اعلاموي چې « پرولتاريا به له خپل سياسي واک ته کار واخلي چې بورژوازي قدم په قدم له پانګې څخه محروم کړي ، او د تولید ټول وسایل د دولت په لاس کې متمرکز کړي . » د لويي بونا پارت د اتلسم برومير ۱۶ په تاليف کې ، مارکس له « عقلاني خود ـ اګاهي ( ځان ګرېزي ) چې ټول منفي افکار په پيري ـ قديمي عمليې سره منهدم کوي . » دا د پرولتاريا وظيفه ده چې د سرمايه داری د جامعې خطا شعور به منهدم کوي او په ځای به يې د طبقاتي جامعې حقيقي شعور ترويج کوي . خو د ۱۸۴۸ د انقلاباتو ناکامي هغو انګشافاتو ته ځنځه ځيره ورکړه ، چې څه وخت مارکس ليکني کولې پېښېدلې يې نږدې معلومېدل . د نولسمې پيړۍ وروستۍ برخه د شتمنۍ او صنعتونو په قوي فضا کې تېره شوله . د شلمې پيړۍ په پيل سره ، موږ د تاريخ او سنی دوري ته په انتقال شروع وکړله . له هغه وروسته ، نور نو د عقل او مرئی وظيفه دا نه وه چې يوازې هغه افاقي قوانين درک کړي ، کوم چې په جامعې کې د انسان کړه تنظيم کوي ، بلکه وظيفه يې دا شوله چې جامعه او افراد په شعوري عمل سره له سره تنظيم شي . د مارکس په ليکنو کې « طبقه » که څه هم په مشخص ډول تعريف شوی نه ده ، په عمومي ډول داسې افاقي مفهوم لري چې په اقتصادي تحليل سره تثبيت کېږي . خو د لينن په ليکنو کې له « طبقې » نه په « ګوند » باندې ټينګار کېږي ، او وروستی د ومرلی سرقدم او پيشرو تشکيلوي ، او په هغه کې د طبقاتي شعور لازمي عنصر داخلوي . د مارکس په نزد « ايډيالوجي » يوه منفي اصطلاح

۱۴. Feuerbach

۱۵. Communist Manifesto

۱۶. The Eighteenth Bromaire of Louis Bonapert.

یعني د جامعې د سرمایه دارې د نظم د خطا شعور محصول ـ ګڼله کیږي ، د لینن په لیکنو کې « ایډیالوجي » یا بیطرفه یا مشته ګرځي یعني هغه عقیده شي چې د طبقاتي اګاه مشرانو غوره کسان ۱۷ یې د واس او تودې په کارګرو کې تزریق کوي چې طبقاتي شعور لري . د طبقاتي شعور قالب ریزي کول نو ر نو کوم اتوماتیکي عمل نه دی ، بلکه یوه وظیفه ده چې باید اجرا شي .

هغه بل ستر مفکر ، چې زموږ په عصر کې یې عقل ته یو نوی بعد ور اضافه کړی دی ، فراید ۱۸ دی . فراید تر اوسه پورې یو څه معمې ډول شخصیت غوندې پاتې دی . دی تربیت او سوابقو په لحاظ د نولسمې پېړۍ لیبرالي فرد پرست دی . ده د عصر مروجه ، مګر خطا فرضیه ، بې له کوم ګرو بیر نه و منله یعنې چې د دغې فرضیې له مخې د فرد او جامعې ترمینځ په بنیادي اساسي ضدیت باندې قایل شو . ده انسان زیاتر د بیالوجیکي واحد ، نه د اجتماعي واحد په حیث ، تر مطالعې لاندې ونیو . په دغه حساب ، ده اجتماعي چاپیریال د غیبي یو څیز و ګاڼه چې تاریخ اعطا کړی وي ، نه داچې هغه داسې یو څیز وي چې انسان په خپله په پرله پسې عملیې سره خلق کړی وي ، او شکل یې ور اړولی وي ، مارکسستانو دی تل غندلی دی چې د هغه مسایل چې په واقع کې اجتماعي مسایل دي ، د فرد له نظره تر کتنې لاندې نیولي دي ، او په دغه وجه یې د مرتجع حکم پرې کړی دی . دغه تور چې په خپله د فراید په مقابل کې یو څه سم و ، د امریکې د متحده ایالاتو د اوسنی نوي ـ فرایدي مکتب ۱۹ په مقابل کې پوره ناصدق لري ، د دغه مکتب په اساس ناوره هو افقات ۲۰ د فرد په طبیعت کې نغښتې دي ، او د جامعې په جوړښت پورې څه اړه نه لري . د دغه اصل له مخې د دغه مکتب د روحیاتو اساسي وظیفه له چاپیریال سره

۱۷. Elite.

۱۸. Sigmund Freud (۱۸۵۶ ـ ) اطریشی روحیات پوه . (م)

۱۹. Neo-Freudian School

۲۰. Maladjustment

دفرد په تطابق کې ګڼي. په فرايد باندې هغه بل عام تور چې ده په انساني چارو کې دغير عقلي۲۱ رول پراخ کړی دی ، ګرد سره غلط دی . دغه تور دانساني کړو دغير عقلي او دغير عقلي اتين ، ترمنځ دګډوډ شيرلو په وجه پيدا شوی دی، داچې غير عقلي اتين نن ورځ په الګربزي وپونکي جهان کې شته دی، له بده مرغه حقيقت لري. د دغه اتين عمومي شکل دادی چې دعقل کارنامو او ملکاتو ته په کم نظر کتل کيږي. دغه نظر ديدييي او افراطي محافظه کاري دجاري نهضت پوه برخه ده چې زه به وروسته پرې دغږيږم. خو له فرايد نه چې هغه يو څه ابتدايي او بې قيده عقل پرست و نشت نه کوي، هغه څه چې فرايد وکړل، دا وو چې زموږ د پوهې او پيژندلې حدود پراخ کړي، او هغه له دغې لارې وکړه چې دانساني کړو غير شعوري ريښې او ولي دعقلي او شعوري تحقيق دپاره رابرسيره کړي دا په واقع کې د عقل د ساحې پراخول ، او دانساني قوت ډيرول وو چې ځان وپيژني، او اداره يې کړي، او په دغه ډول چاپير بالعموم وپيژني او تنظيم يې کړي. دا په واقع کې ديوې انقلابي او مترقي کارنامې تمثيل کوي. په دې برخه کې د فرايد دمارکس اثار تکميل کوي، نقض کوي يې نه. فرايد په اوسني جهان پورې اړه لري، په دغه دليل چې که څه هم ده ونه شو کولی دانسان دثابت او تغير نه منونکي طبيعت له متکورې څخه ونيني : ده دانساني کړو دريښو او ذرور معرفت دپاره وسايل پيدا کړل، او په دغه ډول يې په عقلي عمليو سره دغه غير شعوري اړو تې او تغيير دپاره وسايل پيدا کړل .

فرايد دمورخ دپاره دوه ګونا اهميت لري. لومړی داچې فرايد دقديمي اشتباه په تابوت کې وروستۍ ميخ ټک وهلی دی. قديمي اشتباه دا ده چې هغه خو ځوونکي او سوايق چې دخلکو په اثر انسانان مدعي وو چې کوم کار يې کړی دی ، يا په دغې عقيدې وو چې عمل يې اجرا کړی دی، په حقيقت کې ددوی دعمل دتشريح دپاره کافي ګڼل کيدل. دغه يو منفي موفقيت او کارنامه ده چې تر څه حده اهميت لري که څه هم دغه

---

Irrational .۲۱

The Cult of Irrational •

دځینو طرفدارانو جدي ادعا چې د روحیاتي ـ تحلیل په میتودونو سره د تاریخ د سترو کسانو په کرو ورو شناسایي اچول کیږي، باید په احتیاط ورته وکتل شي. د روحیاتي ـ تحلیل روش د رناوړغ په دقیق او غوار خیز تحقیق پیلېږي چې هغه تر تحقیق لاندې تیول کیږي، نا سې ته شي کولی چې مړی تر تحقیق لاندې ونیسئ. دو همه دا چې اراید چې دمارکس الثار پیاوړی کوی، مورخ بې ترغیب کړی دی چې خپل ځان او دریځ، او سوالونه ـ شاید پټ سوالونه ـ تر ازموینې لاندې ونیسي یعنې هغه سوالونه چې دده د موضوع لوحقایقو او تعبیر او دملي او اجتماعي سابقې دانتخاب لاربود شوی دی. دغه انتخاب دده د نظر کنج، د استقبال تصور، او ادراک چې دده دماغي ادراک ته شکل وصورت ور کوي، تاکلی دی. دمارکس او فرایډ له لیکنو نه وروسته مورخ څه پلمه نه لري چې خپل ځان د کوم محوجه شوی فرد په حیث وګڼي، چې له جامعې او تاریخ نه به دباندې واقع وي، دا د ځان دا ګاهۍ عصر دی. مورخ به دې پوهېدلی شي او باید پوه شي، چې دی څه کوي.

وهغه جهان ته ـ چې ما او سنی جهان نومولی دی انتقال یعنې تر یو ساعته دعقل دقوت او وظیفې وسعت لا تر او سه تکمیل شوی نه دی . دا دانقلابي تحول یوه برخه ده چې شلمه پیړی له هغه نه تېریږي . او س غواړم د دغه انتقال یو څو نښې مطالعه کړم.

لومړی به له اقتصاد څخه شروع وکړم. تر ۱۹۱٤ پورې په اقتصادي قوانینو عقیده لرل، چې دانسانانو او ملتونو اقتصادي کړه پې تنظیم کول ، پوره خوره او غالب و. تر هغه وخته له هغو سره مخالفت کول ، یوازې په ضرر تمامیده . تجارتي دورانونه ، د نرخونو ناغلبي جګه او پوره ته کېدل، ۲۲ وزګاری ، په همدغو قوانینو سره تاکل کېدل . اېن تر ۱۹۳۰ پورې ، کله چې لوی کساد شروع شو ، دا یو غالب او مسلط نظرو . له هغه نه وروسته حرکت چټک شو . د ۱۹۳۰ په لسو کالو نو کې ، خلقو د اقتصادي انسان دختم په ویلو پیل وکړ. له اقتصادي انسان له مراد هغه انسان و چې خپل منافع پې

پرله پسې په اقتصادي قوانينو سره اتول . له هغه وروسته د ټولنيز ژوند د څو لو مرتبو
معتقدينو ۲۳ ته په پرته تورتو هېڅ ډول په دغه مفهوم سره په اقتصادي قوانينو عقيده لرله . نن ورځ
اقتصاد، يا د نظري معادلاتو په ترګرځېدلې دی، يا هغه عملي مطالعه شوې ده ، چې ځينې خلق
تورخلق څنګه ترڅار لاندې نيسي . دغه تحول تر ډېره حده له انفرادي څخه و پراخې
اوجامعې سرمايه داري ته د انتقال محصول دی . ترهغو چې د انفرادي منشبث او
تجار لاس پرو ، داسې نه معلومېدله چې څوك دی په اقتصاد كنترول ولري ،* يادې
وكولی شي په هغه په مهم دول اثر وكړي ، او دغيرشخصي قوانينو او عمليو اشتباه په
ځای خوندي پاتې وه . حتی دانګلستان بانك دخپل نهايي اقتدار په ورځو کې ،
نه يوازې دعام عامل او ناظم په حيث ګڼل كېده ، بلكه د اقتصادي تمايلاتو دېوه
افاقي او تېره اتوماتيكي ثبت كوونكي په حيث هم ګڼل كېده . مګر له ليبه فر اقتصاد
څخه و تنظيم شوي اقتصاد ته انتقال دغه اشتباه ورکه کړله ، فرق يې نه کاوه چې
هغه دسرمايه داري تنظيم شوي اقتصادو ، يا سوشلستي اقتصاد ، يادا چې تنظيم يې
دېوه لوی او جامع او په نامه انفرادي سرمايه دار او يا شرکتونو يا دولت په لاس وو .
دا واضحه شوله چې ځينې خلق دبعضې مقصدونو دپاره ځينې پرېکړې کوي ،
او دغه پرېکړې زموږ دپاره اقتصادي سير ټاکي . نن ورځ هرڅوك په دې پوهېږي ،
چې دتېلو يا صابون بيه د عرضې او تقاضا کوم افاقي قانون په مقابل کې ، تغير نه کوي
هرڅوك په دې پوهېږي ، يا فکر کوي چې پوهېږي ، چې وزګاري ، دنرخونو او قيمتونو
ناڅاپي جګه او پورته تلل ، د انسان دلاس مصنوع دی . حکومتونه اقرار او حتی ادعا کوي
چې دوی يې په علاج پوهېږي . له ليبه فر څخه و پلان جوړولو ، له غيرشعوري څخه
دشعوري او له افاقي اقتصادي قوانينو عقيده لرلو څخه و هغې عقيدې ته انتقال چې
انسان کولی شي په خپل عمل د خپل د اقتصادي هدف واګمن و ګرځي ، تکميل شوی

۲۴. Rip Van Winkles

دی . اجتماعي سیاست له اقتصادي سیاست سره اوږه په اوږه روان شوی دی . په حقیقت کې ، اقتصادي سیاست داجتماعي سیاست یوه برخه شوې ده . اجازه راکړئ چې دکیمبرج دمعاصرتاریخ له وروستي جلد څخه چې په ۱۹۱۰ کې چاپ شوی دی ، یوه ډېره دقیقه تبصره را نقله کړم . دغه تبصره ددغې یوه لیکوال ده چې ذی به له مارکست نه غیرهرڅه وه ، اوممکن دلیلن توم بې هیڅ اوریدلی نه وی :

«په شعوري زیارسره داجتماعي اصلاحاتو په امکان عقیده لرل دارو پایې ذهن مسلط جریان دی . دغې (عقیدې) دحریت ځای ، چې هغه د هرڅه ددوا په حیث یوه عقیده ګڼله کېدله، ځای نیولی دی. په حاضروخت کې، دهغې ترویج هغومره مهم او له معنی نه ډک دی لکه چې دفرانسې دانقلاب په وخت کې دانسان په حقوقو عقیده وه .» ۲٤

تر ورځې، پنځوس کاله وروسته له هغه چې دغه فقره لیکلې شوې ده، اوڅه باندې څلویښت کاله وروسته دروسیې له انقلاب څخه ، او له ستر کساد څخه دیرش کاله وروسته ، دغه عقیده پوره رواج شوې ده . اوس اقتصادي قوانین ته له تسلیمي څخه چې هم هغه عقلي فرض شوي و ، او دانسان له اداري نه بهرو ، وهغې عقیدې ته انتقال، چې انسان دخپل اقتصادي هدف دتنظیم او اداره کولو استعداد لري اوهغه په شعوري عمل سره اجرا کوی ، زما په فکر د پرمختګ تمثیل کوی . دغه پرمختګ په انساني چارو کې دعقل تطبیق اودځان اودچاپیریال د پېژندلو او په هغو د حاکمیت کولو په غرض دانسان زیات شوی استعداد ښیي. زه تیاریم ، چې که ضرور شوی ، دغه پرمختګ دترقي په نامه ، چې له رواجه لوېدلې کلمه ده ـ یاده کړم .

د لته د دی ځای نه شته چې په نورو ورته عملیو کومې چې په نوروساحو کې فعالیت کوی ، په تفصیل وغږېږم . لکه څنګه چې

---

۲٤ـ د کیمبرج معاصر تاریخ : (۱۹۱۰) یخ ۱۵، ددغه فصل مولف اس. لیتز (S.Leathes) و. دی دتاریخ د (مجلس) دڅلورتنکرانو څلوو لکی او د ملکي سرویس کمشنرو .

موږ ولیدل، چې ساینس هم اوس له دې سره دومره علاقه نه لري چې د طبیعت افاقي قوانین وڅېړي، او تثبیت یې کړي . ساینس تر هغه زیات له دې سره علاقمند دی چې کارکوونکې فرضیې قایمې کړي : چې د هغو په مرسته وکولی شي طبیعت د خپلو مقصدونو د پاره رام کړي ، او د خپل چاپېریال بشپړ واکمن وي . مهمه یې لیا دا ده چې د عقل په شعوري تمرین سره انسان په دې پیل کړی دی، چې نه یوازې خپل چاپېریال ، بلکه خپل ځان ته هم تغییرورکړي . د اتلسمې پېړۍ په پای کې مالتوس ، په خپل یوه دوران جوړوونکي اثر کې، قیاروایست چې د نفوسو افاقي قوانین تثبیت کړي ، د غه قوانین دادم سمت د بازار د قوانینو په څېر ، بې له دې نه چې څوک د هغو له عملي نه اګاه وي ، په کار لګیا وو . ننورځ هېڅ څوک په دغې قوانینو عقیده نه کوي مګر د نفوسو کنترول کول د عقلي او شعوري اجتماعي سیاست یوه موضوع ګرځېدلې ده . موږ په خپل عصر کې ، په انساني کوچنیوتنو سره د بشر د عمر او زدول او موږ په نفوسو کې د نسلونو ترمنځ د موازنې تبدیلول لیدلي دي . موږ د هغه دارو درمل نوموونه هم اورېدلي دي ، چې په شعوري تول د دې د پاره استعمالېږي چې په انساني کړو اثرولري . داسې موخم د جراحي هغه عملیات لیدلي دي ، چې مقصد یې دادی چې انساني خصلت ته تغییرورکړي . انسان او چاپېریال ، دواړو تغییر میندلی دی ، او دواړه زموږ په مخ کې په انساني زیار سره متغیر شوي دي خو د دغو تغییراتو ډېر مهم یې ممکن دا وي چې د تشویق او تلقین کولو د عصري میتودونو له لارې وارد شوي دي . ننورځ د تولو سویو مربیون له دې سره وار په وار ډېره علاقه پیدا کوي ، چې په یوه خاص شکل او قالب سره د جامعې په تسخیر کولو کې برخه ولري ، او په نوي راتلونکي نسل کې د غې رویې ، وفاداري او نظریات تزریق کړي؛ چې د هغه راز جامعې د پاره موزونې وي . عرفاني سیاست د هر هغه اجتماعي سیاست جزء دی ، چې په عقلي ډول سره طرح

کېږي . دعقل لومړنی وظیفه ، لکه څنګه چې په جامعې کې په انسان باندې تطبیق موي ، نورتوپوازې تحقیق کول نه ، بلکه اړول دي . د انساني قوت دغه ممکن شوی شعور چې دعقلي عملیوله لارې ، د خپلو اجتماعي ، اقتصادي ، اوسیاسي چارو تنظیم کول اصلاح کړي ، زما په عقیده دشلمې پیړۍ د انقلاب یوه پرمهم اړخ دی .

د عقل دغه پراختیا یوازې دهغې عملیې یوه برخه ده چې ما په یوه وړاندنی لیکچر کې ، فـردي کیدل ، نومولی و . دغه فردي کیدل دافرادودمهارتونو ، شغلونو اومواقعوهغه څانګې او انشعابات دي چې دیوه مخ کې تلونکې مدنیت ملازمات دي . دصناعتي انقلاب ډیره جامعه اوزوره اجتماعي نتیجه شاید فاشوې وی ، چې دهغو کسانوشمیر یې په مترقي دول ډېر کړی وی ، چې دوی سرچ کول زده کوی ، او عقل په کاراچوی . په لویې برتانیا کې دتدریجي پرمختګ د پاره زموږ احتراص داسې دی : چې دغه نهضت کله کله په مشکل سره ددرک وړ ګرزی ، موږ دیوه قرن دډیرې ښې برخې په دوران کې دلومړنی معارف په افتخاراتو قناعت کړی دی ، او تراوسه هم دعالي لوړمعارف په لوړیه د مخه یازړد مخ ور الدې تللی نه یو ، کله چې موږ دجهان مشری په غاره لرله ، دغه حال دومره تفاوت نه کاوه . خواوس ، حال ډیر فرق کوی چې لوړیه ډېرې چټکی سره ترموتېر د مخه کیږي ، هغه هم په دغه وخت کې چې د غه ګام هرچیرته په تخنیکي تحول سره چټک شوی دی ، یعنې دې چې اجتماعي انقلاب ، اوتخنیکي انقلاب ، اوعلمي انقلاب دهغې یوې عملیې دبیلیدونکي اجزا ، ی . که تاسې دفردي کیدلو د عملیې علمي مثال غواړی په تیرو پنځوسو یا شپیتو کالونو کې په تاریخ ، یاسیاست ، یاکوم خاص ساینس کې هغه فوق العاده او زیات انشعابات اوځانګه کیدل تـر نظر لاندې ونیسئ ، داسې هم د انفرادي تخصصونوهغه فوق العاده اضافه شوی تنوع په نظر کې ونیسی کوم چې هم دغه فردي

کيدل يې باعث گرزي . خوزه به يوه بيل دگر کې ديوى عملي بودېر واضح مثال په لاس لرم . له ديرشو کالونو نه دير دمخه يوه جرمني عالي رتبه نظامي افسر چې دشوروى په سفر بوخت و ، ديوه شوروى افسريوې روجاله کرونکې تبصرې ته غوږ ليوه . شوروى افسرادعوايې نوا وله پياورى کيدلو سره سرو کارلاره .

دموټرروسان مجبوريوچې تراوسه هم په ابتدايي بشرى موادو قانع اوسو . مرتز مجبوريه چې دا لوزولوماشين دمخه الوتونکي (پيلوټ) په رقم سوافق کړو ، چې دموټر په لاس کې دى . ترهغه حده چې موټر دټوى قسم انسانانو په انکشاف کې موفق يو : دموادو تخنيکي انکشاف به هم تکميل شي . دوارو عوامل يو بل مشروط او مقيد کوى ، داسې نه شي کيدلى چې ابتدايي انسانان دې په پيچلوماشينو کې واچول شي .» ۲۵

نن ورځ : يوازې يونسل وروسته ، موټر خبريو چې روسي ماشينونه نور نو ابتدايي نه دى ، او په ميليونوروسى نارينه او ښځې چې دغه ماشينونه طرح کوى ، جوړوى ، اوچلوى : هم نورنوابتدايي نه دى . ديوه مورخ په حيث ، زه له دغې وروستي حادثې سره ډير علاقمن يم ، دتوليد اصلاح کول ۲۶ ديوه ليا دير مهم تميز معنى لرى . دانسان اصلاح کول ، نن ورځ ، دتول جهان پرمخ ، انسا نان دپيچلو ماشينونواستعمالول زده کوى ، او په دغه کار سره فکر کول ، اوله عقل نه استفاده کول ، زده کوى . هغه انقلاب چې ته به يې په حقه اجتماعي انقلاب وبولې ، او زه به يې په حاضره قرينه کې دعقل پراخيدونومم ، فقط اوس شروع کيږى مگر هغه ددى ديارمچې دپنځوانى نسل له حيرانوونکو پرمختگونوسره قلم په قدم شي : په ډير سرعت سره په مخ ځي . زمابه فکر داتشلې بيرى دانقلاب داډ خونويوډيرستر ارخ دى .

که چيرى زه دلته هغه خطرونه ذکرنه کړم ، او دهغه رول مبهم او خوله چې

زموږ په اوسني جهان کې دعقل دپاره تاکل شوی دی ، ونه بنیم ، یقین دی چې زموږ څېړنې پدینان اوشکاکان به په ماکلکک انتقادونه وکړی ، په یوه دمخني لیکچر کې ماویلې وه چې زیاتیلونکې فردی کیدل په هغه مفهوم سره چې ما یې بیان کړی و ، دامعنی نه لری چې هغه به اجتماعي فشاروته دمطابقت اومتحدالشکل کیدلو دپاره ضعیف کړی . په حقیقت کې ، دازموږ دمعاصر جهان په ظاهر کې مهمل مګر په معنی کې درست باظاهراً نقیض حقیقت دی . معارف چې دفردی استعدادونو اوفرصتونو دپراختیا ، او په دغه دول ، دزیاتیدونکې فردی کیدلو دپاره یوه ضروری اوقوی وسیله ده ، دذې منافعوډلو دپاره هم یوه قوی وسیله ده چې اجتماعي مطابقت پیري پراخ اوعمومي کړی . هغه تقاضاګانې چې دیرکله د مسئولوتیلویزیونې یارادیویی خپرونو ، یادلیا مسئولومطبوعاتو د پاره اوریدلې کیږی ، په اول سرکې دځینو منفي پدیدو په ضدوی ، چې دهغوی محکومول اسان بکاری . خوهغه دیرژر په هغو تقاضاګانو بدلې شی چې دغه قوی وسایل دې د نوردې د تشویق د پاره استعمال شی او په هغو سره دې مطلوب ذوقونه ، اومطلوب نظریات تزریق شی په داسی حال کې چې دمطلوبیت معیارهغه ذوقونه اونظریات دی ، چې جامعې منلې وی . دغې مبارزې ، دهغو په لاسونو کې چې پراختیایې غواړی ، هغه شعوری اوعقلی عملیې دی ، چې دجامعې دیا شکل ورکولو دپاره طرح کیږی ، اودغه کار د یوه مطلوب سمت په لوردافرادی غړو دیاشکل ورکولو له لارې کیږی . نورځکاره مثالونه یې تجارتي اعلان کوونکې اوسیاسي مبلغین دی ، په واقع کې ، دغه دوه رولونه دیر کله سره چنده کیږی . دامریکې په متحده ایالتونو کې دغه کار دیرواضح اوبرالادی ، مګر په لویې برتانیا کې لږڅه واضح اوبرالا . ګوندونه او کاندیدان تخصصي او کسبي اعلان کوونکې د خپل موقعیت دپاره استخدام کوی . دغه دواړه طرزعملونه ، حتی که کله کله په رسمي لحاظ متمایزوی ، یوله بل سره دیرورته وی . تخصصی اعلان

کوونکي اود لويو ګوند و نو د تبليغ دغانسګر آمران د ېرډ کي او عوام ياد خلق وي ، دوظيفود اجراد پاره ، دوی له تو لو سايلو او منابعو څخه استفاده کوی . خو عقل، څنګه چې مو په نورو مثالونو کې وليد ، يوازې د کشف د پاره نه ، بلکه د کټې د پاره استعماليږی . په ساکن ډول تر ېنه استفاده نه کيږی ، بلکه په ډيناميک او فعال ډول تر ېنه کار اخيستل کيږی . تخصصي اعلان کوونکي ، او دمبارزې منظمان ، اصلاً له موجودو حقايقو سره دومره علاقمن نه وی . دوی له هغو څيز و نو سره علاقه ښيي چې مستهلک يا انتخاب کوونکي پرې معتقد وی . دا سې هم ، دوی له هغو پيښو سره ، علاقه ښي چې دوی کولی شی مستهلک يا انتخاب کوونکی تعضو ، ملواو غو ښتلو ته په ډېر مهارت سره تشويق کړی . بر سيره پر دې ، د تودې د روحياتو مطالعه دوی ته دا ښوولې ده چې د دوی د نظر ياتو د منلو د پاره چټکه لاره داده چې د مستهلک او موکل جذباتي او غير عقلي عنصر ته التماس وکړی . په دغه ډول ، هغه تصوير چې مو فيز و ر سره مخامخ کيږو ، دا ګيږي چې په هغه سره د صناعت د ښتنا او تخصصي څوره کسان يا ګوندی مشران ، د هغو عقلی عمليو له لارې چې تر ېنځوا ييې د ېر انکشاف کړی دی ، خپل مقاصد تر سره کوی ، او د غو مقاصدو ته د ر سيدلو د پاره د تود واو و لسو تو په غير عقلی اصل ۲۷ با ندی تحالونه پو هوی ، او تجارت پری کوی . التماس او رجوع عقل ته نه وی . التماس په عمومی ډول په هغه ميو دو نو سره ښکېل چې اسکار وايلد ۲۸ يی « له عقل نه لاندې ضربه » بولي . ماد غه تصوير څکه يو څه غر ګند و نو چې خو ک می په دی تو متی نه کړی چې ګوا کي خطر مې کم جو د لې دی ۲۹ . مګر د غه ، په پراخه تو ګه مسم دی ، او په نورو ساحو کې په آسانی سره تطبيق

---

۲۷. Irrationalism

۲۸. Oscar Wilde (۱۸۵۶ - ۱۹۰۰) ايرلينډی شاعر ، او ډرام ليکوونکی (م).

۲۹. د دغې موضوع د ېرو ر بحث د پاره و ګوری جو لف الرز نو ښتا مه (۱۹۵۱) اصل ۲

کیدلی شي. حاکمه ډله ددې دپاره چې دنوردی ذهنیت متشکل اواداره کړی،الیزو دیراجباری اقدامات عملي کوي. دغه میتود ترڅینو نوروته په دی لاپه معلومیږي، چې په هغه سره له عقل نه ناوړه استفاده کیږي.

ددغه جدی اوقوي تور دځواب دپاره زه یوازې دوه دلیلونه راوړلی شم. لومړی یې هغه اشنا دلیل دی چې دتاریخ په جریان کې چې هره اختراع،هرابداع اوهرنوی تخنیك کشف شوی دی، منفي اومثبتي خواوی یې لرلي دي. دنوی کشف تاوان اوبیه باید تل یوڅوك ورکړي. دچاپ له اختراع څخه، ته پوهیږم څوموره ورومته وه،چې مقدانووویل چې چاپ دغلطوذهنیتونو دخپرولو دپاره لاره هواره کوي. نن ورځ دا یوه عادي خبره ده چې په سرکونوباندې دمرګئ تلفات دموټرو اختراع اوظهورته منسوب ګڼل کیږي،او په هغوخواشیني ښکاره کیږي. حتی ځینې ساینس پوهان لادهستوی انرژۍ دتولیددپاره دخپلوطریقواووسیلو کشف غندي . علت یې هم هغه ناځاپي تباهي یاده‌وي چې دهغه‌په‌استعمال سره‌ممکن کیږي،اوشوی‌هم‌ده. خودغې‌اعتراضونه‌نه‌پخوامفیداومؤثرشوي وو،اونه‌ددې‌احتمال‌شته‌دچې‌په‌آینده کې به‌مفیدشي،چې‌دنویواختراعاتواو کشفیاتوپرمخ‌ګڼ‌معطل کړی.دتودې دتبلیغ دپاره چې موثرڅه قوتونه اوتخنیکونه زده کړی دي،محوکیدلی نه‌شي . څوموره چې ددې امکان‌نه شته‌چې په کمې اندازې‌سره انفرادی دموکراسي ته‌چې‌جان‌لاك یې‌طرفداری کوله؛ یالیبرالي تیوری‌ته‌چې یوڅه یې‌دنولسمې پیړۍ‌په نیمایي کلونو کې په‌برتانیاکې عملي شوې نه ، بیرته رجعت وشي : داسې هم داناشونکی ده چې داس اوبګې یالومړی لیسه قرسرمایه داری ته‌رجوع وشي . مګرحقیقي ځواب دادی چې‌دغه بدی ګانی له ځان سره سم کوونکی هم‌لري. علاج یې‌دغیرعقلی‌اصل‌داتین‌په‌لمانځلو باپه اوسني جامعې کې دعقل دپراخ شوی رول په تردید کې نه دی، بلکه چاره یې دعقل په هغه رول اوپوهولو کې ده چې شعوروروته هم له پاسه اوهم له لاندې نه قوی

گرل شي، په داسې وخت کې چې دجامعې په ټولوساحو کې زموږ دتخنيکي اوعلمي انقلاب له امله دعقل مترايد استعمال راپاندې تحميل شوی دی، داکوم خيالي خوب نه دی. دغه مخکې تګ هم، دهربل سترتاريخي مخکې تګ په څير، خپل قيمتونه لوتاوانونه لري، چې بايد اداشي، اوهم خطرونه لري چې بايد مقابله ورسره وشي خودښکاکانو، مشاجره خوښوونکو اودنياهي پيغمبرانوسره چې مخصوصاً دعقو مملکتوپه روښنفکرانو کې دي، چې ددوی پخوانی ممتازموقف تباه شوی دی؛ زه له دې نه خجالت نه يم چې هغه په تاريخ کې، دترقي بېجوړی مثال ونومم. زموږ دعصر دپاره ممکن دغه ډېره څرګنده اوانقلابي پديده وي.

ددغه مترقي انقلاب دوهم اړخ له کوم نه چې موږ تېرېږو، دجهان تبديل شوی شکل دی. دپنځلسمې اوشپاړسمې پېړۍ سترعصر، چې هغه مشخني ترې په پای کې منحله شوله، اودمعاصر جهان‌ناداو کشفېدوشو، دتوپوبراعظمونو په کشف سره ښکاره اوښياني شواه. داسې هم دغه عصر دمديترانې له غاړونه دااتلانتيک غاړوته دجهان دمرکزپه انتقال‌سره ښياني‌شو. حتی دفرانسې‌دانقلاب وورقيام اوتحول‌هم جغرافيايي منطقي سلسله په دې تعقيب کړله چې له نوی جهان نه يې دعوت وکړ چې د زاړه جهان موازنه برابره کړي. مګرهغه تحولات چې دشلمې پېړۍ په انقلاب سره راغلي دي، نظرهرهغه څه ته چې له شپاړسمې پېړۍ نه را په دې خوا پېښ شوي دي، ډېرجامع دي. له څلورسوکالونه وروسته دجهان دثقل مرکز په يقيني دول له لويديځې اروپانه کوچ کړی دی، لويديځه اروپا، دانګرېزي - ويونکي جهان له لېرو برخوسره دشمالي امريکې داوېي وچې ضميمه ګرځېدلې ده، که ستاسې خوښه وي دغوتولوته موږ په اوږه خره اوکوته ويلی‌شو چې په هغې کې متحده ايالتونه هم ډېر پښنادګوت اوهم ډېرپښنادبرج په څيروظيفه اجراکوي. سره ددې هم داپوهنې ياممکن ترټولومهم تغيرنه وي. دالا واضحه نه ده چې د جهان د ثقل مرکز، په

انګریزي ـ ویونکي جهان کې به چې لویدیځه اروپایي یوه ضمیمه ده، پاتې وي او یا په وروسته‌له ډیره وخته پاتې شي . والې ښکاري چې دځینې اروپا او اسیا لویه برخه دغولو او نړۍ دوسره چې په افریقا کې دي ، تن ورځ دجهان په پېښو کې ابتکار نیکاره کوي . ته تغییر متونسکي شرق ، نن ورځ بسوه زړه اوورسته اصطلاح ګرزیدلې ده.

اوس به په تې پاتدې چې په حاضرقرن کې په اسیا کې څه پیښې شوي دي یوسرسري نظرواچوو. داستان په ۱۹۰۲ کې دانګیلسي اوجاپان له اتحاد کولوڅخه شروع کیږي، په دغه اتحادسره یواسیایي هیواداول محل دپاره داروپایي سترو قوتونو په خوښۍ اومحفوظې دایرې کې ومنل شو. شاید دابه هسې یو تصادف وګڼل شي چې جاپان څپله ارتقا په دې څرنګدې کړله چې روسیې ته یې چیلنج او شکست ورکړ او په دغه اقدام سره یې داور هغه لومړني بنځر ګې بل کړ چې دشلمې پیړۍ ستر انقلاب یې مشتعل کړ : دفرانسې د ۱۷۸۹ او ۱۸٤۸ انقلابونو په اروپا کې مقلدان ومیندل . دروسیې د ۱۹۰۵ کال انقلاب پهاروپا کې هیڅ انعکاس ونه کړ ،مګر مقلدان یې‌په‌اسیا کې‌ومیندل . په‌څو وروستیو کالونو کې‌په‌فارس، ترکیې،اوچین کې انقلابونه‌پیښ شول . دوهم‌جهاني جنګ‌په‌مشخص دول ، کوم جهاني جنګ‌نه‌و، بلکه‌هغه یوه‌اروپایي داخلي‌جګړه وه‌هغه‌هم داسې‌چې موږ‌فرض کړوچې دغې یوواحد لکه اروپاموجودو ، چې عواقب‌یې جهاني‌و ، په دغو عواقبو کې ، په ډیرو اسیایي هیوادونو کې دصناعتي انکشاف تحریک په چین کې دضدخارجي احساس ، دهندي نیشنلزم ، اودعرب دنیشنلزم ظهوروو. د۱۹۱۷ کال روسي انقلاب یو بل اوقاطع څوځوونکی شو. هغه څه چې دلته‌مهم و، داوچې مشران یې په دې تینګ ووچې مقلدان به یې په اروپا کې ومومي، مګردغه‌یلې ترسره نه‌شولې، او په‌پای کې یې مقلدان په اسیا کې ومیندل. دا اروپا وه‌چې‌دتغییر

ته متونکی، ګرز بدلی ده، اسیا په خوځېدو کې ده . مورخ لا تراوسه په دغې وقف کې قرار نه دی نیولی، چې د اسیایی او افریقایی انقلاب وسعت او اهمیت معلوم کړی . مګر په میلیونو اسیایی او افریقایی خلکو کې د عصري تخنیکي او صنایعتي عملیو ځېرېـدل، او د معارف او سیاسـي شعور شروع کـېـدل، د دغو پراعظمو تو مخ تبدیلوی . په دغې حال کې چې زه آینده ته نه ځیر کېدلی نه شم، زه غیر له دینه چې د جهان د تاریخ په دوړ نما کې دغه دیره مترقي انقلاب په حیث و ګڼم: د تفاوت له کوم بل معیار نه ځیر نه یم، د جهان اړول شوی شکل، چې د دغو پېښو زېږنده دی لـه خـپل ځان سره یې د جهـان په پـېـښو کـې په یقـیـني ډول د دغـه هیـواد [برتانیا] او پـه احتـمـالي ډول د انګریزي- دیونکي جهان پـه وزن کې یو نسبي انحطاط راوړی دی . مګر نسـبي انحطاط مطلق انحطاط نه دی . هغه څه چې ما په ویره او وحشت کې غورځوي، په اسیا او افریقا کې د ترقي مارش نه دی ، بلکه په دغه ملک او شاید هم تورچیري ، د غالبو او هغه تمایل دی ، چې د دغو انکشافو ته بې وړ ټلده ، او غیرمند ړ که ستر ګه اړولې ده . داسې یې هم د هغو په مقابل کې د بد ګماني نه د که لویې او دنرمې تواضع ترمنځ یو مردو د سلوک اختیار کړ ی دی او دماغي په فلج کوونکې میهن پرستی کې غرق شوی دی .

هغه څه چې ما زموږ د شلم قرن په انقلاب کې د عقل پر اختیا او ملي وه، د مؤرخ دپاره خاص نتایج او عواقب لري. په اصل کې، د عقل د پراختیا معنی‌دا کېږي چې په تاریخ کې د هغې دلې طبقات ، خلق ، او پراعظمو نه ظاهر شو ي د ي چې تراوسه پورې د تاریخ له دایرې نه بهر وو . په لومړنۍ لیکچر کې مې دغه فکر و ړ اندې کړی وچې د منځنیو پیړیو د مؤرخانو دغه تمایل چې د منځنیو پیړیو جامعې ته یې د دمذهب له عینکو نه کتلی وو، د دوی د منابعو د خاص ځنګه وایې لـه امله وه . غواړم چې دغه فکر لږ څه نور هم واضح کړم . زما په فکر دغه وینا سمه ده : که څه

هم ماالله ورسره ده : چې عباسي کلیسا د منځنیو پیړیو ازتنی عقلي موسسه وه (۳۰) ده . ځکه چې هغه یوازنۍ عقلي موسسه ده . په دغه حساب یوازنۍ تاریخي موسسه ده . یوازې همدغه موسسه دانکشاف دعقلي سیر تابع وه ، چې د مؤرخ دپاره دترلاسه کیدلو اوپوهیدلو وړ وه . کلیسا دنیایي جامعې ته سروصورت او تنظیم ورکاوه ؛ او دنیایي جامعې لحاظه عقلي ژوند نه لاره . دخلقو توده ، دماقبل التاریخ خلقو په شیر ، طبیعت ته مربوطه وه نه تاریخ ته . عصري تاریخ هغه وخت شروع کیږي چې خلق په زیاته اندازه په اجتماعي او سیاسي شعور کې ظهور کوي او د تاریخي واحدونو په حیث چې ماضي او آینده لري ، له ځانو مربوطو د لسو نه اګاه کیږي ، او په مکمل ډول په تاریخ کې ننوځي . یوازې دتیرو څو سوو کالونو په جریان کې ده ، هغه هم په یوڅو پرمختللو هیوادونو کې - چې اجتماعي ، سیاسي او تاریخي شعور په دې شروع کړی ده چې دنفوسو په اکثریت کې خپور شي ، داو مرې لحل دپاره یوازې اوس ممکنه شوې ده ؛ چې دداسې جهان تصور وشي ، چې خلق یې په ټوله معنی په تاریخ کې ننوتلي وي : او دغه خلق نور نو د مستعمراتي منتظمانو یاانسان پیژندونکو د بحث موضوع نه ، بلکه د مؤرخ د بحث موضوع شوي دي .

دا زموږ د تاریخ په مفهوم کې یو انقلاب دی . په اتلسمې پېړۍ کې تاریخ لا هم دعمده او خاصو کسانو تاریخ و . په نولسمې پېړۍ کې برتانیایي مؤرخانو دمه په دمه او په متناوب ډول داسې مخ کې تلل شروع کړل چې تاریخ د ټولې ملي ورې ټولنې (۳۱) د تاریخ په حیث وګڼي . جې ، ار ، ګرین (۳۲) : که څه هم

۳۰ . ای . فان مارتن ، دمنساقس سوسیولوجي (انګریزي ترجمه ۱۹۴۴) مخ ۱۸ .

۳۱- Community

۳۲- J.R. Green

عادي مؤرخ و ، دانګلیس حولس تاریخ په لومړنۍ تألیف سره بې نوم وګاڼه . که څه هم کردار له ګفتار له ډېر وروسته دی ، په شلمې پېړۍ کې هر مؤرخ دغه نظر نه یو نظر کوي . زه به دغو ټېنګرتیاوو ډېره زوره نه اچوم په دې چې زه له خپلو ناکامیو سره دمؤرخانو په حیث ډېره علاقه لرم چې و موږ شو کړای د دغه ملک اولویدیځې اروپا نه بهر د تاریخ پر اخې غاړې په نظر کې ونیسو. اکټن د خپل ۱۸۹۶ کال په رپوټ کې عالمي تاریخ داسې وګاڼه «چې د ټولو ملکونو له ګډ تاریخ نه بېل دی . و ده خپله و یادښې اوږده کړله .

ودا (عالمي تاریخ) په دغې یوې سلسلې سره څرګنېږي چې ملتونه به هغه ته ثانوي او فرعي وي . د دوی (ملتونو) داستان به په خپله د دوی په خاطر بیان نه شي ، بلکه د یوې لیالوړې سلسلې ته د ارتباط او تبعیت (په خاطر او) د وخت او درجې په مطابق چې دوی به د بشر د مشترکو نیکمرغیو د پاره مرسته کوي ) و لیکل شي ،» (۳۳)

داکټن د پاره به دې کې څه ګروبرنه وچې عالمي تاریخ ؛ څنګه چې ده بې درک کړی و ، د هر جدي مؤرخ د پاره د علاقې ور موضوع ده . موږ اوس د دې د پاره چې په دغه مفهوم سره د عالمي تاریخ د پاره لاره هواره کړو ، څه شی کوو؟

په دغو لیکچرونو کې مې نیت دانه وچې په دغه پوهنتون کې د تاریخ د تحصیل په حقله څه ووایم. خو اوس د دغه څه د پاره چې کوښښ کوم ویې وایم د غې څرګند مثالونه را په لاس شوي دي ؛ چې که د غو مېسو ځالې ته لاس و انه چوم وارڼ به ځکاره شم ، موږ په تېرو څلوېښتو کالونو کې ، په خپل تعلیمي نصاب کې د متحده ایالتونو تاریخ په اساسي ډول ځای کړی دی . دغه یو مهم وړاندې تګ

۳۳ـ د کیمبرج معاصر تاریخ د تیج ، موافیت او ترولیبي (۱۹۰۷) مخ ۱۶.

دی . مګر دغه د کار ، له خپل ځان سره دانګلیسي تاریخ د تنګ نظری خطر یو څه پیاوړی کړی دی ، او دغه خطر لا د مخه تر دې زموتر په تعلیمي نصاب باندې دانګریزي ویونکي جهان د لا برابر خطرناک له تنګ نظری سره د مره لاس په شان دروند تمامیده . په دې کې څه شک نه شته چې په تیرو څلورسوو کالو نو کې دانګریزي ـ ویونکي جهان تاریخ د تاریخ یو ستر عصر و . خو که دا د عالمي تاریخ د ثقل مرکز او نور هر څه د هغه فروع او محیط و شمیرل شي ، دا به د لیرې لید څېره کوونکي تحریف وي . د پوهنتونو وظیفه ده چې دغسې تحریفات سم کړي . ما ته دغسې ښکاري چې په دغه پوهنتون کې د معاصر تاریخ مکتب خپله وظیفه تر سره کولې نه شي . په یقین سره دا سمه نه ده چې په هر توی پوهنتون کې به تاریخ کې د سایښس له کاندید نه دې امتحان واخیستل شي ، بې له دې چې ده د انګریزي نه په پرته ، بله عصري ژبه په کافي اندازه زده کړې وي . باید موتږ د الحاقله انتظار و پولوجي په اکسفورډ کې د فلسفې د قدیمي او محترم د سیلین په باب څه پیښ شول ، او دا هغه وخت وچې د هغه منظمان دې نتیجې ته ورسیدل چې دوی په ساده ورځني انګریزي سره به په هغه شان به مخ تلی شي . یقیناً دا غلطه ده چې د محصل د پاره داسې اسانتیاوې نه وي چې د هر اروپایي ملک د تاریخ د مطالعې د پاره له داسې کتابونه په پرته تور څه و نه لري . هغه محصل چې د اسیا ، افریقا یا د لاتیني امریکا په باب یو څه معلومات لري ، اوس لږ چانس لري چې و کولی شي خپل معلومات په هغه مضمون کې چې د ښکلې نو تسمې پیری ښکلې ځغه به سر لري ، ښکاره کړ ي : د اروپا پراختیا . له بده مرغه عنوا ن له محتو یا تو سره پوره سرخوري . له محصل نه دا نه غوښتل کیږي چې د هغو ملکو نو لکه چین ، یا فارس په شا ن ، چې جه مفصله تاریخ لري ، حتی یو څه زده کړي . دی باید د هغو ملکو نو د هغه وخت حادثات زده کړ ي ، چې

اروپایانو زیار ایست چې تسلط پر ئې تینګ کړي ، ما ته ویل کېږي ، چې په دغه پوهنتون [کیمبرج] کې دروسیې ، پارس ، او چین د تاریخ لیکچرونه د تاریخ د پوهنځي له غړو نه غیر نورو څوك ورکوي . د چینایي پروفیسر هغه عقیده کوم چې ده پنځه کاله روښې په خپل افتتاحي لیکچر کې اظهار کړې وه ، د کیمبرج په فارغانو کې په کمو غوږ و تولوید لې ده . عقیده ه داوه : « نه شي کېدلی چې چین د بشري تاریخ له عمومي جریان څخه د باندې وګڼل شي . » (۳٤) هغه تألیف چې ممکن په آینده کې ، د بوه ډیرستر تاریخي اثر ، په حیث وګڼل شي ، د غسې یوه کس لیکلی دی چې هغه د تاریخ ځانګې ته منسوب نه و ، او د تاریخ ځانګې له هغه سره هیڅ مرسته کړې نه ده : زما مطلب د ډاکټر نیډهام (۳۵) تألیف په نامه د ساینس او مدنیت په چین کې ، دی . دا یو هوښیار کوونکي فکر دی . ما باید دغه داخلي زخمونه عموموته برالا کړي نه وای ، مګر ما د دغه حقیقت په بنا پر الا کړل چې فکر کوم د شلمې پیړۍ په نیمایي کې د نورو برتانیایي پوهنتونو او په عمومي ډول د برتانیایي روښنفکرانو حال هم همدغسې دی . دوکتور یا د عصر ګوښه توب په باب هغه زړه کښتایه : « طوفانونه په رودبار کې ، براعظم ګوښه شوی ، » له بده مرغه ان ورځ پوره صدق کوي . په بهرني جهان کې یو ځل بیا طوفانونه خواره دي ، په داسې حال کې چې موږ په انګریزي ویونکو ملکو کې سره غونډېږو ، او په ورځني ساده ژبه ځانونه وایو چې نور براعظمونه زموږ د مدنیت له برکتونو او مواهبو څخه په خپل فوق العاده سلوك سره ګوښه کېږي ، کله کله داسې ښکاري چې ګواکې موږ ، زموږ د بې کفایتي یا نه اماده توب له امله د جهان له حقیقي حادثاتو نه د پوهیدلو په غرض ځان ګوښې کوو .

۳٤. ای . جي . پولي بلینک ( E.G. Pulleyblank ) چیني تاریخ او جهاني تاریخ (۱۹۵۵) مخ ۳٦.

۳۵. Dr. Needham

د لومړني لیکچر په اوږدو کې ما کوښښ وکړ چې د جهان بینۍ څه قوي اختلاف ته توجه جلب کړم، کوم چې د شلمې پېړۍ نیمایي کالونه د نولسمې پېړۍ له وروستیو کالونو څخه بېلوي. اوس غواړم د غه تضاد پراخ وښیم. که زه په دغې قرینې کې د «لیبرال» او «محافظه کاري» کلمات استعمالوم دا به ډېر ژر ښکاره شي چې زه څه د برتانیایي د سیاسي ګوندونو په مفهوم سره نه استعمالوم. کله وخت چې اکټن له ترقۍ نه غږېده، د ده د برتانیا د مروجې مفهوم یعنې د «تدریجي اصالت» (۳۶) په چوکاټ کې دننه په څه سوچ نه کاوه. «انقلاب، یا ځکه چې مونږ لیبرالزم وایو» د ۱۸۸۷ کال له مکتوب څخه یوه څرګنده اصطلاح ده. له څه نه لس کاله وروسته ده د معاصر تاریخ په باب په یوه لیکچر کې وویل: «انقلاب د معاصري ترقۍ میتوددی.» په یوه بل لیکچر کې ده د «عمومي نظریاتو ظهور چې مونږ یې انقلاب بولو» څخه خبرې وکړې. په یوه نا چاپ شوي خطي «نسخې کې ده داسې شرح ورکړې: «وګ دروغي جوړې له لارې حکومت وکړ، لیبرال د افکارو حکومت شروع کوي.» (۳۷) د «افکارو حکومت» څخه د اکټن مراد لیبرالزم وه او له لیبرالزم څخه یې مراد انقلاب و. لیبرالزم د اکټن

۳۶. Gradualism

۳۷. د دغو عباراتو د پاره وګورئ د اکټن «له لیکچر څخه انتخابات» (۱۹۱۷) «معاصر تاریخ په باب لیکچرونه» (۱۹۰۶) «مقولې» ۴، ۳۲. علاوه کړئ: خطي نسخې ۴۹۴۹ (د کیمبرج پوهنتون په کتابخانه کې) په ۱۸۸۷ لیک کې «چې پورته یادشو، اکټن د تغییر تدریجي بولي: «ده (اړه) څخه و وتوې ته درکاتو (یعنې لیبرالانو) تغییر د موجدان د انکشاف په حیث د موجدانه د ظهور آ د نشوونما له انکشاف سره تړلی دی.» (وګورئ مخ ۱۳۵ پورته، او د افکارو حاکمیت د سره توافق کړئ. د سټبز ( Stubbs ) هم معاصر تاریخ په یوه دوه ویشلی دی چې د فرانسې انقلاب سره بیان کړي دي: «لومړنی د قوتونو د صلاحیتونو او فاملیو نو تاریخ؛ دوهم یې څه تاریخ چې افکار د حقوقو ځای نیسي.» (ویلیم سټبز، د منځنیو او معاصر تاریخ په باب اولس لیکچرونه، دریم چاپ، ۱۹۰۰، مخ ۲۳۹).

په عصر کې د اجتماعي تحول د دینامیک په حیث خپل قوت لاصرف کړی نه و. زموږ په عصر کې، د لیبرالزم بقایا په جامعې کې هرچیرې محافظه کار ګرزېدلي دي. که اکثره ته اوس د مراجعت تبلیغ وشي، دا به مفهوم ونه لري. مګر مؤرخ له دې سره علاقمن دی، چې لومړی د اکثر دریځ معلوم کړي، بیا دهغه دریځ د معاصرو مفکرانو له دریځ سره مقایسه کړي، او وروسته د اوږدې جګړې د ده د دریځ کوم «عناصر» لا تراوسه هم د اعتبار وړ دي. په دې کې هېڅ شک نه شته چې د اکثر نسل له خوش بینۍ او له حده زیات په ځان اعتماد څخه زیانمن شو او دهغه جوړښت جوړ تید ونکي ماهیت یې پوره درک نه کړ، په کوم چې یې عقیده بناوه. مګر دهغه نسل دوه شیان لرل، او هغو دوارو ته موږ اوس سخت اړ یو: د تحول مفهوم په تاریخ کې د یوه مترقي عامل په حیث، او په عقل عقیده لرل د عقل د معضلاتو د تفاهم دپاره زموږ د لارښود په حیث.

راځئ چې اوس د ۱۹۵۰ کال د لسو کالو ترخوا اوازو ته غوږ ونیسو. په یوه ورمېتي لیکچر کې ما د سرلویس نامیر د قناعت کلمات ذکر کړل چې په داسې حال کې چې د «مشخصو مسایلو» دپاره د «حل عملي لارې» لټول کیږي «پروګرامونه او مفکورې» د دوارو ګوندونو له خوا هیریږي، او دهغه دغه بیان د «ملي پاخه توب» یوه علامه ده. زه په خپله د یوه فرد او ملت ترمینځ د عمر د اوږدوالي د دغسې مشابهتونو څخه علاقمن نه یم، او که سره له دې هم مشابهت او قیاس غوښتل کیږي په دغه حال کې بیا دا پوښتنه مینځ ته راځي چې په څه وخت چې موږ د «پاخه توب» له پړاو نه واوښتو، وروسته ترې نه څه راځي. څرګنده څه چې ما علاقمن ګوي، پرته کول دي، د عملي او مشخص ترمینځ چې ستایل کیږي او د «پروګرامونو او مفکورو» ترمینځ چې غندل کیږي، او محکومیږي. په مفکورو پېژني تیوري سازۍ پاندې د عملي فعل غوره ګڼل بې له کوم شک نه د محافظه کارۍ

لیه ده . دا میر په نظر دادانلسمي پیړی مثل دی ؛ یعني ددریم جارج دجلوس ا نګلستان چې دا کېن دا نقلاب اودمفکورو حکومت دقریب الوقوع حملي په مقابل کې اعتراض کوي. خودهغي پوره محافظه کاری اشنا افاده زموږ په عصر کې دپوره تجربې په بېه دېره مروجه ده . دېر مروج شکل یې دپروفیسر ترور۔ روپر په تبصرې کې ښکاره دی . دی وایي چې «کله چې افراطیون چیغې وهي چې فتح یقیناً ددوی ده،معقول محافظه کاران یې په پزه په سوک وهي.» پروفیسر اوکشات دغه مروج تجربت په یوی پیچلې بڼې کې نیسي . دی وایي چې په خپلو سیاسي موضوعاتو کې موږ «په بې پایان او بې عمق بحر کې سفر کوو» چې هلته «نه دشروع ټکی شته اونه ټاکلی هدف»، اوهلته زموږ یوالخنیی هدف دادی چې «په یوی اواری کښتي کې ځان دلامبو په حال کې وساتو» ۲۹ . ددې څه ضرور ورت نه وینم داوسنیو لیکوالو فهرست پسې ولتوم چې دوی سیاسي «خیال پرستي» ٤۰ او «مهدیت» ٤۱ محکوم کړی دی . دژورو افراطي افکارو دپاره چې دجامعې د آینده په باب دهغو اظهار کیږي، دادګنځلو او ناسزاو وجاري اصطلاحات دي. زه ددې څه زیار هم نه باسم چې په متحدو ایالتونو کې هغه تازه تمایلات تربحث لاندې ونیسم چې محافظه کاری ته دتبعیت په برالااعلامولو کې مورخان اوسیاسي مفکران په دغه ملك کې دهغوی ترملګرو لږ احتیاط کوي. هلته به یوازې دترټولو ونلي، اوترټولو معتدل امریکایي محافظه کار مورخ پروفیسر سامویل موریسن ٤۲ تبصره رانقل کړم، کوم چې ده د۱۹۵۰ په دسمبر کې دامریکې دتاریخ ټولنې ته په پوره افتتاحي خطاب کې

۳۸. انکونټر (مجله) ، ۷، لسی ٦ ، جون ۱۹٥۷ ، مخ ۱۷.

۳۹. ایم. اوکشات، سیاسي تعارف (۱۹٥۱) مخ ۲۲.

٤۰. Utopiansim

٤۱. Messianism

٤۲. Samual Morison

اظهار کړی وه. ده دغه تبصره دیوه عکس العمل په حیث دغه په ضد کړی وه کوم چې ده د وجیفرسن ـ جیکسن ـ اف . ډی. روزولت طرح وبللې وه او دمتحده ایالتونو د تاریخ دپاره یې داسې التماس وکړ چې د دیوه معقول محافظه کار له نظره لیکل شوی وي.» ۴۳

خو دا پروفیسر پاپر دی، چې په برتانیا کې یې دغه محتاطه محافظه کاره جهان بینی په ډېر واضح او غیر مصالحي شکل پوهنځي پیاوړاندې کړی ده. دی دنامېرد وپروګرامونو او مفکورو دتردید دانعکاس په ضمن کې په هغو سیاستونو انتقاد کوي چې ادعا لري هدف یې د دیوه ټاکلي پلان په اساس د ټولې جامعې بیاتنظیمول دی. «دغه سپارښتنه کوي، کوم چې دی یې «تدریجي اجتماعي انجنیري» بولي او ظاهراً د تدریجي پیوندکارۍ او «په ناغیري سره مطلب ته د رسېدو» ۴۴ له نسبت څخه یو ګام هم نه اخوا کېږي. په یوه ټکي کې، ډېر تیا رزه دپروفیسر پاپر پوره احترام ساتم. دی دعقل قوي مدافع او حامی دی، او غیرعقلي اصل ته یې نه په ماضي کې مخه کړی ده، او نه په اوس کې. خو که موږ د «داجتماعي تدریجي انجنیري» نسخه په پوره دقت ولولو، ښکاره به شي چې هغه رول کوم چې ده عقل ته ورسپارلی دی، ډېر محدود دی. که څه هم د «تدریجي انجنیرۍ» تعریف چندان مشخص نه دی، موږ ته واضحاً ویل کېږي چې د «هدفونو» انتقاد په کې نشته. هغه محتاط مثالونه کوم چې دغه دقانوني فعالیتونو لکه د «اساسي قانون ریفورم» او د «عایداتو د زیات برابرکیدلو په لور تمایل» ـ په باب یې ورکوي، واضحاً ښيي چې مقصد دادی چې هغه باید دموجودي جامعې په چوکاټ کې دننه کار او فعالیت وکړی ۴۵ دپروفیسر پاپر د شیزونو په طرح کې دعقل موقف په حقیقت کې د برتانیا ملکي مامور ته

۴۳. امریکایي تاریخي مجله، لمبر LVI، لمبر ۲ (جنوري ۱۹۵۱) مخونه ۲۷۲ ـ ۲۷۲.
۴۴. کې . پاپر، «هستوریسیزم فقر» (۱۹۵۷ ) ، مخونه ۶۷ ، ۷۴.
۴۵. ایضاً مخونه ۶۴ ، ۶۸.

ورته دي. دې په دې لیاقت لري چې دوا کښ حکومت سیاستونه وچلوي، او حتی د هغو دېبو کار کولو دپاره دعملي اصلاحاتو په منظور نظریات هم ور کړي، خو د دې حق نه لري، چې دهغو په اساس رو مېږ یو فرضیو، یا نه‌ها یې مقاصدو یې ګمرو بربرو کړي. دا یې ګمور کار دی. زه هم په خپل وخت کې ملکي مامور وم، مګر زما په عقیده دموجود نظام فرضیو ته دعقل مادونیت په اوږده موده کې بالکل دنه منلودی. اکثره هم هغه وخت چې خپله معادله داسې تفسیر کړله‌چې: انقلاب = لیرالزم = دافکارو حکومت، دعقل په باب یې همدغسې تفکر کاوه. په انساني چارو کې ترقي، په سایښس کې وی، یا په جامعه یا په تاریخ کې، عموماً د انسانانو په هغې زړه وري امادګۍ سره شوی دی، چې د کارونو داجراء دطریقې په باب دتدریجي اصلاحاتو دغې دپاره نخانونه محدود نه کړي، بلکه دعقل په نامه سره دموجودې طریقې داجراءاتو یا دهغو بنکاره او پټو فرضیو په مقابل کې په کوم چې په هغو استناد کېږي، اساسي مخالفتونه وړاندې کړي. زه هغه وخت ته دامید سترګې لرم چې دانګریزي ویونکي جهان مورخان، سوسیولوجستان، او سیاسي مفکران ددغې وظیفې دپاره همت او جرئت بیرته ترلاسه کړي.

مګر سره له دې هم دانګریزي - ویونکي جهان په روښنفکرانو او سیاسي مفکرانو کې دعقل دعقیدې نیمګړتیا ما دومره نه اندیښمن کوي، بلکه دهغه نافذاو ساري جهان په باب داحساس نه لرل مې زړوري چې په دایمي حرکت کې وي. په اول نظر کې دا په ظاهر کې مهمل او په معنی کې سم معلومېږي، ځکه چې دتحولاتو په باب چې زموږ تاو خوا روان دي، دومره سطحي خبري، ډېرې لږې شوي دي. خو مهمه دا ده چې تحول تورونو دېږه موقعیت، یوې موقع، یا ترقي په حیث نه، بلکه دویرې دیو څیز په حیث ګڼل کېږي. کله چې زموږ سیاسي او اقتصادي پندتان دتشخیص نسخې راکوي دوی موږ ته کوم درمل راکولی نه شي، بلکه اخطار راکوي چې افراطي، اوږدو

فکر و ته په بې اعتمادي وګورو ، له هر هغه څه څخه د ډه وکړو ، چې د انقلاب بوی ورکوي ، او هو مره چې کولی شو به ورووروا و احتیاط سره په مخ ولاړ شو هغه هم که چیری مخ کې تګګ حتمي وي . په د غسې وخت چې جهان خپله خیره په دو مره چټکۍ او افراطي ډول سره اړوي ، کوم چې په تیرو څلورسوو کالو کې یې نه ده بدله کړې ، ماته دافوق العاده وروند توب ښکاري . د غه وضع د دار د پاره لاره هوار کوي ، داسې نه چې جهان شمول نهضت به په ځای ودریږي مګر د غه ملک باممکن انګریزي ویونکي ملکونه به د عمومي پرمختګ ترشا وروسته پاتې شي او د تیر عظمت د تخطر په لند فکر کې به غرق شي بې له دې چې هیله اسره یا ګیله او ماته ولري . زه په خپله خوش بین پاتې کیږم . کله چې سرلوبې نامیر اخطار راکوي ، چې له مفکورو او پروګرامو څخه ډډه وکړم ، او پروفیسر او ک شات راته وایي چې موږ په خاص ډول کوم پلوته تللی نه شو ، او مهمه یې داده چې ښار وا و سو تر څو هیڅ څوک کښتۍ ته تکان ورنه کړي ، او پروفیسر باټسر څواري چې په تدریجي انجنیرۍ سره هغه زور ګران تیې . موږ په سرک یا ندې وساتو ، او پروفیسر ټرور - روپر افراطیون په سوک سره په غوږ وهي : او پروفیسر موریسن د تاریخ دپاره التماس کوي ، چې په معقول محافظه کار روح سره ولیکل شي ، زه به د دغسې جهان څار وا و سم چې په ترداو پریشانۍ اخته وي او د بیوه سترمایني پوه په مشهورو کلماتو به ځواب ورکوم : ( او سره له دې هم حرکت کوي . )

« پای »

# ښکارندوی Index

لاندنۍ ښکارندوی د مصنفانو او موضوعاتو په باب دی، او په مصنفانو کې هم هغه چې ولې شوي دي، چې نظريات يې په متن کې ذکر شوي وي بعضې تش اعلام نه دي تول شوي .


الف:  اکتن، لارد:  ١_٣، ٥، ١٢، ١٣، ٤٦، ٤٩، ٥٢، ٧٣، ٩٣، ١٤٣_١٤٥، ١٥٣، ١٦٩، ١٧٠، ١٨٩، ١٩٢_١٩٤، ١٩٦،

ادمز، هنري،  ١١٢،

ايليت، تي، اس،  ٥٠،

الټن، جي، .،  ٧٧،

انگلز، اف، .،  ٩٩،

اخلاق په تاريخ کې،  ٩٢-١٠٤ (ارزښتي قضاوتونه هم وگورئ)

اعداد په تاريخ کې،  ٥٦_٥٨

الشتاين، اي،  ٩٢

ارزښتي قضاوتونه  ٩٥-٩٧، ١٠٠-١٠٢، ١٥٥، ١٦٣-١٦٥،

اوک شات، ام،  ٢١، ١٩٤-١٩٧،

اتفاقيت په تاريخ کې،  ٣-٥، ٢٧-٢٨، ٨٨-٨٩، ١٤٩-١٥٤، ١٦٣،

افلاطون  ١١٢-١١٣،

ارسطو،  ٧٤،

ب:  بيکن، اف،  ٩٧، ١٣٨،

برو گلف، جي،  ١١، ٧٣،

بارت، کي ., ۹۱،

بيکر، کي ., ۲۰،

بايل، ار ., ٦٧

بردايف، ان ., ۹۱، ۱۳۳،

بسمارك، او . ای، ال ., ٤٥، ٦٢، ٦٤، ۱٥۹، ۱٦۱، ۱٦۲،

برټن، بي ., ۱۲۲،

برلين، سر آی ., ٥۰، ٥۲، ۹٤، ۱۱۳-۱۱٤، ۱۱٦-۱۱۷، ۱۲۲، ۱۲۸، ۱٤٦،
۱٥۸-۱٥۹، ۱٦۰، ۱٦۱،

برنهارد، اچ ., ۱٤-۱۷

بوزول، ۹۸،

بکل، اچ ., ٦۹،

برك خاردت، جي ., ۱۸، ۲٤، ۳٦، ٦٤، ۷۷، ۱٦۸،

برادلي، اف . ، اچ ., ۱٤٤،

برك، ای . ، ٦۸،

بري، جي . بي ., ۱۰، ٦٦-٦۷، ٦۹، ۱۲۲-۱۲۳، ۱۳۹، ۱٤۹، ۱٥۲،

بترفيلد، اچ ., ۱۸، ٤٦، ٤۷، ٥۹، ۹۱، ۱٥۱،

بشري علوم او ساينس ۱۰٤-۱۰٦

بنتهام، ۳۹،

ب: پارسنز، تي ., ۸، ۱۳۰،

پيرانډلو، ال ., ۸

پواين کره، اچ ., ٦۹، ۱۱۱،

پوکاچيف، ٦۱،

پاستور، ال، ۹۲

پولي بيوس، ۱۲۳،

پاپر، کې، ١١٢، ١١٤ـ١١٥، ١٢٨، ١٣٢ف، ١٩٥، ١٩٧،
پریکلس، ٣٩، ٩٦،
پایک، اف . ، ١٣٥، ١٣٦،
پیش گویی ، ٨٢ـ٨٤
پرودون، ١٦١،
پولی بلینک، ای . ، ١٩١،
ت: تاسی توس ، ١٢٣،
تصادف په تاریخ کې ، ٥٢، ١٢١ـ١٢٧
تکامل ، ١٤١ـ١٤٢
توسیدایدز، ١٠٧، ١٣٦،
تاك ویل، ای . ، ١٥٢، ١٦٩،
تولستوی ، ال . ، ٥٩، ٦٢، ١٢٩ف،
تعمیم ٧٤ـ٨٠،
تراتسکی، ال . ، ٨٦، ١٢١، ١٢٢، ١٢٦
تانی، آر . ، ١٥٧،
تیلر، ای . جی . پی . ، ٦٢، ١٤٠،
تاریخ او مذهب ، ٨٩ـ٩١، ١٣٥ـ١٣٦
تیلیولوجی ، ١٣٤، ١٣٧ـ١٣٨
تاین بی، اي، جي . ، ٤٨، ٩٣، ١٣٥، ١٩٤،
تري ولین، جي . ام . ، ٢٢، ٢٣، ٤٠، ٤٤،
تري ولین، جي . او . ، ٢٢،
تریور-روپر، اچ، ٢٦، ٥٥، ١٩٤، ١٩٧،
ج: جانسن، اس . ، ٩٧،
چ: چي چي رین ، جی، ١٧،

| | | |
|---|---|---|
| | چرچیل، ونستن ، | ۱۸،۱۲۱، |
| ح: | حقایق، | ۳ـ۳۲،۵۰،۷۰،۱۲۷،۱۵۶،۱۶۳ـ۱۶۶ |
| | حتمیت ، | ۱۱۷ـ۱۱۹ |
| د: | دمپیر، دبلیو.، | ۱۳۹، |
| | دارسی، ام.سی، | ۹۰،۱۱۳ف، |
| | داروِن،سی ، | ۶۶،۶۷، |
| | دکارت ، | ۱۶۹، |
| | دوبچر، اې .، | ۵۵، |
| | دل دي،دبلیو.، | ۲۰، |
| | دالنجر،جی.فان، | ۱۷، |
| | دون، جی.، | ۳۳، |
| | دا ستایفسکي، | ۳٤، |
| | درسونه دتاریخ، | ۸۰ـ۸۲ |
| | دانته . ای.، | ۳۹، |
| | دوْرونوسره،ویشنه په ، | ۷۲ |
| ر: | روحیات ، | ٥٤(فرایدهم وگورئ) |
| | رانگک کي ،فان، | ۳،۱۸،۱۲٤، |
| | روسو، جی.جی.، | ۱۶۹، |
| | راوس،اې،ال.، | ۱۸،۵۲، |
| | رسل، بی.، | ٤،۶۶،۱۱۱،۱۳۹ـ۱٤۰، |
| | روزبیری، | ۹۳ |
| | روترفورد، | ۷۰، ۱۳٤، |
| | رښتین توب په تاریخ کې ، | ۱۵۰،۱۶٤ـــ۱۶۵. |
| | رنځ او عذاب په تاریخ کې، | ۹۷ـــ۱۰۰ |

س: سوانح لیکنه، ۵۰_۵۱،۵٤_۵۷.

سارتر، جی. پی، ۱۲٤

ستر افراد، ٦۲_٦٤

سکاټ، اس. پی.، ۵،

سمث، اې.، ۵۸،٦۸،۱۷۱_۱۷۲، ۱۷۹،

سنو، سرسی، ۱۰۵،۱۳٤،

سوشیالوجی، ۵۱،۵۳،۷۸_۸۰،۸۹

سومبارت، ډبليو، ۷۲

سورل، جی.، ۷۲،

سپنسر، اچ ٦۵،

ستراچی، ال.، ۱۱_۱۲،۵۵،

ستیپز، ډبليو.، ۹٤،

ستین، ای.، ۱٦_۱۷،

سیسرو، ٤۰،

شتریزیمان، جی.، ۱٤_۱۷،

ف: فشر، اچ، ای. ال، ٤۸،۱۲٤،

فروید، اس.، ۱۷٤_۱۷٦،

فروډ، جی.، ۲۷،

فردیت، اصل د، ۳٤_۳۷

فاعل او موضوع، ۸٤_۸۹

ق: قوانینو، فکوره په باب د، ٦۷_۷۲،۷۸،۱۷۲_۱۷۳،۱۷٦_۱۷۸

ع: علم، نظریات په باب د، ٦،۲۸،۸۸_۸۹

عقل، ۱۰۲،۱۳۱_۱۳۲،۱۷۰_۱۷۲،۱۷۵،۱۸۲_
۱۸۵،۱۸۷،۱۹٦_۱۹۷

غ: غیرشخصی قوتونه، ۵۰،۵۷،

ک: کارلایل، ٹی۔ ا، ٥٦، ٧٧، ١٥٨،
کلیرینڈن، لارڈ، ٥٧،
کلارک، سر جی، ٢-٣، ٥، ٢٤، ٢٧
کلارک، جی۔ کٹسن، ٩
کالنگ وڈ، ای۔، ٢١، ٢٣، ٢٦-٢٧، ٦٠، ٦٧، ٧٤،
کانٹ، ای۔، ٨٣،
کروسے، بی۔، ٢٠، ٢١، ٩٤،
کفکا، اف۔، ١١٥،
کنگزلی، سی۔، ١١٤
کروسو، رابن سن، ٣٤،

گ: گیل، پی۔، ٤٩،
گبن، ٢٧، ٧٥، ١١٠، ١٢١، ١٢٣، ١٣٨، ١٥٧،
گوئٹے، ١٥٥،
گروٹ، جی، ٣٩، ٤٤، ٨١،
گالیلیو، ٦٨
گرشم، ٦٨

ل: لاسال، اف، ٦٨
لیتز، اس۔، ١٧٨
لی فیور، جی۔، ٩٦،
لینن، وی۔، ٥٧، ٦٣، ١٢٦-١٢٧، ١٣١، ١٥٠، ١٥٩، ١٧٣، ١٧٤، ١٧٨،
لنکلن، ای۔، ١٧٠،
لاک، جی۔، ٤، ١٨٤
لائیل، سی، ٦٦-٦٧،

م: مکالی، تی، بی، ٣٢،

مورلی، جی، ٣٦،

مالتوس، ٦٨، ١٧٩،

مالدیوال، بی، ٥٨

متهایم، کی، ٧٩، ٨٥،

ماری‌تین، ٩١،

مارشال، ای، ١٠٩،

مارکس، کی، ٤٤، ٥٢، ٥٦، ٥٨، ٦٢، ٦٩، ٧١، ٧٧، ١١٢، ١١٣،
١١٤، ١١٧، ١٢٥، ١٤٣، ١٤٤، ١٤٦، ١٥٢، ١٦١،
١٧٠، ١٧١ـ١٧٤، ١٧٥، ١٧٦،

مازی‌نی، ٤٥

مبانگ، اف، ٤٤، ٤٥، ٤٦، ١٢٤، ١٣٣،

مومسن، تی، ٢٧، ٣٩، ٤١، ٤٤،

مل، جی، اس، ٤٣،

مانتسکیو، ١٠٨، ١٢٥،

مور، جی، ای، ٧٥،

موریسن، اس، ١٩٤، ١٩٧،

ن: نامیر، سر جی، ٤٧ـ٤٤، ١٥٣، ١٩٣ـ١٩٥، ١٩٧،

نیل، سر جی، ٥٢،

نوولز، ٩٤،

نیدهام، جی، ١٩١

نیوتن، آی، ٦٥، ٦٧ـ٦٩

نیبور، ار، ٩١، ١٣٥،

نیچه، اف، ٢٨، ٦١،

ناسمین توب پہ فز بک کپ، ۸۸
نسیت، ۲۷–۳۲، ۱۴۹–۱۵۰

و: ولتیر، ۱۸، ۱۰۸،
ویبر، ام.، ۷۱، ۹۶
ویسٹرمسرامس، ۸۰،
وجود. وی.، ۵۱، ۵۴، ۵۵،
وگی تعبیرات، ۲۲، ۴۶–۴۷، ۱۱۰
ولسن، ودرو، ۵۹،
ینگ، جی. ام.، ۵۲،

ھ: ھابس، تی.، ۷۴،
ہیرودوتس، ۱۰۷، ۱۳۶،
ہرزن، آی.، ۱۷۱،
ہستوریسزم، ۱۱۳، ۱۳۲ف
ہوس مین، اے. ای.، ۶،
ہویزنگا، جی.، ۱۳۴،
ہومر، ۵۰
ہیگل، جی. اف. ڈبلیو، ۱۱۲، ۱۱۴، ۱۱۷، ۱۳۱، ۱۴۱–۱۴۴، ۱۵۲،
۱۵۸، ۱۷۰–۱۷۲

ی: یاخیان، ۶۱–۶۳

# داصطلاحاتو فهرست او معنی Glossary

> کوښښ شوی دی چې لاندې اصطلاحات چې په متن کې راغلي دي، په متن کې د استعمال له مخې تعریف او وپېژندل شي.

| | | |
|---|---|---|
| absolute | مطلق | هغه چې غیر مقید وي؛ او مستقل وجود لري، او د نورو څیزونو او پېښو سره په ارتباط سره د څرک ورته وي. |
| antiquarianism | لرغون پېژندنه | د قدیمي آثارو د پېژندنې فن |
| ancien regime | زوړ نظم، قدیمي رژیم | د فرانسې له انقلاب نه د مخه مهال لوله |
| archaeology | ارکیالوجي | د کېندنې فن |
| astronomy | ستوري پېژندنه، کاینات پېژندنه | هغه مطالعه چې وایي کاینات، لکه څنګه چې دي، څنګه خلق شوي، او تکامل یې کړی دی. |
| boom | ناڅاپي چټک انکشاف | |
| community | وره ټولنه | په یوې ځانګړي ځای کې د خلکو هغه مجموعه چې عقاید، منافع، ژبه، او نور یې سره مشترک وي. |
| chronology | کرونولوجي | نېټه لیک |
| cynicism | بدبیني، اشکاکیت<br>د کلبیونو فلسفه | هغه نظر چې وایي تاریخ هیڅ مفهوم نه لري، یا د اعتبار وړ او غیر اعتبار وړ ډېر مفهومونه په مساوي ډول لري، یا د غمي مفهوم لري، چې موټر یې په څپل اعتبار ور کوو. |

| | | |
|---|---|---|
| data | مفروضات | قضیې یا کمیتې چې تایج تری ایستل کېږی، |
| despotism | مطلقیت | |
| determinism | معینیت | ټا کلي توب، جبر |
| | | هغه عقیده چې وایي هر څه چې پېښېږی علت یا علتونه لری، او په بل دول په پیښ نه شی، ترڅو یې علت یا علتونه مخلف نه شی، |
| dichotomy | دوه ګون توب | په دوه برخو سره دیوه واحد ویشل |
| elite | غوره کسان | نخبه ګان |
| facts | شواهد، حقایق | هغه چې وجود او حقیقت لری، |
| feudal barons | اشراف | په بریتانیا کې هغه اشراف چې د لاردانو په نامه مخاطب کېدل، او د لاردانو په مجلس کې یې دغړیتوب حق لاره. |
| fait accompli | فت اکمپلي | انجام شوی عمل، اجرا شوی څیز، |
| gradualism | دتدریج اصالت | |
| historiography | دتاریخ لیکنې فن | |
| historicism | هستوریزم | (وګورئ مخ ۱۳۲) |
| ideology | دافکارو او نظریاتو مجموعه او پېټ ایدیالوجي | دافکارو او نظریاتو مطالعه یا ساینس |
| indeterminacy | نامعین توب | بې ثباتي، شک |
| Ipso facto | ایپسو فکتو | نفس دغه حقیقت، په بنا |
| Laissez - Faire | د عمل آزادی، لیسه فر | د افرادو په اعمالو او مخصوصاً تجارتي اعمالو کې د حکومت نه مداخله کول |

| | | |
|---|---|---|
| mysticism | تصوف | هغه نظر چې دهغه په قرار د تاریخ مفهوم له تاریخ نه دباندې دالهیاتو یا اخرت په قلمرو کې وجود لري، |
| messianism | مهدیت | هغه عقیده چې دهغه له مخې به یو ناجي یو وخت ظهور کوي، او عدالت او انصاف به قایم کوي. |
| nationalism | نیشنلزم | دملت غوښتنې اصل |
| nirvana | نیروانا | په عالي روح کې جذبیدل او فنا کیدل |
| object | موضوع | هغه څه چې تر مشاهدې او کتنې لاندې نیول کیږي یا بحث پرې کیږي. |
| positivism | مثبتیت فلسفه | هغه فلسفه چې یوازې مثبت حقایق او د مشاهدې وړ پدیدې پیژني . |
| positivists | مثبتیون | |
| postulate | اساسي شرط ، فرضیه | هغه څه چې د تعقل او استدلال اساس تشکیل کیږي . |
| pragmatism | دعمل اصالت | هغه اصل چې دهغه له مخې تاریخ حقایق دعملي نتایجو له مخې تر بحث لاندې نیول کیږي . |
| pragmatists | دعمل داصالت طرفداران | |
| proposition | عمومي قضیه | |
| psychologism | سیکالوجزم | هغه نظر چې وایي اجتماعي مسایل بالاخره دفردي سلوک و تحلیل ته منتهي کیږي. |

| | | |
|---|---|---|
| realpolitik | دقدرت سیاست<br>ریل پالتکٔ | هغه سیاست چې دهغه له مخې د یوه ملت مادي منفعت توب تر هر بل څيز نه مقدم ګڼل کيږی او ملی مقاصد په قوت اوزور سره حاصلول غواړي. |
| raison d'état | دوجود دليل | |
| renaissance | رنسانس | دیا نهضت دوره |
| rationalism | ریشنلزم | هغه فلسفه چې وايي عقل په هر څيز کې نهايي مرجع دی |
| rationalists | عقليون | |
| rationalization | ریفورم او اصلاح | هغه ریفورم چې په کار، وخت او مواد کې دضايعاتو په مخنيوی سره ممکن کيږی. |
| slump | ناڅاپي تنزل | |
| subject | فاعل | انسان چې يوه موضوع تر مشاهدې او بحث لاندې نيسي |
| synthesis | دضدينو ترکيب | په يوه کامل واحد کې ددوو ضدونو يعنې تيس (thesis) او انتي تيس (anti-thesis) ترکيب |
| teleology | ټيليولوجي | دوروستيو او غايي علتونو فلسفه |
| theodicy | تيوډای سی | دخدای تعالی د عدالت نه دفاع په دی باب چې دشر د وجود يې مجاز ګرزولی دی. |
| truth | رښتينوتوب | حقيقت |

| | | |
|---|---|---|
| universalism | دعالم غوښتنې اصل | هغه نظر او عقیده چې د ټول عالم نهایي نجات او فلاح غواړي. |
| utilitarianism | دګټې اصالت | هغه نظر چې وایي هغه څه چې ګټه او سودلري خیر دی، او دګټا پېجو مفید بڼه درست عمل معین کوونکی ګڼل کیږي |
| utopianism | خیال پرستي | هغه نظر چې دیوه مخ کمال او پوره توب یې مطلوب وي. |
| voluntarism | اختیار | هر هغه نظر چې وایي اراده د ټولو تجاربو، اعمالو یا د جهان په جوړښت کې تر بل هرڅه نه قوي عامل وي. |

## سمون

| ناسم | سم | مخ | کرښه |
|---|---|---|---|
| ورروستی | نورروستی | ۲ | ٦ |
| وری | دوری | ۲۲ | ٥ |
| اوزو | اوږو | ۲٥ | ٥ ف |
| موم س ن | موم سن | ۲۷ | ۷ |
| تعبیر | تعبیر | ۲۸ | ٤ |
| تابو | تابو | ۳۳ | ۷ |
| مجددہ | مجدد وده | ۳٥ | ۱ |
| دمد تیت په دمخللو | دمخ کې تلوتکی مدنیت | ۳۷ | ۲ |
| موم زس | موم سن | ۳۹ | ۱٤ |
| کې چی | کې | ٤۰ | ٤ |
| بری۲۲ | بری | ٤۰ | ۱۹ |
| تامیر | تامیر | ٤٦ | ۱٦ |
| نظریه | نظریه | ٤٤ | ٦ |
| په نامه و | په نامه د | ٥۱ | ۱ |
| حلقه | حلقه | ٦۸ | ۱۰ ف |

| ناسم | سم | مخ | کرښه |
|---|---|---|---|
| دزوی | ذروی | ۷۰ | ۱۷ |
| بله مسئله | مسئله | ۸۰ | ۵ |
| پوښتني | مسئلې | ۸۰ | ۵ |
| او تباط لری. | ارتباط لری: دتاریخ درسوله | ۸۰ | ۵ |
| او په شمول | په‌شمول | ۸٤ | ۱٦ |
| مشکله | مشکله | ۹۵ | ۱۷ |
| مرمیتی | مرمیتي | ۱۳٦ | ۱۷ |
| روپیو | رومبیو | ۱٤۰ | ۹ |
| خپه | خپله | ۱٤۰ | ۱٦ |
| مور | مورخین | ۱۵۷ | ۱۳ |
| مفهو | مفهوم | ۱۷۲ | ۳ |
| پور | پوره | ۱۷٦ | ۱٦ |
| Slumps | Price Fluctuation | ۱۷٦ | اف |
| داسې | ډرسی | ۱۹۰ | ۱۹ |

PASHTO TRANSLATION OF

# What is History?

by

Professor E. H. Carr

TRANSLATED BY

M. H. KAKAR M. PHIL. (LOND.)

Published by

Kabul University

Printed at Education Press,

Franklin Book Programs, Kabul-Afghanistan

[illegible]